بسم الله الرحمن الرحيم

فهرست (لړلیک)

عنوان مخ

سریزه ۷۸۸

تقریظ ۷۹۱

پنځم فصل

شپږ دیرشمه خطبه

جومات، مقام او کړنې یې

د جومات تعریف.....۷۹٤

په اسلام کې د جومات جوړول او اعمار.....۷۹۵

د عبادت ځایونو او جوماتونو څخه ساتنه او د جهاد د فرضیت فلسفه.....۷۹٦

په جومات کې د ذکر او عبادت نه ممانعت کول لوی ظلم دی.....۷۹٦

د جومات جوړولو اهمیت د پېغمبر په ویناوو کې.....۷۹۸

د جوماتونو کتابونونه.....۸۰۲

په جومات کې د فعالیت محورونه.....۸۰۳

د وخت او یووالي په راستوکې د جومات ونډه.....۸۰۵

په فرهنګي وده کې د جومات تأثیر.....۸۰٦

د روحي او رواني ناروغیو په آرامتیا اوله منځه وړلو کې د جومات تأثیر.....۸۰۷

په تربیت او اصلاح کې دجومات ونډه.....۸۰۸

د مختلفو ډلو په جذب او نشاط کې د جوماتونو ظاهري یا کمي کړني.....۸۱۰

د خلکو د جذب او نشاط په موخه د جوماتونو معنوي کړني یا کیفي پراختیا.....۸۱۳

د جوماتونو فرهنګی پروګرام.....۸۱۵

د اصلاح او دعوت کار.....۸۱۷

د جوماتونو خیریه صندوق.....۸۱۸

اوه دیرشمه خطبه

دټولنې په اصلاح کې د جوماتونو رول

د جوماتونو حقوق، آداب او مقام.....۸۲۱
جومات ته د ننوتلو او بیرته وتلو دعا.....۸۲۲
د جومات سره اړیکه او علاقه.....۸۲۳
د جوماتو نظافت او پاکوالی.....۸۲۳
د بدن، جامو پاکوالی او دظاهري بڼې ښکلا.....۸۲٤
په جومات کې د پیرلو او پیرودلو ممنوعیت.....۸۲٦
په بد بویه خولي سره جومات ته نه داخلیدل.....۸۲٦
د جوماتونو روزنیزه ونده.....۸۲۷
پایله.....۸٤۱

اته دیرشمه خطبه

د علم او پوهي ارزښت او د بی سوادی زیانونه

علم څه څیز دی؟.....۸٤٥
د علم اهمیت او فواید.....۸٤٥
په ژوند کې د علم او پوهي ځایگی.....۷٤۷
د انسان په پرمختگ کې د علم او پوهی اغیز.....۸٤۹
د بی سوادۍ زیانونه.....۸٥۰
په ټولنه کې د بی سوادۍ د پیداکیدا لاملونه.....۸٥۲
د بی سوادۍ له منځه وړلو لارې چارې.....۸٥۲
د خبرې پای.....۸٥۳

نهه دیرشمه خطبه

په اسلام کې د ښوونکی مقام اومنزلت

د ښوونکی له نامه څخه ښکاری.....۸۵۷
د ښوونکی رسالت.....۸۵۸
د ښوونکی دنده.....۸٦۲
د معلمی دندې اهمیت.....۸٦۵
د اسلام له نظره د ښه ښوونکي ځانګړتیاوې.....۸٦۷
په ټولنه کې د ښوونکی فضیلت.....۸٦۸
د ښوونکی په وړاندې د خلکو او ټولنې مسؤولیت.....۸۷۰
د ښوونکي په وړاندې د زده کوونکو مسؤولیت.....۸۷۲
د ښوونکي او زده کوونکي مسؤولیتونه د زده کړی او ټولنې په وړاندې.....۸۷۳
د ښوونکي مقام کیسه د تاریخ په پلوشو کې.....۸۷۵
پایله.....۸۷٦

څلویښتمه خطبه

په اسلام کې د ښځی مرتبه

۱- ښځه په اسلام کې څه حیثیت او مرتبه لري؟.....۸۸۰
۲- د ښځې احترام د مور په توګه.....۸۸۸
۳- د لور په توګه د ښځی عزت.....۸۹۲
٤- د ماندینی په ټوګه د ښځی تکریم.....۸۹٦

یوڅلویښتمه خطبه

د ښځی حقوق او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي حرمت

په لغت کې د حق تعریف.....۹۰۳
په اصلاح کې د حق تعریف.....۹۰۳

د ښځو د حقوقو تاریخي لړلید.....۹۰٤
د اسلام نه مخکی د ښځو وضعیت.....۹۰۵
د ښځو حالت د اسلام ځلیدونه وروسته.....۹۰۷
د نارینه او ښځی د میراث تفاوت په اړه یو اشکال.....۹۱۰
په بدو کې ورکول.....۹۱۵
د ښځو د حقوقو په اړه ستونزي.....۹۱۸
د حل لاري.....۹۱۸
پایله.....۹۱۹

دوه څلویښتمه خطبه

د ښځو تعلیم او تحصیل د اسلام له نظره

د علم فضیلت د قرآن کریم له نظره.....۹۲۰
د نبوي احادینو په رڼا کې د علم فضیلت.....۹۲۲
ښځو ته دعا تعلیم.....۹۲٦
د دیني او علمي مسایلو په اړوند د ښځو پوښتنه.....۹۲۷
ښځی دنارینه وو په څیر باید علم نشر او خورکړی.....۹۲۸
د نارینه لخوا ښځو ته د وعظ او تعلیم حکم.....۹۲۹
د ښځو لیکنه او دم دعا.....۹۳۰
د ښځو د تعلیم او تحصیل ضرورت.....۹۳۰
د ښځو د تحصیل اصول.....۷۸۰
په افغانستان کې د ښځو د تعلیم او تحصیل پرمهال حقوقي موانع او دهغې بدې.....۹۳۲
د ښځو لپاره د عصري او دنیوي علومو زده کړی حکم.....۹۳۳

درې څلویښتمه خطبه

د وخت ارزښت او اهمیت

د عصر معنا او د وخت سره یې تړاو.....۹۳۸
د وخت اهمیت او ارزښت.....۹٤۰
وخت د الهی نعمتونو څخه یو نعمت دی.....۹٤۱
عمر د ژوند پانګه.....۹٤٤
حکمتونه او پندونه.....۷۹٤
د زماني نه پند اخیستل.....۹٤۹
پایله.....۹۵۳

څلور څلویښتمه خطبه

نن او سبا کول

لومړی تعریف.....۹۵٤
دوه هم: نن او سبا کول د اسلام له نظره.....۹۵۵
په دغه ناروغۍ د اخته کیدو نښې.....۹۵۷
د نن او سبا کولو اسباب او عوامل.....۹۵۷
د نن او سبا کولو آثار او پایلې.....۹٦۵
د وروسته اچولو ناروغۍ درملنه.....۹۷۰

پنځه څلویښتمه خطبه

د خلکو ترمنځ اصلاح او پخلاینه

عفوه او تیریدنه.....۹۸۰
د ښښنې په اړه د اسلام او عیسویت ترمنځ فرق.....۹۸۲
کومک او یوتربله مرسته کول.....۹۸٤
همدردي او بل اړ شخص ته په خپل ځان ترجیح ورکول.....۹۸۵

الله پاک خلک دبدو په ځای ښه کولو ته رابولي.....۹۸۸

شپږ څلویښتمه خطبه

وحدت او یووالی د اسلام له نظره

اساسي پوښتنې.....۹۹۱
وحدت ۹۹۲
اتحاد.....۹۹۳
انسجام ۹۹۳
امت.....۹۹٤
د قرآن له نظره د وحدت ارزښت او مقام.....۹۹٤
وحدت د پېغمبر ﷺ په سیرت او سنتو کې.....۹۹۹
د وحدت او یووالي مخې.....۱۰۰٤
په اوسني عصر کې د مسلمانانو د یو والي لارې او چارې او د دوی د اتحاد موانع.....۱۰۰۷
د مسلمانانو د اختلافاتو پایلې.....۱۰۰۹
د فردي او ټولنیز یووالي لارې چارې.....۱۰۱۱
په اوسني عصر کې مهمې لارې چارې.....۱۰۱۱

اوه څلویښتمه خطبه

د اسلامي شریعت له نظره د ژوند ارزښت

د اوسني عصر خطرناکه ستونزه.....۱۰۱۳
۱- د حیات حق پوری د ټولو حقوقو تړل.....۱۰۱٤
۲- د ژوند حق، یو الهی موهبه او ور کړه ده ۱۰۱٤
۳- د حیات حق تامینول د اسلامي شریعت له ضروري مقاصدو څخه ګڼل کیږي.....۱۰۱۵
۴- د ژوند ساتلو په غرض د حرامونه د استفادې جواز.....۱۰۱۷
۵- له محدودو ځایونو پرته د نفس د قتل حرمت.....۱۰۱۸

٦- د نفس وژولو او انتحاري حرمت..... ١٠١٩
٧- د الله تعالی په وړاندې د مسلمانانو د وینې ارزښت..... ١٠٢٠
٨- د قاتل په وړاندې د توبې دروازې بندیدلو امکان..... ١٠٢١
٩- په ناحقه سره د یو انسان وژل د ټول انسانیت د وژنې سره برابر دی..... ١٠٢٢
١٠- د قتل د اجازې ورکولو حرمت..... ١٠٢٣
١١- د مسلمان پرضد د جنګ او مبارزې حرمت..... ١٠٢٢
١٢- د جنین د اسقاط او اجهاض حرمت..... ١٠٢٤

اته څلویښتمه خطبه

د نورو په خصوصي حریم تیری نه کول

خصوصی حریم څه څیز دی؟..... ١٠٣٠
په ټولنیز ډول خصوصي حریم څه شی دی..... ١٠٣١
د خصوصي حریم ډولونه..... ١٠٣٢
د هستوګنځی احترام ١٠٣٣
په شخصي حریم تیری حرام دی ١٠٣٥
د هیواد اساسي قانون کې د نورو په شخصي حریم د تیري ممانعت..... ١٠٣٦
د انسان پت ساتلو وجوب ١٠٣٦
د حضرت یوسف علیه السلام کیسه..... ١٠٣٧
پایله او نتیجه..... ١٠٣٩

نهه څلویښتمه خطبه

د انسان کرامت او دهغه د وژنې حرمت

د انسان ارزښت..... ١٠٤٣
د یو انسان وژنه په ناحقه سره د ټول انسانانو د وژنې سره برابر دی..... ١٠٤٥
د نفس وژل د ایتونو په رڼاکې..... ١٠٤٦

د نفس وژل د روایاتو په رڼاکې..... ۱۰٤۸

شپږم فصل

پنځوسمه خطبه

په اسلام کې د کوچني حقوق

د ماشوم پیژندنه..... ۱۰٦۰
په اسلام کې د ماشومانو ځینی حقوق..... ۱۰٦۱
عقیقه..... ۱۰٤۳
د عقیقي تاریخي مخینه..... ۱۰٦٤
د عقیقي ګټې..... ۱۰٦٥
د عقیقي شرطونه او ادبونه..... ۱۰٦٦
د عقیقي دعا..... ۱۰٦۷
د افغانستان په قوانینو کې د ماشوم حقونه..... ۱۰۷٥
د ماشومانو حقونو په اړه ستونزې..... ۱۰۷٦
حل لارې..... ۱۰۷۷
پایله او نتیجه..... ۱۰۷۷

یو پنځوسمه خطبه

د ودونو، زیږونونو او مړینو ثبتولو اهمیت

د واده اهمیت او ځایګی..... ۱۰۸۰
د زیږونونو او مړینو ثبتولو ارزښت او اهمیت..... ۱۰۸۳
د دوشنبې ورځې په اړه د پېغمبر علیه السلام حدیث..... ۱۰۸٤
د نوی زیږیدونکو ماشومانو د ثبتولو لپاره د عمر رضي الله عنه اهتمام..... ۱۰۸۸

دوه پنځوسمه خطبه

د اسلام له نظره د یتیم مقام

د یتیم تعریف..... ۱۰۹۲
د یتیم فقهي تعریف..... ۱۰۹٤
د یتیم د پالنی تاریخ..... ۱۰۹٤
په اسلام کې د یتیم مقام..... ۱۰۹۵
د یتیم د پالنی په اړه قرانی لارښوونې..... ۱۰۹۵
د یتیمانو په هکله د رسول ﷺ سپارښتنه..... ۱۰۹٦
د پېغمبر ﷺ یتیم پالنه.....۱۰۹۸
د یتیمانو پالنه د ابرارو او نیکانو په سیرت کې..... ۱۰۹۸
د یتیم انواع..... ۱۱۰۰
د یتیم پالنی اجرونه..... ۱۱۰۷
الف: په جنت کې میشت کیدل..... ۱۱۰۷
ب: د زړه نرم والی او د حاجت پوره کیدل..... ۱۱۰۷
ج: د درجاتو لوړوالی او د ګناهونو محوه کیدل..... ۱۱۰۸
یتیمانو ته د نه پاملرنې پایلې..... ۱۱۰۸
پایله ۱۱۰۹

درې پنځوسمه خطبه

د اوسیدو چاپیریال

اصطلاحات او مفاهیم ۱۱۱۲
د اوسیدلو چاپیریال..... ۱۱۱۲
د هوا ککړتیا..... ۱۱۱۲
اسلام او هستوګنې چاپیریال..... ۱۱۱٤

د پېغمبر ﷺ په سیرت کې نظافت او پاکي..... ۱۱۱۷
قاعده: (لاضرر ولاضرار فی الاسلام)..... ۱۱۲۱
پوهان او د اوسیدو چاپیریال..... ۱۱۲۲
د هواککړتیا پایلې..... ۱۱۲٤
د ککړتیا لاملونه..... ۱۱۲٥
نتیجه..... ۱۱۲۷
د چاپیریال ساتنی لپاره د ښاریانو دندې..... ۱۱۲۷

څلور پنځوسمه خطبه

د نیالګیو کینول او په ټولنه کې یې ګټې

ځینې ضروري لغتونه: ساتنه، کینول، چاپیریال او د اوسیدو چاپیریال..... ۱۱۳۰
ونه د قرآن له نظره..... ۱۱۳۲
ونې الله تعالی ته سجده کوي..... ۱۱۳۲
ونه د الله د قدرت نښه ده..... ۱۱۳۳
په قرآن کریم کې ونه مثال ګرځیدلي..... ۱۱۳٤
د انسان په ژوند کې د ونو ارزښت..... ۱۱۳٥
د ونو په اړه د نبوي ملغلرې او د لویانو خبرې..... ۱۱۳۸
په ژوند کې د ونو ګټې..... ۱۱٤۹
پایله ۱۱٤۱

پنځه پنځوسمه خطبه

نکاح او دهغه ګټې

د نکاح تعریف..... ۱۱٤۳
د نکاح د مشروعیت حکمتونه..... ۱۱٤٤
د نکاح حکم ۱۱٤٥

د نکاح تأخیر..... ۱۱٤٦
د ژوند د شریک د ټاکلو لازم معیارونه..... ۱۱٤۷
د واده د اهدافو د منځ ته راوړو مهم عناصر..... ۱۱۵۰
د پل چا په غوښتلو ورتلل جواز نه لری..... ۱۱۵۳
په میړه باندې د ښځیې حقوق..... ۱۱۵۳
هغه ښځه چې کار کوي..... ۱۱۵٤
د ښه معاشرت (ژوند کولو) آداب په لاندې ډول دي..... ۱۱۵٦

شپږ پنځوسمه خطبه

د پردې مراعات

د حجاب تعریف ۱۱۵۸
د حجاب حکم..... ۱۱۵۸
د حجاب د مشروعیت حکم..... ۱۱٦۰
د عورت پټول..... ۱۱٦۲
د عورت پټولو مسئلې..... ۱۱٦۲
د ښځو ښکلا او سینګار..... ۱۱٦۳
د شرعې له نظره د ښځو د سینګار کلې شرطونه..... ۱۱٦٤
د جامو سینګار..... ۱۱٦۷
د حجاب ګټې..... ۱۱٦۷
د بی حجابي زیانونه..... ۱۱٦۹
د حجاب دود خپراوی تګلارې..... ۱۱۷۰
نتیجه ترلاسه کول..... ۱۱۷۱

اوه پنځوسمه خطبه

د نسلونو په روزنه کې د حلال رزق اغیز

تناکی شوی لاس د الله محبوب دی: ١٠٠٧
حرامه مړی د زړه وژونکې ده.....١١٧٥
د پاک لمنو نسلونو روزنه کې د حلالی مړی اغیزي..... ١١٧٨

اته پنځوسمه خطبه

نظافت اوسچه والی

نظافت او پاکوالی د لمانځه کیلي ده..... ١١٨٤
نظافت او پاکوالی ته د رسول ﷺ هڅونه..... ١١٨٤
١ - د ښکلی منظر او ښې او پاک چاپیریال در لودل.....١١٨٤
٢ ـ د اوسیدو چاپیریال د نظافت په اړه.....١١٨٥
٣ ـ د لارې پاکولو په اړوند.....١١٨٥
٤ ـ د خولې پاکوالی.....١١٨٦

نهه پنځوسمه خطبه

د کمښت کونکو، لږ پلورونکو او تقلب کوونکو رټنه او بدی

تعریفات او مفاهیم.....١١٩١
لږ پلورونکي څوک دي؟.....١١٩٢
په رانیولو او خرڅلاو کې د لږ ورکولو او خیانت معنا.....١١٩٣
پیمانه او وزن کې د عدالت مراعاتول.....١١٩٤
د مدین خلکو سره د شعیب علیه السلام کیسه.....١١٩٥
د خیانت ډولونه.....١١٩٦
د خلکو امانت سره د خیانت ډولونه.....١١٩٨
د اسلامي اقتصاد اړوند د اخلاقو ارزښتونو اغیز.....١٢٠٣

د اجناسو په څرنګوالي کمیت او تنوع کې د تقلب څخه ځان ساتنه.....۱۲۰٤
د مضر او حرامو شیانو د واردولو په وړاندې د ملي سوداګرو دنده او مسؤولیت.....۱۲۰۵
د تاریخ تیرو او بې کیفیته موادو واردولو په اړه د ملي تجارو مسؤولیت.....۱۲۰٦
د مبتذل فرهنګ واردولو په اړه د ملي سوداګرو مسؤولیت.....۱۲۰٦
ښوونکی کیسه.....۱۲۰۷
د هیواد تولیدات ساتنه.....۱۲۱٤
د احتکار حراموالی.....۱۲۱۵
د خیانت پایلې او نتیجه.....۱۲۱٦
په دنیا او آخرت کې د تقلب کوونکو عقوبت.....۱۲۱۹
د خیانت څرګندیدو لاملونه او زمینې.....۱۲۲۲
د خیانت مخنیوی لارې.....۱۲۲۵
پایله.....۱۲۲٦

شپیتمه خطبه

بډې او اداري فساد

د رشوت مفاهیم.....۱۲۲۹
په باطل ډول د مال خوړل.....۱۲۳۱
بډې او د آیتونو پلورل د الله جل جلاله سره ژمنه ماتول دی.....۱۲۳۱
بډې اخیستل د یهودو صفت دی.....۱۲۳٤
آمرینو ته ډالۍ ورکول رشوت دی.....۱۲۳٦
د بډو اخستونکي او ورکونکي د لعنت وړ دي.....۱۲۳۸
له رشوته تر نقمته.....۱۲۳۹

یوشپیتمه خطبه

د نیشه یي توکو حرمت

د مخدره توکو لغوي مفهوم.....۱۲٤۲
د نیشه یي توکو ډولونه او جسمي او رواني اغیزي یې.....۱۲٤۳
د مجازي نیشه یي ټوکو ضررونه.....۱۲٤۳
ځوانان او اعتیاد.....۱۲٤٤
د مخدره توکو نه ترلاسه شوی کلي اغیزې.....۱۲٤۷
په کلیو کې د اعتیاد بدې اغیزې.....۱۲٤۹
مخدره توکو باندې د اعتیاد لاملونه.....۱۲٥۰

دوه شپیتمه خطبه

د ګاونډیو حقونو مراعت

په اسلامي شریعت کې د ګاونډی حقونه.....۱۲٥۸
۱. ـ مساعدت.....۱۲٥۸
۲. ـ امانت پالنه.....۱۲٥۹
۳. عفوه او تسامح.....۱۲٥۹
٤. ګاونډی ته ډالۍ ورکول.....۱۲٦۰
٥. د ګاونډی له ازار او زورولو نه ځان ساتل لازم او مطلوب کار دی.....۱۲٦۰
د ګاونډی پالنې اهمیت.....۱۲٦۳
هسی نه چې ګاونډی دې وږی بیده شي.....۱۲٦٤

درې شپیتمه خطبه

تندلاري او سختي کول

لومړی: د غلو او افراط ماهیت.....۱۲٦٦
دوه هم: د سختي کولو او افراطیت نښې.....۱۲٦۹

درې یم: په دین کې د سختي او افراط عوامل او اسباب.....۱۲۷۲
څلورم: په دین کې د افراط پایلې.....۱۲۸۳
الف: د دین پالو او دعوت کوونکو په اړه.....۱۲۸۳
ب: اسلامي ویښتیا په اړه.....۱۲۸۷
پنځم: د افراط او تندلارۍ درمل.....۱۲۸۹

څلور شپیتمه خطبه

کوډې او کوډګرې

د سحرمعنا.....۱۲۹۶
د سحرډولونه ۱۲۹۸
آیا سحر حقیقت لري؟.....۱۳۰۰
د سحر پرانستل.....۱۳۰۳
د سحر د باطلولو دلیلونه.....۱۳۰۵
د کوډګرو په وړاندې د اسلام دریز.....۱۳۰۶
د کوډګرو د سزا په هکله د علماؤ او ائمه ؤ ویناوې.....۱۳۰۹
د سحر د زده کړې حکم.....۱۳۱۰
د معجزې او سحر فرق.....۱۳۱۱
آیا ساحران په غیب پوهیږي؟.....۱۳۱۲
آیا دوکه بازانو ته ورځی؟.....۱۳۱۸
شرعي دعا لیکونکو نښې.....۱۳۱۹
د دوکه مارو او کوډګرو خصوصیات.....۱۳۲۰

پنځه شپیتمه خطبه

ټاکنې

رای ورکول شرعا واجب دي.....۱۳۲۱
ټاکنې یوازې یو دنیوی کار نه دی.....۱۳۲۵
غیر اصلح ته رایه ورکول ډېره سخته گناه ده ۱۳۲۸
د انتخاباتي مبارزاتو او تبلیغاتو د دوران لس ناوړه کارونه.....۱۳۳۰

شپږ شپیتمه خطبه

د اسلام له نظره د امنیت ضرورت

مفاهیم او تعریفونه ۱۳٤۰
امنیت په قرآن کریم کې.....۱۳٤۳
امنیت د روایتونو له نظره.....۱۳٤٦
د امنیت په هکله په مدینه کې عمومي تړون.....۱۳٤۹
د حدیبې صلحې تړون.....۱۳۵۱
د سلام فلسفه د امنیت غوښتنه ده.....۱۳۵۲
د سلام مرتبه او پیغام یې.....۱۳۵۵
د امنیت ډولونه ۱۳۵٦
د نا امني عوامل ۱۳٦۲
د امنیت گټې.....۱۳٦۲
د نا امني ضررونه (زیانونه).....۱۳٦۳
د امنیت د ټینگښت لارې چارې.....۱۳٦٦
پایله او نتیجه.....۱۳٦۷

اوه شپیتمه خطبه

ژمنی (عهد) ته وفا

د وعدې (ژمنه او تړون) تعریف.....۱۳۷۱
د وعدو ډولونه.....۱۳۷۳
په معاملاتو کې په وعده وفا.....۱۳۷٤
اداري او کاري تړون ته وفا.....۱۳۷٥
د ابوجهل سره د حذیفه رضي الله عنه د وعدې کیسه.....۱۳۷٦
د تړون ماتونې او وعده خلافي ضرورنه.....۱۳۷۷

اته شپیتمه خطبه

د شرابو حرمت

شراب شیطاني وسیله ده ۱۳۸٤
آیا شرابو څخه ډیر بد څیز شتون لري؟.....۱۳۸۷
شراب او دعقل زوال.....۱۳۸۸
د شرابو د ګټو او زیانونو پرتله (مقایسه).....۱۳۸۸
د شرابو د خوړلو زیانونه.....۱۳۸۹
د بشري ټولنې تهدیدونکې بلاګانې.....۱۳۹۲
الکول او پنځه ګوني حواس.....۱۳۹۳
شراب او د رنځونو درملنه.....۱۳۹٦
د شرابو تحریم.....۱۳۹۷
د شرابو خوړلو په هکله د اسلام حکم.....۱۳۹۷
د عقل او هوشیاری محکمه ۱۳۹۸
خاتمه.....۱٤۰۰

د تدقیق او اسلامي علومو دمطالعاتو ریاست

سریزه

ټول ثنا او صفت له هر حامد څخه په پر واحد محمود اقدس ذات باندې چې هغه واجب الوجود دی او ټولو کمالي صفتونو خاوند دی ، انسان ته یې له نشته څخه وجود ورپه برخه کړ او دناپوهۍ او جهل له تیارو څخه یې دعلم لوســـت ثقافت او رښتني اسلامي مفاهیمو په وسیله کامیاب او نیکمرغه وگرځاوه .

درود او سلام دي وي په پاک او مطهر روح د سرور کائنات سید المرسلین امام المتقین سیدنا ونبینا محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه په آل او اصحابو او پر هغه چاچې تر قیامته دهغه پر لاره روان دي.

وبعد:

دانســان او دهغه دخالق درســته پیژندنه یواځې داســلامي تعلیماتو په رڼا کې شونې ده، همدارنگه دانسان او ټولو مخلوقاتو دپیدایښت هدف او د ژوند حقیقت

او مفهوم یواځې داسلامي لارښونو له لارې روښانه کیږي او دا ځکه لکه څرنګه چې دا ټول موجودات او مخلوقات د الله تعالی دي نو همدارنګه دا دین د اسلام هم دالله تعالی له طرفه رالیږل شوی دی، همدارنګه د دې په څیر نور مسائل سره دټولو ابعادو دمنبرونو له لارې په ښه ډول او په بشپړه توګه نشرکیږي، پاتې دی نه وي چې د مساجدو خطباء او ائمه په اسلامي ټولنه کې او په ځانګړي ډول په افغاني ټولنه کې چې الحمدلله ددې خاورې خلک دلاوره متدین مسلمان او نیکمرغه انسان جوړونکي او د اسلامي دین پیروان دي ډیر لوړ دیني علمي او اخلاقي ټولنیز مقام لري او دټولنې په سوکالۍ بیا رغونه او سلامتیا کې د امام ښوونکې او روزونکي مصلح خیرخواه ستر قدرمن او اغیزمن شخصیت په څیر مهم او اساسي رول لوبوي له همدې کبله دهغه مسؤولیت هم په ټولنه کې دنورو په نسبت خورا زیات دروند او ستر ګڼل کیږي.

له دې کبله باید خطیب د ولس ترمنځ هغه خپل لوړ موقف ته په کتلو سره د تذکیر له پلوه د جمعې لمونځونو او اخترونو او نور دیني او ملي مناسبتونو کې دخپلو موضوعاتو ښه تعقیب وکړي او داولویت پر بنسټ یې د ټولنیزو واقعیتونو په پام کې نیولو سره دخلکو توجو وړ وګرځوي.

او همدارنګه باید حتی الامکان کوښښ وکړي زیار اوباسي چې خطبه په داسې ښکلي شکل تیاره کړي چې دټولنې هغه عیني واقعیتونه او مقتضیاتو سره سمون وخوري دخلکو مهمو اړتیاووته ځواب ویوونکي وي، د وخت حالات زماني مکاني شرائط پکې په نظر کې ونیول شي او له هرڅه مهم د خطبې وړاندې کول دي چې باید جدي پاملرنه ورته وشي او دا ځکه چې خطبه یواځې خبرو ته نه ویل

کیږي بلکه د خیرخواهۍ اخلاص پرهیزګارۍ استقامت پرمټ د ولس روایښولو په حرکت راوستلو انګیزه ورکولو او همدارنګه د تاثیر لاندې راوستلو ته ویل کیږي او هره خبره چې دزړه څخه را ووځي زړه ته رسیږي .

ددې موضوع اهمیت ته په کتو سره د افغانستان اسلامي جمهوریت د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د تدقیق او داسلامي علومو دمطالعاتو ریاست برعلاوه یو مهم مفید او بشپړکتاب د (د جمعې خطبې کتاب) ترعنوان لاندې او یوه بله رساله (دخطباو لپاره دخطبې وړاندې کولو لارښود) په نامه دعربۍ څخه په ملي ژبو(پښتو، فارسي) ترجمه کړی چې ستاسو سرلوړو او د ولس معنوي امامانو ته یې په داسې حال کې وړاندي کوو چې نورو علمي او تحقیقي خدمتونو ترڅنګ به دخطبې په تاثیر کې حتما مفیده او اغیزمنه تمامیږي ، له الله تعالی څخه امید لرو چې همدارنګه نور خدمتونه لازیات او پیاوړي کړي او الله جل جلاله دې ټولوته دخیر بدله او ثواب ورکړي.

همدارنګه د قدرمنو ائمه او خطباو څخه هیله لرو چې د دې رسالې او د جمعې د خطبې کتاب څخه په استفادې سره دمسجدونو د منابرو له لارې دعام ولس د اذهانو په جوړښت اوروښانه کولو کې خپل اساسي او بنسټیز رول په ښه توګه ادا کړي.

محمد شریف رباطي دراني

د تدقیق او اسلامي علومو د مطالعاتو رئیس

کابل شهرنو ثور ۱۳۹٦

بسم الله الرحمن الرحيم

د جلالت مآب مولوی عبدالحکیم منیب د ارشاد، حج او اوقافو وزیر

تقریظ

بې له شــکه چې اســلام آخري اســماني دین په حیث د اخلاقو، کرامت، فضــیلت، دنړۍ امنیت، ټولنیز عدالت او د بهترینې حکومتداری لپاره یو بشــپړ دســتورد ځمکې گوټ گوټ ته ورســاوه، او ټول روحاني او معنوي ارزښــتونه او بشري یې دیو بشپړ هر اړخیز نظام په چوکاټ کې په دا سې توگه راونغښته چې دهر ډول تخنیکي او صنعتي پرمختگونو سره د فطرت غو ښتنو او انساني اړتیاوو سره برابر وي او په دا سې توگه تیارکړل شو چې انقیاد یې انساني ژوند، انساني ارزښت ،عزت، سوکالۍ دنیوي سعادت او کامیابۍ او دوامداره عافیت گنل کیږي او سر غړونه ورڅخه دمادیت او حیوانیت په میدان کې غورځیدل دي او د قیامت په ورځ به سخت عذاب او د الله جل جلاله په گرفت کې راگیریږی.

د دې برسیره چې ا سلام دا ستر او لوړمقام لري د ا سلام نشر او خپریدل تنها د دعوت او تبلیغ له لارې چی برابر په موازینو حکیمانه منابعواو اســالیبو چې د

دین په مصادرو کې وضع کړل شوی دی، کیږي . په همدې اساس هر څومره چې د وعظ ارشـــاد او دیني تبلیغ دائره پراخیږي او مبلغین مســـلمانان خپل اســـلوب په معاصرو او اغیزمنو لارو ســـمبالوي، سره له حفظ ســـاتلو د اســـلامي اساسات او ټول ارزښتونه او خپلې تجربې، زیرکتا او خپل ټول توان او طاقت چې داســـلامي منل شـــویو معیارونو سره یو ځای کړي نو په هماغه اندازه به د دوي تقریرونه او ویناوې ښـې استقبالیږي او خبرې به یې دخلکو په منځ کې حیرانتیا په ډول اغیزمنې تمامیږي او رسوخ به کوي.

بې له شکه څخه چې دا (د جمعې خطبې) کتاب د خپل انتظار مطابق لاسته راوړ او یقین مې اوشو چې دغه ارزښمند او په زړه پورې اثر دهیواد په مطبوعاتو کې وزلیده او ستر موقعیت یې تر لاسه کړی، زر ده چې د دغه لیکنې محتویات او روحاني انګازې به دا فضـــا معطره کړي او په خپلو انوارو او پیغامونو به زړونه روښانه کړي، ځکه زړونو ته دالله جل جلاله پیغام ر سوونکي دی.

د دې کتاب چاپ او خپرول د دیني او روحاني ټولنې دائمه او خطباء، او د پوهانو او همدارنګه دعامو وګړو دتربیت او تزکیي په موخه او دیو ســـالم عاقل نسل د روزلو لپاره او بالخصوص پدې حساسو شرائطو کې چې کلتوري او مادي یرغل انسانیت تهدیدوي ترڅو دانسان مفهوم او شخصیت په ماده او دنیا پوری منحصر کړي، نو ددغه کتاب په شان کتابونه زه دټولنې لپاره اشد ضرورت او یو واقعي او ابدي اړتیا ګڼم .

په همدې ا ساس د تدقیق او ا سلامي علومو دمطالعاتو ریا ست دمحترم رئیس او د دیپارټمنټ مسـؤولینو کارپوهانو او همکارانو خدمتونه چې د پخوا په ځیر یې د دغه کتاب موفق اشراف او هر اړخیزه کتنه کې مهم رول لوبولی، تقدیروم .

اوهمدارنګه په وار سره د مشـــورتي علمي موظف شـــوي کمیســـیون څخه هم منندوی یم چې بې دریغه او نه ستړي کیدونکي هلې ځلې یې د دې کتاب په لا زیات نورانیت تحقیق او تالیف کې تر سره کړي دغه ستړې کړنې یې د ستایل وړ بولم.همدارنګه دهیواد دټولو علمي هستیوڅخه د زړه له تله مننه کوم چې په ســپیڅلې نیت او اراده یې د دې کتاب په علمي ښــکلا کې بې دریغه معنوي او مادي مرســته او فعاله ونډه واخســته. یقین لرم چې د تدقیق او اســلامي علومو دمطالعاتو دغه مبارک خوزښـــت د دغه کتاب په ځلانده کیدو سره د ورځني تالیفاتو لړۍ ته د علمي او فرهنګي په څانګو کي تنظیم او سـمون وروبخښـی او د تحقیقاتو او رســنیو لپاره لاهم تیزونکی او هڅونکی تمام شي. په پای کې ټولو هغو ځلیدونکو پوهانو چې د پوهې په انکشـــاف او اســـلامي کلتور په برخه کې خدمتونه کړي د دغه ســترو کړنو په عوض کې ورته د الله جل جلاله څخه ســتر اجر او ښه عوضونه غواړم او هغه دوامداره خدمتونه چې د اسلامي دعوت دروښانه کولوپه موخه یې ترسره کوي سر لوړي او موفقیت ورته دتل لپاره غواړم.

وما ذلک علی الله بعزیز

مولوی عبدالحکیم منیب

د ارشاد، حج او اوقافو وزیر

۱۳۹۷

٣٦

جومات ، مقام او کړنې يې

الحمد لله الذي جعل عمارة المساجد من علائم الايمان و الصلاة و السلام على سيدنا محمد الذى حثنا ببنائها وبشرنا بأن من بنى لله مسجداً بنى الله له بيتا فى الجنة و على آله و صحبه أجمعين.

هر دين يو ځانګړی شعار او نښه لري ، اسلام چی دآسمانی اديانو آخرين الهي دين دی ، د نورو ظاهري او مکاني شعايرو تر څنګ د جومات مقام او دهغه احکاموته ځانګړی اهميت ورکړيدی.

د جومات تعريف:

د جومات کلمه د سجدی د ځای په ما ناده ، په لغت کی مسجد څخه يی سرچينه نيولی. او په اصطلاح کې هغه ته ويل کيږی چی د چا په ملکيت کی نه وي او يوازی د الله لپاره وي او د لمانځه او دمسلمانانو د عبادت لپاره اختصاص ورکړل شوی وي .[1]

---

١ - أحكام المساجد فى الاسلام للحريري، ص ١٦.

په اسلام کې د جومات جوړول او اعمار:

په زياتو قرآنی آيتونو او مبارکو نبوی احاديثو کی د جومات په جوړولو او اعمار باندی تاکيد شويدی او د دی کار په کولو سره زيات اجر او ثواب ټاکل شوی . په قرآن کريم کې د جومات جوړول د جوماتو د اهدافو نه بلل شـويدی او په ښـکاره امر سره د جومات جوړول د جومات ا صلی موخه ګڼل شوی ، شايد داپدی وجه سره چی د جومات او عباد تځای جوړول يو فطری امر دی ، او د ټولو آســمانی اديانو پيروان د خپلو اديانو او رسولانو د لارښوونو په رڼآ کی د جوماتو نو او عبادت ځايونو په جوړولو کی اقدام کوي ، حتی مشرکان او دبشری مذاهبو پيروان هم د خپلو معبودانو د لمانځني او خپلو مذهبی مراسـمو دا داء کولو په موخه ځانګری ځايونه ټاکي.

د جومات جوړول پرته د ايمان او الهی موخی هيڅ ارزښت نلري :

حضرت پيغمبر ﷺ د بعثت په لومړيو ورځوکی ،د مکی خلک د قريشو مشران د ا سلام دين ته راوبلل خو هغوی د دغه دين د منلو پرځای د ښمنۍ ته مخه کړه ، او کله به يی ځينی کارونه بهانه کول لکه د حجاجو خدمت کول ، د کعبي او مســجد حرام تعميرول ، قرآن کريم دوی پخپلو د غو کارونو او پلمو سره داســی وکوبل (**أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللهِ لاَ يَسْتَوُونَ عِندَ اللهِ وَاللهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ**).[1]

---

١ - د التوبه سورت ١٩ آيت.

ژباړه :آیا حجاجوته او به ورکول او د مسـجد حرام آبادول د هغو کسـانو د کارونو سره برابر دی چی په الله او د اخرت په ورځ ایمان لری او د الله په لاره کی جهاد کوی ؟ داسـی کسـان دخدای په وړاندی سره یوشـان ندی او الله تیری کوونکی ډلې ته هدایت نکوی.

د عبادت ځایونو او جوماتونو څخه ساتنه او دجهاد د فرضیت فلسفه :

د عبادت ځایونو څخه ساتنه یو مهم الهي فرض دی چی په عملي توگه په مدني دوره کی یې مشرـوعیت پیداکړ او دقیامت ترورځی به یی مشرـوعیت دوام لري ، قرآن کریم په صراحت سره اعلانوي چی د جهاد له مهمو موخو څخه د جوماتونو او عبادت ځایونو سـاتنه او صـیانت دی: (**وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَـهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا**).[1]

ژباړه :که چیری الله پاک ځینی کسان په نورو باندی نه دفع کولی ، نوصومعې ، کلیساگانی ، کنیسی او جوماتونه چی دالله نوم پکی زیات یادیږی له منځه تللی ؤ .

په جوماتونو کی د ذکر او عبادت نه ممانعت کول لوی ظلم دی:

جوماتونه د الله تعالی لپاره دي او یوازی پکی د الله تعالی عبادت کیږي (**وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا**)[2]

---

١ - د الحج سورت ٤٠ آیت.

٢ - د الجن سورت ١٨ آیت.

او جوماتونه خاص د الله دی نو د الله سره بل څوک مه لمانځی یعنی په عبادت کی مه ورسره ګډوئ. د قریشـــو کافرانو د ډیرو بدوکارونو او شرمناکو پلانونو څخه یو داؤ چی رسول الله او دهغه ملګری یی په مسجد حرام کی د عبادت څخه منع کول ؛ الله د دوی دغه عمل په ډیرو آیتونو کی غندلی:

(وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَـــاجِدَ اللّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَـــعَى فِي خَرَابِهَا أُوْلَئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَا إِلاَّ خَآئِفِينَ لهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ) [1]

ژباړه : او دهغه نه به څوک ډیر ظالم وي چی خلک د الله د جوماتونو نه ددی ویری لـه املـه منعـه کړی چی پکی د اللـه نوم یـادیږی او دهغو پـه ړنګولوکی کوښښ وکړي ؟ دغی ډلی ته نه ښایی مګر دا چی په ویره کی جوماتونو ته راشي دوی په دنیا کی دسپکاوی او خواری سره مخامخ او په اخیرت کی لوی عذاب په مخکی لري.

په نبوي سیرت کې دجومات اهمیت:

د اســـلام پیغمبر ﷺ د جومات مقام او اهمیت په خپل عمل سره څرګند کړ ، رسول الله ﷺ مدینی ته د هجرت په مسیر کی د قباء په منطقه کی څوورځی تم شـــو او دقبا جومات په جوړولویی اقدام وکړ او دغه کاریی ډیر مهم وباله ، دقبا جومات په هغه ځای کی جوړ شـــو چی د هغه مبارک د باراوښـــه په لومړی ځل هلته چو شـــوه ، د نوموړی جومات تهداب د تقوا ، پاکی او الهي اهدافو باندی

---

١ - د البقری سورت ١١٤ آیت.

کيښـودل شـو قرآن کريم د قيامت ترورځی پوری د قبا جومات او لمونځ کوونکی يی ستايي :

(لَّمَسْـــجِدٌ أُسِّـــسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ) [1]

ژباړه :په رښتيا سره هغه جومات چی دلومړی ورځی نه يی بنسټ په تقوا باندی ايښودل شويدی ، وړتيا لری چی پکی پاته شی ، پکی دا سې کسان شته چی غواړي پاک شي او الله پاک کسان خوښوی.

دقبا جومات جوړولو نه ورو سته پيغمبرﷺد مدينی په لور حرکت وکړ ، په لاره کی د جمعی د لمانځه وخت راور سيد ر سول الله د بنی بياض په محله کی د جمعی لمونځ قايم کړ او په هغه ځای کی بيا د جمعی د لمانځه جومات جوړشـــو ، کله چی رسـول الله ﷺ ديار هجرت مدينی منوری ته ورسـيد در واياتو مطابق لومړی توجه او د نور ومســـلما نانو لومړی مهم کار هغه د جومات جوړول ؤ څو چی د مسجد النبوی بنسټ يی کيښود.

د جومات جوړولو اهميت د پيغمبر په وينا وو کې :

د اسلام ستر پيغمبر ﷺ د ډيرو روايتونو له مخی د جومات په جوړ ولو او تأسيس باندی توصـــيه کړيده او د جوماتونو آبادو نکوته يې د لوړ اجرپه ورکولو سره زيری

---

١ - د التوبه سورت ١٠٨ آيت.

ورکړی ، په روايتونو کی راغلي : (عن النبي ﷺ قال : **من بنى لله مســـجدا بنى له بيت أوسع منه فى الجنة**).[1]

هرڅوک چی د الله لپاره جومات آباد کړی نو الله به ورته په جنت کی د هغه نه پراخ کور جوړکړي.

جابر بن عبدالله رضـــی الله عنه روايت کوی چی رســـول الله ﷺ فرمايلي : (**من بنى مسجدالله كمفحص قطاة أو أصغر بنى الله له بيتا فى الجنة**)[2]

ژباړه : هرڅوک چی د الله د خوښـــی لپاره د تيږی خوړونکی مرغه د ځالې او يا دهغه نه کوچنی جومات جوړکړي ، نوالله به ورته په جنت کی کور جوړ کړي.

انس بن مالک رضي الله عنه د پيغمبر ﷺ نه روايت کوی ((که چيری د آســمانه عذاب راشی نو د جومات جوړونکی کسان به ورڅخه نجات ومومی)) .

دحضرــت انس نه په بل روايت کې راغلي چې څوک په جومات کې يوه ډيوه بله کړي نوترڅو چی بليږي پرښــتی او دعرش حمله هغه کس ته دعا کوي او ښښــنه ورته غواړي.

مبارکو آيتونو او درســـول الله ﷺ مبارکو احاديثوته په کتو سره ،د تاريخ په اوږدوکی جومات جوړونه او اعمار د اسلامي نړۍ په ډيرو برخو کی په پراخه توګه رواج شـــويدی. پيغمبر ﷺ پخپله د نبوي جومات په بنا کی ونډه اخيســـتلی په

---

١ - د مسند امام احمد حديث ٧٠٥٦.

٢ - رواه البيهقي.

روایتونوکی راغلي چی کله هغه مبارک د نبوي جومات د بنسټ ډبره کیښووله نو دا دعایی ویله:

((**أللهم لاعيش الا عيش الآخرة ، فاغفر الأنصار و المهاجرة**))[1]

د رسول الله ﷺ په زمانه کی به د اسلام لښکر و هر کله چی کوم ځای فتح کاوه ، نودنورو مسلمانانو د ښوونی او روزنې په موخه به یی د جومات په جوړولو باندی اقدام کاوه. له همدی وجی مسلمانان د تاریخ په اوږدو د جوماتونو په جوړولو کې لویی اونه هیریدونکی نمونی وړاندی کړي ، او جوماتونو د خلکو په ښوونه او روزنه او اصلاح کی لویه ونډه درلوده . جومات یوازی د عبادت او دینی زده کړو لپاره نه ؤ بلکه جومات په مختلفو برخو لکه ټولنیز ، فرهنگی، سیاسي او نوروکی ځانگړی ځای درلود ، ټول سیاسي ، عبادي ، دنیوي او اخروي کارونه به په جومات کی څیړل کیدل.

که چیری د صحابو کرامو ، أئمه ؤ ، اصلاح راوړونکو او دعوتگرانه ژوند چاروته مراجعه وکړو ، د دوی دودې او بریا ستر عامل د جوماتونو جوړول او پکی دژوند ټولو چارو په اړه تصمیم نیول ؤ.

د پیغمبر ﷺ) صحابه کرامو او سلف صالح ټولو علم او پوهه په مسجد الحرام او نبوي جومات کی حا صله کړی ، مسجد الحرام او نبوی جومات تر لوړو پوهنتونو نه زیات فعالیت درلود او تر ورستیو لسیزو او سلیزو وروسته بیا په ا سلامي نړۍ

---

١ - صحيح البخاري حديث ٦٤١٤ او صحيح مسلم حديث ١٨٠٥.

کی لوی لوی جوماتونه منځته راغلل ،له هغی جملی نه کولای شــو د دمشــق د جامع جومات ، کوفی جامع جومات ، د بصرــی جامع جومات په اندلس کی د الحمراء جامع جومات ، په نوی ډهلي کی جامع جومات او دی ته ورته د نورو جوماتونو نه یادونه وکړو .

د هغه زمانی د جوماتونو ښــونیزی او روزنیزی برنامی تر اوســنیو لویو پو هنتونونو څخه ډیر مخکی ؤ . منصور جومات په ۱۴۹ هجري کال په بغداد کې د ابو جعفر منصــور خلیفه لخوا جوړ شــو . بیا وروســته هارون الرشــید خلیفه هغه ته پراختیاورکړه ، نو موړی جومات په اسلامی نړی کې یو له سترو ښوونیزو مرکز ونو څخه ګڼل کیږی ، پدی جومات کی د څلویښتونه تر پنحو سوپوری علمي حلقی دایریدی او د پوهانو او عالمانو مرکز ګڼل کیده ، مشـهور مورخ خطیب بغدادی د پنځم هجری او یوولسم میلادي پیړی د یوه طالب العلم له خولې لیکي: کله چی مسجد الحرام ته ولاړ نو د الله څخه یی د ډیرو شیانو سؤال وکړ چی یو یی داؤ . چی هغه وکولای شي د منصور په جامع کی تدریس وکړي . [1]

ابن بطوطه ، سیاح او د مسلمانانو وتلی نړۍ ګرځند ، د مشق ته د خپل سفر په هکله وایی : د أموي جامع جومات په درسی حلقاتو کی به پنځه سوه طالب علما نو او زده کوونکو ګډون کاوه او د جومات لخوا د ډوډۍ پروګرام ورته خوشی ؤ.

دجوماتونو درسي سیستم ډیر ساده ؤ او په درسی حلقاتو کې د ګډون په اړوند هیڅ ډول قید او شرط موجودنه ؤ ، اکثره زده کوونکی داســی کســان ؤ چی ډیر

۱ - د (نقش کتابخانه های مساجد در فرهنگ و تمدن اسلامی ص ۷۸) کتاب څخه.

شـــوراو شـــوق سره یوازی د علم او پوهی زده کولو په موخه به د جوماتونو درسي حلقاتو ته راتلل ، درسي مجالس به د ســـهار لمانځه نه وروســـته پیل کیدل او دماسپښین تر لمانځه پوری بی یی دوام کاوه ، اوځینو ښوونکو به د سهار لمانځه نه مخکی او مازدیگر لمانځه نه وروسته هم درسي ناستې درلودی . [1]

د جوماتونو کتابتونونه:

په مختلفو برخو کی زده کړه د ټولنی د افرادو لپاره یو ضرورت ؤ ، دغه کار ددی لامل شو څو په ځینو جوماتونو کی لکه داوسنیو ښوونیز مجتمع گانو په څیر زده کوونکو ته ټول مادي او معنوي امکا نات برابر کړي له همدی کبله په ځینو جوماتونو کی عادی او یا هم پرمختللی کتابخانی جوړی شـــوی ، زده کوونکو او طالب العلما نو نه یوازی دا چی په آزاده توگه به یی د دغو کتابونو څخه ا ستفاده کوله ، بلکه په سخاوت مندانه توگه د دوی لپاره ، غذا ، ځای ، دمطالعی او لیکلو وسایل او نور خدمتونه هم تیاریدل ، د مسلمانانو د جوماتونو کتابخانی به د نورو سره دومره توپیر نه درلود ، پکی ډول ډول کتابونه موجود ؤ ، ۸۰ ډوله د شـــعر کتابونه د کوفی په جومات کی ســـاتل کیدل هغه کتابونه چی په دو وروڼو پوری به یی تړاو درلود ددوی پخپلو نو مونو سره د قزوین په جومات کی د (عثماني) په نامه صندوقونو کی په ودیعت سره ساتل شوي ؤ ، زیتونه جامع په تونس کی

۱ - همغه مرجع مخ: ۷۷.

لویه کتابخانه لرله ، د ۱۲ قرن په اوږ دوکی نوموړ کتابخانی پخپل ذات کی ډیری پرمختللی تنظیم شوی وی او مخزن د مطالعی اوسالونونه یې لرل .[۱]

د جماتونو رسالت او فعالیت په هاغه وخت کی یوازی تر عبادت او ښوونی زده کړی پوری منحصرنه ؤ ، بلکه جومات په ټولو برخو کی فعالیت در لود او ټولی هغه برنامی او ارشادات چی په شرعي نصوصو او نبوی سیرت کی ؤ ، پکی موجود ؤ ، دا چی ځینو کارونو ، محورونو او یا پروګرامو نوته د جومات په اړونداشاره کیږی ، دا ټول د دین او شریعت له اهدافو څخه سرچینه اخلي او بشر په هره زمانه کې ورته اړتیا لري او دا هر یو عمل ، کړنه یا محور د انسان دروح او روان د لوړتیا او د چاپیریال او ټولنې دامن لپاره یوه ډیره مؤثره او اکسیره نسخه بلل کیږي .

په جومات کې د فعالیت محورونه :هغه پروګرامونه او فعالیتونه چی د جمات د رسالت څخه ګڼل کیږی او قرآن کریم او نبوي لارښوونی ورباندی تأکید کوی ، کولای شو په لاندی توګه بیان کړو :

۱ – عبادت : د پنځه وخته لمونځونو ، او نو افلو او اعتکاف په بڼه سره.

۲ – تعلیم او تعلم : د عقایدو او دیني احکامو زده کړه او نورو ته یی ښوونه.

۳ - د الله یاد او ذکر : په هغو محتوا لرونکو کلماتو او تعبیرونو سره چی د پیغمبر ﷺ څخه را نقل شویدی

---

۱ - همغه مرجع مخ: ۷۸.

۴ – اصــلاح او تره کيه : دروح او روان روزنه او دباطني مرضــونو او بدو خصــلتونو څخه يې ژغورل

۵ – خدمت : خلکوته په مادی ډول سره ګټه رسول .

٦ – دعوت : خلک روڼ اندی ، خپلو دينی او اخلاقي مســايلو باندی پوهاوي او ريښتا ته رابلل .

دادول پروګرامونه په مسـجد الحرام ، نبوی جومات او دعالم اسـلام په نورو وړو او لويو جوماتو نو کی جاري ؤ ، د دی نه علاوه ، د رســول الله او راشــده خلفاؤ په زمانه کی ، مهم ســياســی کارونه ، حکومتي چاری ، د مســلمانانو تر منځ دکړ ګيچونو حلول ، د الله په لار کی د جهاد لپاره د خلکو تيارول همدارنګه په نبوي جومات کی ترسره کيدل ، خوکرار کرار د حکومت او دولت شکل منځته راتلل په نوی ډول سره او دوظايفو جلا والی يو له بله ، ځينی د ندی جومات نه بهر ته انتقال شوی خو هغه پروګرامونه چی روزنيز اړخ لری په هماغه خپل توان او قوت سره لاتراوسـه په جوماتونو کی پاته دی او ډير قرآنی آيتونه اونبوی ارشـادات دغه کارونه د جوماتونو له رسالت او دنده څخه بولی:

(فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَن تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّــلَاةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ)[1]

١ - د النور سورت ٣٦-٣٧ آيتونه.

ژباړه : په هغه کورونو کی چی الله اجازه ورکړی چی لوړی شی او دهغه نوم پکی ذکر شـــی ، ســـهار او بیگا ، په هغه ځای کی تســـبیح وایي داســـی خلک چی ســـوداگري، او خرڅول اخیســـتل یی د الله له ذکره ، لمانځه اداء کولو د زکات ورکولو څخه نه با سی ، دهغه ورځی نه ویریږي چی زړ ونه او سترگې په هغه ورځ وارخطا وي .

دارنگه کړنی دي چی د جومات ماهیت او اهمیت د نورو ادیانو د معابدو او یا د عمومی ځایونو لکه د تیاتر او ســـینما له کلوپونو اوســـالانونو نه بیلوی ، د دغه محورنو نه هر یو د انســـان د روح او روان او د چاپیریال او ټولنی د امنیت لپاره مهم تاثیر لري ، د مثال په توگه: یو مسلمان کس تصور کړو چی د نبوی ارشاداتو مطابق په اول وخت کی په پاک بدن او دزړه په حضـــور او خلوص سره د پنځه گونو لمونځونو اداء کولو په جماعت سره ، جومات ته راځي ، همدا یو عمل دیوه لمونځ کوونکي لپاره دیری معنوي او ظاهري ښـــیگڼی او گټی لري خو بالعکس که چېری په یوازیتوب سره په کور کې لمونځ اداء کړي ، نو هغه مهمی گټی به دلاسه ورکړی هغه گټی او حکمتونه چی د لمانځه په مشروعیت او اداء کولو کی موجود دي ، ډیری د هغو خلکو په نصـــیب کیږي چی په جوماتونو کی لمونځ کوي.

دوحدت او یووالی په راوستلوکی د جمات ونډه :

په جماعت سره د لمونځونو اداء کولو یوه فلسفه د لمونځ کوونکو تر منځ د وحدت او یووالی راتلل دي ، داچی لمونځ کوونکي هره ورځ پنځه وخته په یوه صـــف کی

او په خاص نظم سره يو دبل ترڅنګ ودريږي نو دغه کار د جومات نه بهر د دوی د ژوند په چاپيريال او ټولنه کی سره يووالی راولی او په پايله کی دوی هڅه کوي ، يو بل ته درناوی وکړي ، او پدی سره د ژبی، فرهنګ ، جامو همدارنګه طبقاتی تو پيرونه پدی منظم صـف کی له منځه ځی او يو د بل له درد او غمه خبريږی او يو بل ته په مادي او معنوي ډول مرسـتی سره لاسـونه ورکوي د قرآن هدايت دی چی:

(وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ) [1]

ژباړه :او لمونځونه قايم کړئ او زکات ورکری او در کوع کوونکو سره رکوع وکړئ.

په فرهنګي وده کې د جومات تأثير:

د رسـول الله ﷺ او راشـده خلفاوو په زمانه کې جومات يوازی د عبادت او دينی علومو دزده کړی ځای نه ؤ ، بلکه د مسـلمانانو په فرهنګی وده او پراختيا کی يی هم مؤثر رول درلود او حسـان بن ثابت د رسـول الله شـاعر لپاره منبر جوړولو په اړه د رسول الله هدايت ؤ .[2]

١ - د البقري سورت ٤٣ آيت.

٢ - سنن الترمذي حديث ٣٠٥٩.

دحضـــــرت عمر رضـی الله عنه په زمانه کی دنبوی جومات ترڅنګ د فرهنګی کارونو لپاره جوړ شـوی ؤ.[1] عبدالله بن سـعید بن العاص په نبوی جومات کی د لیکوالی او خطاطی درسی ټولګی دایر کړی ؤ .[2]

د روحي او رواني ناروغیو په آرامتیا او له منځه وړلو کې د جومات تأثیر:
په اوسنی زمانه کې چی رنګارنګ نا خوالی روانی دی ، دانسان زړه او ضمیرئی نا آرامه کړی او هغه درملونه او تفریحی ځایونه او وسایل چی دیوه تسکین کوونکي ځیزنه زیاته ګټه نه رسوی ، پداسی حال کی چی تجربو ثابته کړی چی د جومات معنوی فضـا او د رمضـان مبارک میاشـت کی څو ورځی اعتکاف د زړه ، روح او روان لپاره ډیره ګټوره درملنه ده !

څنګه چی انسانی فطرت د جومات او د جومات د اعمالو سره تړلی دی او ورڅخه لیری کیدل د فطرت سره مبارزه بلل کیږي او داسترس او اضطراب لامل ګرزي ، د اسلام ستر پیغمبر جومات ((**رياض الجنة**)) یعنی د جنت باغ سره تشبیه کړی.[3]
په یوه روایت کې د جومات د الله په وړاندی ډیر محبوب ځای بلل شـــوی : (**أحب البلاد الى الله مســاجد ها وأبغض البلاد الى الله اســواقها**) [4] د خدای په وړاندی ډیر خوښ ځای د الله جوماتونه او ډیر بد ځایونه بازارونه دی.

---

١ - د امام مالک موطأ حدیث: ۴۳۲.
٢ - د(صبحی صالح ، علوم الحدیث و مصطلحه ج:٥ ص ٥)کتاب څخه.
٣ - سنن الترمذي حدیث ٣٥٠٩.
٤ - صحیح مسلم حدیث ٦٧١.

په رښتیا سره د جوماتو فضیلت خو هغه دی چی ښکلي کارونه او پروګرامونه پکی سرته رسـیږي او دا چی جومات الله ته ګران دی نو دغه محبوبیت په هغه چا باندی چی جومات ته راځی هم تآثیر کوی ، نو پدی وجه جومات ته حاضر یدل دزړه د سکون او ذهن دارامتیا لامل کیږي.

په تربیت او اصلاح کی د جومات ونډه:

دامت په تربیه او اصلاح کی د جومات ونډه او اثر دشرعي او تاریخ له پلوه پیاوړی دی ، خو په لنډه توګه باید ووایو چی جوماتونه د تاریخ په او ږدوکی د دعوتګرانو او مخلصو مجد دینو لخوا نه دخلکو د پوهاوی او رهبریت مهم مراکز بلل کیدل ، په اوسـنی اسـلامي بیدارتیایی زمانه کی چی انقلابي مسـلمان نهضـتونه را پیدا شـوي ، دجوماتونو رول پکی ځلانده دی ، له همدی کبله نړیوال ښـکیلاک او شرقي او غربي استعمارچیان او د دوی تالی څټی غواړی په یوه او بل نومونو سره جماتونه بدنام کړی د امریکی پخوانی بهرنیو چارو وزیری میرمن رایس هغه وینا چی څوکاله مخکی یی د قاهرې په پوهنتون کی واورواله او په نړیوالو رسـنیوکی منعکسـه شـوه ، دهغی دبدنیت څخه خبرورکوي ، هغی وویل : ((زما دنده د دولتونو او حکومتونو نـه لوړه ده زموږ جګره یوازی د دولتونو سره نـده ، بلکـه جوماتونو او دهغو پروګرامونه فوق العاده مهم دي ، امریکا د څوکلونو وروسته دی نتیجی ته رسـیدلی ده چی ددولتی سـیسـتمونو څخه پرته باید نور اهداف هم

ترغور لاندی وی ، ځکه اوس د نرمی جګړی وخت دی نو ځکه لدی نه وروســـته باید خپله زیاته پاملرنه جوماتونو او د جوماتونو پروګرامونو ته واړ وو.[1]

البته د جوماتونو په اړوند دا ډیره پخوانۍ نظریه ده او نن ســـبا د یوه لویی او مهمی ســـتونزی په توګه مطرح کیږي ، او د جوماتونو پرګرامونو د بدنامولو او دخلکو او په ځانګړی توګه د ځوانانو کرکه له جوماتونو په اړوند ډیری زیاتی برنامی پکار اچولی او د کلوپونو ، ســـپورتی او تفریحي ځایونه په جوړولو کی یی لګوي.د جوماتونو د فعالیتونو او پرګرامونو په ضـــد پلانونه د دوه پلوه د اهمیت وړدي:

الف : دا چی یوه زیاته ډله مســـلمانان ، زاړه او ځوانان ، نارینه او ښـــځینه د جوماتونو او دهغی دپرګرامونو څخه فاصـــله نیولی ، نو دوی جوماتونو ته دبیا راوســـتلو په هلکه باید چاره وســـنجول شي ، لاری چاری ولټول شي او مؤثر او کوټلی ګامونه پورته شی .

ب : باید فکر وشی او پروګرامونو جوړشی چی څرنګه کولای شو د هری ډلی چی جوماتونو ته راځی دوامداره اړیکی ورسره قایمی کړو څو د جوماتونو او دهغی د پروګرامونو سره علاقمند او پکی جذبه را پیداشـــی . له همدی کبله مناســـبه ده د لومړۍ ډلی په جذبولو او دوهمی ډلې ته په نشـــاط ورکولو سره ځینو اقداماتوته په کلی توګه اشاره وکړو البته هر یو د دغو اقداماتو څخه پخپل وار سره خاصتاً د

---

۱ - د (فروغ مسجد ۸/۳) کتاب څخه.

اجراء په مرحله کی تحقیق او څیړنو ته اړتیا لری ، د جذب او نشـــاط اقدامات کولای شو په دو وبرخو وویشو:

الف: ظاهري کړنی ، اقدامات ، یادجوماتونو کمي پراختیا

ب : معنوي کړنی ، اقدامات ، یا د جوماتونو کیفي پراختیا

د مختلفو ډلو په جذب او نشاط کی د جوماتونو ظاهری ، یا کمی کړنې:

۱ – د جوماتونو د جوړولو لپاره د یوه مناســب ځای او جغرافیایي موقعیت ټاکل، د نورو جوماتونو سره یی فاصــله په نظر کی نیول ، دا هالی او خلکو فعلي او راتلونکی تعداد په نظر کی نیول ، پدی اړه دولتی ســازمانونه ، دمســکن او ښــارجوړلو اداره د مســکونی ځایونو په جوړولو او د ښــار گوټوپه ایجاد او دا چی دخلکو دیني او شرعی ضرورتونو ته پاملرنه ولري ، او په راتلونکی کې د پراختیا ورکولو امکانات هم ولري همدارنگه په لویو څلور لارو او نورو وړو ځایونو په اړه د جومات جوړونی په کارکی د محلی د خلکو سره سلا مشوره وکړي ، په کلیو کی هم پـه مرکزاو یـاداســی نـاحیوکی چی پراختیـا منونکی وی دجومـات دجوړولواواعمارلپاره انتخاب شي

۲ – د جومات یوه برخه د ښــځو لپاره خاصــه کړي څو ښــځی هم په عبادی چاروکی گډون ولري.

۳ – د جومات ظاهری بڼه ښــکلی کول ، لکه مناری ، گنبزی ، منبر ، محراب ، صحن ، کړکی ، او قوسی پنجری مراعات شي.

۴ – د جومات ســطحه د ځمکې او مســکونی کورونو څخه لږ تر لږه یو متر او یاتردی زیاته هســکه وي ، د جومات تقدس او درناوی دغه کار ایجابوي او له بله پلوه جومات دهغه خسواو چټلیو څخه ژغوري چی بادیی وروړي.

۵ – د جومات په جوړولو کی د محلی ټول اوسیدونکي ګډون ولري ، دیوی ښی پلانیزی او ښــه مدیریت له لاری دغه کار په آســانه توګه سرته رســیږي او زیات اوسیدونکي کولای شو د جومات په جوړولو کی سهیم کړو ، د مثال په توګه : بی وزله خلک کولای شی په ساختماني چارو او د موادو ځای پرځای کولو کی برخه واخلي ، دا ونډه اخستنه دوې ګټې لري ، لومړی دا چی د ثواب او خیر په کارکی ټول ونډه اخلي ، دوهم دا چی یو ســړی د خیر او عمومی کارکی ګډون کوی نو ددغه کار اهمیت یی په زړه کی ځای نیسي او بیا د هغه په ساتنه کې هڅه کوی او دخپل کار او ستړیا ځای ته ورځی او ورڅخه لیدنه کتنه کوی.

٦ – د جومات نور یا رڼا په کافي او مناســبه توګه وي ، د جوړولو پرمهال باید د روښنایی موضوع ته پاملرنه وشی، ځکه روښانه فضا یا طبیعی نور ددی ترڅنګ چی راحت ښښونکی دی ، د قرآن کریم تلاوت او نور اذکارهم په ښــه توګه تر سره کیدای شــی مثلاً : پنجری او د نور مناســب راتلل پکی مراعات شــوی وي څو د ورځی لخوا مصنوعی او برښنایی رڼا ته اړتیا نه وي.

۷ – د برقي لامپونو د ګټی اخســتنی پر مهال کوښــښ وشي چی د پرمختللو استنډردونو او معیارونو لرونکی وي .

۸ – صوتي سیستم هم په معیاری ستنډرډ برابر وي ، د اذان ، لمانځه او درس لپاره ځانګری لا سپیکرونه او دهغوی لا سپیکرونو څخه ډډه و شی چی غوږونو ته آزار ورکوي.

۹ – په لویوجامع جوماتونو کی یوازی د داسی لوحی لګول چی : (خپل موبایلونه مو سایلینټ (بی غږه) کړی بسنه نکوي ، بلکه د موبایل د آنتن له منځه وړلو ماشین هم ضرورت دی.

۱۰ – د جومات جوړولو پر مهال ، د روغتیایی خدمتونو لپاره مناسب ځای په نظر کی ونیول شی ، همدارنګه دا وداسه په ځایونو کی امکانات لکه د لاس منځلو مایع ، کاغذی دستمالونه ، ګرمی اوبه ، د تشنابونو پاکوونکی او داودا سه لپاره د ناستی او دریدو ځایونه موجود وي.

۱۱ – دجومات نظافت او پاکی ته پاملرنه ډیره مهمه ده ، جومات لږ تر لږه په اونۍ کې یوځل باید جاروشی ، لږترلږه په کال کی یوځل د جومات فرشونه ومینځل او ضد عفونی شی د ملا امام جاینماز باید ډیر ستره او ښکلی وي ، دبخور ، خوشبویی یا عطروکارول په جومات کی اړین دي څو د جومات فضا خوشبویه وي ، اولکه چی په مبارک حدیث کی راغلی د پیاز او یا هوږی خوړلونه وروسته جومات ته داخل نشی ، خیرنی اوبد بویه جرابی ، پښی او جامې همدارنګه د خولو نه ککړ بدن همدا حکم لري.

۱۲ – د یخنی او ګرمی لپاره په مناسبو سیستمونو د جومات تجهیزول .

۱۳ – د جومات په څنګ پوری د پارکینګ په نظر کی نیول ، همدارنګه د شـــنې فضـا جوړول ، دونو اوبوټو کینول ، د جومات چاپیریالی فضـا برابر ول د ا وسـنیو مهمو ضرور تونه څخه ګڼل کیږي او د لمونځ کوونکو په ذهني آرامتیا او راحت اثرلري.

۱۴ – لږ تر لږه دڅلورو کوټو لرونکی یو تعمیر د قرآن کریم زده کړو ، د فراغت کلاســونه ، داوړی برخه او عمومی کتابخانه د جومات په څنګ پوری اړین دي ، همدارنګه د جومات د امام ، خادم یا مؤذن لپاره د اوســیدو کور د جومات د ظاهری او معنوي آبادۍ لپاره اړین بلل کیږي.

د خلکو د جذب او نشـــاط په موخه د جوماتونو معنوی کړنې یا کیفی پراختیا:

د جوماتونو په کیفی پراختیا په لاره کی ټول کارونه او هلی ځلی باید لومړی په اخلاص او د الله رضـا حاصـلولو سره صـورت ونیسي۔ او بیا دیوه امین هیئت یا مخلص متولي لخوا نه مدیریت شی.

۱ – د جومات امین هیئت :نوموړی ډ له باید ابتکار لرونکی ، فعا له ، تجر به لرونکی او مخلصـــه وي او د جومات د چارو په فعالولو کی د مختلفو خلکو په راجلبو کی مهمه ونډه لري ، د دغه ډلګۍ ټول غړی باید پرهیز ګاره ، تجربه کاره او ســواد لرونکی وی ترڅو د جومات چاری ښـــه مدیریت او نظارت کړی ، او په پاکه روحیه او خالصـه اراده او عملی ابتکار سره جومات په یوه دعوتي اصـلاح او تربیتي مرکز باندی بدل کړي ، د جومات نظافت ، لمونځ کوونکو ته د خدماتو او

د جومات د امام ، مؤذن او خادم د ســوکالۍ لپاره کاروکړی ، متعهده او تجربه لرونکی مخلص او ابتکار لرونکی ځوانان وپیژني او په مختلفو چاروکی ورڅخه کار واخلی، د خلکو د جذب په موخه دعلما و او دعوتگرانو سره مشــوره وکړی او دجماعت امام سره په ټولو کارونوکی سلا مشوره ولري.

۲ – د جومات د جمعی امام : د جومات دوهم فعال غړی د هماغه جومات د لمونځ ورکولو جماعت امام دی او هغه د جذب او نشــاط په اړه ډیر مهم رول لوبوي او هغه مهال خپله دنده په ښه توگه سرته رسولای شی چی لاندی صفات ولري:

- علمي کچه یی لوړه وي د جماعت امام باید عالم او باخبره کس وي ، خاصــتا د لمانځه ، روژی او نور وعباداتو او مســایلونه ښــه معلومات ولری ، همدارنگه د عمومي حالاتو او اوضاع نه هم با خبره وي.
- په تجوید او قرآن کریم تلاوت کی کافی مهارت ولري ، دعمه ســپاره او نور مهم سورتونه یی یاد او ښکلی زړه راښکونکی آواز ولري.
- د ځوانانو ، تنکیو ځوانانو او ښځو د ستونزو او اخلاقی او ټولنیزو ناخوالو په اړه پوره تجربه او مطالعه ولري.
- د ځوانانو او نورو مقتدیانو سره د پوره اســتغناء او وقار په فضــا کی چال چلند ولري.
- د لمانځه او نورو مراســمو ټاکلو وختونو ته متوجه وي او خپله ظاهری بڼه دنبوي سنتو مطابق په مناسبو او پاکو جامو سمبال کړي.

۳- خادم : د یوه بیداره او تجربه لرونکي خادم شتون د جومات لپاره اړین دی ، څو د وخت نه مخکی د جومات دروازی خلاصې او تر مناسب وخت پوری یی خلاصی وساتي او د مؤذن دنه شتون په صورت کی د اذان کول پخپل وخت سره په غاړه واخلی، د ښار په لویو جوماتو نو کی د صفونو د برابرولو تر څنګ د جومات اموالو ، نقلیه وسایلواو د لمونځ کوونکو بوټونو ته هم پاملرنه کوی اوپدی اړوند ابتکار عمل ښکاره کوی ، ځکه د نوموړ و څیزونو د ساتنی نه بی پروایي ځینی وخت د لمونځ کوونکو د پریشانۍ لامل ګرزی. هغه مبتکر او مخلص خادم چی په مزدحمو جوماتونو او یا سیاحتی ښار ونوکی دنده لری ، خاصتا درخصتیو په ورځولکه نوروز او نورو کی کولای شی په ډیر کم مصرف سره د ښه پروګرام په جوړولو سره د خلکو په جذب کی خپل مؤثر نقش ولوبوي.

۴ – دجومات فرهنګی لوری : د مسلمانانو اوسنی شرایط تر هروخت نه ډیر د اتقاضا کوی چی په هر کلیوالي او ښاري جومات کی لږترلږه یو صنف د قرآن کریم زده کړی ، احکامو او اخلاقو ښوولو او نورو پروګرامونو لپاره د کال په اوږدوکې دایر کړي د جومات د چارو امین هیئت کولی شي د دغه کار لپاره د جومات امام نه کار واخلي او په خاصوورځولکه داوړی رخصتیو کی بل کس دغه دندی ته وګوماري.

دجوماتونو فرهنګی پروګرام:

یوه مختصره برنامه د جومات فرهنګی چارو لپاره پیشنهادیږی:

- د قرآن کریم د تفسیر درس : دغه درس معمولا د سهار لمانځه نه وروسته یا هر مناســب وخت کیدای شــی او د ۲۰ نه تر ۳۰ دقیقو لپاره وی ، په لومړی پړاوکی کولای شی د قرآنی قصصو آیتونو او نورو څخه درس ورکړی ، دغه درس په اونۍ که د څلورونه تر پنځو ورځو پوره کافي دی.
- دحدیث درس: کولای شی د ما سختن لمانځه نه وروسته او یابل منا سب وخت کی داخلاقو ، تربیې او فضــایل اعمالو اړوند جامع اولنۍ حدیثونه تشریح شی او د دریونه تر پنځو دقیقو پوری زیات نشی ، مناسبه ده درس پیل نه مخکی د حدیث الفاظ په تخته په ښــکلی خط ولیکل شي او دلیکنی له مخی حدیث تشریح شي.
- د ســیرت درس: ۳۰ نه تر ۴۰ دقیقو لپاره دوام ولری ، ښــه به داوي چی د سیرت درس د تختی او نقشی له مخی وویل شی د ابن هشام سیرت او اطلس السیره پدی اړوند موثر کتابونه دی
- دفقی درس: په اونۍ کې یوه ورځ شرعي احکامو ته اختصاص ورکړی ، په اول کی د ا سانه فقهی کتابونو څخه ا ستفاده وشي لکه په حنفی فقه کی د (مالابدمنه) فقه المیسر ، تعلیم الاسلام او نورو څخه کار واخلي .

د هیئت أمناء په سلا مشوره سره کیدای شی د ځینو دعوتگرانو او واعظینو څخه کار واخیستل او دعوت شي څو د هغو له تجربو څخه گټه واخیستل شي ، دیوې لویی باوری کتابخانی جوړول د جومات په محیط کی ، دیني ، علمي ، اخلاقي او فرهنگي مجله چاپول او خپرول ، د ځوانانو لپاره په هره میاشـت کی اصـلاحی غونده جوړول ، او ښـه داده چی د نوموړی غونډه مدیریت خپله د ځوانانو په غاړه

وی او دښه جذابیت او نشاط په موخه د غونډې ویاند، شاعر او مقرر ټول همدغه ځوانان وی او په ختم کی دیوه عالم یا داعي میلمه نه غوښته وشی، د قران کریم د حفظ ، دعاوو د حفظ ، مشاعره ، سوال او ځواب په اسلام ادابو په رعایت سره او کامیابانو ته جوایز ورکول د ځینو تاریخي او سـیرت له مخی دغزواتو بیانول لکه دبدرغزا د مولود پر مهال د رسـول الله ﷺ مبارک سـیرت او دهغه مبارک د سـنتونه یادونی وشـی همدارنگه ځینی وړی ډلی دینی مدارسـو ته لیږل ځو د علماء و نه لیدنه کتنه وکړی او ځینی ماثوری دعاگانی ولیکل شی ځو یادی کړل شـی په هره اونۍ کی ، د جوماتونو د امامانوغونډی ، او همدارنگه ، د منطقی په سطح غونډی جوړول مؤثر بلل کیږی .

د اصلاح او دعوت کار:

دټولنیزو نا خوالو او مفاسدو ، دین نه تیښتی او نورو اخلاقی بیلا ریوو په وړاندی د مقابلی لپاره چی نن سبا د اسلامي ټولنی لویه ستونزه گرځیدلی ، په جوماتونو کی د اصـلاح او دعوت پروگرامونه جوړول ډیر ضروري شـاید په ځینو جوماتونو کی دارنگه پروگرامونه په عمومی یا عادي توگه شـتون ولري خو دا کافي ندي ، بلکه باید نوی او متنوعي لاری چاری غوره شـی نو پدی وجه دیوه فرهنگی پروگرام جوړول د جومات ترڅارنی لاندی دوعظ او ارشـاد په څنگ کی او دبلیغ ډلگی تشـکیلول کولای شي د نورو نورو لاروڅخه کار واخلی؛ لکه د هغو کسـانو پوښـته گرویزنه چی جومات ته نه راځی او په مناسـبو وختونو کی دهغوی کورونو

ته ورتلل ، دلمونځ کوونکی تشـــویقول او هڅول ځینو کارونو ته لکه : د روژی په میاشت کی اعتکاف او په تراویح کی د قران کریم ختمونه کول.

د جومات خیریه صندوق:

د ټولنی ســـتونزو ته په کتو سره لوی جوماتونه بلکه هر جومات باید یوه خیریه بکسه صندوق ولری څو بی وزله او ضرر رسیدونکی کسانو ته کمک وشی ، څومره ډیر خلک غواړي چی مرسـته وکړي خو فرصـت او یاهمت نلري چی حاجتمند ته ورشی او یا دا چی هغه روپی غواړی د مرستی په توگه مصرف کړی ، کمی وی ، خو دخیر یه صندق په درلودلو سره د مرستی کولو چاری آسانیږي د جوماتونو د رســـالت او مقام په اړه ، خبری ډیری دی ، خوکه چیری د جوماتونو متولیان او مؤسسان د ذکر شوو پروگرامونو د عملی کولو په فکر کی شي ، امید دی چی ان شاء الله جوماتونه به بیاخپل تاریخي او حقیقی مقام ترلاسه کړي .

۳۷

د ټولنې په اصلاح کې د جوماتونو رول

ان الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور أنفسنا و من سيئات أعمالنا ، من يهده الله فلا مضـــل له و من يضـــلل فلا هادي له ، وأشـــهد ان لآاله الا الله وحده لاشريک له و أشهد أن محمداً عبده و رسوله اما بعد:

فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم ، بسم الله الرحمن الرحيم

(و ان المساجدلله فلا تدعوا مع الله احدا) [1]

ژباړه: او دا چی جوماتونه دالله دی نو د الله سره هیڅوک سیال مه نیسی.

(إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَـــاجِدَ اللّهِ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّـــلاَةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلاَّ اللّهَ)[2] ژباړه: جوماتونه یوازی هغه څوک آبادوی چی په الله او د اخرت په ورځی ایمان ولری ، لمونځونه کوی او زکات ورکوی او پرته له الله نه د بل چانه ونه ویریږی.

---

۱ - د الجن سورت ۱۸ آیت.

۲ - د التوبه سورت ۱۸ آیت.

محترمو حاضرینو، مؤمنو او متدینو لمونځ کوونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د الله تعالی ډی شـــکر کوو چی موږ او تاســـوته یی دا توفیق را په برخه کړ ځو ملکوتی آواز الله اکبر په اوریدوسره مو ورته لبیک ووایه او د لمانځه فریضـــی اداء کولو لپاره دلته سره راټول شوو، هیله لرم ، جومات چی د الله د عبادت ځای دی ستاسو په راتگ سره په مادی او معنوی لحاظ آباد او ښکلی وی:

مسلمانانو او درنو حاضرینو! زموږ موضوع نن د (ټولنی په اصلاح کی د جوماتونو رول او ونډی) په اړه ده ، چی ســتاســی پاملرنه ورته رابولم؛ جومات د الله تعالی کور دی او دا کاری پدی دلالت کوی چی دغه مکان ډیر مقدس دی او باید د دنیوی اغراضـــو او اهدافو نه تری کار وانخلو ځوک چی جومات ته را داخلیږي ، لازمه ده ځو ټول کړه وړه او نیت یی خاص د الله رضـــا وگرزوی او له دغه هدف سره بل هیڅ شی گډ نکړی ، الله پاک د جوماتونو تأسیس ، جوړول ، پاکی ، نورو چاروته یی پاملرنه او دما تحتاج ځیزونو برابرول یی دلوړو خدماتو او د فضـلیت نه ډکو اعمالو څخه بولی ، ځکه د جوماتونو اعمار او نورو چاروته یی توجه کول د ایمان نښه او د الله تعالی درحمت او خو ښی لورته زیری دی. حافظ ابن کثیر د پورتنی مبارک آیت په تفسیر کی لیکی: (الله پاک خپلو بندگانوته امر کوی چی دهغه په عبادت کی ځوک شریک ونه نیســی او نه پرته له هغه دبل چانه مرســته وغواړی او نه هم ځوک ورسره سیال ونیسی.) [1] بی له شکه د ټولنی په اصلاح او

---

۱ - د ابن کثیر تفسیر،ج ۴ / ص ۴۳۱ ، ط: دارالمعرفه ؛ بیروت : ۱٤۰۲ هـ.

تربیت کی جومات ډیر لوړ مقام لری ، دغه منزلت او اهمیت له هماغه نبوی جومات او مدینی متوری ه گورو چی د دعوت او اصـــلاح په موخه یی ځومره ارزښـــتناک رول ولو باوه او داســـی رهبران ، علماء او مصـــلحان یی بشرـــیت ته وړاندی کړل چی بشریت یی هیڅ زمانه کی مثال ونه لید ، دغه اهیمت ته په کتو سره ســلفو صــالحو د دعوت او ټولنی په اصــلاح او تربیت کی په علمی ، عملی، اخلاقی او ســـلوکی توگه سره جومات ته خاصـــه پاملرنه کړیوه ، ځکه جومات د دارنگه اصـلاحی پروگرامونه او تربیت لپاره ډیر مناسـب ځای دی له همدی کبله دا ایجابوی ځو د نمونی په توگه ځو نکتی د جومات د حقوقو ، آدابو او اهمیت په اړوند وړاندی کړو:

د جوماتونو ، حقوق ، آداب او مقام:

گرانو لمونځ کوونکو او محترمو حاضرینو:

هغه څه چی د جومات پوری لوړ اهداف او مقاصـــد تړاولری نو دا ایجابوی ځو یو ټولنیز نظام تدوین شـــی، نو په اســـلامی شریعت کی ډیر اجتماعی نظام هماغه جومات دی ، که چېری دقیق فکر وکړو، دابه ووینو چی ددغه امت په تشـــکیل ، تربیت او ساتنه کی جومات او جماعت لویه ونډه لری، له همدی کبله رسول الله ﷺ له یوه پلوه په ډیر تأکید سره د جمعی په لمانځه ټینگار کړیدی او دهغه په تارک باندی یی وعید او تهدید ټاکلی ، له بله پلوه یی د جمات په مقام باندی تاکید کړی او له کعبی نه وروسته یی هغه د خدای کور او دامت لپاره دینی مرکز ، بللی ، عظمت ، برکات او محبوبیت یی د الله تعالی په وړاندې بیانوی ، اسلامی

امت دې ته هڅوی ، څو په هرځای کی چی وی ، زړه او روح یی د جومات سره تړلی وی همدارنگه یی د جومات آداب او حقوق ښوولی او فرمایی:

(**أحب البلاد الى الله مساجدها**) [1]

یعنی الله تعالی ته ډیر محبوب جوماتونه دی.

جومات ته د ننوتلو اوبیرته وتلو دعا:

رسول الله ﷺ فرمایی : (**اذا دخل أحدكم المسجد فليقل: اللهم افتح لي أبواب رحمتک و اذا خرج فليقل: اللهم اني أسألک من فضلک**) . [2]

ژباړه: کله چی یو له تاسو جومات ته داخلیږی نو دا دعا ووایی : (ای الله ستا د رحمت دروازی راته خلاصی کړی) او کله چی د جومات نه وځی نو دا دعا ووایی: (ای الله ستا فضل غواړم)

رسول الله ﷺ جومات ته د ننوتلو پر مهال د رحمت د دروازو پرانستل تعلیموی ، ځکه جومات د دینی ، معنوی او آخروی نعمتونو د حصول ځای دی او د جمات نه دوتو پرمهال بیا د فضل او دنیوی نعمتونو تلقین کوی ځکه د دنیایی چارولپاره د جومات نه بهر غوره دی او فلسفه یی هم همداده چی سړی جومات ته د ننوتو او بیرته وتو په وخت کی د الله نه غافله نشي.

---

۱ - صحیح مسلم، حدیث ٦٧١.

۲ - صحیح مسلم، حدیث ۷۱۳.

د جومات سره اړیکی او علاقه:

جومات د الله د عبادت مرکز او د اسلام د دین دشعائرو څخه دی ، له همدی کبله ورسره اړیکی لرل ، ورڅخه حفاظت او ساتنه کول ، پکی عبادت کول دا ټول د ایمان نښی ګڼل کیږي ، لکه چی رسول الله ﷺ فرمایلی: (**اذا رأيتم الرجل يتعاهد المسجد فاشهدوا له بالايمان ،فان الله يقول : انما يعمر مساجد الله من آمن بالله واليوم الآخر**) [1]

ژباړه: کله مو چی داسی څوک ولید چی د جومات سره یی تړاو درلود او ورڅخه یی حفاظت کاوه ، نو دهغه په ایمان لرلو باندی ګواهی ورکړی ، ځکه الله تعالی فرمایلی: ځوک چی په الله او د اخرت په ورځ ایمان لری ، نو جوماتونه آبادوی. نو راځی د جوماتونو د مایحتاج څیزونو په تأمینولو او نورو خدماتو کی یی خاصه او دوامدره پاملرنه وکړو.

د جوماتونو نظافت او پاکوالی:

هغه محلات او ځایونه چی یو له بله سره لیری پراته وی نو جوماتونه یی زیاتی پاکی ، ستره ګی ، چاپیریال ساتنی او خوشبویی ته ضرورت لری او دغه حق د جوماتونو د عظمت لپاره خاص دی چی نسبت یی الله تعالی ته کیږی؛ عن

---

١ - سنن الترمذی، حدیث: ٢٦١٧، ٣٠٩٣ .

عایشه رضی الله عنها قالت: (**أمر رسول الله – ببناء المسجد فی الدور و أن ینظف و یطیب**)[1]

له حضرت عایشی صدیقی – رضی الله عنها نه روایت دی هغه وایی(رسول الله ﷺ – امر کړی څو په محلاتو کی جوماتونه جوړ او پاک او خوشبویه وساتل شی.

نو ای مسلمانو ورونو! مسلمان باید تل خاصتاً کله چی جومات ته یوازی د الهی فریضی اداء کولو په موخه ځی ، باید په ډیر ښه لباس ، پاک ، مهذب ، خوشبویه او ښکلی بدن او بڼې سره جومات ته ولاړشی ، نه دا چی په ببر سر ، خرابه څیره او خیرنو بدبویه کالیو سره دخلکو د آزار لامل و ګرځی او ورنه کرکه وکړی.

دبدن ، جامو پاکوالی او دظاهری بڼې ښکلا:

د جوماتو د حقونو او ادابو څخه چی مسلمان یی په رعایتولو باندی مکلف دی ، هغه نظافت او پاکی ته توجه او دبدن ، جامو، د جاپیریال اوسیدو ځای پاک ساتل دی ، په ځانګړی توګه جومات چی دخدای د کور نسبت ورته شوی او ورسره نږدی تړاو لری . ا سلام دا تو صیه کوی چی م سلمان باید ښکلی منظر او پاکی جامی ولری او داسی وی لکه چی دی یی د نورونه تقاضا لری چی په کومه بڼه یی ووینی ، مخکی لدینه چی د خبرو نه یی متأثره شی ، دده د ظاهری حالت نه د راحت احساس وکړی او ورسره یی مینه پیدا شي ، رسول الله ﷺ به

---

١ - سنن ابی داود، حدیث: ٤٥٥ و سنن الترمذی: ٥٩٤.

خپلو صــحابه کرامو ته د ســفر پرمهال دارنګه توصــیه ورته کوله: (انکم قادمون علی اخوانکم فأصــلحوا رحالکم و لباســکم حتی تکونوا فی الناس کأنکم شــامة فان الله عزوجل لا یحب الفحش ولا التفحش) [1]

ژباړه: تاسی زر ده چی خپلو وروڼو ته مو ورسېږئ ، نو خپله سوارلی سمه کړی او ښی جامی واغوندی څو د خلکو په منځ کې ښکلی وځلیږئ ، یقینا الله تعالی نه خوښوی فحش او تفحش.

ګرانو وروڼو او محترمو لمونځ کوونکو!

وینو چی د الله رسـول ﷺ تیت او پرک ګډوډ حالت او ظاهری بڼې ته نه پاملرنه فحش او تفحش) بللی دی ، اسلام نظافت او حمام کول ددین یوه برخه بولی او د مســلمانانو د عبادتی چارو څخه یی بولی ، حتی د انســان خوله چی بدبویی ورڅخه متصوره ده همدارنګه په تنظیمی امورو کی شامله کړی ، او د اسلام دین دغه کارته ونه پاملرنه بده بللی ده ، لکه چی رسول الله ﷺ فرمایلی:

(لولا ان اشق علی أمتی لأمرتهم بالسواک عند کل وضؤ) [2]

یعنی که چیری می په امتیانو باندی ګرانه نه تمامیدای نو به می ورته امرکړی ؤ چی د هر اوداسه لپاره مسواک ووهی. رسول الله ﷺ – مسلمانانوته د ویښتانو په

---

١ - سنن ابي داود، حديث: ٤٠٩١.

٢ - صحيح البخاري، حديث: ١٩٣٣.

پاملرنه اوپاک ساتلو باندی امر کړیدی، فرمایی: (عن أبي هريرة رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ قال : (من كان له شعر فليكرمه) [1]

حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت کوی چی رسول الله ﷺ فرمایلی: څوک چی اوږده ویښتتان ولری نو باید ښه ساتنه یی وکړی دویښتانو اکرام ، هغه پاک ساتل ، ږمنځول ، خوشبویه کول او ظاهری بڼه یی ښکلی کول دی.

په جومات کی پیرل او پیرودل ممنوعیت:

عمرو بن شعیب له خپله پلاره شعیب او هغه له خپله نیکه عبدالله بن عمرو نه روایت کوی: (رسول الله ﷺ په جوماتونوکی له شعرویلو او مشاعری خرڅول ، اخیستلو څخه منع کړیده او دایی هم منعه کړی چی د جمعی په ورځ د لمانځه نه مخکی خلک ډلی ډلی جومات ته ولاړشي او یو دبل سره مجلس کوی.[2]

په بدبویه خولې سره جومات ته نه داخلیدل:

د جوماتونو د تعظیم او آدابو څخه یو هم دادی چی په بدبویه خوله باندی ور داخل نشی او رسول الله ﷺ په کلکه باندی د دغه کار څخه نهی کړی ، لکه چی راغلی دی:

---

١ - سنن أبی داود، حدیث: ٤١٦٥.

٢ - معارف الحدیث از محمد منظور نعماني د عبدالمجید مراد زهي خاشي، ژباړه ټوک ٣، ص ١٤٣، د سیلاب جنگی محله انتشاراتو څخه.

قال رسول الله ﷺ **(من أكل من هذه الشـجرة المنتنة فلا يقربن مسـجدنا ، فان الملائكه تتأذى مما يتأذى منه الانس)** [1]

ژباړه: رســـول الله ﷺ فرمايي: چا چې د دغه بدبويه ونې – پياز او هوزې – نه وخوړل نو زموږ جوماتونو ته دنه نږدې کيږي ، ځکه له هر څه نه چې انســـانان په تکليفيږي له هماغه څه نه پرښتې هم په آزاريږي.

نو د جماتونو د دينې حقوقو او ادابو څخه يو دادې چې د هر نوعه بدبويه څيز څخه ډډه وشي ، ځکه په پياز او هوږه کې بدبويې موجود دي او د سليمې طبعې انســـانان ورڅخه آزاريږي او هغه څه چې انســـانان په تکليفوي ، هغه د ملائکو د اذيت ســـبب هم کيږي ، نو ځکه دغه محترم او مقدس ميلمانه چې جومات ته راغلې، بايد په تکليف نشي ، له همدې کبله هڅه وکړو ، کله چې د لمانځه اداء کولو په ځانګړې توګه د جمعې لمانځه لپاره جومات ته راځو هڅه وکړو څو خپل پاک کالې واغوندو او خپله خوله او غاښـــونه ومينځو او له هغو خوړو نه ډډه وکړو چې بدبويه وي.

دجوماتونو روزنيزه ونډه:

نو اوس اړينه ده څو پوه شـــو چې جومات او په جمعه سره لمونځ کول او دينې موعظو اوريدل څه پايلې لري ، توجه وکړي:

---

١ - صحيح مسلم، حديث: ٥٦٤.

۱ – د انســانانو ټینګه رابطه د خپل پروردګار سره ، د دوی د ایمان او اســلام تقویت، همدارنګه د ســمی او له شریکانو څخه د ژغورل شــوی ســو چه عقیدی تعمیق چی د هر ډول شرعی ضد خرافاتی عقائدو څخه ژغورل شوی دی.

ګرانو حاضرینو او مؤمنو لمونځ کوونکو!

آیا زموږ پیوند او اړیکی له جومات سره محکمی او کلکی دی؟ ایا له هغه وعظ او تبلیغ څخه چی په جومات کی کیږی په لازمه توګه مو ورڅخه ګټه اخلیستی؟ نو فرصت دلاسه ورنکړو ، لاتراوسه هم موقع پلاس لرو.

۲ – جومات د ظاهری او باطنی عبادت لپاره په اصـلی مانا سره یو مناسـب ځای دی ، پدی فکر لرلو سره چی الله پاک موږ په هر حالت کی وینی او دهغه ذات نه په سر او علانیه کی خوب او امید ولرو، څو هیڅکله د بدکارکولو او په منکراتو کی د ګډیدو لپاره جرأت راته پیدانشي.

الله تعالی فرمایی: (**وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِـينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّـلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ**)[1]

ژباړه: او دوی ته امر ندی شــوی مګر دا چی یوازی د الله تعالی عبادت وکړی ، پداســی حال کی چی خپل دین د هغه لپاره خالص کړی او توحید ته راوګرځی لمونځ وکوی او زکات ورکړی او داده نیغه او تلپاتی لاره.

۱ - د البینة سورت ۵ آیت.

محترمو حاضرینو ، ځوانانو او سپین زیرو!

۳ – د رسـول الله ﷺ مبارک سـنت ، لاره او طریقه ، لوړاوغوره اخلاق ، غوره رویه او سلوک یی چی لرل ، خلکوته توضیح او تشریح کیږی څو هغه مبارک د خپل ځان لپاره قدوه حســنه ونیســو، څو دهغه په نقش قدم باندی ولاړشــو، الله ج فرمایلی:

(لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا)[1]

ژباړه: په تحقیق سره د رســول الله په ژوند او دهغه په مبارک ســیرت کی غوره نمونه او قدوه وه، دهغه چالپاره چی د الله رحمت او اخرت غواړی او الله ډیر یادوی.

محترمو ورونو!

له ځان سره فکر وکړو، آیا هغه موعظی چی د رســول الله ﷺ د اخلاقو او مبارک ســیرت په اړه په جومات کی کیږی ، خپل ځایونه مو ورباندی مزین کړی؟ که چیری ځواب منفی دی نو اوس هم زرده چی خپل ځایونه ورته چمتو کړو. رسول الله ﷺ فرمایی :

(نضرالله امرأ سمع منا شيئًا فبلغه كما سمعه، فرب مبلغ أوعى من سامع) [2]

---

۱ - د الأحزاب سورت ۲۱ آیت.

۲ - سنن الترمذی، حدیث: ۲٦٥۷.

یعنی الله د خوښ او نیکمرغه کړی هغه کس چی له موږ نه یی څه اوریدلی وی، تبلیغ یی کړی ،او زیات تبلیغ اورونکی شـــته چی له وعظ کوونکو ځخه ښـــه پوهیږی. ځینو علماؤ د پورتنی حدیث شرحه کی لیکی: په تابعینو کی داســـی خلک ؤ چی په علم او د حدیثوپه زده کړه کی به تر صـــحابه کرامو (رضـــی الله عنه) نه مخکی ؤ او داســـلامی معارفو خپراوی او نشرـــ په لاره کی یی آثار او خدمتونه نه هیریدونکی دی او د جومات ونډه پدی برخه کی جوتوی ،حافظ شـــیرازی وایی: مه بیدیږه چی حافظ د دی غمه او در ده چی الله په وړاندی یی عبادت قبول شی ، نیمه شپه ویښ او دسهار په درس کی حاضروی .

۴ – د داسی شیانو تشریحول چی مخکینی علماء فقهاء دعوتگران او ددی امت مصلحان وربانـدی لوړو مراتبوته رسیدلی ؤ، ځرنگه رهبران شول او ځرنگه خلکوته د ښوونی مصدر وگرځیدل ، ځو وروستنی نسلونه ورپسی اقتداء وکړی او د دوی لاره تعقیب کړی ، په جومات کی سرته رسـیدل او ټول د دغه جومات نه د ټولنی مصلحین وگرځیدل.

۵- د اسلامی تاریخ مجد او عظمت بیانول چی ځرنگه یی د بشریت لپاره د علم، اخلاقو او فضـــلیت لاری ترســـیم کړی او منځته راوړی همدارنگه د امت فعلی حالت د پخوانیو افتخاراتو او ارزښـــتونو سره تړاو ورکړی . نو پر موږ لازمه ده ځو د پخوانیو مشرـــانو لاره تعقیب او خپل ځایونه په هماغه مواصـــفاتو برابر ، ترځو د دواړو جهانونو نیکمرغی مو په برخه شی.

٦- د پورنینو ذکر شـــوو خبرونه علاوه د جومات خطیب او امام د جمعی په ورځ هغو موضوعاتو ته چی بیښیږی او خلکوته مهم ښکاری او غواړی په هغو پوه شی او یا دا چی پخپلو ورځینو چاروکی ورسره مخامخ کیږی خو دهغو له پوهیدوڅخه عاجز وی ، د قرآن او سنتو په رڼا کی ورته بیان کړی ، چی دا کار پخپله د ټولنی په اصلاح کی رول لری.

٧ – په جومات کی وعظ ، تبلیغ او اســلامی پیغامونه رســول ، د خلکود زړونو پّ نرمولو ، د هرنیک کار تخم شــیندل په زړونو کی ، دوی د منکراتو څخه د منعه کولو او پکی د واقع کیدو د ځان ســاتنی ، پخپل ذات کی لوی اثر کوی، خو کوښښ وشی چی دغه تبلیغ او موعظه اوږده نشی او ستا سو د ملامتیا او یا کم علاقگی لامل ونگرځی او نه هم د چا د توهین او تحقیر ســبب شـــی ، لکه چی رسول الله ﷺ به په شدت سره هغه مراعاتوله ، الله پاک فرمایی : (**ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ**)[1]

ژباړه: د الله لاری ته په حکمت او نیکه موعظه سره دعوت وکړه او ددوی سره په هغه طریقه چی غوره وی ، استدلال او مناظره وکړه،.

١ - د النحل سورت ١٢٥ آیت.

گرانو دوستانو آیا موږ او تاسو دغه اصول مراعات کړی ؟ آیا په دغه اصولو پابندیو؟

دفی ظلال القرآن مؤلف د پورتنی آیت په تفسیر کی لیکی: قرآن کریم د دعوت او ټولنی د اصلاح په موخه پیاوړی اصول چی په کلکو بنسټونو پوری تړلی وی ، جوړوی ، د دعوت او اصلاح وساتل او لاری ورته مشخص کوی ، د اسلام ستر پیغمبر او دهغه نه وروسته د اعیانو ته د دعوت او ټولنی اصلاح لپاره ښکاره لار ښوولی ، نو باید قانون او لارو چاروته وگورو چی الله پآک د دعوت لپاره وربانده تأکید کړیدی. دغه تبلیغ او دعوت د الله په لوردی نه دا چی د تبلیغ کوونکی په لور، نه هم د قوم او قبیلی په لور، هغه څه چی په مبلغ پوری تړاولری ، دادی چی خپله دنده د الله د رضا په خاطر سرته رسوی او دهغه چانه چی ورته تبلیغ کوی ، هیڅ ډول فضلیت او برتری نلری ، څو دهغه نه خبری وکړی ، خپل مزد او اجر یوازی د الله نه غواړی او بس شهید استاذ زیاتوی :(دعوت او اصلاح کول باید په حکمت سره وشی ، دعوت کوونکی باید د مخاطبانو اوضاع او حالاتو ته وگوری ، همدارنگه دهغوی شرایط په نظر کی ونیسی او دقت ولری چی څومره مطالب او مقاصد خلکوته بیان کړی څو وربانده در وندوالی ونکړی ، او مخکی لدینه چی خلک یی قبول کړی تکالیف او دندی وربانده درنی نشی ، دعوت کوونکی او اصلاح راوړونکی باید دخپل کار لپاره داسی لاره غوره کړی چی مخاطبانو ته تکلیف او ستونزه پیدانکړی او د شرایطو او ظروفو په نظر کی نیولو سره تنوع پخپل مسیر کی وکاروی. اصلاح راوړونکی شخص باید یو زړه

راښکونکی نصیحت باندی خبری پیل کړی چی کرار کرار زړونه ترلاسه ، شعور او حواس خپل ځان ته راجلب او تسخیر کړی) [1]

۸ – د مسلمانانو د پیوند او وحدت ساتل ، د اسلامی وروروولی د مفاهیمو نژول ، ایثار ، ورکړه او دا چی مسلمانان د یوه بدن حیثیت لری نو دیوه بدن په څیر باید یوله بل سره ژوند وکړی ، دغه کار یوازی او یوازی د جومات له لاری ممکن دی ، قران کریم فرمایی : (**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ**)[2]

یعنی مسلمانان سره وړونه دی ،نو ددوو وروڼو ترمنځ سوله وکړی او دالله نه وریریږی ترڅو پرتاسو رحم وکړل شی. د(انماالمؤمنون اخوة) جمله چی په پورتنی آیت کی ذکر شوه ، د اسلامی د اساسی او ریښی لرونکو شعارونو څخه دی ، ډیر خوږ ، عمیق او دلوړی مانا لرونکی نور هغه وخت غواړی د خپلو هم مسلکانو سره علاقه وښي چی ورڅخه د (رفیق) یعنی دوست په نامه سره یادونه وکړی ، خو اسلام د مسلمانانو د دوستۍ د پیوند سطحه دومره لوړه بیولې چی دیوه ډیر نږدی پیوند په توګه چی د دوو انسانانو یو د بل سره وی هغه هم د

---

۱ - تفسیر في الظلال قرآن د دکتور مصطفی خرم دل ژباړه ج ٤، ص ۳۲۱ د احسان خپرونه تهران ۱۳۸۷ ه.

۲ - د الحجرات سورت ۱۰ آیت.

مساوات او برابری په اساس ، مطرح کوی چی هغه ٦-٢٣-٢٢ د دوو ورونو رابېه او علاقه یو له بل سره ده.[1]

په جومات کی حاضرو مسلمانو ورنو! آیا دارنگه احساس په موږکی را پیدا شویدی؟

د همدغه مهم ا سلامی ا صل پر بنا ، مسلمانان که د هر ټبر ، نژاد او دهری ژبی لرونکی هم وی ، په هر سن اوکال کی چی قرار ولری یو له بل سره په عمیقه توگه د وروروڼی احساس کوی ، که څه هم یو په شرق او بل په غرب کی ژوندو لری . دحج په مراسمو کی چی مسلمانان د دنیا له هر گوټ څخه د توحید په کلمه سره راټولیږی ، دغه پیوند ، احساس اوتړون محسوبیږی اود الهی قانون یوه عینی صحنه وی، الله پاک دموږ او تاسو ټولوته توفیق را په برخه کړی.

٩- د اسلامی علومو او معارفو د تدریس په موخه د درسی حلقاتو ایجاد او پراختیا، او دخلکو خاصتاً ماشومانو روزنه په جومات کی ، د اصلاح او روزنی اسباب برابروی ، ځکه د ماشومانو ښوونه او روزنه په دغه موده کی دتیږی د نقش حیثیت لری او هر کله چی ځوان شی نو د هر ډول ضد دینی او انحرافی او د اسلامی ارزښتونو خلاف ټولو عقائدو په وړاندی به مقاومت کوی ، نو ای گرانو لمونځ کوونکو! آیا خپل ماشومان مو جومات ته لیږلی دی؟

---

١ - د(تفسیرنمونه، ناصر شیرازی ج ٢٢ ص ٨١ دارالکتب اسلامیة) کتاب څخه.

الله پاک فرمائی: (**وقل رب زدني علماً**)[1] او ووایه : ای ربه زما علم ډیر کړی.

الله پاک ئی خپل اســتازی ته فرمائی: له خپل الله نه دنافع او ډیر علم وغواړه ، د صــفوة التفاســیر مؤلف د طبری تفســیر په حواله لیکی: خدای (ج) خپل پیغمبرته امر کوی چی د علم له فوائدو نه هغه چی نه پوهیږی پوښتنه وکړی) [2]

۱۰ – پنځه وخته لمونځونه کول ،د حفظ، تجوید او تفســیر حلقاتو ایجاد په جومات کی ، او دخلکو تشــویق او ترغیب څو د جمات په تجهیز او تمویل کی برخه واخلی ، ددی ترڅنگ چی د خلکوترمنځ محبت او صــمیت رامنځته کوی ، په تولنه کی د اصلاح مفکوره هم را ژوندی کوی ، نو وگورو چی خپل لمنځونه په جماعت سره اداء کوو؟ آیا هغه مســائل مو چی ندی زده د علمای کرامونه مو پوښــتلی ؟ ځواب به حتما منفی وی ، الله پاک فرمایی: (**إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ**) [3]

ژباړه: موږ قران نازل کړی او په یقین سره موږ به ئی حفاظت کوو. دقرآن کریم د حفظ مسئله د یوه سنت او عبارت په توگه د خلکو په منځ کی موجوده وه او اوس هم شــته ، حتی تردی پوری کله چی قران دیوه کتاب په توگه چاپ او تکثیر شــو،دغه کتاب (قران کریم) ترټولو کتابونو نه زیات په اســلامی هیوادونو کی چاپیږی او ویشــل کیږی ، خو د دغه کار سره سره بیا هم دقران کریم د حفظ

---

۱ - د طه سورت ۱۱٤ آیت.

۲ - صفوة التفاسیر ، لمحمد علي الصابوني ج ۲ ص ۲۴۹ دارلتعلیم ، بیروت ۱٤۰٦.

۳ - د الحجر سورت ۹ آیت.

موضـوع په هماغه پخوانی شـکل سره لاتراوسـه دوام لری او خپل ویاړلی اصـالت ئی ساتلی دی ، نو راځی اوس د فرصت نه استفاده وکړو ، زموږ ما شومان چی د سـبا ورځی ځوانان دی ، قرآن ور زده کړو څو په راتلونکی کی دفسـاد نه سـاتل شوی ټولنه ولرو.

د تیسـیرالکریم الرحمن فی تفسـیر کلام المنان مؤلف لیکی : قرآن کریم داسـی کتاب دی چی هرڅه پکی ذکر شوی او پکی ښکاره مسائل او دلایل موجود دی او دهغو خلکو لپاره بند دی چی بند منوونکی وی ، قران کریم د نزول او نازلیدو وروسـته حافظان وجود لری چی د شـیطانانو د اسـتراق نه ئی مخنیوی کاوه او د نزول نه وروسته ئی هغه د خپل پیغمبر په زړه کی ورایښوده او بیا وروسته د امت په زړونو کی ، الله پاک په دارنګه طریقه سره قران کریم د تغییر، زیادت او نقصـــان نه وژغوره ، نو څوک چی قران کریم حفظ کړی، الله پاک به ئی کورنۍ اوعیال له دښمنانو نه وساتی او دښمنان به ئی نه پری مسلطوی). [1]

شاعر وایي :

علم یگانه گوهر است و کاهلی کام نهنگ

تا برای این گوهر از کام نهنگ آماده شو

---

١ - تیسیرالکریم الرحمن في تفسیرکلام المنان ، عبدالرحمن بن ناصر،ج ٦، ص ٤٢٩ ، مکتبة الرشد ، ریاض ، ۴۲۱ ، ۱۴۳۰ هـ.

۱۱ – د ضعیفانو بیچاره ګانو، محتاجانو سره مرسته او تعاون او پدی اړوند خاص تدابیر نیول، یو له بل سره مرسته او ددوی ترمنځ د اجتماعی تکافل احساس او روحیه ژوندی کول ، دا ټول کارونه د جومات او منبر له لاری امکان لری چی د محبت ورورولۍ او مرستی تخمونه د خلکو په زړونو کی شیندی ، چی فرد او ټولنی په اصلاح کی مؤثره ونډه لری . نو ای مسلمانو ورونو! یو له بل سره د مرستی او همکاری نه ځان مه سپموی ځو د دغو بدبختیو نه خلاصون ومومو، الله پاک فرمائی: (**وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ**)[1]

ژباړه: او یو له بل سره په نیکۍ او تقوا لاره کی مرسته وکړی او د ګناه او ظلم کارونو کی مرسته مه کوی.

په همدی ترتیب سره الله پاک خپلو مؤمنو بندګانو ته امر کوی چی په نیکو کارونو کی چی هغه د ښوکارونو کول او د متهیاتو نه ډډه کول او تقوا ده ، یو له بل سره مرسته وکړی او دمنهی عنه کارونو یعنی هغه کارونه چی حرام دی او ګناه وربانده مرتبېږی، څخه منع کوی.

یو شاعر وائي:

په علم او ایمان سره انسان دومره مرتبی ته رسیږی چی پر ښتی داخو ښوی چی کاشکی موږ انسانان وای چی د اخصلت او مرتبه مو خپله کړی وای ، مرغه په

---

۱ - د المائده سورت ۲ آیت.

دوو وزرونو سره فلک ته نشی رسیدای ، خو انسان د تقوا په وسیله کولای شی د الله په وړاندی لوړی مرتبی او عرش ته ورسېږی.

د مختصرـ ابن کثیر تفسـیر مؤلف د طبری تفسـیر په حواله لیکی: (اثم) د هغه کارونو پریښودوته وائی چی الله تعالی دهغه په کولو باندی امر کړی او (عدوان) د حدودوڅخه تجاوز ته وائی هغه حدود چی الله پاک ترسـیم کړی ، همدارنگه تیریدنه او تخطی له هغو فرائضـو نه ده چی الله پرتاسـو فرض کړی سـتاسـو په مورد او د نورو یعنی نور خلکو او ټولنی. رسول الله ﷺ فرمائی:

(أنصـر أخاک ظالماً أو مظلوماً، فقال رجل: یا رسـول الله ! أنصـره اذا کان مظلوماً أفرایت اذا کان ظالماً کیف أنصره؟ قال تحجزه أو تمنعه من الظلم و ذلک نصره) [1]

ژباړه: خپل ظالم او مظلوم ور ورسره د مرسـته وکړه ، یوه سـړی وویل: ای د الله رسـوله ، د مظلوم سره خوبه مرسـته وکړم،خو که چیری هغه ظالم وی نو څنگه به ئی مرسـته وکړو؟ رسـول الله ﷺ وفرمایل: هغه د ظلم نه منعه کړه ، نو دغه کار دهغه سره مرسته کول دی. په بل ځای کی فرمائی: (**الدال علی الخیر کفاعله)**

یعنی په خیراونیکی سره دلالت کوونکی داسـی دی لکه دهغه کار کوونکی. نوراځی چی یوله بل سره دخیر اونیکی په چاروکی مرسته وکړو. [2]

---

١ - مسند البزار، حدیث: ٧٤٥٨.

٢ - مختصر تفسیر ابن کثیر لمحمد علي الصابوني، ج ١، ص ٤٧٦ دارالقرآن الکریم، بیروت، ١٤٠٢ ه.

دجومات اهمیت ته په کتو سره چی د ټولنی په اصـــلاح کی څومره مهم رول لوبوی، لازمه او ضروری ده چی مسلمان قلیتونه چی په غیر ا سلامی هیوادونو او یا جوامعو کی ژوندی کوی ، له یاده ونه با سو او ددوی حالت ته پاملرنه وکړو، څو یوه ورځ به دا سی را شی چی پخپلو محلاتو کی جومات ولری او له دغی لاری به وکولای شی چی خپل دینی او مذهبی واجبات پرمخ بوزی ، ځکه جومات لرل د دوی د انســانی کرامت په ســاتنه ، خپلو حقوقو ته لاسرســی ، د دوی د شــان او منزلت په لورتیا ، ددوی دین او مقد ماتو ته نه توهین او بالاخره الهی پیغام خلکوته رسولو او خپلی ټولنی په ا صلاح کی ورسره مرسته کوی او دا ټول کارونه په (**وتواصوا بالحق و تواصوا بالصبر**) پوری تړلی دی ، او د جومات اثر هم د هیچا نه پټ ندی، الله پاک فرمائي:

(وَالْعَصْرِ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ)[1]

ژباړه: قسم په زمانه چی تول په تاوان کی دی ، مگر هغه کسان چی ایمان لری ، نیک عملونه ئی وکړل او په حق سره یو بل ته توصـــیه کړی وی او په صـــبر کولو باندی ئی نصیحت کړی وی.

په رښـــتیا سره هم که چیری مســـلمانان جوماتونه په مادی او معنوی لحاظ سره آباد وســاتی او په څلورگونو اصــولو چی په پورتنی ســورت کی ذکر شــول ، پخپل فردی او ټولنیز ژوندی کی عملی کړی ، نو ددوی ستونزی او ناخوالی به له منځه

---

۱ - د العصر سورت ۱-۳ آیتونه.

ولاړی ، ددوی وروسته والی به پتی، کمزوری به ئی په بریالیتوب سره بدلی شی، او دنړی دشرځځه به وژغورل شـــی له همدی کبله د جوماتونو اهمیت ته په کتو سره چی رسول الله ﷺ فرمایلی :

(**من بنی لله مســـجداً بنی الله له بیتا فی الجنة**)[1]. ژباړه: څوک چی د الله رضـــا لپاره جومات آباد کړی نو الله تعلی به ورته په جنت کی کور جوړکړی.

مسلمانانو ورونو او متدینو او مؤمنو لمونځ کوونکو!

جومات د الهی عدالت ښـــکارندوی دی چی بدای او بی وزاله ، د نفوذ خاوند او عادی سـړی په یوه صـف کی پرته له هرډول فردی یا ټولنیز توپیرڅخه یو دبل په څنګ کی د خپل الله په عبادت باندی مشغول وی.

دا داســـلامی اخوت ښـــکارندوئی ده چی په ټولو قومی ، منطقوی او ژبنی کاذبو امتیازاتو باندی د بطلان کرښـــه را کاړی. جومات د ورورولۍ ، برابری، دوســـتی ، ښه ګاونډیتوب ، ښه سوله ایز ژوند او د ژوند نمونی ښکارندوی دی.

جومات د اخلاقو ، تهذیب ، نظافت او د مسلمانو لپاره د اسلامی او انسانی ژوند آدابو ښـــوولیو مرکز دی ، نو راځئ ، جوماتونه پخپلو راتلو ، په جمعه سره لمونځ کولو ، دعا ، ذکر ، او دقرآن کریم په تلاوت سره آباد کړو.

---

١ - شعب الایمان، حدیث: ٢٦٧٥.

پایله:

د اسلامی ټولنی په اصلاح کی د جومات مقام او منزلت د هیچانه هم پټ ندی ، ځکه جومات د عبادت ډګر ، دعلم او عرفان مدرسه او دادبیاتو مرکز ګڼل کیږی ، رســـول الله ﷺ چی په مدینه منوره کی جومات آباد کړ،یوازی ترلمانځه پوری منحصرــنه ؤ ځکه جومات دی ، او مســـلمان په هرځای کی دالله عبادت کولای شـــی ، بلکه جومات دیووالی ، ورورولۍ ســـوله ایزژوندانه یوله بل سره او نمونه اخیســتل د بشرـیت د ټولو دنیوی او اخروی کارونو د نیکمرغۍ لپاره یوه نمونه او رمز ګڼل کیږی ، نو موږ او تاســـوته لازمه ده څو جوماتونونه همدارنګه ترخپلی پاملرنی لاندی ولرو، او دهغو په مادی او معنوی آبادۍ کی هڅه وکړو، الله پآک د موږ او تاسی بریالی او سرلوړی ولری.

۳۸

د علم او پوهي ارزښت او د بی سوادی زیانونه

الحمد لله الذي رفع و قدر العلم والعلماء و جعلهم ورثة الأنبياء والصلاة والسلام على سيدنا محمد امام الأصفياء و على آله و أصحابه الأوفياء اما بعد: قال تبارک و تعالى: (اقرا باسم ربک الذي خلق). [۱]

ترجمه: ای محمده! ولوله د خپل هغه پالونکي نوم ولوله چې ټوله نړی یې پیدا کړیده.

(يرفع الله الذين آمنوا منكم والذين أوتوا العلم درجات). [۲]

ژباړه: الله ﷻ ستاسو څخه د هغو خلکو چې ایمان لري او هغو چې پوهان دي په درجو سره مرتبی او چتی کړیدي.

د ابو هریره (رض) نه روایت شوی چې پېغمبرعلیه السلام وفرمایل: **(من سلک طريقا يلتمس فيه علما سهل الله له طريقا الى الجنة).** [۳]

۱- د علق سورت:۱ آیت.

۲ - د المجادلی سورت: ۱۱ آیت.

۳ - سنن الترمذی حدیث: ۲٦٤٦.

ژباړه: څوک چې د پوهې او علم دین او د بشر د دنیوي او اخروي نیکمرغۍ لپاره لار هواروي بیځایه خبره نده، په اسلام کې د علم او پوهې اهمیت پدې کچه دی چې لومړنۍ کلمه چې جبریل علیه السلام پیغمبر علیه السلام ته راکوزوي (اقرأ) ولوله ده.

په اسلامي ښوونو کې علم او پوهه لوړه مرتبه او منزله لري. آن چې: الله جلاجلاله د انبیاوو د بعثت موخه تعلیم، پوهه او روزنه اعلان کړی فرمایي: (**كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ**) [1]

معنا: تاسوکې مې ستاسو له ډلې یو رسول وروا ستاوه ترڅو تا سوته زمونږ آیتونه ولولي او تاسې پاک کړي او کتاب، حکمت در زده کړي او په څه چې نه پوهیږی هغه در زده کړي.

د قرآن په بل آیت کې په قلم قسم کوي فرمایي: (**ن والقلم وما يسطرون**)[2]

قسم په قلم او په هغه څه چې لیکي یې.

دغه قسم د علم اوچت مقام څرګندونه کوي چې د نړیوالو پالونکی پرې قسم کوي او یو ډول د انسان پاملرنه د هغه ارزښت او ستر مقام ته را اړوي، علم داسې

---

۱ - د البقرې سورت: ۱۵۱ آیت.

۲ - د نون سورت: ۱-۲ آیتونه.

کمال دی چې په هره پیمانه زیات او ډیر کامل رسـوخ سره ترلاسـه کیږي، د ناپوهۍ تیاری لری کوي او ځواکمن نور په ژوند کې راولي. د علم او پوهۍ په ډګر کې چې د څومره د چاتوښـه زیاته وي ځواک او پایښـت یې هم زیات وي. ددې لامله الله ﷻ خپل پیغمبر ته امر کوي چې د هغه څخه د لازیات علم غوښتنه وکړي فرمایی: (**و قل رب زدني علما**) [1]

ووایه: ای پالونکیه!

ځما په پوهه کې اضـافه وکړه! د علم او پوهۍ په ترلاسـه کولو سره د انسـان په وجود کې زیات فضـیلتونه وده او عروج کوي، د ټولنې د جوړښـت لامل ګرځي چې کولای شو د ښه سلوک، مرستې، عدالت، رحمت، امانت پالنې ، صداقت، صبر، وفا، شرم، پاک لمنې، قوت، تواضع، سخا او شجاعت او... نوم واخلو.

کله چې دغو اوچتو خویونو د علم او پوهۍ د زده کړې خصوصا د اسلامي زدکړې له برکته د انسـان په بدن کې ځای ونیسـي نو د ظلم، جنایت، خرافات، او نورو ناوړه کارونو چې یو ډول زیان رسـوي په ټولنه کې نه پاتې کیږي، او د باور فضـا پیدا کیږي او ټول په سـوله، ورورۍ، یو ځای ژوند کولو په پای کې د ټولنې د رشد، ترقۍ زمینه برابریږي.

---

١ - د طه سورت: ١١٤ آیت.

علم څه څیز دی؟:

علم په لغت کې د جهل ضد دی د پوهیدو، په پوره ډول د یو څیز حقیقت درک کولو په معنا دی او په اصطلاح کې په معنا د معرفت، هغه پیژندنه چې د جهل مخالف ده.

د علم اهمیت او فواید:

۱- علم د انبیاؤ میراث دی، درهم او دینار یې ندی میراث کړي بلکه هغوی علم په میراث پرې ایښی څوک چې علم زده کړی نو حقیقت کې یې د هغوی میراث د ځان کړی. رسول الله ﷺ فرمایی: (**ان العلماء ورثة الأنبياء و أن الانبياء لم يورثوا دينارا ولا درهما و انما ورثو العلم فمن أخذ به أخذ بحظ وافر**) [1]

یقینا علماء د پیغمبرانو نه میراث وړي، رښتیا چې پیغمبرانو درهم او دینار په میراث کې ندی پرې ایښي بلکه علم یې په میراث کې پرې ایښی نو څوک چې ترې واخلي ستره برخه یې واخسته.

۲- یوازینی څیز چې تلپاتې او باقی دی هغه علم دی، مال او شتمني فاني کېدونکی او له مینځه تلونکی ده لکه چې خوږ پیغمبر فرمایي:(**اذ مات الانسان انقطع عمله الا من ثلاث: صدقة جارية و علم ينتفع به و ولد صالح يدعو له**) [2]

---

۱ - سنن الترمذی حدیث: ۲٦۸۲.

۲ - صحیح مسلم ، حدیث: ٦۱۳۱.

ژباړه: کله چې انسان مړ شي د درې څیزونو پرته د عمل ثواب یې قطع کیږي:

۱- جاري صدقه.

۲- هغه علم چې ګټه ترې واخیستل شي.

۳- هغه اولاد چې دعا ورته کوي او مرتبې به یې پرې اوچتیږي او د درجو د پورته والي نه مقصد الله ﷻ ته نزدیوالی دی.

٤- پوهان د فرښتو په ډله کې دي: الله ﷻ فرمایلي دی: (**شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَا بِالْقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ**) [1]

پدې مبارک آیت کې ریښتني پوهان د فرښتو په ډله کې راغلي دي چې دا پخپله په نورو باندې د پوهانو د غوره والي څرګندونه کوي او آیت نه داهم جوتیږي چې د پوهانو امتیاز ددې لامله ده چې د خپلو علم په رڼا کې حقایقو ته رسیدلي دي او د الله ﷻ په یو والي معترف دي چې یو ستر حقیقت دی.

۵- د علم حقیقي نسبت الله ﷻ ته دی او هغه حقیقي معلم او ښوونکی دی ځکه:

الف: آدم علیه السلام ته یې د نومونو علم ور زده کړ (**و علم آدم الأسماء کلها**).[2]

---

۱ - د آل عمران سورت: ۱۸ آیت.

۲ - د البقره سورت: ۳۱ آیت.

ب: داود علیه السلام ته یې زرګري ور زده کړ (**و علمناه صنعة لبوس لکم**). [1]

ج: عیسی علیه السلام ته یې کتاب او حکمت زده کړ (**ویعلمهم الکتاب والحکمة**). [2]

د: خضر ته یې علم او معرفت وروښود (**وعلمناه من لدنا علما**). [3]

ه: رسول الله ﷺ ته یې د نړۍ د جوړښت رازونه وروښودل (**و علمک مالم تکن تعلم**). [4]

و: انسانیت ته یې بیان ور زده کړ (**خلق الانسان علمه البیان**) .[5]

په ژوند کې د علم او پوهې ځایګی:

په کومه کچه چې د انسان علم، خبرتیا او لاسته راوړنې ډیرې وي هومره یې درک، فهم او شعور لوړیږي، او څومره یې چې درک، فهم اوچت وي هومره خپل واقعي، غیر واقعي اړتیاوې خیر او شر او نېکمرغۍ صحیح تګلوري خورا ښه پیژني علم او معرفت د انسان ژوند په بېلابیلو فردي، ټولنیز، دنیوي او

---

۱ - د انبیاء سورت: ۸۰ آیت.

۲ - د آل عمران سورت: ٤٨ آیت.

۳ - د الکهف سورت: ٦٥ آیت.

٤ - د النساء سورت: ۱۱۳ آیت.

٥ - د الرحمن سورت: ٤ آیت.

اخروی اړخونو کې په پوره توګه اغیز لري ددغه **اغیز څه برخې په لاندې ډول یادوو:**

۱- د علم کسب یو سړی په ټولنه کې بریالی کوي او د بریا لارې پر مخ پرانیزی او د شــخص ســتونزو د پرانســتو لپاره ښــه هڅه کولای شي او خپله ټولنه نېکمرغه کولای شي.

۲- علم ترلاســه کول یو فرد په مهارتونو او معارفو ســمبالوي ترڅو فرد په خپلې ټولنې او اړندو ګټورو کړنو سره آشنا شي او خپله وړتیا او قدرت غښتلی کړی.

۳- د فرد ټولنیزه کچه پورته وړی، علم ترلاســه کولو سره ډیری خلک کولای شي د ټولنې کې د خاص ډول طبقې څخه بلې غوره طبقې ته منتقل شي د همدې لامله علم د اجتماعي ازادۍ او حریت د راوســتلو یو لامل دی، ډیر لږ دا سی پېشیږی چې بېسواد وکړی د با سواده وګړو پڅیر د اجتماعی ازادی څخه برخمن وي.

٤- څومره چې د انســان علم او خبرتیا زیاته وي هومره یې د نورو سره ســتونزه لږ وي، ځکه څومره چې د انســـان پوهه اوچته وي هومره یې د نورو د زغملو ځواک پورته وي او څومره یې زغم ټیټ وي.

٥- یوازیتوب دوزخ دی او مطالعې سره دغه دوزخ په جنت بدلیږی.

٦- ښـکلا او ښـایسـت په جاموکې نشـته بلکه ښـکلا او زینت په علم او ادب کې ده.

د انسان په پرمختګ کې د علم او پوهې اغیزې:

د اوسنی نړۍ د پرمخ تللو او صنعتی هیوادونو د تمدن او پرمختګ وړانګی چې تر سترګو کېږی هغه د علم او پوهی لاسته راوړنه ده، د پوهی او مهارت سره مل انساني ځواک د پراختیا او پرمختګ ونی ریښه ده، د انساني ځواک په ډګر کې پانګونه ډیره ګټوره او مهمه ده د صنعتي طرحو د پانګونی څخه د هر ملت راتلونکی د هغه ملت انساني ځواک (پوهان، انجینران، ډاکټران، ماهر کارګران او ...) ټاکي. سواد زده کړو د پراختیا اصلي شرط دی، مدرسه د زده کړی لیکلو، لوستلو بر سیره په وګړو کې د پلټنی حس ژوندی کوي.

او هغه په اجباري ډول د کورنی یا قبیلی تنګ محیط څخه راباسي، فرد د خپلی دنیا څخه متفاوته دنیا کشفوی یوازی په همدی یو دلیل ده چې مدرسه کولای شي د پراختیا اصلی محرک او د وروسته پاتیدا او فقر د مخنیوی لامل کوم ملت چې د سواد او پوهی له نعمت ته محروم وي تل به د پر مختللو او با ساوده هیوادونو لاس لاندی وي خرافات، موهومات، ړانده تقلیدونه، فقر، لوږه، ډول ډول بیماریو خپریدل، باطلو عقیدو، ناوړه موخو شتون ډیر زیات په هغو خلکو کې پیدا کیږي چې د سواد او فرهنګ له نعمت نه بی برخی وی.

اسلام چې یو نړیوال دین دی، داسی ټولنه او حکومت غواړی چې د هری خوا نا پیلی، د پردیو څخه بی پروا وي یعنی غوره ډاکټر، انجینر، درمل جوړونکی ځمک

پیژاند او... ولري او خورا سـمبال پوهنتون، د څیړنې، علمي او دفاعي پر مختللو توکو څخه برخمن وي ترڅو وکولای شي د پریمانه سـیالانو په منځ کې سر لوړی او مبرم ولری کنه نو تجربی جوته کړی چې کوم ملت د اړتیا لاس بل ملت ته اوږد کړي، هرومرو د هغه د نفوذ او ارادی محکوم به وي او برخلیک به یې د همغه ځواکمن او نیازه ملت په لاس کې وی.

نو ددی لپاره چې مونږ یوه سرلوړی، پتمنه او ناپیلی ټولنه ولرو او پردیو ته لاس اوږد نکړو او خپل ټول ټولنیز، فردی کړاوونه، اړتیا وی چې پوهی او فرهنګ پوری تړاو لري د پوهی په مټ او په خپل لاس لری کړو او ترسره کړو، باید د ټولو بشري ګټورو زده کړو ترلاســه کولو لپاره زیار وباســو او اړتیا وړ علومو ټولو څانګوکې متخصص اوغښتلی وګړی ولرو.

د بې سوادۍ زیانونه:

د انسان یوه اړتیا زده کړه او تعلیم دی لکه چې جوته ده انسانان باید د زده کړی لپاره سواد ولري ترڅو بېلابیل مهارتونه او حرفی زده کړی، دا منل شوی خبره ده چې هر څوک پرمختګ خوښــوي خودا هله کیدای شي چې ســواد زیات شي، سواد والا کسان نشي دوکه کیدای، سواد لرونکي ملتونه ډیر کم د پردیو تر اغیز لاندی راځي، بیســواد خلک د ژوند په ټولو څانګو کې نوروته اړ وي او دغه هر اړخیزه اړتیا د ماتی لامل ګرځی اوتل به لاس په نامه وي او معمولا د ټولنی ټیټ

او سپکه بوختیا باندی اخته وي او گوښې، منزوي او نورو سره د ارتباط نیولو وس نلري. بیسواده خلک د ړندو یاکم دیده په څیر وي چې لیدل نشي کولای او نور او تیاره ورته یوشـــان وي رحمن خدای په قرآنې شریف کې فرمایی: (**هل یســـتوي الذین یعلمون والذین لا یعلمون**). [1]

آیا هغه کسان چې پوهیږی د هغو کسانو سره یو شان دي چې نه پوهیږی؟

بی سوادي یو اساسي اجتماعي مشکل دی، د یو هیواد په اقتصاد، سیاست او کلتور باندی نیغ په نیغه زیان لري څیړونکو او پوهانو د بی سوادی زیانونه داسی بیان کړی دی:

۱- بی سوادی د بوختیا یو محدودیت موجب گرځي.

۲- ځمونږ د هیواد ډیری بی سـواده بوډاگان د اقتصـاد له اړخه ښـه وضـعیت نلري.

۳- بی سوادي د یو فرد د شخصي ژوند او دهغه د کورنی د ژوند په پرمختگ د ځواک کې د کمزورتیا لامل گرځی.

٤- بی سواده خلک د زده کړی په اړه د خپلو ماشومانو مرسته نشي کولای او هغوی لپاره ښه لارښود نشي کېدلای.

٥- بی سواده پاتیدا د ثبات او امنیت ورانولو کې ډیر اغیز لري.

---

۱ - د الزمر سورت: ۹ آیت.

٦- د مورګانو او ماشـــومانو د مړنې شـــمیر زیاتوالی په هغو هیوادونو کې دی چې د سواد بیه په ډیره ټیټه کچه کې ده په خواشینۍ سره چې افغانستان هم پکې دی.

٧- اقتصادي، فقر اوږدې جګړې، سیاسي بې ثباتۍ، حزبي پریمانه ګډوډۍ، لساني، سمتي او قومي ګډوډۍ د بې سوادۍ کړ غیړن میراث دی.

په ټولنه کې د بې سوادۍ د پیدا کیدا لاملونه:

الف: اوږده جګړه چې د ښوونځیو او مدرسو د تړلو لامل کیږي.

ب: د خپلو ماشومانو تحصیل او تعلیم ته نه پاملرنه د اولیاؤ.

ج: په سختو کارونو کې د ماشومانو ګمارل.

د: سواد زده کړې ته د ماشومانو هڅول او نه ترغیب.

ه: د چارواکو نه پاملرنه ښونځیو او مدرسو ته.

و: طلاق او مور او پلار تر منځ بیلتون.

ز: په نشه یې توکو باندې د والدینو روږدي کیدل.

د بې سوادۍ له مینځه وړلو لارې چارې:

الف: د وګړو لپاره په بیلابیلو عمرونو کې د ابتدایي زده کړو عاملو لپاره هڅه.

ب: زده کړیزو مرکزونو او ښـــونځیو ته د ماشـــومانو او تنکیو ځوانانو هڅولو علمي اغیزمن او پلې مدیریت او پلان جوړول.

ج: وړو تدریسي تګلورو نه ګته اخستنه تر څو لا زیات ماشومان و هڅول شي.

د: د ولایتونو ولســوالیو او بانډو په کچه د ســواد زده کړې کورســونو او تعلیمی ځایونو زیاتول.

ه: مناســبو آموزشي موادو او محتوا برابرول او په وړیا ډول د اړو خلکو په واک کې ورکول.

و: عمومي او جدي اراده چې بې سواده افرادوته زده کړه او سواد وښودل شی.

د خبرې پای:

علم او ســواد په یو هیواد کې زیات اهمیت لری خصــوصــا زمونږ په گران هیواد افغانستان کې چې د ورو ستیو لسیزو په ترڅ کې د ناخوالو او جگړو سره مخامخ دی او په یو ډول ددی الهی نعمت او ډالی څخه محروم دی او د شمیرو له مخی ددی هیواد ۳۰ سلنه خلک با سواد او ۷۰ سلنه خلک د سواد له نعمت نه محروم دي د همدی لامله د ټولنی وگړی د نده لری چې د غه بحران چې ددی هیواد ملت او خلک یی نا ارامی او فقر ته اړ ایستی خنثی کړي.

و من الله التوفیق

۳۹

په اسلام کې د ښوونکی مقام او منزلت

الحمد لله الذي علم بالقلم علم الانســـان مالم يعلم والحمدلله الذي منّ على عباده بانزال الكتب و ارسال الرسل فلم يبق على الله للخلق حجة وفتح العقول ، و نشهد أن لآ اله الا الله وحده لا شريک له الرب الكريم الأكرم و أشهد أن محمدا عبده و رسوله المرشد المعلم الى السبيل الأقوم ﷺ و على آله و أصحابه و من تبعهم باحسان الى يوم الدين .

قال الله تبارک و تعالى فى محكم التنزيل بعد أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم:

(قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ)[1]

وقال تعالى : (يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَخَبِيرٌ)[2]

و عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : ((من تعلم علماً مما يبتغي به وجه الله عزوجل لايتعلمه الا ليصـــيب به غرضـــا من الدنيا لم يجد عرف الجنة يوم القيامة ، يعنى ريحها)) [3]

---

۱ - د الزمر سورت ۹ آیت.

۲ - د المجادله سورت ۱۱ آیت.

۳ - رواه ابو داود باسناد صحیح.

سریزه:

د ټولنو لارموندنه او هدایت د فلاح او خلاصـــون په لور د الهي احکامو تبلیغ او دهغو اعمالو په وسیله لاسته راځي چې د الله بندګي او تضرع پکی موجود وی.

بشري پر مختیا او دژوند په ټولو چارو کی بریالیتوب او د ستونزو اوکړکیچونو لري کیدل او نور داسـی شـیان .... دا ټول یو لاس دی د اکوم لاس دی ؟ د تیارولري کوونکي او درڼا راوستونکی څوک دي ؟ د باطل په ضد پاڅون او وربانديی بریا په کوم فکر ، ژبه اوهڅی سره کیږي؟

د دغه ټولو پوښـــتنو ځواب معلم دی چی پیغمبران علیه الســـلام او په ځانګړې توګه حضرت محمد ﷺ ؤچی افرادو او ټولنی ته یی الهي پیغام او د خلا صون او نجات لاره ور وښودله او ملتونه او ټولنی یې د تاریخ په اوږ دوکې دخپلو خدماتونه احسان منونکي کړل.

د تاریخ په اوږ دوکی د نامتو مربیانو او معلما نو لکه : ابراهیم ، موسی ، عیسی او خاتم النبین حضرت محمد ﷺ نومونه او ویاړلی کارنامی تلپاتی او نه هیریدونکی دي ، هغه پخپلومقد سو هلوځلو سره یی د انسان ژوند ته بدلون ورکړ او د تزکیی پر بنیاد یی دعلم او فضیلت بنسټ کیښود ، دتوحید جنډه یی پورته کړه ، لدی ځایه پوهیږو چی د معلم ښوونکي مقام په ا سلام کی ډیر لوړ دی او دغه مقام نه د بل چا منزلت لوړندی ، ښـــوونکی د لارښـــونی او هدایت ځلیدونکی شـــمعه ده چی په هر اقدام کی یی ډیر خیر پروت دي ، لکه چی په مبارک حدیث شریف

کی راځي: قال رســـول الله ﷺ : **ان الله و ملائکه و أهل الســـموات و الأرض حتی النملة فی جحرها و حتی الحوت لیصلون علی معلمي الناس الخیر)) ۱**

ژباړه : رســـول الله ﷺ فرمایلي : الله تعالی او دهغه ملایکی او د آســـمانونو او ځکمی اوســـیدونکي ، حتی میږی په خپلو ځالو او حتی ماهی په هغه چاباندی درود وایي چې خلکو ته د خیر درس او تعلیم ورکوی.

ښـــوونکی چی دخپل علم نور د الله د نورله منبع څخه ترلاســـه کړی او دزړونو درڼایی او روښـانه کولو لپاره چی سـمی لاری ته هدایت شي الله ته نږدی شـی چی د انسان آخرینۍ موخه همدا ده ، کوشش کوي ، ښوونکی دزړونو رهبر دی څویی د نیکمرغۍ اوکمال لوړوڅوکو ته ورسوی.

ښوونکی لکه زړه سوانده باغوان داسې دی ، چی د ایمان تخم شیندی او د تقوا گل روزي.

د ښوونکی کلمې تعریف او مفهوم :

ښـووکی یا معلم د (**علم**) کلمی څخه اخسـتل شـویدی او د لغاتو په فرهنگ کی د: تعلیم ورکوونکي ښوونکي مدرس استاد او شیخ په مانا سره راغلی دی.

---

۱ - رواه الترمذی حدیث: ۱۳۸۷.

ښوونکی په اصطلاح کی د ټولنی د افرادونه یوفرد دی چی خپل علمی او ښونیز معلومات د ښـــوونی او روزنی په موخه په خاصـــو شرایطو او فعالیتونو سره د یوه تعلیمی پروګرام په ترڅ کې که خصـــوصـــی وی یا رســـمي انتقالوي . اوپه کلی مفهوم سره ښـــوونکی د انســـانیت بیدارونکی دی او د روح مختلفی برخی چی خوب وړی وی راویښـوی ، ښـوونکي هغه مطالب ښـي چی لا تر اوسـه په اذهانو کی یی خطورنه وی کړی د نور په مرســـته ، خلک د ګناه او ناپوهۍ له تورو تیارو را باسـی او دتقوا پاکی او فضـیلت روښـنایی ته یی بیایی . ښـوونکی په ښـوونیز ډګرکی د ملا د تیر حیثیت لري ، کله چی تعلیمی اصول او امکانات موجودوي ، خو ښوونکی کمزوري وی ، نو ښوونیز نظام به ناکاره کیږی ، خو پوه ، ماهر او رړه ســواند ښــوونکی کولی شــی د ښــوونیزو امکاناتو نه مطلوبه ګټه پورته کړي او د متعلم ظرفیت ، علمي کچه او وده کې مهم رول ولوبوی.

دښوونکی له نامه څخه ښکاری:

هغه باید ابتکار ولري او د عقیدی ، ریښـــینولۍ ، صـــداقت ، ایمانداری ، تقوا ، عدالت ، امانت داری ، عاجزی ، زغم یوه نمونه وی او سوړ مغز او ګرم زړه د خپلو شـــاګردانو په وړاندی ولري شـــاعر وایی :ای زما ښـــوونکیه چی له مانه د انســـان جوړکړ ، زما د بدن ښـــکلا او رڼاســـتا له برکته ده ، زما خندا او خوښـــي ســـتا له موسکا خولې نه ده .

د ښوونکي رسالت :

د ښـوونکی رښـینی رسـالت د انبیاؤ رسـالت دی ، ښـوونکی چی پرته له انسـان جوړونی او کمال ورکونی بل هدف نلري ، ښـوونکی دصـداقت او سرلوړی سـفیر دی ، هغه څوک دی چی د معرفت او علم تږي کسان د ژوند اوبو ته رسوي ، که چیرته موږ د ښـــوونکی نه منوونکی نه ؤ ، په حقیقت کی مو ښـــکلا ، عظمت او فضیلت ندی پیژندلی.

د ښـوونکی موخه باید په ښـوونه کی ، الله تعالی ته نږدیکت او ثواب ته رسـیدل وی نه جاه ، ریا ست او شهرت لکه چی الله تعالی فرمایلی : (**وَمَا أَسْـأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ**)**١**

ژباړه : زه د دغه دعوت او ارشاد په بدل کی هیڅ بدله تا سونه نه غواړم ، بلکه زما مزدوري په الله تعالی باندی ده) ښوونکی باید په زده کوونکی مهربانه وي او تل هغه ته نصیحت وکړي او دزده کوونکي د فهم کچه په تدریس کی مراعات کړی ، ورسره په نرمه لهجه خبری وکړي ، ســختي ورباندی ونکړي ، هغه څه چی د واقعیت نه بهردی ، تدریس نکړي ، بخیلی ورباندی ونکړی ، دهغه مطالبو څخه چی زده کوونکی یی نشی درک کولی ، ډډه وکړي.

ښونکي چی د ځوانانو او تنکیو ځوانانو اصلی معماران دي ، پدی برخه کی مهم رسالت لري دلته په ځای خبره د ه چی هغه داستان ذکر کړو چی د ښوونکی او

١ - د الشعراء سورت ١٠٩ آیت.

زده کوونکی په اړوند قرآن کریم بیان کړی ، ډیر ښـــکلی داســـتان چی دادب او عاجزۍ په اړه دی هغه د حضرت موســی علیه السـلام او صـالح بنده ، حضرت خضر په قرانی کیسه کی دارنګه راغلي : موسی علیه السلام غوښتل څو د خضر نه چی یو صالح بنده و څه زده کړی.

(قَالَ لَهُ مُوسَى هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا قَالَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَى مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا قَالَ سَتَجِدُنِي إِن شَاء اللَّهُ صَابِرًا وَلَا أَعْصِي لَكَ أَمْرًا قَالَ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي عَن شَيْءٍ حَتَّى أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا)[1]

ژباړه (موســی علیه الســلام ورته وویل : آیا زه ســتا پیروی وکړم څوله هغه څه نه ماته راوښایی چی تا ته یې ښوونه شویده ؟ هغه ورته وویل : پدغه ملګرتیا کی له ماسره ته صبر نشی کولی ، او څرنګه به په هغو کارونو باندی صبر وکړی چی تاته یی پوره علم ندی درکړل شوی ؟ هغه وویل: که الله وغواړی نو ته به می دصابرانو له ډلی وګوری ، او ســتاله امره نافرماني نکوم ، هغه ورته وویل : کله چی ماپســی راغلی او زما ملګرتیا د غوره کړه نو دهیڅ څیز پوښـــته مکوه څو زه درته هغه بیان کړم ، د کور او کورنۍ نه وروسته چی دا ولدینو د محبت نه ډک ځای دی مدرسه او یا مکتب دښوونی او روزنی لپاره ډیرمهم ځای دی ، هغه ځای چی د رسالت د څرګندید او ظهور محل دی ، چی که چیری هغه معلمی وکړی نو د انحراف لاره بندیږی او د بندیخانودروازه تړل کیږی ، مکتب د ښـــوونکی او مربی لپاره د ښوونی او روزنی رسالت ترسیم کړی چی په ترتیب سره یی شرحه کوو :

---

١ - د الکهف سورت ٦٦-٧٠ آیتونه.

۱ – الله لورته دعوت او الهی روزنه : د پیغمرانو علیهم السلام د دعوت لوړو اهدافو څخه چی ددوی د کارسرلوحه یی تشکیلوله هغه الله لورته دعوت او دخلکو روزنه وه چی دخپل معبود لورته حرکت وکړی اوکمال ته ورسیږي قرآن کریم فرمایي : (**أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ اللّهَ إِنَّنِي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ**)[1]

ژباړه : لومړنی دعوت می دادی چی د الله نه پرته دبل چا عبادت ونکړی ، یقینا زه د الله له طرفه کافرانو ته ویروونکی او مؤمنانوته زیری ورکونکی یم

۲ - د نور په لور دعوت او نورانی روزنه ورکول ، قرآن کریم بیانوی: (**رَّسُولًا يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِ اللَّهِ مُبَيِّنَاتٍ لِّيُخْرِجَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ**)[2]

ژباړه : د الله رسولان چی تاسوته د الله آیتونه او کلام بیانوي ، څو هغه کسان چی ایمان یی راوړی او نیک عملونه یی کړی ، د تیارونه درڼا لور ته راوباسي. د انبیاء و هدف او ددوی د دعوت موخه داوه چی خلک د تیارونه نور او رڼا لورته راوباسي ، د ناپوهی ، کفر ، گناه او اخلاقی فساد تورتم نه یی دایمان ، تقوا ، سعادت او نیکمرغی لورته ورسوی ، د ښوونکو رسالت په ټولنه کی هماغه د پیغمبرانو علیهم السلام رسالت دی.

---

۱ - د هود سورت ۲ آیت.

۲ - د الطلاق سورت ۱۱ آیت.

۳ - د ټولنی روزنیزه ا صلاح په لور دعوت : قرانکریم فرمایی :(**إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ**)[1]

ژباړه : زما موخه او هدف یوازی اصــلاح راوســتل دی څومره می چی توان وی او زما توفیق یوازی په خدای دی یعنی توفیق یوازی د الله ﷻ غواړم دا خبره د ټولو انبیاؤ تربیتی شعارؤ. او د معلمی ر سالت هم همدا دی چی په الهي توفیق سره د فرهنگ او د متفکر و مغزونو او افکارو په اصلاح کی هڅه کوی څو د ټولنی ټولی خوا وی د اصلاح لورته حرکت وکړي.

۴ – پاکونې او اخلاقی روزنې ته دعوت: قرآن کریم فرمایی : (**فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى**) [2]

ژباړه : فرعون ته ورشئ او ورته نرمی خبری وکړئ ، کیدای شی پند واخلی او یا د الله له عذابه وویریږی) په دغه مبارک ایت کی یوه لطیفه اشــاره دغه حقیقت ته شــوی چی د انبیاؤ رســالت د انســانانو د پاکی او دفطری پاکی راوســتل خلکوته دی قرآن په نرمه لهجه او ښه چلند چی دمهر او محبت سره ملگری وي امر کوی ، موخه داده چی یو ځل خلک تشــویق او راجلب شي نو بیایی زړونو ته لار پیداکیږی او دعوت اثر کوی . د یوی ټولنی اصلاح په هغه ټولنه کی د ښوونکو او مربیانو له شــتون نه پرته امکان نلري ، ځکه پاکونه او ځان جوړونه هرڅوک باید

---

۱ - د هود سورت ۸۷ آیت.

۲ - د طه سورت ٤٤ آیت.

له خپل ځآن نه پیل کړی ، عقاید ، اخلاق او ټول کړه وړه د اســلام مطابق جوړ کړی ، هله بیا دنورو په اصلاح پیل وکړي.

۵ – د علم ښــوونی او قرآنی تربیت په لور دعوت : قرأن کریم فرمایی (**قل هل یستوی الذین یعلمون و الذین لایعلمون**) آیا هغه کسان چی پوهیږي علم لري د هغو کسانو سره چی نه پوهیږي ، برابر دی .) د انبیاء علیهم السلام مهم دعوت د علم او پوهنی پـه لورؤ ، بـایـد پـدی پوه شــو چی علم د آیـا تونو لـه پلوه یوازی د اصــطلاحاتو او عباراتو څخه منظور ندی ، بلکه د علم څخه منظور هغه خاص معرفت او پیژندنه ده چی انســان ته د الله اطاعت او هغه ته دویری او امید درس ورکوی ، که چیری په یوه روزل شوی زړه کی دارنگه علم وار د شی نو خوشبویی به یی عالم معطر کړي او ټول ا ستعدادونه د هغه په سیوري کی ځلیږي او ټولنه د اصطلاح او کمال لورته حرکت کوي ، دارنگه علم په قرانی تربیت کې میسریږي چی د علم نو د انسان په وجود کې راڅرگندوي.

د ښوونکی دنده :

۱ – د معلوماتو پراختیا : تخصــص او پخپلو معلوماتو باندی تازه شــیان ورزیاتول لکه چی د سـلف صـالح نه را نقل شـوی : (**اطلبوا العلم من المهد الی اللحد**) یعنی له زانگونه تر گوره علم ولټوئ) نو دا د ښــوونکی دنده ده څو شــپه او ورځ د زده کړی په لټه کی وی ، علم حق ته د تقرب ، خلکو ته دخدمت کولو ، د کنجکاوی د حس مړولو ، دخپل ځان او انســان دښــه پیژندگلوی په موخه د ښــوونکو یوه مکتبی دنده بلل کیږی ، هغه به زیار باسـی څو اسـلامی موازین و پیژنی او خپل

اعمال په اســـلامی موازینو برابر کړی او وربانـدی عمل وکړی ، له هغه پرته نو په بیلارې ځی ، لکه سعدی رحمة الله چی وایی :

علم چندان که بیشتر خوانی		چون عمل در تو نیست نادانی

یعنی علم که هر څومره زیات زده کړی خو چی عمل پری ونکړی نو ناپوهه یی

۲ – آزموینه : مسـلمان ښـوونکی ټولنه خپله بولی او خپل ځان د خپلی ټولنی په وړاندی او دهغه د اولادونو په اړه متعهد احســـاســـوی ځکه هغه پوهیږی چی د تبلیغ او دعوت رســالت په غاړه لری او اســاســی رول لوبوی ، او داچی اســلام په الهی وحي بنا شـــوی او د الهی تعالیمو نه یی سرچینه نیولی او د بشرـــی ټولنو فرهنگ په اســـلامي رنگ سره جوړوی ، فکر کوی او بیایی نوروته انتقالوي ، دلته کوم معیار چی دی یې پلاس کی لری ، هغه قرآن کریم او نبوي ســنت دي یعنی د ده د ښوونی لاره د قران او حدیث په تعالیمو سره ښکلی کیږی ، او د گلوگیډی راټولوی او لکه د شـاتو مچی په څیر گرزی ، زیار باسـی، څو ښـه شـیان را ټول ، هغه او دغه گل شیره را ټوله ، شات تری جوړ او د زده کوونکو په د ستر خوان یی ورته کیږدي .

۳ - دفرهنگی میراث ښوونه او انتقال : مسلمان ښوونکی چی دده اصلی دنده د الهی معارفو او د اسلام معنوی ارزښتونو او د ټولنی علمي او ادبي مطالبو انتقال ، ښـــوول او وراندی کول نوروته دی ، د ده درس د تحکم او فضـــل خرڅونی نه خارجیږي او د هدایت ، بحث او تعقل بڼه غوره کوی ، دزده کوونکو سره یو ځای د یوه مشـــترک او په عین حال کی د مقدس هدف په لور هڅه کوي ، زیار باسي

چی د حقیقی علم ښــوونه او دشــیانو حقیقت او په پایله کی د خپل کاروان سره یوځای د رحمن خدای د رضا په لور ولاړشي مسلمان ښوونکی د ستونزو په لري کولو او د دوی علمی غوښــتنو په موخه خپل ځان مســؤل بولی او د دوی په خلاقیت کی هڅه کوی ، مسلمان ښوونکی د تدریس کار یا په بل عبارت سره د ښــوونی او روزنی چاری جدي بولي او په صــادقانه توګه دزده کوونکو د اذهانو دروښانتیا او پخپل ذهن کی موجود مطالب دوی ته د انتقال په اړه زیار باسی او په صــمیمانه توګه دخپل تخصــص خدمات د دوی په واک کی ورکوي ، زده کوونکوته ، آزاد خیالی ، بحث او څیړنه وربښــی ، دروغ نه ورته وایی ، او دحقایقو مسخ نکوی یعنی ښوونکي رښتیا وایی : (**وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ**)[1]

ژباړه :یعنی د هغه څه پســی مه ځئ چی علم وربانـدی نه لری) نو دغه آیت خپل ځان لپاره در ښتیا ویلوپه هکله سرم شق ګرځوي ځکه چی خپلی کړنی او وینا په وړاندی خپل ځان مســؤل بولي ، د دی نه پرته متوجه وی چی الهي روزنه ، د انسانانو له فطرت سره برابری کوی ، نو ځکه دی دیوه مسلمان ښوونکی په توګه د فطرت سره مخالفت نکوی، مســلمان ښــوونکی پوهیږی چی تنکی ځوانان او زیاتره ځوانان پداســی مرحله کی ژوند کوی چی تقلید کوی او ښــوونکی د دوی په نظر یو نمونه انســان دی ، ســترګی یی دهغه کړنو او وینا وته نیولی ، غوږ ونه یی دهغه وینا ته ځیر دی ، هرڅه چې ښــوونکی یی غواړی دوی یی هم غواړی ، هر څه چی هغه یی خوښــوی ، دوی یی هم خوښــوی ، هر څه چی هغه یی ونه

---

١ - د الاسراء سورت ٣٦ آیت.

غواړی او خوښ یی نکړی نو دوی یی هم نه غواړي او نه یی خوښـــوی، لنډه د ا چی ښوونکي نمونه او قدوه دی او خپل ځان د دغه کار جوګه وګرځوی.

د معلمی دندی اهمیت :

په اسـلام کې د ښـوونکی لوړ مقام د دی ښـکار ندوی دی چی هغه په ټولنه کی لوړ اهمیت لري ، که چیری د ښـــوونکی دنده حیاتي نه وای نو اســـلام دومره ارزښت نه ورکاوه ، په اسلام کې ښوونکی د دومره مقام او منزلت لرونکی دی چی الله ﷻ په هغو لمړینو آیاتونو کې چې پخپل اســـتازی باندی یی را نازل کړی ، خپل ځان ښـــوونکی معرفی کړی ، او فرمایی: (**اقْرَأْ بِاسْـــمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ**)[1]

ژباړه :ووایه د الله په نامه سره دی چې ټول کاینات یی پیدا کړی ، انســـان یی د ټینګی وینی نه پیدا کړی ، ووایه او ســـتا رب کریم دی هغه ذات چی د قلم په واســـطه یی انســـان ته ښـــوونه وکړه او هغه څه یی وروښـــودل چی نه وربانـدی پوهیده) معلمی د ټولو پیغمبرانو د نده او کســـب ؤ چی د الله ﷻ له لوري وربانـدی مکلف شوی ؤ، الهی ماموریت پیغمبرانو ته همدا ؤ چی را شی او انسان جوړکړي ، هغه چاچی د پیغمبرانو پیروی وکړه نو په حقیقت کی انســـانیت ته

---

١ - د العلق سورت ١-٥ آیتونه.

ورسـیدل ، لکه چی رسـول الله ﷺ فرمایی : (**ان الله لم یبعثني معنتا ولا متعنتا ولکن بعثني میسرا**)[1] .

دوهم ښـوونکی پیغمبر اکرم ﷺ ؤ چی پخپله فرمایی : (**انما بعثت معلماً**) زه ښـوونکی اسـتول شـوی یم . د دین علماء او لویان همدا رنگه هر یو قدر من ښـوونکی او ډیر لایق لارښـوونکی ؤ. د ښـوونکی د مقام او منزلت په اړه دا کافی ده چی د بشری نړی لوی ښوونکی حضرت رسول الله محمد مصطفی ﷺ پخپل دغه خصوصیت او ځانگړتیا باندی فخر کاوه

قرآن کریم په ځینو آیتونو کی د ښـونکی مقام ته اشـاره کړی او ورڅخه یې په درنښـت او لویی یادونه کوی ، هلته چی دپوښـتنی په ډول یی فرمایلی : (**قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ**)[2]

ژباړه : ورته ووایه آیا هغه کسـان چی پوهیږي د هغه چاسره برابر دی چی نه پوهیږی؟ نه بلکه برابر ندی هیڅکله داسی نده چی علماءاوجاهلان یا پوه اوناپوه خلک به سره یو شان اوبرابروي.

البته د اشرافت او فضایل هله ښوونکی لپاره د قدر وړ دی چی وکولای شی ، دا الهي موهبت پخپل ځان کی تحقق ورکړي او په ټول توان سره د ټولنی د کمال په موخه ښونه او روزنه پرمخ بوزی ، د ښوونکی شرافت او مرتبت به هله د اهمیت

---

١ - صحیح مسلم، حدیث: ١٤٧٨.

٢ - د الزمر سورت ٩ آیت.

وړشـــی چی وکولای شـــی د الله تعالی او دهغه د رسـول پیروي وکړی او انســانی پیوند د خلقت د لوړ هدف یعنی عبادت سره وتړی ، معلمی ډیر شریف او قدر من شـــغل دی ، د دی لپاره چی انســـان جوړونه ده ،هماغه دنده ده چی ټول پیغمبران د همدی معنی لپاره مأمور شوی ؤ ، قرآن کریم د انسان جوړونی کتاب دی ، را نازل شوی څو انسان جوړکړی ، په حقیقت کی د انسان جوړونی کسب او زمونږ د هیواد ټولنی په روزنو کی لوی اثر لری او زموږ هیواد ته یی نجات ورکړی ، کولای شـــی چی همدا رنگه هیواد آباد کړی ، په انســـانی ټولنه کی ا سا سی کار ښوونه او روزنه ده ، او هغه څوک چی دغه کار او م سئولیت په غاړه لري ښـــوونکی دی ، معلمي هر ډول هلوځلو ته وایی چی د انســـان دروزنی، هدایت ، تکامل اوښونی لپاره کیږی له همدی کبله پیغمبران د بشریت ښوونکي بلل کیږي.

په اسلام کی د معلوماتو حاصلول او علم یوازی زده کړی او عالم کیدوته نه وایی، بلکه علم باید روڼتیا او پوهی لامل وگرځی همدارنگه روڼتیا او پوهه د الله تعالی د عبادت پوری ختم شی ، ددی نه علاوه د علم حصول باید په انسان کی تقوا او پرهیزگاري را پیدا کړي ، ځکه که چیری ما دي قدرت او ډیر علم د تقوا سره یو ځای شـــول ، نو د نیکمرغۍ او نیک بختی ســـبب گرزي ، که نه نو د شـــقاوت او بدبختۍ لامل به شي .

داسلام له نظره د ښه ښوونکي ځانگړتیاوی:

۱ - مسلمان ، متدین ، حقیقي مؤمن او دتقوا او پرهیزگاری لرونکی وي .

۲ - دښو او غوره اخلاقو لرونکی وی.

۳ - پخپل قول او عمل کی صادق او د اسلامي علومونه باخبره وی.

۴ – عادل ، انصاف لرونکی او په ژوند کی ، د سالم قضاوت خاوند او پخپله ټولنه کی د نیک سیرت نه برضمن وي.

۵ – پاک او نظیف وي ، مناسبی جامی یی پرتن او انسانی عالی سلیقه او کرکتر ولری.

٦ – له خپل ځان غوښـــتنی ، خپل ځان خوښـــونی ، کبر او غرورنه ځان لری وساتي.

۷ - د اسلامی ښوونی او روزنی قوانین او مقررات مراعات کړي.

په ټولنه کی د ښوونکی فضیلت :

دښـــوونکی د نامه نه راڅرگندیږی چی هغه د عقیدی ، ایمانداری ، تقوا ، پرهیز گاری ، عدالت او امانت داری کامله نمونه او تمثیل کوونکی دی او دخلکو لپاره د نیک عمل ، غوره اخلاقو ، تواضـــع او برده باری ډیوه ده ، همدا رنگه هغه د هراوکمال ، ښـــی ښـــوونی او روزنی په برخه کی تر ټولو غوره کس دی او خپل مســـئولیت او دنده یی دزده کوونکو ښـــه شـــخصـــیت جوړولو او دا چی هغوی دراتلونکی جوړونکی دی اداکړی او دغه دروند مســـؤلیت او امانت په غاړه لری ، ښـــوونی چی دپیدایښـــت نه تر وفاته پوری پخپل ټول عمر کی ســـتونزی گالی او

ژوند ته نوی ډول ورکوی ، بل څوک د ده په اندازه نه لیدل کیږی ، هغه موجود چی پخپلو پرښـــته صـــفته کار نامو سره یی دخپل ملت رهبر یت ترلاســـه کړی ، اخلاقی او شـخصـیتته یی وده ورکړی او پکی یی دابدیت او تلپاتی شـعور ترزیق کړی ، په فرد باندی د ښـــونکی تأثیر د پلار ، مور او ټولني نه څو چنده زیات او ښـته دی ، په اصـل کی هر اوړه چی د ده پلاس خمیره او اخگل شـوی نه وی نو ډوډی یی بی مالگی او بی مزی وی ، هغه یو لاس او یوه ژبه دی چی الله پاک د انسانانو د لوړولو او ټیټولو لپاره استخدام کړیدي.

هوکی ! هری ټولنی چی دخپل ښوونکی مقام او قدر وپیژانده نو د پرستو په څیر لوړه شـــوه او د یوه لوی قوم په حیث یی ارتقا ء وکوله د ښـــوونکی په لاس کی کانونه صـافیږی او په سـوچه سروز واویا ځلیدونکی سـپینوزرو و بدلیږی ، په هغه اسرارلرونکو لاسـونو کی خام اوبی گټی څیرونه په قیمتی الماسـو بدلیږی ، هیڅ فابریکه نشـــی کولی دهغه په څیرگړندی او منظم کاروکړی ، د داخلی عواطفو او احســاســاتو انتقال ســلگونه مخاطبینو ته په یوه لحظه کی او ورته د بل وجود او شخصیت ورکول له ښوونکی پرته بل څوک نشی کولی ښوونکی او مدرس د رهبر او پیشوا منزلت شاگردانو ته لری.

ای ښـــونکیه : ته چی د خپلو زده کوونکی پیشـــوایی ، خبر اوســـه چی دا ټولگی یوازی ستا درسی ټولگی ندی بلکه دحقو حقیقت نه دفاع مورچل هم دی .

د ښونکی په وړاندی د خلکو او ټولنې مسؤلیت :

که چیری موږ دخپلی ټولنی کمزوری نکات او د وروســـته پاتی والی لاملونه راوســـپړو دا به راته جوته شي چی هلته ښـــوونکو او علم ته درناوی ندی شـــوی ، بلکه په سپکه سترگه ورته کتل شویدي ، ښوونکی او مربیان د ښونی او روزنی مهم او مضـــبوط ارکان بلل کیږي او دا ډله دخلکو په ســـلامتیا او نیکمرغۍ کی هم رول لوبوی او د ټولنی د پرمختگ سبب کیږی.

له بده مرغه ښـــوونکی پدی هیواد کی د ډیروســـتونز وسره لاس او گریوان دی او دژوند ســـختی او کړاوونه تر هر چازیات گالي ، نو د معارف مســـولینو او د زده کوونکو دوســـتانو او اولیاؤ باندی لازمه ده چی د ښـــوونکي د اســـتونزی را کمی کړي ، ځکه ښووکی ایمان په زړونو او اذهانو کی حک کوی او په عاشقان توگه د حق آواز د ټولو غوږونو ته رسیوي، د ښوونکی او از تل دادی چی انسان ژوند تل د ارزښتونو او انسانی کرامت په محور و څرخی او د انسانانو اساسی همت هماغه د مکتب او ښـــوونکی پیژندنه وي او هیڅ پردی ته اجازه ورنکړي چی زمونږ په فرهنگ او دینی ملی ارزښـــتونو باندی تیری وکړي ، څو نیکمرغه او پر مختللی ټولنه ولرو . د ښـــوونکی مقام د بل هیڅ مادی معیار سره نه برابر یږی ، ښـــوونکی دعلم ، عقل او پوهی پیغام راوړونکی دی أو گلونه کلونه یی د علم اوپوهی کلاؤ په یی فتح کولو سره موږ ته د محبت او ایثار درس راکړی ، که چیری ښوونکی او د ښونکی شان او مقام ته په ارزښت قایل نشو ، نو ټولنه ، تمدن او خپل تاریخ مو له لاســه ورکړی ، داشـعار ندی ، بلکه زموږ د عقیدی اســاس دی ، ښـــوونکی چی

دخپل ځان او اولادونو له ویری ، دوهم او دریم شغل ته لاس اچوي څرنګه ورڅخه دا تمه ولرو چی د نویو علومو، نوی تفکر په لرلو سره به په خوښـــی زموږ د هیواد بچیان وروزی ،هغه هم یو انسان دی د ورځني ژوند د ستونزو سره مخامخ کیږي، خو یوازی هغه څه چی ده ته د دارنګه ستونزو او خوالو په مقابل کی توان ورکوي، هغه د ده ایمان او تعهد دی.

د ښـوونکي ټولنیزه و ده باید په تولنه کې حفظ شـی ، څیړنو ښـوولی هر څومره چی دښـــوونکی مقام او منزلت په ټولنه کې لوړ شـــی او ورته درناوی وشي ، په هماغه اندازه زده کوونکو رغبت تحصـــیلی پرمختیا په لور زیاتیږی ، نو پدی سره باید ټول سـازمانونه ، سـنی او د تولنی ټول افراد د ښـوونکی د منزلت لوړتیا ته د یوه مهم ټولنیز ضرورت په ســترګه وګوری. که چیری ټولنه غواړی تولیدونکی ، دوامداره او مفیده انســـانی سرمایه ولری نو باید دښـــوونی ځلیدونکی مقام ته درناوی وکړی که چیری دښـــوونکی منزلت په ټولنه کی کمزوری شـــی او زده کوونکی خپلو ښـــوونکوته احترام او ارزښـــت ونه نکړی، نو بدی پایلی یی خپله همدغوزده کوونکو ، تنکیو ځوانانو او د دوی کورنیوته بیرته را ګرځی نو پدی وجه ټول اړخونه او فرهنګی او ټولیزی کړی باید د ښـــونکی مقام اومنزلت ته دیو ټولینزی مهمی موضـوع په سـترګه وګوری . باید دښـوونکی مالي سـتونزی لیری شی او هغه تبعیض چی د ښوونکو او نورو دولتی کارکوونکو تر منځ موجود دی ، له منځه ولاړشی ، څو ښوونکی دزړه په مینه سره تدرس ته دوام ورکړی او ورڅخه لازمه ګټه پورته شی.

د ښوونکي په وړاندې دزده کوونکو مسؤلیت :

۱ – د ښوونکي په وړاندی تواضع او هغه دخپل ژوند لپاره نمونه بلل .

۲ – د آمرانه خبری کولو نه ډډه کول او ښوونکی په درناوی سره یادول.

۳ – ښوونکی ته درناوی او دعلم او پوهی د مقام نه یادښت

۴ – د ښــوونکي د ارشــاد ، گوت څنډنی څخه درناوی او دهغه قهر او تند خویی زغمل.

۵ – د ښوونکی د راتگ په انتظار او په حضور یی مشرف کیدل .

٦ - دښوونکی د مصروفیت پر مهال هغه ته مزاحمت نه کول

۷ - دښوونکي د راتگ پر مهال د زده کوونکو منظم کیدل

۸ - د ښوونکی په وړاندی په ادب او نزاکت سره کیناستل .

۹ – د خپلو کړنو او حالاتو نه څارنه او دښــوونکی په وړاندی د خپل آواز او خبرو کنترولول.

۱۰ - د ځواب ورکولو پرمهال د ښوونکو پوښتنو اړوند بی ادبی نه کول.

۱۱ – د درس پر مهال د حواسو تمرکز او د سکوت اختیار رول.

۱۲ - د ښوونکي د عیبونو پټول او دهغه محاسن او نیکی ښکاره کول .

۱۳ – د ښـوونکي توضـیحاتو ته درناوی او حیا او شرم له کبله د پوښـتنو نه ډډه نکول .

دښوونکي او زده کوونکي مسؤلیتونه زده کړی او ټولنی په وړاندې:

مخکی لدینه چی ښـــوونکی په درس پیل وکړی او مخکی لدی چی زده کوونکی یی خپل سوال مطرح کړي ، د خپل درس او پوښتنی په اړه د دقت او فکر وکړي او هغه د په ښـــه شـــکل سره جوړ کړی څو دبیړی تېروتنی او غلطو تصـــوراتو نه خوندی وی اوپدي توګه سره د پوښـــتنی یا مطلب په هکله په دقت کولو عادت د ښه قوت په څیرراوړاندی کیږی او تل به د پو ښتنی کولو یا تدریس پر مهال فکر او احتیاط کوی که نه او که چیری دا پوښـــتنه یا درس وړاندی کول په بیړه او بی فکری سره وشی نو تېروتنی او غلطی به ډیری ولری او پراختیا به ومومی ، را برلا به شـــی او په پایله کی به پخپل محیط او ماحول کی د تیروتونکو ، بیړنیو او اشتباه کوونکو افرادو په نامه سره وپیژندل شي.

باید ښوونکی او زده کوونکي د علمی تیروتنو پر مهال هغه که چیری له لوستلو ، مطالعی ، وړاندی کولو ، حاشـــیه لیکلو ، مباحثی ، مذاکری ، تفکر ، تدبر او یا دولو څخـه را منځتـه شـــوی وی ، ټولی دا تیروتنی بیرتـه لېری او خپـل ژونـد راتلونکی لپاره یی سر مشـــق کړی او دامکان تر کچی پوری په غیر علمی چارو یعنی دنیایي کارونو باندی مشـــغول نشـــی ، خو د امکان په صـــورت کی بیا هم کولی شـــی غیر علمی مصروفیتونه ولری او د ضرورت ترکچی په دنیا یی چاروهم بوخت وی او دغو چاروته هم رســـیدنه وکړی او په څنګ کې یې علمی غوښـــتنې

سرته رســـولی وی او په هغه پوری اړوند دندی یی اداء کړی وی ، څویدی سره وکولای شـــی چی ټول وجود د علم په واک کی ورکړی ، څو علم پخپله یوه برخه ستا په اختیار کی درکړي .

ښوونکی او زده کوونکی باید د هغو کسانو څخه چی د دوی څخه په سن شهرت مقام، دینداری ، علم او منصب کی راکښته وی د علمی گټی اخستنی او څه زده کولو څخه ډده ونکړي ، بلکه د هر چا څخه چی علمی اســـتفاده متصـــوره وی ، باید ورڅخه گټه پورته کړی ، د دوی د مقام لوړتیا ددی لامل نشـــی چی تر دوی نه د کمو خلکو نه د هغو مســـایل په زده کړه کی اقدام ونکړی ، ځکه داحالت د دې لامل کیږی چی دخپلی علمی سطحی لوړتیا په لاره کی خنډ را منځته کوی او دعلم سطحه یی کمزوری کوی او دخپل پروردگار د نا خوښی لامل به وگرځی، لکه چی وویل شـــول ، حکمت، پوهه او حکیمانه وینا د ایمان لرونکو افرادو درک شوی شی دی ، یو ایماندار فرد هر ځای چی علم او حکمت پیدا کړی نو دهغه په زده کړه او لاســته راوړلو کی تر ټولو افرادونه مســتحق کس گڼل کیږی. ســعید بن جبیر رضـــی الله عنه وایی : انســـان تر هغه پوری چی دزه کړی او تعلیم په حالت کی وی ، عالم او پوه دی ، خو کله چی زده کړه او تعلیم پریږدی او گمان وکړی چی دزده کړی او علمی کچی لوړولو ته نوره اړتیا نلری او پخپلو موجوده معلوماتو اکتفا وکړی ، نو هغه د خلکو ډیرنا پوهه انسان دی .

ښوونکی او زده کوونکی باید هڅه وکړی داسی قوت راوړی چی دهغه په سیوری کی د حق مننی او حق د تســـلمیـدو او د واقعیتونو منلوتـه غـاړه کیږدی ، د

ښوونکی او زده کوونکی تر منځ د مشترکو او ا سا سی آدابو له جملی نه هغه دی چی دوی یی پخپرلو ځانو کی ووینی پدی مانا سره کله چی دا احســاس یی وکړ چی د تیروتنی او اشــتباه سره مخامخ شــوی ، که څه هم دغه تیروتنه په کمه ســترگه وگوری او څه اعتنا ورته ونکړی خو با ید حق ته درجوع کولو خپلی(تیروتنی باندی اعتراف کولو په ټولنه کې د برکت او علمي پانگی د زیاتوالي) ونه دریغوی ځکه اعتراف په اشتباه او حق ته تسلیمیدل د دی نه علاوه چی یو دینی او اخلاقی ضرورت دی .دبرکت او دعلمی پانگی د زیاتوالی په ټولنه کی لامل کیږی او دښــوونکی او زده کوونکی اصرار او ټینگار د حق په نه قبلولو که څه هم د یوه کوچنی فرد نه هم وی ، د تکبر او خود خواهی په مانا دی چی د الله تعالی لخوا ډیر بد بلل شوی او انسان د الله له رحمته لیری کوی.

دښونکی مقام کیسه د تاریخ په پلوشوکې:

په ا سلامي تاریخ کی ښوونکی د لوړ مقام او منزلت لرونکی دی ، هارون الرشید یوه ورځ د خپل دربار وزیرانو او لویانونه وپوښتل چی تر ټولو قدر من خلک څوک دی ؟ دوی وویلی: ددوی خلیفه ده وویل : نه بلکه قدرمن خلک هغه دی چی پاچازاده گان ورته بوټونه برابروي ، هدف یی ښــونکی ؤ دمامون او هارون زامنو د خپلو ښــــونکو د بوټانو په ایښــــوولوکی یو له بل سره ســـیالی کولی او نه سره جوریدل ، بلاخره داســـی یی پریکړه وکړه چی یو بوټ به یی یو او بل به یی بل شهزاده برابروی .

همدارنگه د عباسیانو دیوه خلیفه نه پوښتنه وشوه آیا داسی آرزو لری چی نه وی پوره شـــوی. وی ویل هو ! هغه څه چی تر ټولو نه لوړ او پورته دی ، هغه د یوه ښوونکی او عالم په ځای کیناستل دی او ښوونه او ابداع دی .

أبو ألاســـود الدولی ویلي دي : د ښـــونی پرته بل قیمتی څیز نشـــته ، آمران او قوماندانان خلکوته فرمانونه ورکوي خو ښـــوونکی او عالمان بیا دغه فرمان ورکوونکو ته فرمانونه ورکوي .

پایله :

۱ – د قرآن کریم آیتونو او مبارکو احادیثونه را جوتیږی چی علم او دعلم زده کړه ډیر اهمیت لری ، دا چی علم د انســـان نیکمرغی تضـــمینوی ، علماء او پوهان دالله تعالی نه ویره لری ، الهی کلام په ښـه توگه پیژنی او دهغه قدرت او عظمت ښـــه درک کوی الله تعالی فرمایی : (**إِنَّمَا يَخْشَـــى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاء إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ**)[1]

ژباړه : یوازی د الله پوهان او علماء د الله نه ویریږی په یقین سره الله غالب او بښوونکی دی.

۲- دښـــوونکی ارزښـــت او مقام دومره لوړ دی چی کولای شـــو ووایو، ښـــوونکی کولای شی د الله د فیض او برکت ژبه شی له همدی کبله دپیغمبرانو دنده لری، ښـــوونکی که چیری د الهی ارزښـــتونو په لاره کی گام پورته کړی او کاریی د الله

۱ - د الفاطر سورت ۲۸ آیت.

تعالی رضـــا لپاره وي ، په حقیقت کی معنوی اولادونه روزی او دا ښـــوونکی ډیره ارزښناک خدمت د ټولنی په وړاندی بلل کیږي.

۳ – د ښـــوونکی مقام او منزلت لکه چی په آیتونو او مبارکو احادیثو کی څرګند شو دا تقاضا کوی چی ښوونکی ته او دهغه مسؤلیت او دندی ته په خاصه ټوګه توجه وشـی ، ځکه د ښـوونکی دورځی یا اونۍ لمانځنه یوازی نشـی کولی د هغه دستونزو او مقام نه درناوی وکړی بلکه په ټول کال کی باید ښونکی د تحسین او تقدیر مورد وګرځی.

۴ – ښـوونکی د علم په ښـوونه او خپرونه کی انسـانان د کمال او پرمختګ لورته بیایی ، عشق او ایمان د انسان دروح او ضمیر په لوحه باندی ثبتوی او دفطرت آواز د عالم په فضا کی خپروی ، په حقیقت کی ټول کمالات او ترقیات پرمختګونه دانسان ښوونکی پوره اړه لری.

په زرګونو سـلامونه ښـونکوته چی دخپلو نسـلونو د لوړتیا او کمال لپاره سـتونزی ګالی.

٤٠

په اسلام کې د ښځی مرتبه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين محمد و على آله و صحبه أجمعين.

اما بعد: فقد قال الله سبحانه و تعالى في محكم كتابه، أعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم:

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاء وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا) [1]

په اسلامی ټولنه کې د ښځی حقونه او مرتبه یو داسی بحث دی چې اوس مهال نزدی په ټولو اســـلامي هیوادونو او نړی په کچه په بیلابیلو درجو مطرح دی، د ا سلام د ښمنان په ا سلامي هیوادونو او م سلمانانو کورنیو کې د ن شته دودونو او تعاملاتو په اســـتناد چې د ښـــځو په وړاندی ترسره کیږی لکه: د میراث، دودونو ولایت، تحصـــیل، آزادیانی، د کور نه بهرکار ســـیاســـی او اقتصـــادی فعالیت، او لسګونو نورو مسئلو په څیر چې پکې په یو ډول د ښځی حقوق او حیثیت تر پښو

---

١ - د النساء سورت ١ آیت.

لاندی کیږی او د ښځی انسان والی له پامه غورځول کیږی ته گوته ایښی او هغه د اسلامي احکامو او شرعی قوانینو نه راولاړ گڼی پداسی حال کې چی کچېري په رښتیا ځیرنه وشي جوته به شي چې ډیری د ښځو حقوق تر پښو لاندی کېدل او دهغوی په وړاندی تاوتریخوالی چې ترسره کیږی د اسلام نه سرچینه نه اخلي بلکه ریښه یې د قومي او قبیلوي رواجونو او دودونو پوری نښتی ده، چی خلک یې د ناپوهی لامله د اسلامي احکامو او شریعت پوری تړي.

زمونږ په هیواد کې داسی کسان او ډلی شته چې د دښمنانو په ویناؤ او لیکنو په منلو سره دغه ویناوی رواجوی او د ا سلام مقدس دین او خوږ پیغمبر تورنوي چې گواکی د ښځوحقوق تر پښو لاندی کوي.

یوه د مصرف څخه ډکه پروسه چې د یو نیمی لسیزی په ترڅ کې دوده او پریمانه پانگه پری لږیدلی ښځو ته د حقونو ورکول د هغوی په وړاندی د تاوتریخوالی په ضد مبارزه ده دغه پروگرام د زیاتو مصرفونو او هر اړخیزه هڅو سره، سره مثبته نتیجه نده ورکړی، نه یوازی د ښځو په وړاندی تاوتریخوالي کمښت ندی کړی بلکه زیاتوالی یې میندلی ځکه پدی دری وروستیو کلونو کې د باندو کلیو او ولایتونو نه د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی بوگنوونکي خبرونه اورو، ددی رپوټه نتیجی دلیل دا دی چې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی په ضد مبارزي پروگرام په افغانستان کې اصولا په غلط بنسټ طراحي او پرمخ بیول کیږی، دغه

پروګرامونه چې اکثرا د مشـــکوکو تمویل کوونکو لخوا طرح او پلي کیږی ددی پرځای چې د خشــونت په لاملونو او انګیزو سره مقابله وکړی د ښــځو د حقونو او مرتبی په هکله په اسلامی احکامو اړیک کوي او په حقیقت کې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی په ضد تر سرلیک لاندی د شریعت په وړاندی مبارزه کوي.

ددی لپاره چی زمونږ مسلمان ورونه په اسلام کې د ښځی مرتبی نه خبر شي او د اسلام د مخالفینو تورونه څرګند شي د نن ورځی د خطبی موضوع مو په اسلام کې د ښځی مرتبی ته ځانګړی کړی تر څو جوته شي چې آیا په رښتیا په اسلام د ښځی مرتبه او حقوق له پامه غورځول شي او کنه؟

۱- ښځه په اسلام کې څه حیثیت او مرتبه لری؟

ښــځه په اســلام کې د نارینه اصــلی خور ده چې ورسره په انســان والی، انســان کرامت کې پرته د ډیر لږ کمښته شریکه ده او دواړه د الهی تکلیف د خطاب وړتیا کې یو شــان دي. اســلام په وضــاحت سره اعلاموی چې ښــځه او نارینه په اصــل پیدایښت، بشری عامو خصوصیاتو، تکالیفو او مسئولیتونو په تحمل په جزا او سزا کې سره یو دي.

قرآنکریم پدی اړه فرمایی: (**يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاء وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا**)[1]

ژباړه: ای خلکو! د خپل پالونکي له (غصی) نه ځان وساتئ هغه پالونکی مو چې تاسی یې د یو انسان نه پیدا کړ بیایې د هغه ښځه د هغه له ډلی پیدا کړه او ددغو دوو څخه یې (د ځمکی پرمخ) پریمانه نارینه او ښځینه خپاره کړل او د هغه پالونکي له (غصی) ځان وساتئ چې یو بل ته پری قسم ورکوی او ددینه بیره وکړئ چې د خپلولی اړیکی وشلوی (اوصله رحمي له پامه وغورځوي) ځکه بیشکه الله ﷻ ستاسو څارونکی دی (او ستاسو کړه وړه د هغه له سترګو پټ نه دی).

کله چې الله ﷻ خلک نارینه او ښځی د یو نفس نه پیدا کړل بیایې ددی نفس نه د هغه جفت پیدا کړ ترڅو پوره شي بیایې ددی یوه نه بشري کورنی زیات نارینه او ښځینه پیدا کړل چې ټول د یو پالونکي بندګان، د یو مور او پلار اولاد دی، دهمدی لامله د آدم علیه السلام اولاد نارینه او ښځینه د بشري اخوت پیوند راټول کړی دي. دی قرآنی نص ته په کتو نارینه د ښځی ورور ښځه د نارینه خور ده، پیغمبر علیه السلام پدی هکله فرمایی: (**انما النساء شقائق الرجال**) [2]

---

١ - النساء سورت: ١ آیت.

٢ - سنن أبي داود حدیث: ٢٣٦.

اسـلام په شرعي تکليفونو، دينداری، عبادت کې ښـځه او نر سره مسـاوي ګڼی، قرآن کريم پدی هکله فرمايی: (**إِنَّ الْمُسْـــلِمِينَ وَالْمُسْـــلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّـادِقِينَ وَالصَّـادِقَاتِ وَالصَّـابِرِينَ وَالصَّـابِرَاتِ وَالْخَاشِـعِينَ وَالْخَاشِـعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا**) [1]

ترجمه: مسلمانان نارينه او ښځينه مسلمانی، نارينه مومنان، ښځينه مومنانی، د الله د فرمان فرمان منونکي نارينه او ښـځينه، رښـتينی نارينه او ښـځينه، زغم لرونکي نارينه او ښـځينه، متواضـع نارينه او ښـځينه، صـدقه کوونکي نارينه او ښـځينه روژه تي نارينه او ښـځينه پاکلمنی نارينه او ښـځينه، الله زيات يادونکي نارينه او ښځينه الله ﷻ دغو ټولو ته ښښنه کوي او ستره جزايې ورته چمتو کړی.

همدا شان اسلام ښځه او نر د اطاعت په جزاء کې او د ګناه په سزاء کې يو شان ګرځولي پدی معنا چې د نارينه حسـنات د نارينه توب لامله يې نه زياتيږی همدارنګه د ښځی حسنات د ښځی توب لامله کمښت نه مني.

نو کله چی نارينه يا ښځه کومه ګناه وکړی د دواړه سزا يو شان ده يعنی د ښځی والی له مخه نه زياتيږی همداشـان د نارينه سـزا د نارينتوب له امله کمښـت نه مومي، الله تعالی فرمايی: (**وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقطَعُوا أَيدِيَهُمَا**)[2]

---

۱ - د الأحزاب سورت: ۳۵ آيت.

۲ - د المائده سورت: ۳۸ آيت.

معنا: دغله نارینه او ښځینه غلی لاس د هغه کړنی په سزاء کې چې ترسره کړی ده د مجازات په ډول پری کوئ. همداشان الله ﷻ د توبی سورت په (۷۱) آیت کې نر او ښځه په خپلو اساسي، اجتماعي مسئولیتونو ترسره کولو کې یو شان اعلان کړي فرمایی: (**وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّهُ**).[1]

ترجمه: مؤمن نارینه او ښځی ځینی د ځینی نورو دوستان او مرستدویان دی، یو بل ښه کار ته رابلي او بد کارنه یې راستنوي او لمونځ څنګه چې شایې اداء کوي، زکات ورکوي، او د الله او دهغه د پیغمبر فرمان وړی، دوی هغه کسان دي چې ډیر ژر به الله ﷻ په خپل رحمت کې راونغاړی. د آدم علیه السلام په کیسه کې ګورو چې الهي تکلیف آدم او دهغه ماندینی حوا ته یو شان متوجه دی لکه چې فرمایی: (**وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلاَ مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلاَ تَقْرَبَا هَذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الْظَّالِمِينَ**).[2]

ژباړه: ومو ویل ای آدمه! د خپلی ماندینی سره په جنت کی هستوګن شه او دهغه د (پریمانه او خوړو نعمتونو) نه هر څه او هرځای کې چې غواړی خوشحاله

۱ - د التوبه سورت: ۷۱ آیت.

۲ - د البقره سورت: ۳۵ آیت.

او آرامه وخورئ خو دغې ونې ته مه نزدې کيږئ او خوراک ترې مه کوئ ځکه (که داسې مو وکړل) ظالمانه به وې.

د پام وړ جالبه نقطه پدې کيســه کې دا ده چې قرآن کريم د تورات په خلاف د آدم عليه الســلام غوليدنه شــيطان پورې تړي نه د حوا پورې لکه چې فرمايي: **(فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ)**[1]

ترجمه: خو شيطان دواړه وغلول او هغوي يې د هغه ځايه چې پکې ول وويستل.

همدارنګه د قرآن په کيسه کې دادې چې حواء داسې نده چې په يوازې سر يې د ممنوعه ونې نه وخوړل او نه هغه ددې کار پېلوونکې ده بلکه خطا د دواړه (آدم او حواء) څخه ترسره کېږي همدا شان دواړه پښيمانه او توبه ګار کيږي لکه چې الله ﷻ فرمايي: **(قَالاَ رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرحَمنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الخَاسِرِينَ)**[2]

ژباړه: (آدم او ښــځې يې د الله په لور د دعا لاس پورته او) وې ويل: پالونکيه! مونږ(ستا په نافرمانې کولو سره)په خپل ځان تيرې کړې نو که ښښنه راته ونکړې او رحم را باندې ونکړې زيان کوونکو څخه به يو.

په ځينې قرآنې آيتونو کې په ا سا سې ډول خطا خپله آدم عليه السلام پورې تړل شوې لکه چې فرمايي: **(وَلَقَد عَهِدنَا إِلَى آدَمَ مِن قَبلُ فَنَسِيَ وَلَم نَجِد لَهُ عَزمًا)**[3]

---

١ - د البقره سورت: ٣٦ آيت.

٢ - د الأعراف سورت: ٢٣ آيت.

٣ - د طه سورت: ١١٥ آيت.

ترجمه: (د کار په پیل کې موږ آدم علیه السلام ته فرمان ورکړ چې (د منعه شوی ونې میوه ونخوری) خو هغه فرمان پریښـــود او (تری وی خواړه او د کار په لومړیو کې) مو د هغه نه ښه تصمیم او ثابته اراده ونلیدله.

(فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَى فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى)[1]

ژباړه: بیا شـــیطان (چل او دوکه پیل کړه او) آدم ته یې وســـوســـه واچوله (او ورته یې) وویل: آیا تاته تلپاتی ونه او فنا نه منونکی پاچایي درویښـــم؟ (کچیری دغه منع شوی ونی ته څه وخوری نونه مری او تلپاتی کیږی) په پای کې دواړه کسانو تری وخواړه (اوجنتي جامی یې د بدن څخه لری شـوی او) خپل عورت یې ولیده چی تردغه مهاله تری پټ ؤ او پیل یې وکړ د جنت دونو پاڼی یې پر خپل ځان تاو او ونښـــولي پدی ډول آدم د خپل پالونکي له فرمان نه سرغړاوی وکړ او گمراه شو.

همغه شان چې: توبه یوازی آدم پوری تړل شوی: **(ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَى)**[2]

معنا: بیا د هغه پالونکي هغه (د پیغمبری) لپاره غوره کړ او توبه یې ومنله او د (اعتذار او اســتغفار په لور) وهڅول ټول یاد شـوي آیتونه پدی نکتی دلالت کوي

---

۱ - د طه سورت: ۱۲۰-۱۲۱ آیت.

۲ - د طه سورت: ۱۲۲ آیت.

چې د حواء او آدم کیسه کې د گناه کولو کې نارینه اصل او ښځه ورپسی ده. نو دهمدی لامله ښځه په اسلام کې د بشري گناه لومړی مسئول او د آدم د اغوا او د جنت نه د شړلو لامل ندی لکه چی یهود او نصاری عقیده لري.

بالغرض که ومنو چې حواء د هغه لامل وه بیاهم د دغی گناه د پایلو مسـئولیت د حواء پرته د بل چا پر غاړه نده پدی مینځ کې د حواء لورگانی (ښځه) د حوا گناه وړلو څخه بریئ دي ځکه (ولا تزر وازرة وزر اخری) هیڅ کوم نفس د بل نفس گناه په غاړه نه اخلي.

د اسـلام سـپیڅلی دین انسـان مکرم اعلام کړی او د هغه دغوره والی معیار یې تقوی او صـالح عمل گرځولی لکه چې فرمایی: (**يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ**) [1]

ژباړه: ای خلکو! مونږ تاسی د یوه سړی او ښځی (د حواء او آدم په نوم) پیدا کړی یاست او تاسی مو قبیله قبیله ټبر، ټبر گرځولي یاست ترڅو یو بل و پیژنی (او هر څوک په داخلی او بهرنی توپیر او ځانگړی خصـوصـیت سره د بل څخه مشـخص شي او د ټولنی په جوړښت کې ځانگړی اغیز ولري) بیشکه تاسو کی غوره د الله په وړاندی ډیر متقی ستاسو دی.

---

۱ - د الحجرات سورت: ۱۳ آیت.

دغه دوه آیتونه په زغر ده دلالت کوي چې : د انسـان دواړه برخی (نر او ښـځه) د الله په کتاب او دین کې مکرم دي، بی لدی چې د ذکورت او انوثت توپیر ددغه الهي تکریم په زیاتوالي او کمښـت کې اغیز ولری دغلته ده چې گورو په اسـلام کې انساني ارزښت د ښځی د مؤنث والي په خاطر کمښت ندی موندلی.

بلکه اسـلام د ښـځی مونث والی تقدیر کړی او هغه یې د نارینه پوره کوونکی عنصرـ گڼلی په همغه شـان چې نارینه د ښـځی پوره کوونکی دی. نو ښـځه او نارینه د ا سلام له لرلیده یو د بل د ښمن ندی او نه هم یو د بل ضد او رقیب دی بلکی د انسان شخصیت او نوعی په تکمیل یو د بل مرستندویه دی.

په اسـلام کې ښـځه په ټولو حالاتو کې مور وي که خور او لور محترم او مکرم انسـان دی ځکه ښـځه د بشرـیت نیمه ټولنه ده داسـی نیمایی چې د ټولنی په ژوند کې خورا اغیز لري ځکه ښـځه لومړنی مدرسـه ده چې بشرـي نسـلو نه پکې جوړیږي او کوچنیان، تنکي ځوانان پکی پالل کیږی، ټول پوهیږو چې کوم څه چې ماشـوم د مور څخه زده کوي د هغی نه د بیلگی اخسـتو سره د هیواد راتلونکی او د ملت او ټولنی برخلیک ټاکي.

ښـځه د داسـی موجود څخه عبارت دی چی د سـړی په ژوند د اهمیت نه ډک تاثیر لري، ځکه ښځه د هغه ماندینه ده یعنی د روح د تسکین او محبت توښه ده او دخاوند مرستندویه ده د ژوند د اداری په سمون کې ښځه داسی زړه سوا ندی

مور ده چې که د نړی ټول ســړیان سره لاس ورکړی هیڅکله د هغی دنده د مور په توګه ترسره کولای نشيــ، د ښــځی پرته کوچنیان نه نازول کیږی، او نســلونه پالنه نه ویني، ښځه د نارینه مهربانه لور یا زړه سوا ندی خور ده.

د الله ﷻ د مطلق عدالت یوه بیلګه داده چې د بشرــ دغړو تر مینځ د غوره والي ډګر یې کسبي او اختیاري کړی.

نه قصــدی او اجباری پدی ډول چې د انســان لاس پکی کوم نقش نلري لکه ذکورت او انوثت، رنګ، نژاد، قوم، نسب، او قبیله ځکه دا ټول اجباري کارونه دي چې د انسان لاس د هغو په راوستو او لری کولو کې کوم تاثیر نلري نو یاد شوی کارونه عقلا او شرعا د انســانانو تر مینځ د غوره والي معیار کیدای نشيــ ځکه ډیری صالحی، خیر غوښتونکی هوښیاری ښځی په ډیرو ناپوهو، فاسقو، بد مرغو نارینه و باندی غوره والی او فضــیلت لري، ښــځه په کورنی او ټولنه کې اکثرا د دری ځانګړو حیثیتونو په درلودوسره حضــور لري چې هر یو یې د اســلام له نظره محترم او مکرم دی د لا توضــیح لپاره غواړو د ښــځی مرتبه موروالي، لوروالي او ښځه والي ته په پاملرنی وڅیړو:

۲- د ښځی احترام د مور په توګه: د بشر په تاریخ کی هیڅ داسی نظام او دین ندی لیدل شــوی چې د اســلام په کچه یې د ښــځی احترام یې د مور په حیث کړی وي او مقام یې ورته پورته وړی وي، په اسلام کې د مور د تکریم په اړه کلکی

سـپارښـتنی راغلی دي چې مورته احترام، د الله د عبادت او په توحید ایمان په کتار کې راوستل شوی او د مور سره ښیګڼه د دین د واجباتو په ډله کې توصیه شوی دي، په اسلام کې د مور حقونه هغو کړاوونو ته په کتو چې د حمل، زیږون، شـیدو ورکولو، روزلود ماشـوم په مهال یې ګالي د پلار د حق څخه موکد ده او په تکراری ډول د قرآن کریم په څو آیتونو کې ذکر شـــوی تر څو د اولادونو په ذهن کې دغه حقیقت بنسټیز شي چې د مور حقونه د حقوق الله نه ورو سته د حقونو په سرکې راځي چې یو انســان یې پربل لری لکه چې الله ﷻ فرمایی: (**وَوَصَّـيْنَا الْإِنسَـانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَـالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْـكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ**)[1]

ترجمه: مونږ انسان ته د هغه د پلار او مور په اړه سپارښت کړی (چې د هغوی په حق کې نیک اوســی او نیکی وکړی) خصـوصـا مور ځکه چې: مور هغه په ګیده کړی او هر مهال په تاند ضـعف او کمزوری اخته شـوی، د شـیدو خوړلو پای یې دوه کاله ده او (پدی دوو کلونو کې هم شـــېدی یعنی د مور د بدن زوښا څښـــي مور پدی ۳۰ میاشـــتنی موده د حمل او شـــېدو خوړلو کې ډیر اړین خدمتونه او ستری سرښندنی وړاندی کوي، نو ځمونږ توصیه انسان ته داده چی) ځما او هم

۱ - د لقمان سورت: ١٤ آیت.

د خپل مور او پلار منونکی اوسه! او پوه شه! چې په پای کې بیاځلی راتګ ځما په لور دی (او ښو خلکوته جزا او بدو خلکو ته سزا ورکوم).

په صحیح حدیث کې راغلي دی: (جاء رجل الی النبي ﷺ یسأله: **من أحق الناس بحسن صحابتي؟ قال أمک قال: ثم من؟ قال: أمک قال: ثم من؟ قال: أمک قال: ثم من؟ قال: أبوک)** [1]

ترجمه: یو سړی پیغمبر علیه السلام ته راغی وی پوښته چې ځما د ډیر ښه ملګرتیا وړ څوک دی؟ پیغمبر علیه السلام وفرمایل: مور دی، هغه سړی و پوښت: بیا څوک؟ وی فرمایل: مور دی وی ویل: بیا څوک؟ هغه حضرت وفرمایل: مور دی، وی ویل: بیا څوک؟ وی ویل پلار دی.

همدا شان روایت شوی : (أن رجلا کان بالطواف حاملا أمه یطوف بها فسأل النبي ﷺ هل أدیت حقها؟ قال (لا) ولا بزفرة واحدة) أي من زفرات الطلق والوضع و نحوها).[2]

ژباړه: یو سړی خپل مور په شاکړی طواف یې ورکاوه د کعبی چارپیر نو د پیغمبر علیه السلام نه یې پوښتنه وکړه آیا د هغی حق می ادا کړی؟ پیغمبر علیه السلام وفرمایل: نه آن چې د یوی چیغی د هغی هم یعنی د اولاد د زیږدون په مهال د

---

۱ - متفق علیه.

۲ - مسند البزار، حدیث: ٤٣٨٠.

مور د چیغو د یوی چیغی حق هم په بل حدیث کې راغلي چې: (**جاء رجل الی النبی فقال یا رسول الله أردت أن أغزو وقد جئت أستشیرک فقال: هل لک من أم؟ قال: نعم! قال: فالزمها فان الجنة عند رجلیها**). [1]

ترجمه: یو سړی پیغمبر علیه السلام ته راغی وی ویل: یا رسول الله غواړم په جهاد کې ګډون وکړم، راغلم ترڅو پدی هکله تا سو سره سلا وکړم رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا کومه مور لری؟ وی ویل: هو وی فرمایل: نو د هغی سره اوسه چې جنت د هغی د پښو لاندی ده. په اسلام کې د مور د تکریم له بېلګو څخه یوه هم د نا مسلمانی مور سره نیکي ده پدی هکله یو متفق علیه حدیث د اسماء بنت ابو بکر رضی الله عنهما څخه روایت شوی چې: هغی د خپلی مشرکې مور سره د صلی رحمی په اړه د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه: رسول الله ﷺ وفرمایل: (هو د خپلی مور صله رحم کوه)! ښځی ته د اسلام د پاملرنی یوه بله بېلګه دا ده چې: د مور د عاطفی مراعات زیات شوی دی یعنی: میړه او عورته د ځینو اسبابو لامله سره بیل شي د ماشوم مطلقه مور د پلار په پرتله د هغه د ساتنی او حضانت ډیره وړ پیژندل شوی ده.

---

۱ - سنن النسائي، حدیث: ۳۱٤۰.

په حديث کې راغلي دي: (ان امرأة قالت: يا رسول الله! ان ابني هذا كان بطني له وعاء و ثديي له سـقاء و حجري له حواء و ان أباه طلقني و أراد أن ينتزعه مني! فقال لها النبي صلى الله عليه وسلم: أنت أحق به مالم تنكحي). [1]

معنا: يوی ښځی پېغمبر عليه السلام ته وويل: يا رسول الله ! دغه ځوی مې چې ځماګيډه د ده ځايګی وه، تيونه مې دده او به خور وو، ځما غېږ دده پنغالی وو اوس يې پلار ماته طلاق را کړی غواړی دی هم رانه واخلي! پيغمبر وفرمايل: تر څو دی چې خاوند نه وي کړی د ما شوم په ساتنه او حضانت کې ډيره مستحقه يې.

۳- د لور په توګه د ښځی عزت:

عربانو د جاهليت په پېرکې د لورانو زيږول د بد مرغی او سپيره توب نښه ګڼله او پری خوا بدي کېدل چې په خواشـــينی سره دغه دود ځمونږ په ټولنه کې هم شـــتون لري، جاهلي موروثي د دودونو او خويونو چي په عربو کې وو پلار ته يې اجازه ورکوله چې: د فقر، بيوزلی يا هم د هغه ننګ او شرم لامله وژلې او ژوندی يی خښولی چې کيدای شو دغی نجلی د ځوانی په مهال يې خپلی کورنی، قوم ټبر ته يې راوړی.

---

۱ - سنن ابی داود، حديث: ۲۲۷۸.

قرآن کریم د عربي جاهلي ټولنې کې د لوړو د زیږون په مهال د پلرونو حالت دا سې بیانوي: (**وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِالأُنثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ يَتَوَارَى مِنَ الْقَومِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَم يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلاَ سَاء مَا يَحْكُمُونَ**). [1]

ژباړه: لورانې یې د بد مرغۍ سرټیټې او شرم نښـــه ګنلې او کله به چې د دوی کوم یوته د لور زیږون زیری و شو نو د ډیر خفګان لامله به یې بڼه و او ښته او توره به شـوه او سـخت په غصـه وو او د خپل ټبر او قوم نه به یې ځان پټ کړ ځکه یې ډیر ناوړه زیری پرې شـــوی او لا لهانده، سرګردانه به یې ځان سره ویل: آیا دغه شرم ځان سره وســاتې او ومنې او که د خاورو لاندې یې ژوندی خښــه کړي؟ هو څومره بده فیصله چې دوی کوله!!

په همدغه شان شرائطو کې اسلام راغی او لور یې د شرم نښه نه بلکه د هلک په څېرې د الله ﷻ نعمت او پیرزوینه وګڼله چې خپلو بندګانو ته یې پیروز کوي. قرآن کریم پدی هکله وایي: (**يَهَبُ لِمَن يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورَ أَو يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَن يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ**) .[2]

---

١ - د النحل سورت ٥٨-٥٩ آیتونه.

٢ - د الشوری سورت ٤٩-٥٠ آیتونه.

ترجمه: چاته چې وغواړي لور ورښـــيي او چاته چې وغواړی پیروز کوي یا دا چې هم ځامن ورکوي او هم لورانی او څوک شند گرځوی چې خوښه یې وی هغه ډیر پوه او ځواکمن دی.

په قرآني کیسو کې لولو چې: ځینی بخنو (لورانو) د ډیرو ځامنو په پرتله ډیر ستر او تلپاتی کړنی ترسره کړی دي لکه چې: د غه حقیقت د عمران لور مریم په کیســه کې کســو، چې: الله ﷻ هغه ټاکی پاکوی یې او دنړی په نورو ښــځو یې غوره والی ورکړی د مریم کیسه کې راغلي دی: کله چې د عمران ښځي مریم په خپلی کیډی درلوده هیله یې درلوده چې حمل یې نارینه وی ترڅو د هیکل (معبد) چوپړ وکړی او د نیکانو څخه وی، خو کله چې حمل دنیا ته راغی د عمران د ښځی د تمی برخلاف، ښځینه وو، چې الله ﷻ د ښځینه توب سره سره هغه ومانه او صالح یې کړ.

پیغمبر علیه الســـلام د هغه پلار لپاره د جنت او خپل یو ځای والی زیری ورکوي چې خپلو لونو سره ښه چلند او د هغوی په روزنه ښه ښوونه کې یې هڅه او صبر کړی وی او د اللـه ﷻ حق د هغوی پـه هکلـه مراعـات کړي ترڅو چې لورانی ستری شي یا دا چې پخپله مړی ښــي لکه چي رسـول الله ﷺ په یو حدیث کې فرمایی: (**من عال جاریتین دخلت أنا وهو الجنة کهاتین و أشـــار باصـــبعیه الســـبابة والتي**

تليها) او په بل لفظ کې (من عال جاريتين حتى تبلغا جاء يوم القيامة أنا وهو)(و ضـــم أصابعه)[1]

ترجمه: چا چې دوه لورانو نفقه او روزنه ورکړه زه او هغه ددغو د وو گوټو په څير (ســـبابه او وســـطی سره يو ځای جنت ته ننوځو په بل حديث کې لولو: (**ما من مسلم له ابتنان فيحسن اليهما ما صحبتاه – أو ماصحبهما– الا أدخلتاه الجنة)** [2]

ترجمه: هر مســـلمان چې دوه لورگانی ولري او دهغو سره، ترڅو چې ورسره وي نيکي وکړی يقينا دغه دواړه لورگانی به په هغه جنت ته ننښـــايی. ځينی حديثونه ددی سرگندونه کوي چې ددغه ثواب وعده هغه ورور ته هم ورکړ شـــوی چې د خپلو خويندو يا دوه خويندو روزنی او نفقی ته پاملرنه وکړي. همدارنگ ځينی حديثونه پدی دلالت کوي چی دغه الهی ثوابونه هغه کســـان رانغاړي چې په نومې لورسره ښېگڼه وکړي آن که يوه لور هم وي.

ددی صحيحو او سرگندو نصوصو او د پيغمبر عليه السلام پرپسي او موکدو زيرو سره نو د لور زيږون د پلار او ټبر لپاره د اوږو بار نه شـــميرل کيږی چې ډار تری ولري او نه هم د شومتيا او شرم نښه ده د کورنی لپاره چې په بد فال ورته وگوري بلکې لور په اسلام کې الهي نعمت او دمننی او شکر کولو وړ ده او داسی رحمت

---

١ - صحيح مسلم، حديث: ٢١٣١.

٢ - سنن ابن ماجه، حديث: ٣٦٧٠.

ده چې د هغې په برکت سره د الله فضــل او ثواب غوښــتل کیږي ددې بحث په پای کې کولای شو په اسلام کې د ښځې ځایګی د پیغمبر سره د فاطمې (رض) د ځایګی نه ښه وپیژنو چې فرمایي: (**فاطمة بضعة مني، فمن أغضبها أغضبني**)[1]

فاطمه ځما د بدن یوه ټوټه غوښه ده چا چې هغه غصه کړه نو زه یې غصه کړم د حدیث دغه مفهوم په بل تعبیر سره هم د پیغمبر څخه نقل شــوی: فاطمه ځما د بدن یوه ټوکره غوښـــه ده هغه څه ما خفه او غمجن کوي چې هغه خفه کړی او هغه څه خوشحاله کوي چې هغه خوشحاله کړي.

٤- د ماندینی په توګه د ښځې تکریم:

همدا شان اسلام د ښځې مرتبه د نارینه د ماندینی په څیر لوړه کړی او ښځې ته یې ســترشـــان ورکړی او رهبانیت یې باطل اعلان کړی او نارینه یې ازدواج ته هڅولي او دخاوند، ښځې پیوند یې په هستی کې د الله د قدرت نښه بللی: (**وَمِن آيَاتِهِ أَن خَلَقَ لَكُم مِّن أَنفُسِكُم أَزوَاجًا لِّتَسكُنُوا إِلَيهَا وَجَعَلَ بَينَكُم مَّوَدَّةً وَرَحمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَومٍ يَتَفَكَّرُونَ**). [2]

ژباړه: د الله په قدرت او عظمت باندی دلالت ښښوکې) یوه نښه دا ده چې تا سو څخه یې د ژوند ملګری تا سوته پیدا کړی ترڅو د هغوی ترڅنګ (د قلبی جاذبی

---

١ - صحیح البخاری، حدیث: ٣٧١٤.

٢ - د الروم سورت ٢١ آیت.

او کشش په رڼا کې) هو سا او سی او دهغوی او تا سو تر مینځ یې مهر او محبت واچاوه (او هر یو یې پربل زړه مایللی او مین گرځولی ترڅو په آرامی او هوساینی سره دغوړیدا او پرمختگ د هر یو د شخصیت وگرځي او د انسانانو د ژوند د پیوند او د هغوی جسمي او روحاني تعادل برقرار او محفوظ وي مسلما پدی کارونو کې د (الله قدرت او عظمت) نښې او دلایل شته د هغه کسانو لپاره چې (د نړی د شیانو او مخلوقاتو په اړه) فکر کوي.

پیغمبر علیه السلام ښه ښځه غوره پانگه گڼی چې نارینه یې په دنیا کې لري او همدغه صالحه ښځه د خاوند د نیکمرغی یو لامل حسابوي په یو حدیث کې پیغمبر علیه السلام عمر (رض) ته په وینا کې فرمایلي دي (**الآ أخبرک بخیر ما یکنز المرء؟ المرأة الصالحة اذ انظر الیها سرته و اذا أمرها أطاعته و اذا غاب عنها حفظته**) [1]

ترجمه: آیا تا د نارینه په ډیره غوره پانگی باندی خبر نکړم خپل ځان لپاره یې ذخیره کوی؟ دغه خزانه د هغه صالحه ښځه ده کله چې ورته وگوری نو خوشحاله یې کړی او چې امر ورته وکړی اطاعت یې وکړی او کله چې خاوند له کوره لری وي دهغه د مال، کور، اولادونو، عزت او پت څخه ساتنه وکړی.

په بل حدیث کې فرمایلي دي: (**الدنیا متاع وخیر متاعها المراة الصالحة**). [2]

---

١ - سنن ابي داود، حدیث: ١٦٦٦.

٢ - مسند الشهاب لمحمد بن سلامة القضاعي حدیث: ١٢٦٤.

ترجمه: دنیا ټوله متاع ده خو ډیره ښه متاع یې ښه ښځه ده همدا شان فرمایي: **(من رزقه الله امرأة صالحة فقد أعانه على شطر دينه فليتق الله فى الشطر الثاني)**. [1]

معنا: چاته چې الله ﷻ نیکه ښځه ورکړه یقینا دهغه سره یې د نیم دین په ساتنه کې مرسته وکړه نو د پاتی نیمایې دین په ساتنه کې د الله ﷻ نه وډار شي په بل حدیث کې راغلي دي: (**من سعادة ابن آدم ثلاثة و من شقاوة ابن آدم ثلاثة من سعادة ابن آدم: المرأة الصالحة والمسكن الصالح والمركب الصالح ومن شقوة ابن آدم المرأة السوء، والمسكن السوء والمركب السوء**).[2] ترجمه: دری څیزونه د انسان د نیکمرغی لاملونه دی بده ښځه، بدکور او بده سپرلی دي.

اسلام ددی تر څنګ چې د ښځی تکریم کوي یو لړ حقونه یې د خاوند او ښځی لپاره ټاکلي دی او خاوند اړباسي چې هغه ترسره کړي لکه: مهر چې د ښـــځی سره د خاوند د ارادی او رغبت سرګندوی دی، قرآن کریم فرمایی: (**وَآتُوا النِّسَـــاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحلَةً فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيءٍ مِّنْهُ نَفسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا**) [3]

ترجمه: او د ښـــځو مهرونه د خالصـــی او فرضـــی الهی ډالی په توګه ورکړئ نو کچیری یې په خپله خوښه د خپل مهر نه څه تاسو دویښي (هغه ترلاسه کړئ او) حلال او خوږ یې وخورئ.

---

١ - المعجم الأوسط، حديث: ٩٧٢.

٢ - مسند الامام احمد، حديث: ١٤٤٥.

٣ - د النساء سورت ٤ آیت.

نحله: په عربي ژبه کې د عطیه، هدیه په معنا ده نه په معنا د ارزښـــت او قیمت چې خاوند یې د جنسي- ګټو اخستلو په مقابل کې ښـځی ته ورکړي همغه چې ځینی خلک تبلیغ او خپراوی کوي.

د ښـــځی یو حق په خاوند باندی د نفقی ورکړه او ښـــه چلند ده ورسره چې په فقهی کتابونو کې مفصل بحث لري.

باید زیاته کړو چې د اسلام مقدس قانون د ښځی شخصیت په واده سره د نارینه په شـخصـیت کې ندی ذوب کړی لکه څنګه چې: د غرب په فرهنګ کې معمول دی چې ښـځه د خاوند تابع ګرځي او نور ښـځه د خپلی کورنی په نوم، نسـب او لقب نه پیژندل کیږی بلکې د فلان سړی د ماندینی په نوم پیژاندای شي، خو په اسلام کې د ښځی د شخصیت تشخص او استقلال دواده نه وروسته د پخوا په شـــان ســـاتلی دی د همدی امله مونږ د پیغمبر علیه الســـلام ماندینی په خپلو نومونو او نسبونو سره پیژنو .

مثلا: خدیجه بنت خویلد، عائشـه بنت ابی بکر، حفصـه بنت عمر، ام حبیبه بنت ابو سـفیان، صـفیه بنت حیی او نور رضـــی الله عنهن همداشـــان په واده سره د ښځی مدنی شخصیت په اسلام کې کمښت نه مومي او نه هم ښځه خپل اهلیت دعقودو، معاملاتو او نورو مالي تصرفاتو کې له لاسه ورکوي، نو ښځه کولای شي د واده وروسته په مستقل ډول پیرل او پیرودل وکړي په خپلو ملکیتونو کې تصرف

وکړی او دخپلې شتمنۍ نه ورکړه او صدقه وکړي، وکیل ونیسی او دعوا وکړی او نور معاملات.

٤١

د ښځی حقوق او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي حرمت

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسول الله و على آله و أصحابه أجمعين، أما بعد! قال الله تعالى أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم: (يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاء).[1]

ژباړه : ای خلکو ! د الله نه وویریږئ هغه ذات چی تاسی یی د یوه نفس څخه را پیدا او له هغه څخه یی ورته د ژوند ملګری خلق کړه او بیا وروسته له دوی دواړونه ډیر نارینه ښځینه تیت کړل.

د اسلام شهیدانو روح ته په درود ویلو، ورونو او خویندو ! له هرڅه نه مخکی خپل ځان او تاسوته په تقوا باندی توصیه کوم زموږ د بحث ننی موضوع د اسلام له نظره د ښځو حقوق دی ، نو ولی می دغه موضوع انتخاب کړه ؟ او پدی اړوند زموږ په ټولنه کی څه ستونزی موجودی دی ؟ او داسلام مبین دین ښځوته په کومو حقوقو قایل شوی ؟ آیا موږ د مسلمانانو په توګه د غه حقوق رعیت کړی! یانه؟ دارنګه او دغه ته ورته نوری ډیری پوښتنی دی چی زموږ او ستاسی ذهنونه

---

١ - د النساء سورت ١ آیت.

یی مشغول کړی ، او پدی اړه ستونزی هم شتون لری پداسی حال کی چی ټول پوهیږی ، اســلام د یوه کامل او جامع دین په توگه د نارینه او ښــځی تر منځ د خلقت او نیکو اعمالو اجراء کولو په اړوند فرق ندی کړی ، الله تعالی د نحل ســورت په ۹۷ آیت کی دارنگه فرمایی: (**مَنْ عَمِلَ صَــالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَــنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ**) .[۱] (ژباړه : څوک چی نیک کاروکړی که نارینه وی یا ښــځینه پداســی حال کی چی هغه مومن وی، نو خامخا به هغه ته پاک ژوند ورپه برخه کړو او بدله به یی تر هغو نیکو عملونو نه ښه ورکړو چی دوی تر سره کړیدي).

نو ا سلام د ښځو په وړاندی هیڅ تبعیض نه غواړی او ټول هغه حقوق چی نارینه لپاره یی په رســمیت پیژنی دهغه توپیر په نظر کی نیولو سره چی د حکمت او مصلحت غوښتنه ده ، د ښځو لپاره هم په رسمیت پیژندلی دی او موږ هغه مهال په دغه موضــوع باندی پوره پوهیږو چی د جهالت یا د اســلام نه مخکی دورې ته نظر واچوو ، مخکی لدی چی بحث ته ورداخل شــو ، لومړی به د حق او حقوق تعریف وکړو :

۱ - د النحل سورت ۹۷ آیت.

د حق تعریف : حق په لغت کی رښتیا او صحیح ته وایی ، د باطل ضد ، د هر کار ثابت او واجب چی البته واقع شـــی ، همدا رنگه په معنی د یقین ، عدل ، نصیب برخه دیوه شی ، مال او ملک نه هم، استعمال شویدی .[1]

اصطلاحی تعریف :

۱- دفقی په ا صطلاح کی : حق په فقه په دوو معنا ووراغلی : یو حق د حکم په مقابل کی ، پدی معنی سره چی په قانون کی هغه چاری چی وړاندوینه یی شـوی وی چی شـخص وکولای پخپل قصـد سره ځینی د هغی تغییرکړی ، دغه کارونه چی د تغیر وړدی ، ورته حق ویل کیږی

دوهم : حق په معنا د مال دیوی نوعی دی چی عین،دین ،منفعت او انتفاع په مقابل کی وی.[2]

۲- د حقوقو په اصطلاح کی :

حق یو قدرت دی چی هر هیواد یی خلکوته ورکوی ځو د مال نه په مسـتضـمیه توگه گټه واخلی او یا د مال انتقال او یا دیوه کارکړل له نورونه وغواړی .[3]

دحقوقو تعریف : له حقوقو نه مختلف تعریفو نه شـــو یدی چی موږ یو ورڅ خه یادووهغه چی زموږ په بحث پوری تړاو لری : دخلکو داړیکو د تنظیم او په ټولنه

---

۱ - د (عمید حسن فرهنگ عمید تهران، انتشارات امیر کبیر) کتاب څخه، ۱۳۷۱.

۲ - د(جعفری لنگرودي، محمد جعفر ترمینالوژی حقوق) کتاب څخه.

۳ - د(فاطمه فهیمی، حقوق مالی زن، ص: ۱۲) کتاب څخه.

کی دښـــه نظم جوړونی په موخه حکومت د هر چا لپاره یو لړ اختیارات د نورو په وړاندی پیژنی او هغوته خاص توان ورکوی ، دغه توانایی او امتیاز ته حق ویل کیږی چی جمع یی : حقوق دي ، پدی توگه سره له حقوقونه فردی حقوق هم اخیســتل شــویدی لکه د ژوند حق ، د مالکیت حق ، د کاراوکســب دآزادی حق او..... او ځینی ددغو حقوقونـه د بشرــ د حقوقو تر عنوان لانـدی د حمایـت وړگرزی.[1]

د حقوقو مبنا هم عرف ، شریعت او قضایی رویه ده چی په اسلامي هیوادونو کی د حقوقو مبنا اکثراُ اسلامی شریعت دی.

دښځو د حقوقو تاریخی لړلید :

ښـځی په مختلقوتاریخی دوروکی د رنگارنگ ظلمونو اوکړاوونو سره مخامخ شـوی ، بده به نه وی چی په مختلفو ټولنو کی د ښځو وضعیت ته ځغلنده کتنه وکړو.

۱-یونان :

یونان د ډیرو پخوانیو تمدنونوڅخه دی چی پر بشری ټولنی پراختیا کی یی مهمه ونډه اخســتلی ، خوښــځی په هغه ټولنه کی واقعاً دیر مظلومی او محرومی وی ، هغو قرار داد ، تړون ، دانعقاد دحق نه درلود ، په قضـــا کی محکمه کی د دعوا اقامه هم ورته ناممکن ؤدمیړه ترمرگ وروسته یی د میراث حق نه درلود.

---

۱ - همدغه مرجع.

۲- پخوانی روم :

رومي ښــځه د کنیزی په څیر بی ارزښـــته وه چی په ټولنه کی یی هیڅ قدراو منزلت نه درلود او دغلامی په څیر به په بازارونو کی پلورل او پیرودل کیده ، دپلار او میړه په وړاندی یی دمالکیت ، معاشرت او ژوند حق نه درلود.

۳- هند:

دمانو په قانون نامه کی د ښځی په اړوند راغلی ؤ : ښځه د بی آبرویی سرچینه ده ، ښـځه د نزاع منبع ده ، ښـځه د خاورین ژوندانه سرچینه ده نو باید د ښـځی نه لري واوسو، په پخواني هند کی د پخوانیو رسومواو رواجونو له جملی نه ساتی یا د ژوندی سوزولو مراسم ؤ چی د هغی پراساس د میړه نه وروسته به دهغه ښځه همدارنگه د میړه سره یوځای په اورکی ســوځوله او یا به یي بی ژوندی ژوندی ښخوله .[1]

۴- پخوانی ایران : ښځو په ساساني امپراطوری کی حقوقی شخصیت نه درلود او یوازی د یوه شی په څیر به فرض کیده ، هغی یوازی کولای شول یا د چا مال او یا د چا حق وگرزي.

۵- د اسلام نه مخکی د ښځووضعیت:

ښـځه د اســلام نه مخکی او د جاهلیت په زمانه کی خواره او ســپکه وه ، عربو به هغه دعیب ، ذلت، او ننگ منشــا بلله ، کله به چی د کورنی پلار ته خبر رســیده

۱ - د(فاطمه فهیمی، حقوق مالی زن، ص ١٦) کتاب څخه.

چی په کورکی د لور زیږیدلی، نو ښه به یې له ډیر قاره تکه توره شـــوه ، له ځان سره به یی دا فکر کاوه چی یا خوبه دغه لور په خواری سره ســـاتم او یا خوبه یی په خاوروکی پټوم ، قرآن کریم دغه حالت دارنگه بیانوی :

(يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِن سُـوءِ مَا بُشِّـرَ بِهِ أَيُمْسِـكُهُ عَلَى هُونٍ أَمْ يَدُسُّـهُ فِي التُّرَابِ أَلاَ سَـاء مَا يَحْكُمُونَ)[1]

ژباړه : او کله به چی یو ددوی ته زیری ورکړل شـــو چی لور د زیږیدلی ده نو مخ به یی تور گرځیده او ډیر په غمجن او په قاریده، د خلکو نه به یی ځان پټاوه ، له ځان سره بی یی فکر کاو او سرگردانه به ؤ چی یا خو دا لور په سپکاوی او خواری سره وســاتی او یائی هم په خاوروکی خښـوی خبر اوســی چی دیره بده پریکړه به یی کوله .

جاهلیت داســی یوه د تورتم دوره وه چی علم او عقل حاکمیت نه درلود ، دښـځو په وړاندی ظلم او جنایت دومره اوج ته رســـیدلی ؤ چی حتی ددغه لطیف او نازنین مخلوق نه یی د ژوند حق هم اخســتلیؤ قران کریم د تکویر په ســورت کی فرمایی : (**واذا الموءدة سئلت بأی ذنب قتلت**) [2]

ژباړه : او کله چی په قبر دژوندی ښـــخول لورانو نه وپوښـــتل چی په کومه گناه وژل شوی یا ست ؟ او دغه انسانی حق درنه واخستل شو ؟ یوازی ددغه ناروا او

---

۱ - د النحل سورت ۵۹ آیت.

۲ - د التکویر سورت ۹ آیت.

تعصــب او ننگ له امله چی هســی نه چی دغه ښــځی او لورانی په جنگ کې اسیرانی شي نو دسپکاوي لامل شی؟

د ښځو حالت د اسلام ځلیدو نه وروسته :

زمانه همداســی په ظلم او وحشــت کی تیریده څو الهی صــبر نور په بل لور بدل شــو ، او ډیره موده تیره نه شــوه چی خپل نازنین اســتازی محمد ﷺ د دغه ناخوالوله منځه وړلولپاره واســتوه د پیغمبر ﷺ بعثت دیوه انقلاب عمیق هراړخیز بدلون په توگه ؤ چی د موجوده وضـعیت او حالت د تغیر او ښـځوته یی دحقوقي او واقعي مقام په ورکولو سره رامنځته شــو . داســلام مبارک دین ښــځی ته دانسانیت په سترگه وکتل او دهغی شخصیت یی د نابودی او سقوط نه راوژغوره ، او هغه د ټولو حقوقو نه برخمنه شــوه ، اســلام ښــځه د نارینه په څیر دکامل انســانی روح ، ارادی ا و اختیار نه برخمنه کړه او هغه د تکامل په مســیر کی چی د پیدایښت هدف او موخه ده ، گوري ، ځکه دواړه یې په یوه صف کې راوستل او د (**يآ أيها الناس**) (**يآ أيها الذين آمنوا**) خطاب یی ورته دکړ ، د برتری معیاریی یوازی تقوا وبلله نه جنسیت ، قوم یا نسب ، قران کریم فرمایی:

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ) [1]

ژباړه : ای خلکو ! ما تاســی د یوه نارینه او ښـځینه نه را پیداکړی او بیایی تاســی ډلی ډلی او قبلي قبلي وگرزولی څویو بل سره وپیژنی ، یقیناُ ســتاســی نه مکرم

---

۱ - د الحجرات سورت ۱۳ آیت.

شـخص د الله په وړاندی سـتاسـی متقی کس دی ، یقینا الله ډیر یوه ، عالم او باخبره دی .

اوس موچی د ښځی اړوند د اسلام انسانی او عادلانه کتنه ولیده، په ترتیب سره به هغه حقوق چی اسلامی ښځی ته ورکری بیان کړو .

۱- د ژوند حق :

انسان د موجوداتو ټوکری د سرد گل په عنوان سره د ژوند د حق نه برخمن دی ، او د نراوښـځی تر منځ توبیر نشـته فران کریم فرمایی : (**ومن یقتل مؤمنا متعمداً فجزاؤه جهنم خالدا فیها**) [1]

ژباړه : او څوک چی یو مؤمن په قصـد سره ووژنی نو جزا می جهنم دی چی دایمی به پکی پاتیږی .

۲- د ښځی د مالکیت او مالی استقلال حق:

د قرآنی آیتونو (مختلفو روایاتو له پلوه د ښځو مالکیت او مالی استقلال د نارینه و په څیر دی او ددوی د حقوقو تر منځ کوم تبعیض نه لیدل کیږی ، قرآن کریم فرمایی :

(**للرجال نصیب مما اکتسبوا وللنساء نصیب مما اکتسبن**). [2]

---

۱ - د النساء سورت ۹۳ آیت.

۲ - د النساء سورت ۳۲ آیت.

ژباړه : د نارینه ؤ لپاره برخه ده له هغوی چی پلاس یی راوړي او دښځولپاره برخه له هغو چی پلاس یی راوړی دغه مبارک آیت په صراحت سره نارینه او ښځینه د خپلو لاسته راوړنو مالک بللی له پیغمبر ﷺ نه دارنګه رانقل شوی :

(**الناس مسلطون على أموالهم**) [1]

ژباړه : خلک په مالونو او خپلو مایملک شیانو کی سلطه او واک لری همدا رنګه فرمایی (**حرمة مال المؤمن كحرمة دمه**) [2] یعنی دمومن د مال حرمت لکه د وینی په څېر د هغه ونی ته داسی دی ، ددغو او دی ته ورته نورو روایتونو په رڼا کی د نارینه او ښځی تو پیر نشته او ناس مؤمن نارینه او ښځینه دواړو باندی اطلاق کیږی .

۳- د اشتغال او کارکولو حق:

کار د فرد دژوند برابرولو ، آسودګی رفاه او دمایحتاج انساني ضرورتونو پوره کولو وسیله ده ، داسلام حقوقی جوړښت دومره عظمت لری که څه هم پیړی تیری شوی بیا یی هم تر ټولو مکمل حقوق خاصتًا ښځوته ورکړی ، که څه هم د اسلام له نظره ښځه باندی لارمه نده خو د کورنی خرڅ او مصرف لګښت راپوره کړي او د ښځی او اولادونو ضرورتونه پوره کول د نفقی تر عنوان لاندی د نارینه مسؤلیت دی سره لدی نه هم ښځه کولی شی او د کار او کسب په ټاکلوکی آزاده ده چی

---

۱ - مجلة البيان شميره ۲۳۸، د مجلس اسلامی باب الشعير في الفقه الاسلامي ج ٢٦، ص ٢٧ المكتبة الشاملة.

۲ - سنن الدار قطني، حديث: ٩٤.

هغه کار انتخاب کړی کوم چی د کورنۍ مصـــالحو سره په ټکر کی نه وی ،مسلمانانو لومړنی مور حضرت خدیجه رضی الله عنه د سوداگری کاروبار کاوه.[1]

۴- د میراث حق :

مخکی مو ذکر کړل چی ښـــځه پخوا دخپلو ډیرومالی او ټولنیز و حقوقو څخه محرومه وه ، اســـلام علاوه د دری نه چی هغی ته یی انســـان ، مدی او ټولنیز خقوق ورکړل ، هغی ته یی نور حیثیت او وقارهم ورکر ، چی د میراث حق دی ، ښځه د مور ، خور ، ښځی او لور په حیث په میراث کی شریکه شوه.

الله پاک د ســـورت نســـاء اووم آیت کی فرمایی : (**للرجال نصـــیب مما ترک الوالدان والأقربون و للنساء نصیب مما ترک الوالدان و الأقربون مما قل منه أو کثر نصیبا مفروضا**).[2]

ژباړه : دنارینه ولپاره برخه ده له هغه څه نه چی د پلار او مور او خپلوانه نه ورته پاته کیږی او د ښـــځو لپاره برخه ده له هغه ځه نه چی د والدینو او خپلوانو نه پاتیږی ، که څه هم هغه مال کم وی یازیات ، دغه برخه ده ټاکل شـوی او واجب الاداء.

دنارینه او ښځی د میراث تفاوت په اړه یو اشکال :د سورت نساء په ۱۱ ایت کی راځی (للذکر مثل خط الانثیین)[3] د نارینه ولپاره دی دوه برابر د ښـــځو

۱ - د (فاطمه فهیمی حقوق مالی زن، ص ۱۱۱) کتاب څخه.

۲ - د النساء سورت ۷ آیت.

۳ - د النساء سورت ۱۱ آیت.

دبرخی نه.) دلته یو ا شکال او پو ښتنه مطرح کیږی چی نارینه او ښځی تر منځ تبعیض او توپیردی ؟

په ځواب کی باید ووایو ، که چیری دقیق ځیرشو د اسلام حکیمانه عدالت دی او اقتصـادی او مصرـفی پلوه ، او ښـځه د نارینه څخه ډیره برخه وړي ، ځکه ښـځه خپل سهم او شتمنی ساتی او دمصرفولو په اړه مکلفیت نلری ، خو دنارینه برخه د نفقی او د کورنی مصارفو په لاره کی مصرفیږی ، تا سوته به یو مثال ذکر کړم : یو پلار وفات شـــو او ورڅخه یو زوی او یوه لور پاته شـــوه او شـــپږ لکه افغانۍ هم ورڅخه میراث شوی ، څلورلکه افغانی د زوی او دولکه افغانۍ د لور شوی ، زوی واده کوي د توی او واده کولو مراســموکې یی ټولی پیســی مصرـف شــوی ، خو نجلی میړه کوی ، مهر هم اخلی او نقفه یی هم په میړه باندی ده ، نو دا هیڅ مصرف نلری.

۵- د وصیت حق :

د ښځو د حقوقونه یو دادی چی کولای شی د نارینه ؤ په څیر و صیت وکړی ، د بل چاوصی شی او یایی په ګټه وصیت تر سره شی پدی اړوند د نارینه او ښځی تر منځ هیڅ تفاوت نشته.

٦- د نفقی حق :

یو له ډیرو مهمو حقونو څخه چی اســلام ښــځو ته په نظر کی نیولی د هغهی د نفقی حق دی چی د یوه تکلیف په توگه یې د نارینه ؤ په غاړه ایښــی قرآن کریم فرمایي : (**وَعلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لاَ تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلاَّ وُسْعَهَا**) .[1]

او په هغه چاچی زوی ورته زیږیدلی (پلار) باندی لازمه دا چی دمور خوراک او پوښاک یی په ښه توگه ورکړی او هیڅوک له خپل توان نه زیات مکلف ندی .)

همدارنگه بل آیت پدی اړوند دارنگه صراحت لری : (**الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَــاء بِمَا فَضَّـلَ اللّهُ بَعْضَـهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّـالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّهُ**).[2]

ژباړه : نارینه د ښځو سرپرست او ساتوونکی دی د هغه فضیلت په خاطر چی الله ځینو ته پرځینو نورو ورکړی او دهغه انفاق په خاطر چی له خپلو مالونه څخه یی د ښـځو په اړه کوی ، او صـالحی ښـځی هغه ښـځی دي چی متواضـعه وی او په غیاب کی دخپل میړه هغه اسرار او حقوق چی الله ورته لازم کړي ، ساتنه کوي . علامه طباطبایی د دغه آیت په تفســیر کی ((قیم)) د ارنگه معنی کوی : قیم هغه کس دی چی دبل دمصارفو مسؤلیت لری او په هغه باندی انفاق کوی او ((

---

١ - د البقری سورت ٢٣٣ آیت.

٢ - د النساء سورت ٣٤ آیت.

قوامون)) د مبالغی صیغه ده د ((**بماانفقوا**)) څخه هدف په آیت شریف کی انفاق ، مهریه او دښځو نفقه ده .

۷- دمهر حق:

د مهر یا مهریی کلمه عیناً په قران کریم کی نده ذکر شوی او دهغی په ځای (صداق) د صاد په فتحه یا کسره سره استعمال شوی او صداق هغه مال ته ویل کیږی چی نارینه یی د ازدواج عقد پرمهال ښځی ته ورکوی .د سورت نساء په څلورم آیت کی راغلی : (**وآتوا النساء صدقاتهن نحلة**)[1]

ژباړه : او ورکړی ښځوته ددوی مهرونه د ډالی په توگه ، هغه مهم ټکی چی د دغه مبارک آیت نه استنباطیږي :

۱- مهریه (صداق) د نارینه رښتنی علاقه د ښځی په وړاندی ښي ، ځکه صداق د صدق له مادی نه اخستل شوی.

۲- د (هن) ضمیر په ترلو سره دا جوتوی چی مهر خپله په ښځه پوری تړاولری ، نه پلار ، مور او ورور او مهر یه د پلار لپاره د لور د لویو لو په مقا بل کی مزدوری نه گڼل کیږي

۳- د (نحلة) چی په آیت کی ذکر شوه ، د انکته روښانه کوی چی مهریه پرته له ډالی ، ورکړې او عطیې نه بل مفهوم نلری او پدی سره هغه گومان ردوی

---

۱ - د النساء سورت ٤ آیت.

چی مهر یه د نجلی قیمت دی ! البته مهر یه اوږد بحث لری چی زموږ له موضوع وتلی.

۸- د تعلیم او تحصیل حق :

د اسلام له نظره ښوونه او روزنه د انسان معنوی کمال او الهی قرب ته یی رسیدل دی او پدی اړه د نارینه او ښځی تر منځ هیڅ توپیر نشته د اسلام ستر پیغمبر ﷺ فرمایی (طلب العلم فریضة علی کل مسلم) . [1]

ژباړه: د علم حاصلول په هر مسلمان نارینه او ښځینه باندی فرض دی .

له بده مرغه زموږ په هیواد کی یوه ستونزه داده چی په ځینو ځایونو کی د نجونو د زده کړی مخه نیسو او داسلام د دومره ستر پیغام نه سترگی پټوو ، پداسی حال کی چی د یوی ټولنی د پرمختگ بنسټ ، ښوونه او روزنه ده ، که چیری د نجونو او ښځو ښوونی او روزنی ته چی زموږ نیمایی ټولنه تشکیلوی ، همت ونکړو، څرنگه به وکولای شو چی یو پرمختللی ، متمدن او صنعتی هیواد ولرو؟!

۹- د ټاکلو حق :

داحق سیاسیی اړخ پوری تړاولری او همدارنگه کیدای شي د ښځو د ژوند ټاکلو او د شریک ژوند انتخاب موضوع ته شامل شي د یوی ښځی لپاره تر ټولو مهم او برخلیک ټاکونکی انتخاب هماغه د میړه انتخاب او ټاکل دي چی له بده مرغه زموږ په هیواد کی اکثراً دغه کار د والدینو لخواته ترسره کیږی او پخپله نجونی

---

۱ - سنن ابن ماجه حدیث: ۲۲٤.

پدغه کارکی نه پوښـتل کیږی ، په ښـکاره سره باید ووایو چی زیات جرایم لکه له کوره تیښـته ، جنسـی جرمونه ، ځان وژنه ، دبل چاوژنه ، په کورکی د مور لخوا د اولادنو وهل ټکول ، طلاق او ... دجبري ودونو او یا مخکی له وخته و دونو څخه را پیداکیږی ، نو ځکه دغه موضـوع ته پاملرنه کول کولای شـی په هیواد کی زیاتی ټولنیزی سـتونزی حل کړي ، د افغانسـتان مدنی قانون چی له اسـلامی فقهی نه اخسـتل شـوی په (۷۰) ماده دواده موضـوع کې وایی : ((د ازدواج اهلیت هغه وخت بشپړیږی چی ذکور ۱۸ او اناث ۱٦ کلنی پوره کړی وی)) نو د نجونو او ښـځو لپاره یو له مهمو حقوقو څخه د خپل میړه د انتحاب حق دی چی په آزادۍ او خپل واک سره یی وټاکي ، خو له بده مرغه پدی اړه ډیر مشکل لرو ، په ځینو ځایونو کی ناوړه دودونه و جودلری چی غواړی د یوی ښـځی په قربانی کولو او دهغی د احساساتو ، عاطفی ، شخصیت او راتلونکی ژوند تر پښولاندی کولو سره ، د وژلو او جنگونو لړی ته پری دپای ټکی کیږدی همداسی دی په زور سره واده کول او یا بدل کول چی پکی د نجونو رضـایت ته پاملرنه نه کیږی ، پداسی حال کی چی د رسول الله ﷺ په مبارک سیرت کی دنجونو او ښځو دغه حق کاملاُ مراعات کیده او د رسـول الله لورانو هم پخپله خوښـه او رضـایت سره واده کړیدی ، بده به نه وی چی د ښځو بد ورکولو ناوړه دود په اړه یو څه تم شو.

په بدوکی ورکول :

په بدوکی ورکول د افغانسـتان په ځینو سـیموکی یو پخوانی دود دی چی لاتر اوسه هم معمول دی او عادتا د کورنیو او یا دو وقبیلو د جنجالونو د حل او فصل

کولو په موخه کارول کیږي یوه نجلۍ د متجاوز یا قاتل له کورنی یا قبیلی لخوا متضرر لوری ته ورکول کیږی څو قناعت یی حا صل او د نور قتل او جنجال مخه ونیول شی ، بی له شکه دارنگه د تاوتر یخوالی کارونه او داسلام ضد عملونه چی د نجونو او ښــځو په برخلیک لوبی کیږی د اســلامی شریعت او هیواد د نافذه قوانینو له مخی مردود دی ، دوو دلیلونو اشاره کوو :

۱ – قران کریم فرمایي : (**ولا تزورا وازرة وزر أخرى**). [۱] ژباره : هیڅوک دبل چا گناه پیتی پخپله اوږه نه وړی) نو بنا پردی دغه نجلۍ څه گناه لری چی دبل چا د جنایت قربانی شی ؟

۲ – په بدوکی دورکولو عنعنه کی اجبار او اکراه هم شــتون لري ، ښــځه د خپل رغبت او خوښـــی پرته د بل چا دجنایت قرباني وگرزي او دغه نکاح له بنســـټه باطله ، ځکه دا ناوړه عمل او حرام کار دی او باید دزوج او میړه د ټاکلو حق په پوره آزادی سره ښځوته ورکړل شي .[۲]

۱۰– سیاسی او ټولنیز حقوق :

ښــځه د ظریف ، آرام ورکوونکی او پاک موجود په توگه ، دمور ، خور ، لور او ماندینی په بڼه د ټولنی په بشــپړتیا کی رول لری ، که چیری خپل ارزښـــت ونه پیژنی او یا ټولنه یی دموهبت څخه محرومه وی ، نو دهغی ټولنې انحطاط او

۱ - د الاسراء سورت ۱۵ آیت.

۲ - د (اضرار عرف و عنعنه ناپسند از نظر قانون و شریعت اسلامي، ص ۲٦) کتاب څخه.

زوال حتمي دی ، ښځه او نارینه د حقوقو او وجایبو او وظایفو په ترسره کولو کی سره برابر دی ، الله تعالی فرمایی : (**وَلاَ تَتَمَنَّوْاْ مَا فَضَّلَ اللّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُواْ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ وَاسْأَلُواْ اللّهَ مِن فَضْلِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا**)[1]

ژباړه : ځینو ته چې الله ﷻ څه فضیلت ورکړی دهغه تمه مه کوئي د نارینه ولپاره هغه څه دي چی پلاس یی راوړي او د ښځو لپاره برخه دهغو ده چی لاسته یی راوړي او د الله نه وغواړئ چی له خپل فضل او کرم نه یی درکړی ، یقیناً الله تعالی په هر څه پوه او خبر دی.

نو پدی سره اسلام د ښځو لپاره ټول اجتماعی ، سیاسی ، حقوق په رسمیت پیژني چی یو له دغو مسئلو څخه د بیعت موضوع ده او نن سبا په حق رای سره تعبیریږی ، یو ځل د هجرت په شپږم کال د حدیبی سولی پرمهال، یوځل د مکی فتحی پر مهال په مکه کی ترسره شول ، ښځو دنارینه ؤ سره څنګ پر څنګ په هغه سیاسی او الهی تړون کی ګډون وکړ ، رسول الله ﷺ کله چی د ښځو نه بیعت واخست اعلان یی وکړ ، دوی د ټولنی د اصلی عناصر او بنسټزو ارکانو څخه دی او کولای شی د ټولنی په برخلیک کی یقین ټاکوونکی ونډه ولري .[2]

---

۱ - د النساء سورت ۳۲ آیت.

۲ - د (جایگاه حقوق زن، در قوانین جمهوری اسلامی افغانستان، مجموعه مقالات، همایش زنان در افغانستان از کبري گوهري ج ۳ ص ۲۵۸) کتاب څخه.

د ښځو د حقونو په اړه ستونزی:

۱- مختلف تاوتریخوالی : لکه ، فزیکی ، روانی ، اقتصادی ، جنسی ، ټولنیز ، صحی او روغتیایی تاوتریخوالی.
۲- مخکی له وخته ودونه.
۳- په زوره ودونه.
٤- په کورنیو او قبلیوی منازعاتو کی دنجونو په بدو کی ورکول
٥- د تحصیل او تعلیم څخه د نجونو محرومیت
٦- دمالکیت او میراث حق څخه د ښځو محرومیت
۷- د کاری فرصتونو څخه یې محرومیت
۸- ښځو ته په منفي او تبعیض سترگه کتل

د حل لارې:

۱- د ټولنی فرهنگ تغییر او د اسلام واقعی احکام بیان شی.
۲- د هرډول تاوتریخوالی سره مبارزه وشـــی ، خاصـــتاً علمای کرام پدی اړه پاملرنه وکړی.
۳- اجباری او دوخت نه مخکی و دونه ممنوع شی.
٤- د ښځو ښونی او تحصیل ته زیاته پاملرنه وشي.
٥- دښځو شرعي او اسلامي حقوق رعایت شي.

پایله :

د اسلام مبارک دین ډیر ښکلی حقوق ښځوته ورکړی ، دا موږ یو چی د اسلام ناوړه تفسیرمو کړیدی او د قران په لارښوونو عمل نه کوو ، شاعروایی اسلام به ذات خو دندار د عیبی هرعیبی که است در مسلمانی ماست ، یعنی اسلام پخپله هیڅ نلری هر عیب چی دی زموږ په مسلمانۍ کی دی او تر هغه چی دغه حقوق ونه پیژنو او افغانی ښځی ته په حرمت او حق قایل نشو نو زموږ د ټولنې ستونزی به حل نشی.

٤٢

د ښځو تعليم او تحصيل د اسلام له نظره

الحمد لله رب العالمين و الصلاة والسلام على محمد و على آله و أصحابه أجمعين.

اما بعد!

دعلم فضيلت د قرآن كريم له نظره:

الله تعالى په قران كريم كى فرمايى أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم:(يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ) [1]

ژباړه : الله تعالى لوړوي درجات د هغو كسانو لتاسونه چى ايمان يى راوړى او د هغو كسانو درجات چى علم وركړل شويدى ، او الله په هغه څه چى تاسى يى كوى پوره خبردى) همدا رنگه الله فرمايى : (**قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ**)[2]

---

١ - د المجادلى سورت ١١ آيت.

٢ - د الزمر صورت ٩ آيت.

ژباړه (**ورته ووایه ، آیا هغه کسان چی پوهیږي د هغو کسانو سره برابر دي چی نه پوهیږی)** او فرمایي **(انما یخشي الله من عباده العلماء)** [1]

ژباړه : په یقین سره علماء د الله ﷻ نه ډیر ویریږي.

(اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ)[2]

ژباړه : ووایه د الله په نامه د ی هغه چی مخلوقات یې پیداکړل ، پیدایې کړ انسان د تړل شوی وینی نه ، ولوله اوستارب کریم دی هغه ذات چی په قلم یی ښوونه ورکړه ، ورویی ښوول انسان ته هغه څه چی نه وربانـدی پوهیده.

(وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ) [3]

ژباړه :او هغه کسانو چی ورته علم ورکړل شوی ؤ وویل : څه دی او افسوس دی تا سو لره، د الله ثواب د هغه چا لپاره چی ایمان یی راوړی او نیک عملونه یی کړی غوره دی ، خو هغه یوازی صابران تر لاسه کولی شي.

---

۱ - د الزمر سورت ۹ آیت.

۲ - د العلق سورت ۱-۵ آیت.

۳ - د القصص سورت ۸۰ آیت.

د نبوی احادیثو په رڼا کی د علم فضیلت :

رسول الله ﷺ وفرمایل : (**من یرد الله به خیراً یفقهه فی الدین وانما العلم بالتعلم**).[1]

ژباړه : د چا لپاره چی الله پاک د خیر اراده کړی وی نو هغه په دین کی فقیه وگرځوي او علم په تعلم او زده کړی سره لاســته راځي (**من لم یفقه لم یبال به**)[2] څوک چی علم او فقاهت نه حاصلوی نو اعتناء او توجه به نه ورته کیږي .

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنهما څخه روایت دی قال: (**قال رسـول الله صـلی الله علیه وسلم: اذا أراد الله بعبد خیرا فقهه فی الدین و ألهمه رشده**).[3]

ژباړه:کوم انســان ته چی الله پاک د خیر اراده کړی وی نو هغه په دین کی فقیه وگرځوي او هغه ته د هدایت الهام کوی.

عن أبي امامه رضي الله عنه قال : (**قال رســول الله صــلی الله علیه وســلم: ((العالم و المتعلم شریکان فی الخیر ولا خیر فی سائر الناس**) .

ژباړه : عالم او متعلم دواړه په اجرکې سره شریک دی او دعالم او متعلم نه پرته په بل چا کی خیر نشته .

---

۱ - صحیح البخاری، ج ۱، ص ١٦ د پیښاور چاپ دوه ټوکیي.

۲ - الترغیب والترهیب، للمنذري، ج ۱ ، ص ۵۰ د حقانیه کتابخانه چاپ.

۳ - مسند البزار، حدیث: ۱۷۰۰.

عن أبي موسى رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ : (**يبعث الله تعالى العباد يوم القيمة ثم يميزالعلماء فيقول يامعشر العلماء اني لم أضع فيكم علمي لأعذبكم ،اذهبوا فقد غفرت لكم**).[1]

ژباړه : له حضرت ابو موسى رضى الله عنه نه روايت دى چى رسول الله ﷺ فرمايلي : دقيامت په ورځ الله تعالى ټول راژوندى كوى وروسته بيا علماء جداكوى او وايى : اى د علما ؤ ډلې ما تاسو منځ كى علم د دى لپاره نه ؤ ايښى چى تا سو ته عذاب دركړم ، ولاړ شى ما تا سوته بښنه وكړه . او همدا رنگه رسول الله ﷺ فرمايلى : (**نضر الله امرءاً سمع مقالتي فوعاها ثم أداها كما سمعها**) .[2]

ژباړه :الله پاک يى د تازه او خوشبخته ولرى هغه كس چى زما خبرى يى واوريدى ، ښى يى حفظ كرى او بيا يى هغه چاته ورسولى چى اوريدلى يى ندي مصطفى العدوى په احكام انساء نومى كتاب ۴ جلد باب حث النساء على طلب العلم ٦٢٧ پاڼه كى وايى : (و هذه النصوص عامة يدخل فيها الرجال و النساء)).

ژباړه : يعنى ذكر شوى نصوص هغه آيتونه او حديثونه چى د علم فضيلت په برخه كى ذكر شول ، عامنصوص دى چى ښځو او نارينه وته شاميليږى . رسول الله ﷺ فرمايى : (**طلب العلم فريضة على كل مسلم**).[3]

---

١ - المعجم الأوسط، حديث ٤٢٦٤.

٢ - شرح مشكل الأثار للامام الطحاوي، حديث: ١٦٥١.

٣ - سنن ابن ماجه، حديث: ٢٢٤.

يعنی د علم حاصـــلولو په هر مســـلمان نارينه او ښـــځينه باندی فرض دی . په پورتنی مبارک حديث کی د (مســـلم) کلمه عامه ده چی نارينه او ښـــځنی ته شامليږي ، که چيری نوموړي حديث يوازی نارينه وته شامل شی نو په ښځو به دضروری علومو زده کړه لکه د لمانځه ،روژی ، زکات ، او نور وفرض نه وه ، پداسی حال کی چی د دغو دينی ضروریاتو علومو زده کړه په دواړو يو شـــان فرض ده او هيڅوک ورڅخه انکار نشی کولی.

ابن حزم وايی : په هره مســـلمانه ښـــځه باندی فرض دی هر هغه څه چی د دې دين پوری ارتباط لری ، بايد زده يی کړی لکه چی په نارينه ؤ باندی فرض دی ، نو په عاقله او بالغه ښځه باندی فرض ده چی د لمانځه ، حيض ، نقاس ، روژی د ژوند آداب ، معاشرتی آداب ، که مالداره وی د زکات مســـايل ، که حج ورباندی فرض وی ، د حج مسايل او هغه علوم چی ددی د حال پوری تړاو لري ، زده کړي همدا رنگه ورته فرض ده څو د حلالو او حرامو ټول اړوند مسايل زده کړی.

حضرت عايشه رضی الله عنها وايی :(**نعم النساء نساء الأنصار لم يمنعهن الحياء أن يتفقهن فی الدين**). [1]

ژباړه : ښی ښځی ، د انصارو د مدينی اوسيدونکې ښځی دی چی شرم کول يی ددی نه منع کوی نه چی په دين کی فقاهت او معلومات ترلاسه کړی .

---

١ - صحيح البخاری ، حديث: ١٢٩.

عن زينب أم سلمة قالت : جاءت أم سليم الى رسول الله ﷺ فقالت يا رسول الله: ان الله لايستحيى من الحق ، فهل على امراة من غسل اذا حتلمت؟ قال النبي صلى الله عليه وسلم: نعم ذارأت الماء ، فغطت أم سلمة تعني وجهها و قالت: يا رسول الله و تحتلم (**أو تحتلم) المرأة ؟ قال : نعم تربت يمينک فيم يشبهها ولدها**).[1]

ژباړه : زينب بنت ام سلمة رضى الله عنهما روايت كوى ام سليم رسول الله ته راغله او وى ويل ، اى د الله رسوله : الله پاک د حق ويلونه حيانه كوي، كه چيرى ښځى ته احتلام پيښ شي نو غسل ورباندى لازميږى ؟ رسول الله ﷺ و فرمايل : هو ، كله چى اوبه ووينى ، ام سلمه رضى الله عنها د رسول الله نه مخ پټ كړ او ويى ويل : اى د الله رسول ! آيا ښځه هم احتلام كيږى ؟ رسول الله وفرمايل ، خواره مه شى ، كه چيرى احتلام نشى ، نو څرنگه ماشوم يى خپلى مورته ورته وي.

عن أم كثير يزيد الأنصارية قالت : دخلت أنا وأختي على النبي ﷺ فقلت له: ان أختي تريد أن تسألک عن شيء وهي تستحيي، قال : فاسأل، فان طلب العلم فريضة .[2]

---

١ - صحيح البخارى، حديث: ١٣٠.

٢ -الاصابة فى تمييز الصحابة لأحمد بن علي العسقلاني، حديث : ١٢٢١٦.

ژباړه : ام کثير بنت يزيد انصاری وايی : زه او خورمی رسول الله ﷺ ته ورغلو او ورته مې وويل : خورمی غواړی څه درنه وپوښتی ، رسول الله ﷺ و فرمايل : پوښتنه وکړه ځکه د علم زده کول فرض دی.

له پورتينو رواياتو نه معلوميږی چی زده کړه او ديني مسايلو زده کول په ښځوفرض دی او بايد په هرډول چې وي ښځی د علومو ، معارفو حاصلولو خصوصاً هغه مسايل چې روزمره ورته ضرورت لری هڅه وکړي. رسول الله ﷺ ته راغله او ورته يی وويل : ای د الله رسوله ! نارينه له تانه علم زده کوی نو پدی برخه کی زموږ نه مخکی شول او موږ ښځی ور وسته پاته يو ، نوموږ ته هم يوه ورځ وټاکه څو ستانه علم زده کړو ، رسول الله ﷺ ورته يوه ورځ وټاکله او بيا ټولی ښځی په هماغه ټاکل شوی ځای کی سره را ټوليدلی او رسول الله به ورته وعظ او تبليغ کاوه او دوی به يی له ديني مسايلو خبرولی.

ښځوته د دعا تعليم:

عن أسماء بنت عميس رضي الله عنهما قالت : قال رسول الله ﷺ : (**ألا أعلمک كلمات تقولينها عندالكرب ؟ الله ، الله ربي لا أشرک به شيئًا**) .[1]

ژباړه : اسماء بنت عميس رضی الله عنهما وايی چی رسول الله ﷺ فرمايی : آيا داسی کلمات درته ونه ښايم چی د سختی په وخت کی يی ووايی : هغه دادی الله ، (**الله ربي لا أشرک به شيئا**) الله زما رب دی ، د هغه نه هيڅ شريک نه نيسم.

١ - سنن أبي داود حديث: ١٥٢٧.

د ښځو پوښتنې د دوی د دين په اړوند:

(عن أبن عباس رضي الله عنهما أن امرأة رفعت الى رسول الله ﷺ صبيا فقالت : **ألهذا حج ؟ قال : نعم و لک أجر**).[1]

ژباړه : له ابن عباس رضـــی الله عنهما نه روايت شـــوی چی يوی ښـــځی د حج مراسمو پر مهال خپل زوی رسول الله ته را پورته کړ او پوښتنه يې وکړه آيا په دغه ماشـــوم هم حج شـــته ؟ رســـول الله ﷺ وفرمايل : هوکی ، او تاته يی اجر درکول کيږی.

د دينی او علمی مسايلو اړوند د ښځو پوښتنه :

امام بخاری له حضرت عايشی رضي الله عنها په روايت ليکي چی هغی فرمايلی: فاطمه بنت أبي حبيش رســـول الله ﷺ ته راغله او پوښـــتنه يی وکړه ، ويی ويل : ای د الله پيغمبره: زه داســـی يوه ښـــځه يم چی دحيض ناروغی پرته نوره ناروغی هم وينم او نه پاکيږم ، آيا لمونځ پريږدم رســـول الله ﷺ و فرمايل : هغه ناروغی چی وينی ، حيض ندی ، کله چی حيض وينی نو لمونځ مه اداء کوه او کله چی حيض ختم شو ، نو غسل وکړه او ځان پاک او لمونځ وکړه .[2]

---

١ - صحيح مسلم ، حديث: ١٣٣٦.

٢ - صحيح البخاري، حديث: ٢٢٨.

ښځی دنارینه ؤ په څیر باید علم نشر او خور کړي :

ښــځی هم باید د نارینه ؤ په شــان دینی علومو په خپرولو او تروبجولو کی هڅه وکړي ، علوم زده او نورو ته یی ورســوي او دعلم له فیوضــاتو او خپرولو څخه یی گټه واخلي او نور له دغه زیور څخه برخمن وگرځوی ، الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایی : (**وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا**).[1]

ژباړه : یادی دکړی (ښځې) پخپلو کورونو کی هغه څه چی تلاوت کیږی د قران کریم له آیتونو او نبوی احادیثونه په یقین سره الله تعالی مهربان او با خبره ذات دی.

الله تعالی په پورتنی مبارک آیت کی ښځی وعظ او نصیحت ته امر کړی او دوی ته لارښــوونه کوی چی نوروته د علم او نصــیحت په رســولو کی لکه نارینه داســی هڅه وکړی او پری نږدي چی پخپله دوی او نور کســان او د کورنۍ خلک یی د ناپوهی په تیاره کی پاته شي ، ښــکاره ده چی ښــځه هغه مهال پخپل کور او له کوره بهر وعظ ، تبلیغ او دین رســونه کولای شي چی لومړی پخپله پدغه زیور ښایسته یعنی لومړی پخپله څه زده او بیایی بل ته وښي.

---

١ - د الأحزاب سورت ٣٤ آیت.

د نارینه لخوا ښځوته د وعظ او تعلیم حکم:

که چیری ښوونکی او متخصصی ښځی پیدایشی چی ښځوته درس ورکړی ، نو نارینه هم کولی شی چی ښځوته تعلیم ، وعظ او تبلیغ وکړی امام بخاری له جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت کوی ، فرمایی : (**قام النبي ﷺ يوم الفطر فصلى فبدأ بالصلاة ثم خطب ، فلما فرغ نزل فأتى النساء فذكرهن و هو يتوكأ على يد بلال و بلال باسط ثوبه يلقى فيه النساء الصدقة**) [1]

ژباړه : رسول الله ﷺ د کوچنی اختر په ورځ د اختر لمونځ اداء کړ او په خطبه ویلو باندی یی پیل وکړ ، کله چی د موعظی نه خلاص شو نو له منبره را ښکته او ښځو لور ته یی تشریف راوړ او دوی ته یی هم وعظ او نصیحت وکړ پداسې حال کی چی په حضرت بلال باندی یې تکیه کړی وه او بلال یی خپل څادر غوړولی ؤ او ښځو په هغه کی صدقات اچول.

د ذکر شوی مبارک حدیث نه هدف چی رسول الله ﷺ پخپل مبارک وجود سره دښځو منځته حضور پیداکړ او هغوی ته یی وعظ او تبلیغ وکړ ، ترڅو د هغه مبارک وینا په ښځو باندی اثر وکړ او ټولی صدقی ورکولو ته تیاری شوی.

---

۱ - صحیح البخاری، حدیث: ۹۷۸.

د ښځو لیکنه او دم دعا:

عن الشـــفاء رضـــی الله عنها مرفوعا: ألا تعلمین هذه (حفصـــة) رقیة النملة کما علمتها الکتابة)[1]

ژباړه: د شفاء رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې رسول ﷺ دي ته وویل: ولی دې حفصـــه ته د نمل دم او دعا ندی ښـــودلي څرنګه چې د دېته لیکنه ورښودلي ده.

دښځو د تعلیم او تحصیل ضرورت:

دا په تجربه سره ثابته شـــوی چی یوازی د نارینه پوهاوی په دینی او دنیایی چاروکی د ټولنی ستونزی نشـی حل کولی او دا یوازی بسـنه نکوي ځکه په هره کورنۍ کی ممکنه نده چی نارینه عالم د شتون ولری او په ځینو کورنیوکی د یوه عالم وجود مؤثر او یا کافی نه وي او ښـــځی نشيـــ کولی په ځینو حالاتو کی له پلاره ، وروره او یا هم تره نه ځینی پوښـــتنی مطرح کړي ،نو دلته ده چی دښـــځو تعلیم او تحصـیل ته ضرورت لیدل کیږي ، نو پدی اسـاس په آسـانۍ سره کولای شي ، دیني او علمي ارزښـــتونه او علوم د کورنۍ نوروغړو په ځانګړی توګه نجونو ته ورسوي. نو پدی اساس د ښځو د تعلیمی او تحصلی اهدافو نه په ټولنه کی ، دتحصـــیل او تعلیم پراختیا ، دکورنۍ د غړو دینی او علمي کچه لوړول ، دیني ضرورتونو پوره کول ، په ټولنیزو مخلتفو برخوکی د جنسيـــ ، حقوقي ، تعلیمي ،

---

١ - سنن أبي داود، حدیث: ٣٨٨٩.

تربیتي او صحي ضرورتونه پوره کول . د ا سلام مقدس دین په هیڅ عنوان سره د ښځو د تعلیم او تحصیل مخالفت نکوی پدی شرط سره چی د پورتنیو اهدافو پر اساس وي.

د ښځو د تحصیل اصول :

د ښځو د تحصیل اړوند باید لاندی ضوابط او شرایط مراعات شی :

۱ – د تدریس پر مهال د نارینه او ښځینه تر منځ جلا والی

۲ – د لارو په اوږ دوکی د شرعی حجاب مراعاتول

۳ – په لومړی گام کی د ښځه ، ښځی ته تعلیم ورکړی

۴ – دتحصیل وتلو لپاره د سرپرست نه اجازه تر لاسه کړی که چیری میړه ولری نو دمیړه په اجازه به دا کارکوي

۵ – له کوره دوتلو او بیرته راتگ پر مهال یی باید ځان او عزت په امن وی

٦ – د تگ اوراتگ اسانتیاوی ترانسپورتیشن ورته برابر وی

داسلامی تعالیمو په رڼا کې د ښځو د تحصیل او تعلیم اهداف په لاندی ډول دي :

الف : د هغی فریضی اداء کول چی د شریعت له طرفه ورته متوجه ده یعنی د علم زده کړه پخپله فرض ده او په زده کړه سره یی الهي فرض اداء کیږي.

ب : له جهالت او ناپوهی نه چی د انسان د هلاکت لامل گرزي ، لیری والی

ج : د رسول الله ﷺ د مبارکو لارښوونو مطابق په اسلامی اخلاقو مزین کیدل

د : د اسلامي شریعت لارښوونو مطابق د دینی او دنیوی چارو پرمخ بیول

هه : په ښه توگه سره د اولادنو روزل

و : د فرایضــو او واجباتو پیژندل او وربانـدی عمل کول او حرامو پیژندل او ورڅخه ډډه کول

ز : بالآخره دالله تعالی پیژند گلوی او ددارینو نیکمرغیي حاصــلول اونوروته دبریالیتوب لاره ښوول.

په افغانســتان کی د ښــځو د تعلیم او تحصــیل پر مهال حقوقی موانع او دهغی بدی پایلې:

پدی کی شک نشته څومره چی د علم زده کړه فایدی او گټی لري ، بی علمی او جهل په هماغه اندازه قباحت او بدی له خپل ځان سره لري ، په هره ټولنه کی چی هره بدبختي لیدل کیږی ،منشأ یی ناپوهي او جهل دی چی انسان بدبختی او شقاوت ته رسوی او دا سبب کیږی چی حقوق الله او حقوق العباد ضایع شی.

د تحصــیل او تعلیم نه ممانعت په ټولنه کی په اخلاقی ، دیانت ، اقتصــاد او پرمختیا بر خوکې ضرر رســوي ، لیدل کیږي په کومه ټولنه کی چی علماء او پوهان که نارینه وي یا ښــځینه موجود وی نو هغه ټولنه به له اخلاقي او دیني

لحاظ پرمختللی وی او که چیری په یوه ټولنه کی عالم که نارینه وی یا ښـــځینه وجود ونلری نو ټولنیز نظام یی خرابیږی او د بدبختی او شـــقاوت لورته ځی او اکثراً دارنگه کورنۍ د اخلاقو او آدابونه لیری پاتیږي یو دبل په وړاندی د مسؤلیت احساس کیږی او ژوند د شریعت مطابق پرمخ نه ځي.

د ښځو لپاره د عصری او دنیوی علومو زده کړی حکم :

د اســلام مقدس ښــځی په مطلقه توگه د دنیوی او عصرــي علومو د زده کړې نه ندی منع کړی ، په ځینو حالاتو کی که ښــځی د عصرــی علومو د زده کړی نه منعه شــوی پدی غرض ندی چی د ښــځی طبیعت عصرــی علومو ته ندی عیار شوی او یا ښځی نشی کولی چی عصری علوم زده کړی ، بلکه د خارجی عوارضو او یا هم د ښــځو د مصــلحت په غرض دا کار وي. که چیری ښــځی عصرــی علوم زده کري او دینی ضروري زده کړی په عصرــی زده کړو باندی مقدمې گرزوی او دعصرــی علومو زده کړی پر مهال یی ځان ، مال عزت او آبرو ته څه خطر متوجه نه وي ، پداسی حالاتو کی ښځی کولای شی ، عصری علوم زده کړی ، لکه طبی زده کړی ، دایه توب ، خیاطی او نور داســی علوم چی د حلال رزق په لاســته راوړلو کې رول لوبوی.

په مجموعي ټوگه د ټولو هغو عصری علومو زده کړه چی دښځی د اصل او فطرت سره کوم تضاد ونلري ، ښځه کولی شی هغه زده کړي ، او هغه علوم چی دښځی د اصل او فطرت سره مناسب نه دی ، لازمه نده چی هغه ښځه زده کړي ، لکه د موټرو د تخنیک ، گلکاری او نور ، نو باید نظامونه او حکومتونه بســټونه دښــځو د

دیني او عصرـــي علومو زده کړی لپاره زمینه برابره کړي ، تعلیمی او تحصـــیلي موســـســـی اوبســـټونه جوړ کړي ، څو ښـــځی په آســـانۍ اوپرته له کوم تشـــویش نه عصري او دیني زده کړي وکړي.

٤٣

د وخت ارزښت او اهمیت

الحمد لله رب العالمین الذی هدانا للاسلام و منّ علینا بالصحة و الفراغ ، والصلاة و السلام علی سیدنا محمد و علی آله و أصحابه أجمعین.

قال الله تبارک وتعالی فی محکم التنزیل و هو أصدق القائلین ، أعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم: (وَالْعَصْرِإِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ). [١]

(وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَاهَا وَالسَّمَاء وَمَا بَنَاهَا وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا) . [٢]

(و الفجر و لیال عشر و الشفع والوتر و اللیل اذا یسر)[٣]

(والضحی والیل اذا سجی)[٤]

---

١ - د العصر سورت ١-٣ آیتونه.

٢ - د الشمس سورت ١-٦ آیتونه.

٣ - د الفجر سورت ١-٤ آیتونه.

٤ - د الضحی سورت ١-٢ آیتونه.

قال رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم: (نعمتان مغبون فيهما كثير من الناس: الصـحة و الـفـراغ)[1]

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:(اغتنم خمسا قبل خمس... و فراغک قبل شغلک).[2]

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:(لا تزول قدما عبد يوم القيمة حتى يسأل عن أربع : عن عمره فيم أفناه؟ و عن شـبابه فيم أبلاه و عن ماله من أين اكتسـبه و فيم أنفقه، و عن علمه ماذا عمل فيه).[3]

و ايضا قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (ليس من يوم يأتي على ابن آدم الاينادي فيه يا ابن آدم! أنا خلق جديد و أنا عليكم غداً شهيداً فاعمل خيرا في أشهد لكم غدا و أني لو قد مضت لن تراني أبداً و يقول الليل مثل ذلک).[4]

صـدق الله مولانا العظيم و بلغه رسـوله النبي الكريم و نحن على ذلک من الشـاهدين و الشاكرين والحمدلله رب العلمين.

السلام عليكم ورحمة الله و بركاته وبعد!

سریزه: په بشری ژوندانه کی وخت یو ډیر مهم او ارزښتناک عنصر بلل شوی او د انسـان په ژوند کی چی ډیر لوړ اهمیت لری، هغه وخت دی چی په واقعیت کی زموږ د ژوند شـیرازه تشـکیلوی، د وخت اهمیت له هغه ځایه پیژندل کیږی

---

١ - صحيح بخاری، حديث ٦٤١٢.

٢ - سنن النسائي، حديث: ١١٨٣٢.

٣ - سن الدارمي، حديث: ٥٥٦.

٤ - جامع الأحاديث، حديث: ١٩٥١٥.

چی انسان هر څه له لاسه ورکړی امکان لری هغه بیرته لاسته راوړی خو وخت ، چی کله تیرشـــو، د بیرته راتلو امید یی نشـــته ، له همدې کبله وخت دیر قیمتی څیز دی چی دانسان په اختیار کی قرار لری او دیوه عاقل انسان دنده داده چی دهغه په وړاندی دومره حســـاس وی لکه څنگه چی بخیل انســـان پخپل مال او ثروت باندی حساس وی. د وخت نه گټوره استفاده کول د ټولو انسانانو لپاره د اهمیت وړ ده ځکه له سره دانسان عمر په تیریدو دی او انسان باید د خپل ژوند له هری لحظی . دقیقی او ثانیی څخه په ښـــه توگه گټه پوره کړی او پری نږدی چی خپل قیمتی وخت یی له دنیوی او اخروی منفعت پرته او یا دا چی دالله د مخلوق سره په خدمت نه کولو ، د ټولنی ضروریتونو پوره کولو پرته بی گتی او پایلی تیرشـــی. دا چی الله پاک انســـان اشرف د مخلوقاتو پیدا کړی او د نورو مخلوقاتو نه یی ورته غوره والی ورکړی دا تفوق پخپل ذات کی انســـان د معنویت او عبودیت لوړ معراج ته رســوی. له همدی کبله هر څومره چی د انســـان مقام او منزلت صعودی منازلو ته خیژی ، په هماغه اندازه سره مسؤلیت او مکلفیتونه یی ډیر او درانه کیږی او دالله تعالی د هر نعمت په وړاندی د پوښـــتنی او مســـؤلیت مورد گرځی. وخت د الهی نعماتو له جملی نه یو ارزښـــتناک نعمت دی چی قدوس او لایزال خدای د همدغه ژوند ښښوونکی نعمت په اړه د قران کریم په څو سـورتونو لکه: (**الشـمس،الصـحی،الفجر**...) کی سـوگند یادکړی له هغی جملی نه

فرمايي: (وَالْعَصْرِإِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ).[1]

ژباړه: سوګند په زمانه چې انسان په تاوان کې دی ، مګر هغه څوک چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه یې کړی او په حق او صبر کولو سره توصیه وکړی . په پورتنی مبارک سورت کې چې دری آیتونه لری، د انسانی ژوند مکمل پروګرام شکل نیسی او داسی تصویریږی چې اسلام د بشری ژوند ښکلا غواړی.

د عصر معنا او د وخت سره ئې تړاو؟

د (عصر) کلمه په اصل کې د نښځیځلو (چڼ وهلو) په معنی ده بیا وروسته په زمانه باندی یې اطلاق شوی ، پدی خاطر چې ورځنی کارونه او چاری پکی را خلاصه او چڼ وهل کیږی. بیا وروسته دغه کلمه په مطلقه معنا (زمانی) او د بشر تاریخی دوران یا د زمانی یوی برخی ، لکه د اسلام ظاهریدو زمانه او د اسلام د ستر پیغمبر بعثت او نورو باندی استعمال شوی ، ځکه د تفسیر علم له پلوه ځینو مفسرینو ټولی زمانی او د بشریت تاریخ تری مراد کړی چې د عبرت درسونو نه ډکه او دټکان ورکونکو حوادثو او بیدارونکو واقعاتو لرونکی وی ، له همدی کبله دومره عظمت لری چې د الهی سوګند لیاقت پیدا کوی.

په بل عبارت سره: (عصرــ) زمانی ته وایی ، یعنی قسم دی په زمانه او په زمانه کی د انسان قیمتی عمر داخل دی چې د دنیا او اخرت د کمالاتو د حصول

---

۱ - د العصر سورت ۱- ۳ آیتونه.

دوره ده، یا قسم دی و مازدیگر لمانځه په وخت چی د دنیایی مشغولیاوو له مخی د کاروباراو مصروفیتونو او د شرعی لحاظ د فضلیت او نیکمرغی وخت دی ، لکه چی په مبارک حدیث کی راغلی:

(د چانه چی د مازدیگر لمونځ فضاء کیږی، نو داسی ده لکه کور او ټول شته یی چی لوټ او تالا شوی وی) یا قسم دی د رسول الله ﷺ په نیکمرغه زمانه باندی چی پکی د رسالت نور پلوشی دغی نړی ته را وځلیدی. په هر حال ، پدغه سورت کی الله تعالی په زمانه باندی قســم یادکړی چی ټول نوع بشرــی په تاوان کی دی، مگرڅلور ډلی یی د دغه تاوان نه مستشنی کړی هغه چی څلور خصلتونه ولریة

۱ – ایمان

۲ – نیک عمل

۳ – نوروته په حق توصیه او نصحیت

۴ – په صبر کولو باندی توصیه او نصیحت

د دنیا او اخرت د زیانونو نه خلاصون او لویه گټه پلاس راوړلو په موخه دغه قرانی نســخه د څلورو څیزونو نه مرکبه شــوی ، دهغه له جملی نه دوه لومړنی څیزونه خپله انســان پوری تړاولری او دوه نوریی د مســلمانانو په اصــلاح او هدایت کولو پوری. پدی ځای کی لومړی د پاملرنی کار دادی چی زمانه پداسی مضمون سره څه نسبت لری چی په هغی باندی قسم یادکړل شی، ځکه د قسم او دقسم د

ځواب ترمنځ باید تړاو موجودوی ، ټولو مفسرینو حضراتو ویلی چی دانسان ټول احوال ، وده ، حرکات او سکنات، اعمال او اخلاق ټول په زمانه کی صورت نیسی، هغه کارونه چی پدی سورت کی ورته یادونه شوی هغه هم د همدی زمانی په شپه او ورځ کی دی نو پدی مناسبت سره په زمانه باندی سوگند یاد شویدی. نو پدی اساس که چیری مسلمانان نن سبا همدا څلور گونی اصول پخپلو فردی او ټولنیزو چاروکی اجراء کړی نو ستونزی او ناخوالی به یی حل شی. وروسته پاته والی یی له منځه ولاړ او ناکامی او گوډی ماتی به یی په بریالیتوب سره بدلی شی او د زمانی د شریروخلکو د شرنه په امن شی.

د وخت اهمیت او ارزښت:

مسلمان تر هرچا مخکی د وخت په ارزښت پوهیږی ځکه ایمان لری چی الله تعالی د قیامت په ورځ به دهغه د عمر په اړوند ورڅخه وپوښتی چی خپل عمر د په کومو کارونو کی تیرکړ او د ځوانی قوت نه د څنگه گټه پورته کړه ؟ او په هیڅ ډول اجازه نه ورکوی چی خپل عمریی په بیکاره او بی گټی کارو کی تېر شی او دهغو تباه کوونکو طوفانی بیځایه مشغولتیاوو ښکار شی چی نه ورته دینی او نه ورته دنیایی گټه ورسوی،ځکه مسلمان سړی ایمان او یقین لری چی عمر د دنیا او اخرت د نیکمرغی او سعادت لاسته راوړلو لپاره پانگه ده او دهغی په تباهی باندی هیڅکله نه خوښیږی . کله چی سهار راخیژی او لمر له مشرق نه طلوع کوی، مسلمان انسان دا احساسوی چی په لوړ اواز هغه مخاطب گرځیدلی او ورته ویل کیږی : ای انسانه! زه نوی خبریم اوستا په کارونو کتنه کوم، زما

وجودغنیمت وبوله! او هغه د دنیا او اخرت نیکو کارونو کی ولگوه! ځکه زه بیا په همدغه وخت تاته نه راځم ، نو پدی سره مسلمان هڅه کوی چی نن یی ترسبانه او سبایی تر نن نه ښه راشی او خپلو دینی او دنیایی چارو د سمون په موخه هڅه اوهاند کوی. مسلمان خپل وخت ته ډیر ارزښت ورکوی ، ځکه وخت د ده عمر دی ، نوکه اجازه ورکړی چی عمریی ضایع او پریږدی چی ستونزی یی لاندی کړی نو په حقیقت کی یی پخپل دغه احمقانه کارسره ځان وژنه کړیده.آیا دا عاقلانه نده چی انسان دغه حقیقت ورک کړی او هغه خپل نصب العین وگرځوی او په ښه توگه ترمخ او شارونښایی ووینی؟ په رښتیا سره چل او فریب دی چی انسان دا فکر وکړی چی هغه ولاړ دی او دا وخت دی چی تیریږی !! دا دباصری خدعه او فریب هغه چاته ورته دی چی یو سړی په اورگاډی کی سپوروی او دا فکر وکړی چی زه خو ځای پرځای ناست یم او ټول شیان ورڅخه تیریږی په حقیقت کی زمانه انسان سخت او جدی سرنوشت ته بیایی.

وخت د الهی نعمتونو څخه یو نعمت دی:

قدوس او لایزال خدای انسان ته ډیر نعمتونه ورکړی چی د آسمان له ستورونه یی ثمر ډیر دی ، یو له لوړونعمتونو څخه چی الله تعالی انسانانو ته ورکړی هغه د وخت نعمت دی ، وخت داسی نعمت دی چی نور نعمتونه ورسره سیالی نشی کولی ، وخت داسی څه دی چی تیریږی او آخر ته رسیږی او نشو کولای چی هغه په یوه ځای ودروو او یایی بیرته واخلو. د اسلام ستر پیغمبر ﷺ پدی اړوند

فرمایی: (نعمتان مغبون فیهما کثیر من الناس، الصـــحة و الفراغ)[1] یعنی د الله دوه نعمتونه دی چی ډیر خلک پکی بی پروایی کوی او ضـــایع کوی یی ، هغه روغتیا او فارغ وخت دی ، همدارنگه فرمایی: (اغتنم خمسا قبل خمس : حیاتک قبل موتک ، وصحتک قبل سقمک ، و فراغک قبل شغلک ، شبابک قبل هرمک و غناک قبل فقرک).[2]

ژباړه: پنځه شیان مخکی تر پنځو نه غنیمت وبولی؛ ژوند مخکی له مرگه ، روغتیا مخکی له ناروغی، فراغت مخکی تر مشـــغولتیا ، ځوانی مخکی تر بوډاتوپ ، او شتمنی مخکی تر بی وزلی.

هوکی: انسان د خپل ځان پانگه که وغواړی یانه له لاسه ورکوی ، دعمر ساعتونه ، ورځی ، میاشـتی او کلونه همداســی تیریږی ، له مادی او معنوی توان او قدرت نه راکمیږی نو پدی وجه انســان باید د فراغت په وخت اســتفاده وکړی او د الله تعالی د دغه نعمت نه گټه ترلاســه کړی . نمونه برگزیده٥٧٦ . وخت یو قیمتی گوهر او کمیابه ډبره ده چی ارزښت د هیڅ شی سره مقایسه کیدای نشی ، وخت یعنی فرصتونه ، سعاتونه ، ورځی ، میا شتی کلونه بلکه دقیقی ، ثاینی او لحظی چی ورڅخه اسـتفاده کول لوی توفیق دی چی انسـان ته ورکړل شـویدی او هغه کولای شـــی دهغه پواســـطه خپلو لوړو اهدافوته ورســـی او په ټولو برخو کی بریالیتوب ته ورســـیږی.

اسلام د دی په خاطر چی د وخت نه لازمه گټه پورته شی ، انسان کار او کسب

١ - صحيح البخاري، حديث:٦٤١٢.

٢ - سنن النسائي، حديث: ١١٨٣٢.

ته که څه هم لږوی، هڅوی ، ډیر بی دوامه کارنه ســتایی ، ځکه هغه کار چی دوامداره او پیوسته یو پربل پسی که څه هم کوچنی وی د یوه کوچنی څیزنه غر جوړوی پرته لدی نه چی انسان ورباندی پوه شي . د وخت (دغه قیمتی نعمت) د ســاتلو او نه ضــایع کیدو په موخه اســلام خلک د ســهار وختی را پاڅیدو ته تشویقوی ترڅو سهار وختی ویښ او راتلونکی ورځ بیکاره او بی ځایه تیره نکړی ، له همدی کبله د اســلامی ژوند نظام دا وایی چی ورځ د ســپیده داغه را پیل کیږی او د لمر راختونه مخکی بیداری او ویښــتوب یی لازم او ضروری بللی او شپه بی خویه تیرول چی سهار د لمانځه د ناوخته کیدو لامل گرزی ، نه خوښوی او هغه یی مکروه بللی ، په مبارک حدیث کی راځی :

(**أللهم بارک لأمتي فی بکورها**) .[1]

ژباړه : ای الله زما د امت په سحر وختی پاڅیدوکی برکت واچوی. نو هغه کسان چی تر ناوخته پوری پراته غفلت په خوبونو کی ډوب وی د خیر او برکت نه محروم پاته شول ، پداسی حال کی چی نور خلک د ژوند په چارو او مصالحو کی بوخت وی.

عن فاطمة بنت محمد ﷺ قالت: مربي رسول الله ﷺ **و أنا مضطجعة منصحبة فحر كني برجله ثم قال: يا بنية قومي اشــهدي رزق ربک ولا تكوني من الغافلين، فان الله يقســم أرزاق الناس ما بين طلوع الفجر الى طلوع الشمس).**[2]

---

١ - سنن الترمذي، حديث: ١٢١٢.

٢ - شعب الايمان، حديث: ٤٤٠٥.

حضرـــت فاطمه رضـــی الله عنها وایی : د رســـول الله ﷺ می له څنگه تیریده پداسي حال کی چی سهار پخپله بستره کی غځیدلی وم، پخپلو مبارکو پښویی وښورولم او راته یی وویل: لوری! جگه شه او د الله له روزی نه گټه پورته کړه،هغه ووینه او له غافلانو مه کیږه ، ځکه الله پاک د خلکو روزی د ســـهار راختو او لمر راختو ترمنځ ویشی) بیهقی.

پدغه وخت کی ټنبل او ســـســـت خلک د لوزونه پیژندل کیږی او هر چاته یی دخپل لیاقت او استعداد په اندازه د دنیا او اخرت دخیرنه ورکول کیږی.

عمر د ژوند پانگه:

عمر یعنی وخت، وخت ډیر قیمتی څیزدی چی انســان یی لری ځکه وخت د هر عمل او هر کوښښ ظرف دی چی انسان یی لاسته راوړی نوپدی وجه، وخت هم د افرادو او هم د ټولنو لپاره حقیقی پانگه ده ، عمر یعنی وخت ، وخت یعنی فرصتونه او له وخته گټه اخیستل د بشر لپاره لوی نعمت دی ، په ځای خبره ده چی وایی: وخت سره زر دی ، خو سره زدیی د پښو په دوړو پسی هم نه رسیږی ، ځکه که چیری طیلا له لاســه ورکړی نو هغه بیا لاســته را وړلای شــی ، خو وخت چی یو ځل له لاسه ووت ، بیا نه راځی ، نو باید د خپل ژوند دهری لحظی نه گټه واخلو وخت ډیر ارزښت لری ، ځکه وخت د انسان ټول ژوند رانیسی ، دانسان د عمر ده په دنیا کی محدوده ده او هغه نشــو کولی چی زیاته یا کمه کړو ، د گټی نه اخیستنی پر مهال نشو کولای هغه ذخیره کړو ، باید د ژوند د کولو فرضتونو او لحظاتو نه په ښـــه توگه گټه پوره شـــی او د قیامت په (لم یزرع) بیدیا او الهی عادله محکمه کی دخپل عمر اړوند مؤاخذه کیږی.

بی له شکه ستا عمر ستا لویه پانګه ده او دهغه به بیځایه تیرولونه به محا سبه او مؤاخذه کیږی، رسول الله ﷺ فرمائی: (**لا تزول قدما عبد يوم القيامة حتى يسأل عن أربع: عن عمره فيم أفناه، و عن شبابه فيم أبلاه وعن ماله من أين اكتسبه و فيم أنفقه ، و عن علمه ماذا عمل فيه**).[1]

ژباړه: الله بندګان به دقیامت د ورځی صـــحنه نه تیروی مګر دا چی دڅلور و څیزونو په اړوند تری وپوښتل شی:

۱ – ورڅخه به وپوښتل شی چی خپل عمر ئی په څه کی تیرکړ .

۲ – ځوانی ئی چیری او په څه کی تیره کړه ؟

۳ – مال ئی له کومه را پیدا او چیری ئی ولګاوه.

۴ – او له علم نه به ئی وپو ښتل شی چی څه ئی وربانـدی وکړل (پخپل علم ئی څرنګه عمل وکړو). اســـلام پخپلو ډیرو او امرو او نو اهیوکی د وخت ارزښـــت ته اهمیت ورکړی ، دا چی د لغو او عبثیاتو نه ډډه کول ئی د ایمان نښـــه بللی، د کوڅه ډبو او بیکاره انسانانو سره په ډیر حکمت سره مبارزه ده ، چی قیمتی وخت ضـــایع او له دنیائی بې خونده خوندونو څخه خوند واخلو!!! دا بې انصـــافان نه پوهیږی چی دغه کار د عمر او ژوند سره لوبی کول دی او د وخت وژل پداســـی ډول سره د فرد او ټولنی د هلاکت لامل کیږی.

---

۱ - سنن الدارمي ، حديث: ٥٥٦.

حکمتونه او پندونه:

اسلام داسی یو دین دی چی د وخت ارزښت پیژنی او ورته په ځانګړی اهمیت قایل دی ، په حکمتونو او نصیحتونو کی راځی چی وخت لکه توره داسی دی که چیری ته ئی غوڅه نکړی ، هغه تاغوڅوی : (الوقت کالسیف ان لم تقطعه قطعک). همدارنګه یو شاعر وائي: خپل عمر په حیف او افسوس سره مه ضایع کوه چی فرصت ګران او وخت توره دی . د ایمان له دلائلو او علائمو څخه دادی چی مسلمان دا حقیقت وپیژنی ، په یاد ئی ولری او د هغه لارښوونو مطابق ولاړشی ، چی: (**ان في اختلاف الليل و النهار و ما خلق الله في السموات و ألارض لأيات لقوم يتقون**) [1]

ژباړه: په یقین سره د شپی او ورځی په تلو راتلو او کیفی او کمی تفاوتونو او دهغه څه چی الله پاک په آسمانونو او ځمکه کی پیداکړی ، د الله تعالی د وجود او عظمت دلائل دی دهغه چالپاره چی پرهیزګاره وی (او د الله له عذابه ویریږی). د اسلام مبارک دین عبادتونه د کال په ورځو او فصلونو باندی ویشلی دی ، پنځه وخته لمونځونه ټوله شپه او ورځ رانیسی او وختونه ئی د زمانی په تلو سره برابر دی او په شریعت کی بیان شوی چی حضرت جبرئیل علیه السلام د الله تعالی په امر سره را نازل شو څو د لمانځه لومړنی او اخرنی وختونه وښي څو د دی لاری دقیق او محکم نظام جوړ او د انسان ژوند د هغه پر بنا مرتب شی او دا ژوند

---

۱ - د یونس سورت ٦ آیت.

د سهار راختونه تر سره شفق لویدو پوری ویشل شوی: (**فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ**).[1]

و كيف يفرح بالدنيا و لذتها فتى بعد عليه اللفظ والنفس[2]

او یا:

أشاب الصغير و أفنى الكبير كر الغداة و مرالعشي

او یا :

يسر المرء ما ذهب الليالي و كان ذهابهن له ذهابا [3]

د زمانی نه محدودو آثارو او محسوسو مظاهر یو لنډ برداشت کړی او وائی:

یعنی زمانه دومره محدوداو لنډه ده یو ماشـــوم چی دومره عمر تیر او بوډاشـــی او بوډا ته به وائی د ســهار تیریدل او د ماښــام راتلل ؤ او بس! خو هغه زمانه چی د انسان په ټنډه کی گونځی راولی ، عمر آخرته رسوی ، تمدنونه نابود وی او خلک د هغی په پیژگلوی کی ناکراره دی ، همدازمانه د هوښیارانو لپاره ښه فرصت دی ځو نیک کارونه ترسره کړی ، په نیکو سره امر وکړی او څه ذخیره کړی چی سبا د قیامت په ورځ ورته په دردوخوری.

یو له هغو نصـــحتونو څخه چی ډیر خلک ورڅخه بی خبره دی ، دادی چی:

---

۱ - د الروم سورت ۱۷-۱۸ آیتونه.

۲ - تفسير المراغي، ج ۱، ص ۳۲۱۹، المكتبة الشاملة.

۳ - د(أخلاق اسلامي محمد غزالي، ص ۳۸٦) کتاب څخه د احسان خپرونه ۱۳۹۲.

(دندی او مسـؤلیتونه تر وختونو زیات دی او انسـان تل وخت کم لری وخت بی طرفه ندی یآ خو مهربانه دوست او یاهم بد دښمن).

عمر بن عبدالعزیز رضي الله عنه وایي: شـپه او ورځ کارکوی او ته هم کار او مسؤلیت دپکی مه هروه.

حسن بصری رحمه الله څومره ښکلی وائی : هره ورځ چی سبا کیږی نو د الله له طرفه یو آواز کوی: ای د آدم اولاده! زه نوی مخلوق یم اوسـتاپه کړنو شـاهدیم نو زما نه په نیکو کارونو سره خپله توښـه واخله، هرکله چی ولاړم ، هیڅکله د قیامت تر ورځی بیابیرته نه راگرځم.دا پندونه او نصـیحتونه د اسـلام د روح نه سرچینه اخلی ، هر څوک چی د اسـلام لوړ تعلیمات زده کړی نو هغه به د دنیائی او آخروی لوی ژوند لپاره ورڅخه گټه پورته کړی ، بی شـکه دا دالله لوی فضـل دی چی انسان ته الهامیږی څو د خپل عمر ټول لحظات په نیکو کارونو کی تیر کړی ، زیاروباسـی څو ابدی هوسـا ژوند ترلاسـه کړی: (**وَمِن رَّحْمَتِهِ جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ**).[1]

ژباړه: او د الله د رحمت او فضل نه داده چی تا سی ته ئی شپه او ورځ پیدا کړی څو پکی آسوده شی (آرام ژوند وکړی) او د الله فضل (روزی) ولټوی څو دهغه نه شکر کوونکی شی.

---

۱ - د القصص سورت ۷۳ آیت.

د زمانې نه پنداخیستل:

مناسبه ده چې هر مسلمان د ورځو د تیریدونه خپل ځان لپاره بند واخلی ځکه ورځ او شپه هرنوی زړوی او هر لیری را نږدی کوی ، عمرونه لنډوی ماشومان زړوی او زاړه بلی نړی ته بیائی ، مومن باید د شپې او ورځې نه غافله نوی ، بلکه باید په فکر کی وی او پند واخلی .

یو پوه سړی د یخ خرڅولو مغازی ته ولاړ ، د هغی په لیدلو سره ئی د (العصر) سورت تفسیر ذهن ته راغی ، نو ئی وویل: که چیری دغه سړی لږ بی پروائی وکړی نو ټوله پانګه به ئی ویلی او له منځه به ولاړه شی ، نو د قرآنی فرمان مطابق ئی په زمانه باندی سوګند کړ او دا خبر داری ئی ورکړ چی د خلاصون په خاطر باید په هغه نسخه عمل وشی چی د څلورو شیانو نه مرکبه شوی وه او ورڅخه بی پروائی ونکړی او د عمر دهری دقیقی نه ئی قدردانی وکړه او هغه پدغه څلور شیانو کی تری کار واخلی ، دا دیخ خرڅوونکی آواز دی چی وائی: **أرحموا من یذوب رأس ماله ، أرحموا من یذوب رأس ماله!**.[1]

یعنی په هغه چا چی پانګه ئی ویلږی، رحم وکړی ، په هغه چا رحم وکړی چی پانګه ئی ویلی کیږی! څومره ښکلی تعبیر ده!

په هر حال د دی نه بل لوی تاوان نشته چی دانسان د ژوند پانګه ، لکه دهغه تجار په څیر چی پانګه ئی واوره وی ، لحظه په لحظه کمه شی که چیری انسان

---

١ - تفسیر الامام الفخر رازي، ذیل تفسیره لسورة العصر.

په چټکی سره د خپلو نیکو اعمالو پوا سطه تیر شوی عمر تلافی نکړ او هغه فانی متاع ئی د ابدی انتفاع محل ونه گرځاوه خســـاره او تاوان به ئی حد او اندازه ونلری، له همدی کبله انســـان ته لازمه ده چی د وخت اهمیت وپیژنی او دخپل ژوند قیمتی لمحی په بی پروائی ، شرارت او لهو لعب کی تیری نکړی.

گرانو ځوانانو!

تاسی ځوانان یاست چی د تولنی بنسټ تشکیلوی ، د ملاتیرئی پیاوړی او د علم او پوهی په حاصلولو سره مو دورورولی ، مرستی ، ترقی او پرمختگ لاره نیولی او ترنورو خلکو زیات تاسی پدی اړوند د مسؤلیت احساس کوی او په ښه تیت او د محکمو گامونو په اخیســتلو، په پراخ نظر لرلو سره او د وخت نه په گټه اخیســتلو خپله ایمانی او اسلامی دنده په ښه توگه سرته رسوی.

تاســـی ځوانان ښـــه پوهیږی جی یوه ټولنه د افرادو، کورنیو او د خلکو له ډلو جوړیږی او بی له شـــکه هریو له دغو دری گونو عناصرو څخه یو پربل باندی په یوه ډول سره اثراچوی او هر یو د ځانگړو او معینو اړیکو لرونکی دی او خیرغوښتنه یو له بل سره تړاولری ، لکه چی د اســلام ســتر پیغمبر ﷺ فرمائی: (**المؤمن للمؤمن کالبنیان یشد بعضه بعضا، وشبک بین أصابعه**).[1]

ځکه افراد د ټولنی په جوړولو کی د خښتو حیثیت لری او باید دغه فرصت چی ځوانی او ښــه کاری فرصــتونه د علم او زده کړی حاصــلولو لپاره لری ، له لاســه

---

١ - صحيح البخاري، حديث: ٤٨١.

ورنکړی او پکی یې پروائی ونشـــی او خپل رســـالت هیرنکړی. له همدی امله د خلکو د امید سترگی ستاسی په لور دی چی باید د پورتنیو ارمانونو پوره کولو په اړه هڅه وکړی او له وخت څخه چی دانسان ژوند ډیر قیمتی عنصر بلل کیږی ، لویه استفاده وکړی او وخت یعنی قیمتی عمر مو عبث او بی فایدی تیر نشی.

محترمو لویانو اوسپین ږیرو!

تاســـی پخپله ښـــه پوهیږی چی د الله عبادت بوډا او ځوان نه گوری ، وخت او زمانه نه غواړی ، شرایطو او محیط پوری تړاونلری ،بلکه باید تل په هرحالت کی چی وی په هر مقام او ســـویه او هرځای کی چی ژوندی کوی ، د الله له یاده غافل نشـــی او دهغه ﷻ په عبادت مشـــغول شـــی ځکه د انســـان د خلقت او پیدیښـــت اصـــلی موخه د واحد او لاشریک خدای ﷻ عبادت اوبندگی ده ، لکه چی الله تعالی فرمائی: (**و ماخلقت الجن و الانس الا لیعبدون**).[1]

خو دلته غواړم ســتاســو محترمینو توجه دی ټکی ته راجلب کړم چی رســول الله ﷺ مبارکو اصـحابو او یارانو پخپل وروســتنی عمر کې خاصـتًاد: (**اذا جاء نصـرالله والفتح**).[2]

نازلیدو وروســته څرنگه دالله تعالی عبادت کاوه ، ان تردې چی د مبارکانو پښـــی به د زیاتو دریدو او په لمانځه کی د اوږدقرائت ویلونه پړســیدلی. یوه ورځ رســول

---

۱ - د الذاریات سورت ٥٦ آیت.

۲ - د النصر سورت ۱ آیت.

الله ﷺ ته حضرت عایشې رضي الله عنها وویل : ای دالله رسوله! ولی دومره ډیرځان په تکلیفوی پداسی حال کی چی الله تعالی درته ټولی گناوی ماتقدم و ما تأخیرښلی؟ رسول الله ﷺ د عائشی صدیقی په ځواب کې وویل (**أفلا أكون عبدا شكورا**) .[1] ایاذه د الله شکر کوونکی بنده نشم؟

په هر حال قدرمنو سپین ږیرو!

کله چی د انسان عمر د څلویښتونه پورته و شپیتوته ورسیږی ، نو سپین ویښتان وربانده شاهدی ورکوی او د انسان د کمزوری ، زوړتیا او د ژوند د آخر علامه بلل کیږی او انسان متوجه کوی چی ای بی پروا انسانه خپل ځآن ته د متوجه اوسه ، عمر د پای ته رسیدلی ، څه لری ؟ چگ شه د اخرت لپاره توښه دبرابره کړه، ځکه نن یا سباله دغه فانی نړی نه ځی او ابدی کورته ورتلونکی ئی. له متعددو روایاتو نه راجوته شوه چی د انسان عمر شپیته کاله دی ، لکه حضرت علی کرم الله وجهه فرمائی : (هغه عمر چی الله پاک انسان ته ورکړی او وربانده ئی احسان کړی شپیته کاله دی) . او حضرت ابن عباس رضی الله عنها هم په یوه روایت کی څلویښت او بل روایت کی شپیشه ښودلی دی چی په انسان باندی اتمام حجت کیږی او معذبت غوښتنه نه پاته کیږی او ابن کثیر د ابن عباس دوهم حدیث ته ترجیح ورکړی ، او ویل شوی چی د مدینی منوری اوسیدونکی کله چی څلویښت کلنی ته رسیږی نو خپل ځان د دنیائی کارونو او مشغولتیا ووځخه فارغوی او د الله تعالی په عبادت مشغولیږی.

---

١ - صحيح البخاري، حديث: ٤٨٣٧.

پایله:

۱ – یو له هغو شـــیانو څخه چی اســـلام د ایمان وربانـدی ټینگا کوی او له خپلو پیروانو غواړی جی تل په دقت او توجه سره له هغه نه څارنوکړی او پری نږ دی چی هغه بیځایه تیر شی ، هغه وخت او قیمتی پانگه (عمر) دی چی باید د دغه قیمتی جوهرنه زیاته گټه پورته او دیوه لوی غنمیت په توگه د نیکمرغی او دنیائی ژوند په تأمین او اخرت چارو کی تری کار واخلی او پری نږدی چی حتی یوه کړی ورڅخه ضایع شی ، ځکه هره دقیقه او ثانیه چی ورڅخه تیریږی ، هیڅکله بـیـرتـه نـه راگـرځـی او پـه هـیـڅ قـیـمـت نـه جـبـیـره کـیـږی.

۲ – له ټولو لومړی باید د وخت ارزښـــت په حقیقی توگه وپیژندل شـــی.

۳ – وخت تیرونکی نه ، بلکه وخت پیژندونکی وی او له هغه نه ښـــه گته واخلو.

۴ – باید د نورو ټولو کارونو په نســـبت وخت ته زیات توجه وکړو ، ځکه وخت برخلیک جوړوونکی دی.

۵ – د وخت نه په سمه او معقوله توگه استفاده کولای شی ټولی خپلی دنیائی او اخروی چاری په ښه توگه سمبال کړی.

٦ – صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین همداسی ؤ چی هر کله به ئی یو له بل سره مجلس کاوه نو یو له بله به نه سره جلاکیدل ترڅو به ئی د (عصر) مبارک نه ؤ تلاوت کړی.

أستغفرالله لي ولکم ولسائرالمسلمین ، استغفروه انه هو الغفور الرحیم.

٤٤

نن او سبا کول

الحمد لله رب العالمين والصـــلاة والســـلام على رســـول الله و على آله و أصـــحابه أجمعين:

یوه ناروغی او ضرر چی کیدای شـــی د ځینو دیندارو ، دعوتگرواو حتی لویانو د لوړهمته انسانانو سره مخ شی، هغه: (نن او سبا کول) دی پدی ناروغی باندی داخته کسانو د درملنی او دهغو چالپاره چی لاتراوسه ورباندی ندی اخته ، دالله په توفیق سره د دغه موضوع په اړه له مختلفو اړخونو څخه به بحث وکړو.

لومړی: تعریف:

په عربی ژبه کی (تسویف) یا نن او سبا ویل په مختلفو معنا وو سره راغلی ، له هغی جملی نه:

۱ – وروسته والی (سوفا لأمر) یعنی هغه ئی وروسته واچاوه

۲ – او یوالی او ډارونکی کول (سوف الامر تسویفا) هغه ئی ډیر لوړ معرفی کړ

۳ – وعده ورکول (سوف بالحسنة) د نیکی وعده ئی ورکړه

۴ – وعید او تهدید (سوف بالسیئة) په مجازات سره ئی تهدید کړ

زما له نظره د پورتنیو معناگانو ترمنځ هیڅ ډول تضـاد نشـته ، ځکه وعده او وعید او لوی معرفی کول ټول په یوه ډول سره وروســـته کول او راتلونکی پوری موکول دی . په ا صطلاح کی د دعوتگرو او مربیانو ترمنځ: معطلول او راتلونکی ته محول کول د کارونوته وائی ، که څه هم په نکیو سره وعده اویا په مجازات ورکولو باندی تهدیدول وی.

دوهم: نن او سباکول د اسلام له نظره:

ا صطلاحی معنا ته په کتو سره وروسته اچول نشو کولای چی یا ټول روا او یا هم ورته د ناروا حکم ورکړو ، بلکه ځینی ئی پرځای او ځینی نورئی بیځا یه گڼل کیږی . خو هغه چی ناروا او نا مطلوب دی ، پرته له هیڅ ډول دلیل او بهانی نه نن ورځی کار سـباته اچول ، هغه څه دی چی الله پاک ورته اشـاره کوی: (**وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ**)[1].

ژباړه: او له هغه څه نه مو چی تاســـی ته درکړی صـــدقه ورکړی ، نیکی او زکات ورکړی ، مخکی لدینه چی مرگ درته راورســـیږی او ووائی چی : ای الله! که چیری زما مرگ لږ وروسته کړی او ژوندی می پریږدی څو نیک عملونه او صدقه خیراتونه ورکړم او دنیکو کارانو له جملی نه وگرځم؟ رســـول الله ﷺ فرمائی : (پنځه شـیان د پنځه شـیانو تر پیښـیدو مخکی غنیمت وبولی ، ځوانی مخکی له

---

۱ - د المنافقون سورت ۱۰ آیت.

بوډاتوبه ، شـــتمنی مخکی تر بیوزلی، روغتیا مخکی تر ناروغی ، فراغت او وخت مخکی تر مشغولتیا او ژوند مخکی تر مرگه).[1]

اما هغه ځایونه چی کار وروســته اچول پکی روادی هغه یا خو د منفعت لاســته راوړلو او یا هم ضرر دفع کولو په موخه وی او یا دا چی دهغه کاردکولو لپاره هدف د منا سب وخت او فر صت موندل دی ، د دارنگه کارونو ورو سته اچولو په اړه الله پاک فرمائی: (**وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَـــوْفَ نُصْـــلِيهِ نَارًا وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللّهِ يَسِيرًا**) [2]

ژباړه: او هرڅوک چی دظلم او سرکشـــی له وجی هغه وکړی ، نو په راتلونکی کی به هغه د دوزخ په اور کی واچوو. او فرمائی : (**فَسَوْفَ يَأْتِي اللّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ**)[3]

ژباړه: الله پاک به داســـی خلک راولی چی هغه خوښـــوی او هغوی به هم د الله سره دوســتی لری. دارنگه وروســته اچول د پیغمبرانو په ژبه او دقران په اســتنا د سره ئی په روا والی باندی دلالت کوی ، د حضرــت یعقوب علیه الســلام اولادونه کله چی پخپله تیروتنه باندی اعتراف کوی له هغه نه غواړی چی دوی عفو کړی او عفوورته د الله نه وغواړی : (**قَالُواْ يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ**) [4]

---

١ - سنن النسائي، حديث: ١١٨٣٢.

٢ - د النساء سورت ٣٠ آيت.

٣ - د المائده سورت آيت ٥٤. .

٤ - د يوسف سورت ٩٧ آيت.

ژباړه : ای پلاره! د هغو ګناهونو په خاطر جی موږ ئی مرتکب شـــوی یو ، راته ښښنه وغواړه ، ځکه په رښتیا سره موږ تیروتونکی ؤ . حضرت یعقوب علیه السلام وفرمایل : (**قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيَ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ**) [1]

ژباړه : وویل یعقوب: تاســـی ته به له الله نه ښښـــنه وغواړم ، ځکه هغه الله ډیرښښوونکی او د ډیر رحم والا دی.

دحضرت نوع علیه السلام د دومره دعوت او زړه سـواندی سره سره پایله داشـوه چی قوم ئی مخ واړاوه ، نوورته ئی خبر داری ورکړ! (**فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ**) [2]

ژپاړه: په راتلونکی به پوه شی چی څوک به په سپک عذاب اخته شی.

په دغه ناروغۍ داخته کیدو نښی:

۱ – ګناوو او خطاوته دوام ورکول او راتلونکی ته ئی موکولو چی ځه بیا به توبه وباســـم: دمثال په توګه دارنګه خلک له ځان سره وائی: الله لوی دی ، زه لاتر اوسه ځوان یم ، د توبی وخت ندی تیر شوی ... او داسی نور.

---

۱ - د یوسف سورت ۹۸ آیت.

۲ - د هود سورت ۳۹ آیت.

۲ – پرته له دلیله د نن ورځی کار سباته پریښول، د مثال په توګه د یوه چالپاره د ورځو او ساعتونو لپاره یو مشخص کار وسپاری او یا پخپله د چا سره وعده کوی خو دعذر پرته هغه څو ورځو یا هم میاشتو ته وغزیږی.

د نن او سباکولو اسباب او عوامل:

۱ – کورنۍ روزنه:

ځینی خلک پداسی کورنیو کی اوسیږی چی د کارو وروسته اچول عادت وی ، مور ، پلار ، ورور او خور سرترپښو په تیروتنو او ناروا کارونو کی ډوب وی او پخپله ور باندی پوهیږی او کله ددغه کارنه شکایت هم کوی او دا چی اوږدمهال غوښتنی او آرزوګانی لری د اصلاح او تغییر توفیق ئی په برخه نه وی او وائی څه نن یا سبا بله میاشت ، بل کال به دا تغیرات راوړو. ځینی لدغو کورنیو بیا د خپل اولادسره د حده زیاته او افراطی مینه کوی ، مثلاً دا چی دیوه نیک کار د کولو لپاره اقدام وکړی لکه روژه نیول ، لمونځ کولو او نور د ځینو پلمو او بهانو په جوړولو چی فلانی خو لا تر اوسه کوچنی او یا کمزوری دی و ددغه کار ممانعت کوی او وائی: لاتر اوسه وړوکې دې پریږدی چی لوی شی ... او پداسی روحیه سره چی هر کار ځنډوی او نن او سبا وائی خپل اولاد ته په دی اړه رسول الله ﷺ تآکید کوی څو ماشومانو سره پروعده وفا وکړو که نه نو دوی ته به مو د وعدی خلافی او د دلیل او عذر پرته د نن کار ونو سباته ځنډول او درواغ ویل بدعادتونه ور انتقال کړی وي.

د درواغ ویلو لپاره چی زمینه برابروی هغه په وعده وفا نکول دی او عبدالله بن عامر وائی:

کله چی رســول الله ﷺ زموږ په کور کی تشرــیف درلود ، مور می راته غږ وکړ او وئی ویل : راشه څه درکړم، رسول الله ﷺ دی مورته وویل : څه غواړی چی ورئی کړی؟ مورمی وویل: غواړم یوه دانه خرما ورکړم ، رســول الله ﷺ وفرمایل: خو که داســی ووائی چی څه درکوم او بیائی ورنکړی نو هغه ته د دروغو درس ورکوې).د همدغه تأکید په ســیوری کی انصــارو او نورو مســلمانانو د خپل اولادونو په ښــی روزنی با ندی ډیره پاملرنه کوله او د نن او ســبا کولو او تأخیر اچولو لاره ئی وربانـدی بندوله د معوذ لور ربیع وائی : (رســول الله ﷺ به دعاشــورا ورځی د ماسپښین نه وروسته کلیو او د مدینی اطراف ته دا پیغام لیږه: هرڅوک چی روژه ؤ، نو روژه د تر ماښام پوری وساتی وائی : موږ هم روژه نیولی وه او خپل ماشومان مو روژی نیولو ته هڅول او د دوی د لوبو او مشــغولتیاو لپاره به مو رنګه وړی ورکولی ، څو لوږه هیره کړی).

۲ – دبیکاره او ضعیفو خلکو سره ناسته ولاړه:

ځینی وخت دســستو او ټنبلو خلکو ملګرتیا چی د کارونو زراجراء کول ئی عادت نه وی ، خاصتاً کله چی انسان د لوړ او پیاوړی شخصیت لرونکی نه وی نو ددغه ناروغۍ د سرایت لامل دوی ته کیږی. همدارنګه لکه مخکی چی څو ځلی ذکر کړل ، اســلام پدی ډیر تآکید کوی څو د نیک ملګری او دوســت په انتخابولو کی

ډیر دقت وشـــی ، رســـول الله ﷺ فرمایی: د مومن نه پرته د بل چا سره ملګرتیا مکوه او پرته له پرهیز ګارانو څوک خپل کورته مه دعوت کوه.

۳ - ټنبلی او د ارادی کمزورتیا:

داسی ځایونه هم شته چی د کار او مسؤلیت د تأخیر ولو سبب کیږی ، چی هغه د ارادی کمزورتیا ، ټیټ هسـتی او یاسـسـتی ده ، کله چی د کار د اجراء کولو او مسؤلیت وخت رارسیږی نو دارادی سستی او بی همتی هغه نن او سبا کولو او وروسـته کولو ته اړباســی. په همدی اړه رسـول الله ﷺ فرمایی: هغه دعا چی د ســهار او ماښـــام لخوا به ئی کولو فرمایل : (ای زما ربه! د ناتوانۍ ، ټنبلۍ ، ســســـتۍ او بوډاتوب نه تاته پناه وړم) په بل روایت کی راځی چی هغه مبارک فرمایلی: (ای ربه! له بدو پایلو زړه مشغولیتا او تشویش نه تاته پناه وړم).

۴ - د الله تعالی له عذابه بی پروائي:

د کارونو په وخت نه انجامولو یو لامل دادی چی سړی د امنیت احساس وکړی او د ګنهکارانو له عاقبت څخه چی الله څه ورسره کوی بی خبر تیا والی دی ځکه طبیعتاً څوک چی د چا او یا کومی مرجع نه ډایریږی نو په بیړه او پخپله موقع سره پخپلو مســؤلیتونو باندی عمل کوی خو که چیری پدی اړه په زړه کی ورسره ویره موجوده نه وی ، پخپل زړه او هر وخت ئی وغوښتل هغه به سرته رسوی، الله تعالی د کفار و دغه حالت ته دقران په ژبه داســـی فرمایی: (**أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى أَن**

يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا بَيَاتًا وَهُمْ نَآئِمُونَ أَوَ أَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى أَن يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ أَفَأَمِنُواْ مَكْرَ اللّهِ فَلاَ يَأْمَنُ مَكْرَ اللّهِ إِلاَّ الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ)[1]

ژباړه: آیا د دغه ښارونو او آبادیو او سیدونکی چی د نافرمانۍ لاره ئی غوره کړیده چی زموږ عذاب به د شپی لخوا او د دوی د خوب پر مهال ورته ورسیږی ورڅخه دامن احساس کوی؟ یا دا چی دهغه ښار او آبادیوا وسیدونکی ددی نه چی زموږ عذاب به دغرمی پر مهال او داچی دوی د ماشومانو غوندی کارونو با ندی لگیاوی، ورسیږی ، هیڅ نه ویریږی؟ آیا د وی د الله تعالی له نیولو او عذاب ورکولو نه نه ویریږی نو د الله تعالی د عذاب او نیولو څخه پرته له زیان کارانو بل څو د امنیت احساس نکوی.

۵- اوږدی آرزوگانې او د اخیرت نه بی پروائي:

د کارونو پروخت نه کولو او نن په سبا کولو یو لامل دادی چی سړی ډیری اوږدی هیلی ولری ، مرگ ئی هیر او دقیامت د محاسبی نه بی پروائی ده ، امام غزالی وائی: « ښکاره خبره ده د چا چی دوه ملگری چیری مسافر وی او یوئی سبا او بل ملگری ئی یوه میاشت وروسته راځی ، نو دهغه مبگری لپاره چی سبا راځی زرځان تیاروی او هغه چی یوه میاشت وروسته راځی فعلاً ورته دتیاری اړتیا نه وینی ، ځکه دځان تیارول یو احساس دی چی هغه د زمانی نږدیوالی دی ، د مثال په توگه که څوک دا احساس کړی چی یو کال وروسته به ئی د ژوند پاڼی رزیږی ، نویوازی د یوه کال لپاره فکر کوی او هره ورځ پرته لدینه چی فکر وکړی

---

۱ - د الأعرف سورت ۹۷-۹۹ آیتونه.

یوه ورځ ئی تیره شـــوه ، خپل کارونه بلی ورځی ته غورځوی او پاملرنه نکوی چی یو کال خو همدا ورځی او لحظی تشـکیلوی، او که چیری ورځخه گټه وانخلی نو دسترگو په رب کی به یو کال هم تیر شی ».

حافظ ابن جوزی د انســان د نفســی په هکله وائی: دا چی انســان نه پوهیږی د مرگ وخت ئی کله دی ، لازمه ده چی همیشــه خپل ځان د اخیرت د ســفر لپاره چمتو کړی ، ځوانی ، روغتیا او شــتمنی هغه مغروره نکړی ، چی ډیر بوډاگان څو چی مړی تر هغه پوری ځوانان خپل ژوند له لاسه ورکړی.

د غفلت او غرور له مظاهرو څخه یو هم اوږدی هیلی لرل دی ځکه که چیری خیال پلونه او دانسان اوږدی هیلی نه وای، هیڅکله به تیروتنی نه وی او گناه ته لاس اچول ، خلاف کاری او د توبی وروسته اچول د اوږدو امیدونو او لوړو آرزوگانو څخه را پیدا کیږی.

یوه ورځ رســول الله ﷺ یوه مربع رســم کړه او داســی کرښــه ئی وکښــله چی یو سرپی د مربع په داخل او بل سرئی د مربع نه بهرؤ او ددی خط پر سرپی نور واړه خطونه رســم کړل ، بیائی وفرمایل: (دغه مربع او خطونه ، دانســان حالت شي، دغه مربع مرگ او دغه کرښـــه چی ورځخه بهروتلی ، دانســـان آرزوگانی او دا کوچنۍ کرښی د انسان مشغولیاوی دی چی ممکن انسان ورسره لاس او گریوان شی او که چیری دیوی څخه ئی نجات ومومی نو په بله کی ئی گرفتاریږی). [1]

١ - جمع الصحين البخاري و مسلم لمحمد بن فتوح الحميدي ، حديث:٣٠٦.

٦- د کارونو واړه بلل:

کله هم یوه کارته په کمه ســترگه کتل او له حده زیات پخپل توان باندی اعتماد کول ، د مسؤلیتونو د وروسته اچولو لامل کیږی د دغه علت ښه دلیل د کعب بن مالک هغه واقعه وه چی د تبوک په غزا کی ئی شرکت ونکړ ، هغه پدی اړه وائی: .... دغه جگړه مســلمانانو او رســول الله ﷺ داســی مهال پیل کړه چی هوا ډیره گرمه اولاره اوږده ، جنگ ته تلل او دهغه دښــمن سره مخامخ کیدل چې تعداد ئی ډیر زیات ؤ ، رسول الله به د جنگی مقاصدو په خاطر چاته نه ویل چی چیری ځو ، څو به چی مقصد ته نه ؤرسیدلی ، خو پدغه غزوه کی ئی ټول بیان کړل څو مســلمانان جنگی وســائل او تجهیزات پوره له ځان سره واخلی... کعب وائی : پداســی حال کی به چی هر چا ځان پټ کړ ، فکر به ئی کاوه چی کار به ئی پټ پاته کیږی مگر دا چی په اړه ئی آیت را نازل او موضوع برلا څرگنده کړی.

رسول الله ﷺ داسی مهال مسلمانان دغی جگړی ته تیارول چی میوی رسیدلی وی او د ونو د سیورو خوند وروخت ؤ رسول الله او مسلمانان تگ ته چمتو شو ، ماهم څو ځله داهڅه وکړه چی پکی گډون وکړم خو هرځل به می له ځانه سره ویل : زه هغه توان لرم چی هره لحظه د تلو لپاره تیاری ونیســم ، دهغی ورځی پر سهار رسول الله او ورسره ملگری ئی دتلو لپاره تیارؤ خو ما لا ځان نه ؤ تیار کړی بالاخره له ځان سره می وویل : پروانلری، پریږده هغوی دولاړشی،زه به هم سبا یا بله ورځ ورپســی ورشــم ،خو د دوی دتلونه وروســته او د څو ورځو په تیریدو سره ، می ونشــو کړای چی د تلو تصــمیم ونیســم او هر ځل به می چی نیوه نو بیاهم به

ورڅخه پیښیمانه کیدم ، خوپه پایله کی دا چی په هغه جګړه کی می ګډون ونکړ او کاشکی چی ګډون می پکی کړی وای).

۷- د الله ښښنی ته امیدلرل او دهغه عذاب هېرول:

کله هم د الله تعالی ښښنی او عفوی ته امیدلرل او دهغه د عذاب او عقاب نه بی پروائی ،سړی د نن او سباکولو په ناروغۍ اخته کوی؛ عبدالرحمن بن جوزی د دغه بلا لپاره د دو لاملو بیانولو وروسته دریېم علت بیانوی او وائی: (دریېم علت دالله رحمت ته امیدواری ده خدای ج رحیم او مهربان دی خو دا هیروی چی الله تعالی قهار هم دی).

په ځینو حالاتو د دغه حالت لامل دهغه چابی پروائی وی چی ورڅخه مسؤلیت لری ، ځکه د ایمان اهل یو له بل سره ملګری او یو دبل ملاتړ دی او ملګرتیا خو دا ایجابوی چی یو بل ته نصیحت وکړی ، یو دبل ستونزی ورحل کړی ، دلته په نیکو کارونو امراو د نواهیو نه منع کول رامنځته کیږی ، الله تعالی فرمائی:

(وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ).[1]

ژباړه: او مومنان نارینه او مؤمنی ښځی یو دبل دوستان دی او یو بل ته په نیکو کارونو امر کوی او د بدو کارونو څخه ئی منعه کوی. کله چی دمسؤلیت احساس چی زړه سول او نصحیت کول دی، دتوجه وړ ونګرځی نو انسان ته دکارونو د تأخیر او مسؤلیت نه دتیښتی جرئت ورکوی.

---

۱ - د التوبه سورت ۷۱ آیت.

۸- په ګناهونو او تېروتنوکی ډوبیدل:

دټنبلۍ او نن ســباکولو یو علت په ګناهونو او خطاکاری کی ډوبیدل او ورسره عادت کول دی ، ځکه د ګناه کولو په اخر د انســان زړه قســاوت پیدا کوی او د ګناه او یوالی او خطرناک بلل ئی تر نظر وړونکی ځیز راځی ، چی پخپله د توبی نه کولو او یا وروســته کولو اصــلی لامل ګرزی. رســول الله ﷺ پدی اړوند اشــاره فرمائی: (ان المؤمن یری ذنوبه کأنه في أهل جبل یخاف أن یقع علیه و ان الـفـاجـر یـرذنـوبـه کـذبـاب وقـع عـلـی أنـفـه فـقـال لـه هـکـذا فـطـار)[1] فاجر او بد کاره انســان پخپل ځان باندی ګناوی دومره کوچنۍ لکه غوماشــه وینی).

۹ – د مسئولیتونو وروسته لویدلو نه بی پروایی او نه ګویزنه:

او بالاخره په دغه مصیبت باندی د مبتلا کیدو بل لامل ، بی پروائی او د بدو پایلو نه ځیړنه او ګویړنه ده ، ځکه انســان طبیعتاً داغواړی چی مســؤلیت و نلری تل غواړی چی د بار نه خپله اوږه خالی کړی په ځانګری توګه کله چی د بدو پایلوڅخه ئی بی خبره وی .او د اسلام د احکامو حکمت او فلسفه همدارنګه لکه مخکی مو چی ورڅخه یادونه وکړه.

---

۱ - رواه الامام البخاري عن ابن مسعود.

دنن او سباکولو آثار او پایلې:

د مسؤلیتونو وروسته اچول او نن او سبا کول بدی پایلی او آثار له ځان سره لری او دغه بدی پایلی هم په دیندارو ، دعوتگرو او اســلامی بیدارتیا باندی اغیزی کوی.

الف: د دیندارانو او دعوتگرو په وړاندی:

۱ - ناڅاپه پښیمانی:

ځکه هغه انسان چی نن او سباوایی په حقیقت کی د دینی هداياتو او مسؤلیتونو په اجراء کولو کی تجاوز کوی ، چی تر مرگه پوری او وروســته له مرگه خپل عمر بی ځایه تیروی چی د ســترگونه یی دپردو په ځیرتیریږی، د کار حقیقت ښــه پیژنی ، نو هلته به دپیښــیمانی او ندامت سره مخ شــی او دا تمه به کوی چی کاشــکی کولای یی شــوای چی بیرته دنیا ته راتلای او تیر کارونه یی بیرته راســم کړی وای ، خو په تأسف سره چی وخت تیرشوی ، کارتر او فرصت له لاسه وتلی دی، الله تعالی فرمایی: (**حَتَّى إِذَا جَاء أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ لَعَلِّي أَعْمَلُ صَــــالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ**)[1]

ژباړه: کله چی دوی ته مرگ ور سیږی، وایی ای الله ما دنیا ته بیرته وا ستوه ، څو زه نیک عمل وکړم او هغه فرصــتونه می چلا له لاســه ورکړی بیرته تلافی کړم ، نه

۱ - د المؤمنون سورت ۹۹-۱۰۰ آیتونه.

داسی نکیږی ، دا یوازی هغه خبره ده چی هغه ویونکی دی او دوی پسی داسی برزخ دی چی پکی سوځیږی به دقیامت تروځی پوری.

۲- د اجرا او ثواب نه محروم پاته کیدل:

دا ډول خلک دا چی د الهی قوانینو د حدود ونه یی تیروتنه کړی او د خپل ځان او نورو په وړاندی مسؤلیتونو کی کم راغلی نو خپل ځانونه یی د الله له لوی اجر او ثواب نه بی برخی کړل ، رښتیا هم هغه خلک به دالله داجرا او ثواب مستحقق کیږی چی غاړه یی ورته ایښـی وی ، نو هغه انسـان چی پانگه او توښـه ورسره نه وی هغه به څه انتظار ولری؟ پرته لدینه هغه د الله تعالی د عذاب او دوزخ مور د گرځی چی په سر با ندی به یی داور چتری او تریښـــو لا ندی به یی هم داور سکروټی وی...

الله تعالی فرمایی: (**الَّذِينَ خَسِـرُوا أَنفُسَـهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَلَا ذَلِكَ هُوَ الْخُسْـرَانُ الْمُبِينُ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ**). [1]

ژباړه: ووایه واقعی زیانکاران هغه څوک دی چی خپل ځانونه او اهل خپل یی بی ځایه په گمراهی کی تیر او له لاسه ورکړی ، د قیامت په ورځ دا لویه زیانکاری او تاوان دی ، د دوی په سرونو د پاسه به د دوزخ د اور سیوره او ترپښولاندی به یی هم د اور سکروټی او تیاری بلی وی.

۱ - د الزمر سورت ۱۵-۱٦ آیتونه.

۳ – د ګناه د پیټې درونوالي او توبې سختیدل:

دکار او مسؤلیتونو وروسته غورځول خاصتا د توبې ځنډول ددی لامل ګرزی چی د ګناهونو پیټې درانه شـــی چی دغه دروندوالی بیا د سرګردانۍ او لالهاندۍ سبب کیږی او پدی کی حیرانیږی چی لومړی د کومی ګناه نه توبه پیل، څرنګه او څه وخت یی وکړو؟ ډیری ګناوی د خلکو د مالونو او حیثیت پایمالولو اړوندوی چی ورڅخه توبه کول اسانه کارندی او اصلاح او د نورو د حقوقو جبران او رضایت ته ضرورت لری، نو هرڅومره چی دغه کار اوږدیږی ، وروســـته کیږی په هماغه اندازه ګرانیږی.

۴ – د کارونو تراکم او د هغو د اجراء کولو ستونزې:

دنن سباکولو د بدو پایلونه یو هم دادی چی کارونه او مسؤلیتونه تراکم وکړی او ترحده ډیرشی، له همدی امله ستونزه راپیداکیږی چی سړی نه پوهیږی له کوم یوه نه یی را پیل او کوم کار وروســـته واچوی نو په پایله کی فکری او روحی پریشـــانی رامنځته کوی او بیاهیڅ کارته یی دوســـی نه کیږی چی سرته یی ورسوی.

۵– د وقار اوهیبت له لاسه ورکول:

دا چی کارونه او مسؤلیتونه په خپل وخت سرته نه رسوی ، سهل انګاری او بی پروایی پګی کوی چی پایله کی د خپل ځان ، کورنۍ او خلکو وقار او هیبت او حیثیت له لاسه ورکوی او د نورو په سترګو کی سپک رامعلومیږی او بیا به د هیڅ

کار د کولو جوګه نه وی ، که کوم کار هم سرته ورســـوی خو بیا هم د خلکو په وړاندی به یی وزن او تاثیر نه وی ، په ځانګړی توګه دعوتګران او مخکښـــان که پدی مصـیبت کی ولویدل ، نو تر نورو به یی تاثیر بدوی چی بیایی دعوت او لاره څوک تعقیب نکړی ، الله پاک فرمایی: (**وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَــطًا لِّتَكُونُواْ شُــهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا**).[1]

ژباړه: او پدی ډول سره مو تاســی وسـط امت پیداکړی ، څو دخلکو لپآره نمونه او مثال شی او رسول هم تاسو لپاره نمونه او شاهدوی.

ب: په اسلامی بیداری باندې یی اغیزې:

۱ – په تیاره کی لویدل:

د مسؤلیتونو وروسته اچول د اسلامی دعوت د سختی او په ستونزو او تیاروکی د لویدلو لامل کیږی ، داســی وضـعیت چی هلته مادی او انســانی پانکی ته زیاته اړتیا لیدل کیږی ، همدارنګه لکه مخکی چی یادونه وشـــوه کله چی د فردهیبت او وقار له منځه ولاړ ، نو په دعوتی کاروان هم بده اغیزه کوی او هیبت یی کیږی چی په راتلونکی کی نه یوازی دا چی پیروان به یی نه زیاتیږی ، بلکه کرار کرار هماغه خپل پخوانی ملګری او پیروان به له لا سه ورکړی او د پردیو او د ښمنانو د طمع او تسلط لپاره به لاره برابره شی.

---

۱ - د البقری سورت ۱٤۳ آیت.

۲ – د الله تعالی له نصرت څخه محرومیدل:

په انسانی ژوندانه کی الهی سنت دادی چی خپل نصرت او مرسته هغه چا سره نه کوی چی نن او سبا وایی او دالهی حدودونه تیری کوی ، او کله چی ا سلامی بیدارتیا د الهی نصرت نه بی برخی شوه ، نو بیا ورڅخه تمه و شکیږی ، ځکه که څه هم ټول مادی اسباب او امکانات پلاس هم ولری بیا هم خپلواهدافو ته نشی رسیدای.

د وروسته اچولو ناروغی درملنه:

دا چی د ورو سته غورځولو او مسؤلیتونو پروخت نه اجراء کولو د ماهیت ، آثارو او اسبابو اړوند مو بحث وکړ ، نو هغه کسان چی پدی ناروغی اخته شوی ندی ، دهغوی مصؤنیت آسانه کار دی او پدی اړه لاندی ټکوته باید پاملرنه وشي:

۱ – د نفس غوښتنو او نارواهیلو په ضد باید په کلکه مبارزه وشی او دا ورته وښودل شی چی دسختیو او ستونزو گالل او دموقتی مشکلاتو زغمل او د مسؤلیتونو اجراء کول ورته ډیر غوره دی لدی نه چی وروسته له مرگه بیا په ابدی ژوند کی په ستونزو کی وی او د الله تعالی عذاب به ورته په کمین کی وی ، د مرگ وخت هم ندی څرگند ، او حداکثر دا چی دیوی ناروغی وروسته به ورته راځی؛ الله تعالی فرمایی: (**وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ وَاتَّبِعُوا أَحْسَنَ مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ العَذَابُ بَغْتَةً وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ أَن تَقُولَ نَفْسٌ يَا حَسْرَتَى علَى مَا فَرَّطتُ فِي جَنبِ اللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ السَّاخِرِينَ أَوْ**

تَقُولَ لَوْ أَنَّ اللَّهَ هَدَانِي لَكُنتُ مِنَ الْمُتَّقِينَ أَوْ تَقُولَ حِينَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ أَنَّ لِي كَرَّةً فَأَكُونَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ بَلَى قَدْ جَاءتْكَ آيَاتِي فَكَذَّبْتَ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنتَ مِنَ الْكَافِرِينَ).[1]

ژباړه: او د خپل رب په لور را وګرځی او ورته تسلیم شی ،مخکی لدینه چی درته عذاب ورسی او بیا تاسو سره مرسته ونشی ، او پیروی وکړی دغوره هغو څه چی د الله له طرفه درته را نازل شوی مخکی لدینه چی یو ناڅاپه عذاب درته ورسږی او تاسی ورڅخه بی خبره وی ، دا چی ونه وایی یو له تاسو ، ډیر د افسوس ځای دی دا چی د الله په حق کی می تیروتنه او بی ادبی کړی ، افسوس دا چی زه د مسخره کوونکو له جملی نه وم یا دا چی ونه وایی ، که چیری الله ماته لارښوونه کړی وای نو د پرهیز ګارانو له ډلی به شوی وم، او ونه وایی ،کاشکی چی دنیا ته بیرته ستون شوی وای ، څو د نیکو کارانو له ډلی شوی وای ، هوکی (ای پښیمان انسانه) زما آیتونه او لارښوونی درته ورسیدی ، خو هغه د تکذیب کړی او تکبر د غوره کړ چی په پایله کی د کافرانو له ډلی شوی.

۲ – دایماً دغه مطلب خپل نفس ته یاده کړی ، چی وروسته اچول او نن او سبا کول دکمزوری او ټنبلی نښه ده او ناتوانی او سستی د مسلمان سره نه ښایی ، حتی هر انسان چی خپل کرامت او انسانی ارزښت ته درناوی ولری ، دغه خصوصیت هیڅکله نشی منلی ، دارنګه یادونه که چیری جدی او صادقانه وی ، نو نفس به ترتأثیر لاندی راولی او هغه به د خطا کاری پریښودو او نن او سبا کولو

---

۱ - د الزمر سورت ٥٤-٥٩ آیتونه.

نه رامنع کړی ، الله تعالی د په حضرت فاروق باندی ورحمېږی چی فرمایلی یی دی : (د قوت او توان یوه نښه داده چی دنن کار سباته پری نږدی)

۳ – د ضعف او ناتوانې د ځنځیرنه د خلاصون بله لاره داده چی د ایماً الله ته سوال او دعا وکړی، او لکه مخکی چی د رسول الله ﷺ د مانښام او سهار په دعاگانو کی ورته اشاره وشوه، ځکه دعا عین عبادت دی، الله فرمایی:

(وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي وَلْيُؤْمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ).[1]

ژباړه: او کله چی زما بندگان درنه زما په هکله وپوښتی (چی زه چیزی یم) نوزه نږدی یم او د دعاکوونکی دعا کله چی له مانه وغواړی ورته قبلوم ، نو هغوی د هم زما بلنه ومنی او پرما ایمان راوړی، ترڅو لار موندونکی شی.

۴ – کور او چاپیریال باید سالم او جوړوونکی وی او ماشومان او ځوانان په هغه چاپیریال کی د قران او سنتو په رڼا کی وروزی او ټول کارونه او تصامیم د دین په معیار وسنجوی او هرڅه چی صحیح وی ، انجام یی کړی او هرڅه چی نا سم وی ، له ځانه یی لېری کړی.

---

۱ - د البقری سورت ۱۸٦ آیت.

۵ – د تن پالوونکو او ټنبلو خلکو د ملګرتیا نه ډډه کولو او د تدبیر لرونکو،هوښیارو او قوی ارادی لرونکو خلکو سره ناســـته ولاړه ځکه دارنګه ملګرتیاوی اثر کوی او هغه دی ته هڅوی چی د ناروا او خطاکاری په وړاندی مبارزه وکړی.

٦ - قرآن او د رسول الله ﷺ د ژوند لاری په پلوشوکی ژ،ند کول او ورسره زړه تړل ، ځکه دغه کار د الله د پیژندنی ښـــه لامل کیږی او دا پیژندنه ده ته دخپل ژوند څرنګوالی او د عمر نعمت نه کار اخیســتل وربښـــی او پخپل ژوند کی هغه دومره احتیاط کاره او دقیق کوی لکه یو ســړی چی د اغزیو پرسر روان دی ، قدمونه په حساب اخلی او هر خبره او کړه به یی د حساب کتاب له مخی وی .

۷ – د ګناهونو او نافرمانیونه پرهیز کول او کله چی د ګناهونو په ســـیلاب کی ورګډ شی نو د توبی بیړی ته به لاس اچوی او دنجات ساحل ته به راوځی ، ځکه د مســـؤلیتونو وروســـته اچولو مهم عامل په ګناهونوکی ډوبیدل دی او د توبی د پیاوړتیا لپآره طاعت، ذکر او دښـــو کارونو کول ډیر اړین دی ، څو د زړه د نرموالی زمینه برابره او نفس د نن او سبا کولو د غلامی نه خلاص شی.

۸ – دایما مرګ او دقیامت د ورځی محاســـبه په یاد ولری ، ځکه دارنګه یادونه کولای شی دهغه سره مرسته وکړی څو د دغه دنیا واقعیت وپیژنی او که هرڅومره ســـخت مســـؤلیتونه په مخکی ولری خو دده په عزم او قوی ارادی کی تغییر نه راځی او پدغه اراده سره به ددغه مسؤلیتونو نه بریالی راووځی او د نورو حقوق به مراعات کړی.

۹ – تل د سلف صالحو کار نامی وگوری چی د مسؤلیتونو په اجراء کولو کی یی ځرنگه کړنی درلودی ، د مثال په توگه مخکی مو چی دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه مبارکه مقوله راوړه (د قوت او توانایی یوه نښه داده چی د نن کار سباته پری نږدی).

کله چی عمر بن عبدالعزیز د مخکینی خلیفه سلیمان بن عبدالملک له تکفین او تدفین او دهغی خطبی له بیانولو وروسته چی دی د خلیفه په توگه ټاکل شوی ؤ ، له منبره راکښته شو او لږ استراحت وروسته یی کورته ولاړ ځو دهغه ورځی سخته ستړیا له ځانه لیری کړی وغوښتل یی چی آرام وکړی پدی وخت کی یی اوه لسن کلن زوی کوټی ته را دننه شو او ویی ویل: ای امیر المؤمنینه! غواړی څه وکړی؟ هغه وویل : غواړم لږ استراحت وکړم ، گوری چی دسلیمان د کفن او دفن کولو وروسته ډیر ستړی شوی یم چی په بدن کی می د ژوند هیڅ ندی را پاته ، زوی یی وویل : پلاره! مخکی لدینه چی د خلکو هغو ستونزو ته چی ورباندی ظلمونه شوی دی د پای ټکی کیږدی ، غواړی استراحت وکړی؟ عمر وویل : زویه ومی ویل چی ډیر ستړی یم پرون ټوله شپه می په ویښه تیره کړی ، انشاء الله د ماسپښین لمانځه نه وروسته به یی شکایتونو او ستونزوته ورسیږم ، زوی یی وویل: څومره ډاډمن یی چی ترماسپښین پوری به ژوندی وی؟ دغه خبری یی دزړه اور په لمبو راووست او له سترگونه یی خوب واخیست قوت یی په بدن کی را پیدا شو او ووی ویل: زویه وړاندی راشه! زوی یی ورنږدی شو هغه یی په غیز کی ونیو او په ټنډه یی ښکل کړ او ویی ویل : (د الله شکر کوم چی داسی زوی یی راکړی چی ماسره په دینداری کی مرسته کوی ، بیا ورسته

له خپله ځایه پورته او ویی ویل: راځی په هرچا چی تیری شـــوی وی ، غږ یی اوریدل کیږی).

لقمان حکیم یوه ورځ خپل زوی ته وویل: (توبه مه ځنډوه ، ځکه مرگ خبر داری نه ورکوی او ناڅاپه راځی اوهرچاچی د توبی او پخوانیو تیروتنو د پټی کولو لپآره سـباسـبا وکړل نو ځان یی د دوخطرونو سره مخامخ کړ : لمړی دا چی نوروالی او تیاری به یی زړه ورځ په ورځ په زړه زیاتی شی او زړه به یی وپو ښی او که له حده زیاتی شی نو زړه به یی منگ ونیسی او له منځه به یی یوسی.

دوهم دا چی کیدای شی د مرگ قاصد یی میلمه شی او ورته دا فرصت ورنکړی چی توبه وباسی او خپلی تیوتنی بیرته پټی کړی).

له ابو اســحاق نه رانقل شـــوی ، هغه وایی : (د قلیس د ډلی یو سری ته یی د مرگ پرمهال وویل شـو، ماته وصـیت وکړه ، ور ویی ویل : له نن او سـبا کولوڅخه ډډه وکړه.

ثمامه بن بجاد سـلمی خپل قوم ته نصـیحت کاوه او ویل یی : (زما دوســتانو او ملگرو! تاســـی لدینه منع کوم چی ووایی: دا کار به په راتلونکی کی ترسره کړم ، لمونځ به وکړم ، روژه به ونیسم).

حســن بصرــی رحمة الله وایی: (له نن او ســبا ویلو څخه په کلکه ډډه وکړی ، ستاسو ارزښت همدا نن دی نه سباته ، که مو سبا درلوده نو علاقلانه کارونه پکی

وکړی ، لکه د نن ورځی کارونه ، کو مه سبا نه درلوده نو د نن ورځی د کارونو نه کولو له وجی خوبه پښیمانی بیانکوی)

منذر وایی: (له مالک بن دینار نه می اوریدل چی له ځان سره یی وویل : افسوس دی وی پرتا ، بیړه وکړه ،مخکی لدینه چی درته راورسیږی او دا خبره یی شپیته ځله پرته لدینه چی ماته یی فکر شی ، له ځان سره تکرار کړه.

ابو موسی شعری له مرگه مخکی ډیره هڅه کوله اوتل به په ذکر او عبادت کی مشغول ؤ ، ده ته وویل شول: کیدای شی نو عبادت لږ کم کوه ، او ځان ته لږ تکلیف رسوه ، هغه په ځواب کی وویل: که مرکب هم ډیر ستړی کړی ، کله چی دی ته یی پام شی چی منزل ته نږدی شوی، نو خوشحالیږی ، او درسید و لپاره ډیر هڅه کوی ، زما هم ډیر عمر ندی پآته نو باید هغه په ذکر او د خدای په عبادت کی تیرکړم).

۱۰ – ټولو خلکو په ځانگړی ډول د دعوت مخکښانو ته لازمه ده چی په جدی توگه متوجه وی چی خلک ، دینداران او دعوت منونکی کسان له دغه سوزونکی سبب نه وژغوری، تل دهغوی څیړنه او گویزنه وکړی او په دوی باندی د نن او سبا کولو در وازه وتړی او دا کار یو ټولنیز مسؤلیت دی ، الله تعالی فرمایی: (**وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ**). [1]
ژباړه: او مؤمن نارینه او مؤمنی نارینه او مؤمنی ښځی ځینی د نورو دوستان دی

۱ - د التوبه سورت ۷۱ آیت.

چی ورته په نیکو کارونو امر کوی او له بدو کارنو څخه یی را منعه کوی ، لمونځونه اداء کوی او زکات ورکوی او دالله او دهغه د رسول اطاعت کوی.

۱۱ – هیڅ کار باید وړوکی ونه بلل شـــی او په کمه ســترگه ورته ونه کتل شـــی ، ځکه کیدای شی یو کوچنی عمل دالله په وړاندی ډیرارزښت ولری او ټول کارونه دالله په واک کی دی او د نن ورځی فرصـــت باید غنیمت وبلل شـــی ، او ممکن سبا ته دغه فرصت میسرنشی.

۱۲ – تل د نن او ســبا کولو یا اچولو خطرناکی او تاوانی پایلی په نظر کی ونیول شــی، ځکه کیدای شــی دا یادونه د انســان عزم او اراده قوی او زړه یی که چیری په هوښیارتیا او ځیرکتیا سره غوږ ونیسی نو دخیراوگټې لورته به واوړی.

٤٥

د خلکو تر منځ اصلاح او پخلاینه

الحمد لله الذي أمر عباده بالاصلاح بين المسلمين و المؤمنين وبالتشبث والاعتصام بحبل الله المتين و نهاهم عن التفرق و التناحر و التقاتل بينهم و الصلاة و السلام على سيدنا محمد وآله و أصحابه أجمعين.

قال الله تبارک و تعالى فى محكم التنزيل، أعوذ بالله من الشيطان الرجيم ، بسم الله الرحمن الرحيم.(والصلح خير) [1]

قال الرسول ﷺ : (**لا تقاطعوا ولا تدابروا ولاتباغضوا ولا تحاسدوا وكونوا عبادالله ولايحل لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاث)** [2]

امابعد!

اسلام پدی سره بسنه نکوی چی انسان یوازی د خپل ځان اصلاح په فکر کی وی نورو ته ضررنه ر سوی ، خو د ټولنی ا صلاح ته هیڅ پاملرنه ونلری او دهغی په وړاندی بی تفاوته پاته شي، بلکه د مسلمانانو نه دا غواړی چی د نورو په پاکی او اصلاح کی هم پاملرنه ولری ، خلکوته خدمت کول او د ټولنی د اصلاح په لاره

---

١ - د النساء سورت ١٢٨ آیت.

٢ - د سنن الترمذي، حدیث ١٩٣٥.

کی هڅه کول د نیکو کارونو له جملی نه دی ، ځکه عداوت او دښـــمنی لکه دیوی ساری ناروغی په شان د مخاصمی دواړه طرفونو ته سرایت کوی . او د نورو متخاصـمو ډلگیو او ټولیو لامل کیږی چی هدف ئی یو دبل له منځه وړل بدبخته کول او ورته د ستونزو جوړول وی. نو پدی وجه د دښمنیو له منځه وړلو او دخلکو ترمنځ د سولی او صفا فضا رامنځته کول د نیکو او ارزښتناکو صفاتو له جملی نه دی چی پرته له شریفو او دیندارو خلکو نه په بل چا کی نه لیدل کیږی، له همدی امله الله پاک خلک دعوت کړی ځو د خپلو دینی وروڼو تر منځ ســوله او صفا غوره کړی او فرمائی:(**انماالمؤمنون اخوة فصلحوا بین اخویکم**) [1]

ژباړه: یوازی دا ده چی مســلمانان سره وروڼه دی (یو دبل دینی وروڼه دی) که چیری د دوی ترمنځ اختلاف پیداشــی) نو دخپلو وروڼو تر منځ ســوله او پخلاینه وکړی. په بل ځای کی فرمائی:

(لا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلاَّ مَنْ أَمَرَ بِصَـدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْـلاَحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتَغَاء مَرْضَاتِ اللّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا).[2]

ژباړه: د دوی په ډیرو رازویلو مجالسو کی خیر نشته مگر څوک چی (پدی توگه) په صــدقه ورکولو یا نیکو کارونو او یا د خلکو ترمنځ د ســولی راوســتلو لپاره امر وکړی او هرچاچی دالله د رضا لپاره دا کارونه وکړل نو زر ده چی ورته به لوی اجر ورکړو. یعنی که مجالس او رازویل یو له بل سره چی د خلکو ترمنځ رواج لری د

---

۱ - د الحجرات سورت ۱۰ آیت.

۲ - د النساء سورت ۱۱٤ آیت.

خیر پرته ترسره کیږی او دگناه لامل کیږی ، لکه یو دبل غیبت کول، چوغلگری یا یو دبل په ضد دسیسی جوړول ، دا ټول ناوړه کارونه دی چی باید ترسره نشی ، اسـلام د نجوا او راز وینا د ویلو لاری چاری مسـلمانانو ته بیانوی او وائی : نجوا باید د ټولنی د خیر او فلاح او غریبانو بی وزلانو سره د مرسـتی کولو، په نیکو کارونو امر کولو ، د خلکو ترمنځ سـولی کولو په بنیادوی او څوک چی دارنگه شریف کارونه سرته رسوی ، نو الله پاک به ورته لوی اجر او ثواب ورکړی.

عفو او تېرېدنه:

یوله هغو غوره صفاتو څخه چی مسلمان باید ځان ورباندی ښایسته کړی، هغه عفو او نوروته تیریدنه ده ځکه دغه کار د هغه چانه لیدل کیږی چی د صـبر او زغم حوصلی او پوخ عقل لرونکی کامل روح ولری ، بی له شکه د خلکو په حقوقو تیری د ځینو خلکو لخوا داجوتوی چی د دوی روح ناروغی لری او شر او فسـاد ورباندی غلبه کړی ، نو ښـه ده چی موږ په برده باری او تېریدنه سره ورسره چلند وکړو، کیدای شی په هوش راشی اوپیښمانه وگرځی، له بله پلوه موږ پخپله د ډیر تیروتنو سره مخامخ کیږو او له نورو نه دا تمه لرو چی موږ ته ښښـنه وکړی ، که وغواړو چی له تیری کوونکی نه انتقام واخلو، غوره ده چی ورسره نیکی وکړو ځکه د بدو په ځای ښـه کول اکثراً د دی لامل کیږی چی متجاوز انسـان پښـیمانه او بغض او کینه هیرکړی او له تیری نه لاس واخلی محبت او دوسـتی غوره کړی. له

همدی کبله الله تعالی د قران کریم په څو ځایونو کی دعفوی او تېریدنی په اړوند فرمایلی: (**وَإِن تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ**).[1]

ژباړه:او که عفو وکړی او تیرشی او ښښنه وکړی (نو الله به هم تا سی ته ښښنه او مغفرت وکړی) ځکه چی الله ښښـــوونکی او مهربان دی. الله پاک صـــادق او ریښتینی مؤمنان دارنګه توصیفوی:

(**و يدرؤون بالحسنة السيئة**) .[2]

ژباړه: د وی په نیکۍ او احســـان سره د نورو بدی او آزار له منځه وړی او دفع کوی شی.

الله ﷻ خپل بندګان د بدۍ په مقابل کې نیکۍ ته را بللي:

الله ﷻ بندګان د بل د بدو په مقابل کی ښـــوته را بللي ځکه دغه عمل د تیری کوونکو د زړه څخه کینه او بغض له مینځه وړی او د کینی په بدل کې ئي په رړه کی مینه او پیرزوینه را پیدا کیږی او دغه مینه دده په زړه کی ځای نیسي.

دغه آیت ته ځیر شئ: (**وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ**). [3]

---

١ - د التغابن سورت ١٤ آیت.

٢ - د الرعد سورت ٢٢ آیت.

٣ - د فصلت سورت ٣٤ آیت.

ژباړه: نیکي او بدی هیڅکله سره برابر ندی د بدۍ ځواب پر بدۍ نه بلکي د بدۍ ځواب په نیکی سره ورکړئ: دبد کار پایله به داشي چې هر هغه څوک چی ستاو او د هغه ترمنځ شخړه او دشمنی ده هغه به ستا خواخوږې ملگری وگرځیږی.

اسلام اول مظلوم او ربړول شوی ته حق سپاري او دهغه څخه غواړی ترڅو د زغم او صبر څخه کار واخلی:

هر هغه څوک بغضی او کینه گر وي اسلام د هغه تیری څخه د خلاصي او مخنوی په خاطر هغوی ته د تیری په مقابل کې د سزا او د غچ اخستو قانون وضع کړی او د غچ اخستنی اجازه ئي ورکړی خو البته د تیري په مقابل کې عفوه او ښښنه افضله او بهتره گرځولي او الله ﷻ فرمایلی دي: (**و ان عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُواْ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ**).[1]

ژباړه: که غوښتل مو چی د تیری کوونکو څخه د هغو د تیری په اندازه غچ واخلي نو دا درته روا ده خو که د تیری په مقابل د زغم او تحمل څخه کار واخلئ دغه د صبر کوونکو لپاره ډیره غوره ده.

د ښښنی: په اړه د اسلام او عیسویت تر منځ فرق:

څه موچی وویل مخکی هغه د اسلامی دین تعلیمات وو البته د عیسویت دین مطلق ښښني او عفوي ته ترجیح ورکوي او دغې طرف ته هڅونه کوي لکه چی

---

۱ - د النحل سورت ۱۲٦ آیت.

وائي چا چی په ښـــی مخ په څپیړه ووهلی نو چب مخ ورته ونیســه ترڅو دې هغه مخ هم ووهي په دی بنسټ عیسـویان وایی چی عیسـوی دین د اسـلام څخه په عفوه او ښښني کې غوره دی مگر که لږ سوچ او فکر وکړو او زیر شو: کوم څه چی د اسـلام متوسـط دین وائي: دا هر هغه څه دي چی د یو سـالم طبیعت او فطرت سره بیخی برابر دی او ددغې سالم فطرت غوښتنه هم همدغه ده.

که ووایو چي اسلام دین د عیسویت دین څخه په ښښنه کې راجح او اولادی نو دا به زیادت او غلو نوي؛ ځکه کله چی مظلوم ته دا حق ورکړل شـو چی خپل غچ د ظالم څخه واخله او هغه هم پدې پوه شي چې زه په غچ اخیســـتو توان لرم پدې سره د هغه زړه څخه هغه د انتقام لمبه وځي او روح یې ســـکون پیدا کوي نو بیا ورته اسلام د عفوې په لور دعوت ورکوی او عفوی ته ئې را هڅوی نو دغه عفوه په حقیقت کې هغه عفوه ده چې د زړه څخه کینه هم لمنځه وړي په نسبت د هغی ښښـــنی ته چې پرته له عفوی بله کومه لاره نلري؛ ځکه چی هغه عفوه چې په مقابل کې د غچ اخیسـتو جواز نوی په حقیقت کې دغه عفوه اجباري عفوه ده او دمظلوم په زړه کې هغه انتقامي لمبې نه مړی کیږي نو په دغه وخت کې مظلوم د مجبوریت احســاس کوي. نودغه عفوه د هغی اســلامی عفوي په څیر هیڅکله نشـــی کیدای کومه عفوه چې په څنگ کې د انتقام او غچ اخیســـتنی جواز لري اسلامی ښښنه او زغم د دواړه ارخونو ترمنځ د دوستی او محبت فضاء ایجادوی او مینځ ته ئي راوړی ځکه دغه عفوه کول جانب مقابل لوری د خجالت سره مخ کوي او پخپلو کړنو پیښمانه کیږی او مظلوم د خپل تیرې جبران کوي.

کومک او یوتربله مرسته کول:

یو له ډیرو اهمو کارونو چی هم معنویت او هم روحیت دغه یو تربله همکاري او مرسته کول دی د یو انسان د بل سره چي دا د ټولنې او دغړو د مخکی تللو لپاره یوه ذریعه گرځیږی او د وگړو د ترقی او د نارامي له منځه وړلو لپاره یو بهترینه لاره ده.

نوی ترقی او پیشرفت دغه یو تربله کومک او مرسته د وگړو ترمنځ د مخکی تللو لپاره ښه گومارلی ده او ددي لپاره کې مؤسسو جوړونې او اجتماعي کارونوته لاس اچول چی دغه د مؤسسو او اجتماعی غونډو جوړونه ښکاره دلیل دي ددی خبری چی یو تربله کومک او همکاري ډیره اړینه ده.

قرآن کریم دغه موضوع ته ډیر اهمیت ورکړی او په دغه آیت کې چی د ډیری ښی معنا لرونکې دی خلک یې دغی همکاري ، مرستی ته را دعوت کړی دي.

چی فرمائي: (**وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ**).[1]

ژباړه: یوتر بله په نیکو کارونو کی مرسته وکړی او مه کوئي یو د بل سره په بدو کارونو کې کومک مه کوی.

الله ﷻ پدی آیت کې خلک د یو د بل سره د نیکی په کارونو د کومک اړخ ته رابللی دی او نیک کار هغه کار ته شامل دی چی فائده او گټه لرونکی وي عامه

---

۱ - د المائده سورت ۲ آیت.

خبره ده که د غه گټه دنیاوي وی او یا اخروي وی لکه د مدرســو، مکتبونو، روغتونونو او داسـی نور شـیان جوړول چې دین اسـلام مونږ ددي په جوړوني کې یو تربله د مرستي درس راکړی او دا آیت په بله برخه کې د اثم او عدوان د شر او فساد په کارونو کې او دهغي څخه په کومک کې منع کړی یو.

د (اثم) کلمه په لغت کې ناروا او غیر شرعي او د گناه کارونو ته ویل کیږي.

او د (عدوان) کلمه په معنا د ظلم او تیری سره ده هر هغه کړنی چی د ټولنی اوغړو په تاوان سره تمامیږی د اثم او عدوان په معنا کې داخل دي.

اســلام د ظلم او په هغی کې د چاسره مرســتی څخه منع فرمایلی ده او دغه مرســتی ئي حرامه گرځولی ده لکه څنگه چی گورو چې دغه آیت کامله مرســته یواځی په نیکی کار د یو چا سره مرســته کولو ته نه وائي بلکی مرســته په نیکو کارونو کې هغه وخت پوره والی کوي چې د بدو کارونو څخه اجتناب هم ورسره په څنگ کې ملگری شي په کومه ټولنه کې چی تر بله د مرســتي حس او احســاس پیاوړي وی په حقیقت کې دغه ټولنه مخ تللی او پر امنه ټولنه ده له دې حیثه د ا سلام دین په دغه کار روز اچولی او خلک ئي تعاون او مرستی ته را بللي دي.

همدردي او بل اړ شخص ته په خپل ځان ترجیح ورکول:

یو له ښــو، نیکو او گټورو خویونو څخه چی انســان هغی ته برابر او په خپل ځان کې را پیدا کړی هغه قربانی ورکول او بل اړ شــخص ته خپل ځان ترجیح ورکول

او د بل شــخص په اړه فکر کول دي ایثار یو داسي خصــلت او خوئي دی چی د ټولنی او غړو د نیکبختی او ســعادت لامل دي او د ځان غوښــتنی او یواځی د ځان د ګټی غوښــتنی چی ټولنه بدبختی ته را کش کوی په خلاف ده ولو چی د ځان فکر او غم کول تر یو اندازی پوری د اســلام له نظره یو روا چی د انســان طبیعت ئي غواړی کار دي البته پدی کار کې د غلو څخه کار اخســتل یوه لویه تیروتنه او دګناهونو لامل ګرځیږی کله چی انسـان د خپل ځان د ګټی او فایدی په فکر کې شی نو د ټولني د هغی ګټو کومی چی دده مسؤلیت ده د هغی څخه بی پروا کیږی او هغه هیروی او همیشه خپلو فایدو او ګټوته په حق باندی ترجیح ورکوي او کله چی یو شــی چی پدی کار کې می خپل ګټی په زیان کې وی نو حق هم د پښو لاندې کوی او خپلی ګټې په ټولو باندی مخکی ګڼي.

نو بناء پدی بنسټ اوچت او لوی شخصیت هر هغه څوک دی چې خپل ګټی په نظر کې ونیســی خو البته دومره هم نه چی حق او ملي ګټی ورڅخه هیری شي. نو بناء پدی بنسټ ایثار هر هغه صفت او خوئی او خصلت دی چی په ټولنه کی د انسان د لوئي، عزت او وقار سبب ګرځیږی او د وګړو ترمنځ د مینی فضا رامنځ ته کوي بالمقابل خودپرستی هر هغه څه دی چی په ټولنه کې کرکه، دښمنی او کینه رامنځ ته کوي او خود پرســته شــخص په ټولنه کې بی ارزښــته او د خلکو ترمنځ منفور وي.

د رواشــناســی له مخی هم ایثار او همدردی هرهغه صــفت دی چی د انســان سعادت نیکبختی پرته لدی صفت څخه په بل صفت کې کمه ترسترګو کیږی له

همدی کبله الله ﷻ په قرآن کریم کې خلک د ایثار او قربانی طرف ته رابولي او د ایثار کوونکو اشخاصو په صفت کې وایي : (**وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**).[1]

ژباړه: مومنان هر هغه څوک دي چی نورو ته پخپل ځان باندې غوروالي ورکوی ولو که هر څومره پخپله په احتیاج او تنګسه کې وي.

پرته له شکه یواځی هغه کسان چي خپل ځان د بخل او حرص څخه ژغوري همدوی ریښتونی او کامیاب دي ددی آیت کریمه په شان نزول کې ابو هریره رضي الله تعالی عنه فرمائي: (**عن أبي هريرة قال أتى رجل الى رسول الله فقال: يا رسول الله أصابني الجهد، فأرسل الى نسائه فلم يجد عندهن شيئا فقال النبي ألارجل يضيف هذه الليلة يرحمه الله فقام رجل (ابو طلحه) من ألانصار فقال أنا يا رسول الله فذهب الى أهله فقال لامراته هذا ضيف رسول الله لاتدخر به شيئا فقالت: والله ما عندي الا قوت الصبية قال فاذا أراد الصبية العشاء فنوميهم و تعالي فأطفئي السراج و نطوي بطوننا اللية، ففعلت ثم غذا الرجل على رسول الله فقال: قد عجب الله عزوجل – أو ضحک– من فلان و فلانة او أنزل الله تعالى هذه الآية**).[2]

ژباړه: له ابو هریرة څخه روایت دی چی یو کس رسول الله ﷺ ته راغی او ورته وی ویل ای د الله رسوله! ډیر سخت وږی یم رسول ﷺ یو څوک خپلو بیبیانو ته واستو ترڅو هغه ته څه خواړه راوړی البته چي بیبیانو هم څه نه درلودل بیا رسول

---

١ - د حشر سورت ٩ آیت.

٢ - صحیح المسلم، حدیث: ٢٠٥٤.

الله ﷺ صـــحاباوو ته خپل مخ راوګرځوه او وی فرمایل: آیا څوک شـــته چی دغه کس بیګاه ته میلمه کړی ترڅو په هغه الله رحم وکړي یو د انصـــارو څخه چی ابو طلحه نومیده وی ویل ای د الله رســـوله زه به ئي میلمه کړم ابو طلحه خپلی بی بی ته وراغي او ورته وی ویل د رســـول الله د میلمه پالنه وکه بی بی وویل په الله قسم د خپلی اولادو د خوړو څخه پرته بل څه نلرم ابو طلحه ورته وویل چی هغوی وده کړه او څراغ گل کړه چی تیاره شي میلمه به خپل خواړه وخوری او زه د پیغمبر د میلمه سره څه نه خورم د ابو طلحه میرمن هم همغســـی وکړل کله چی میلمه ســـبائي د رســـول الله ﷺ حضـــور ته لاړ رســـول الله ﷺ وفرمایل الله د ابو طلحه او دهغه د میرمنی د بیګانی عمل څخه ډیر خوشـــحاله شـــوی او دغه آیت نازل کړی دی.

دغه واقعه مونږ ته ددی خبری درس راکوی او راښـایی چی پیروانو د پیغمبر کی څومره اندازه قربانی او ایثار موجود وو او د اســـلام دین د هغوی په زړونو څومره اندازه اغیزه کړی وه.

او دغه واقعه د هغو کســـانو لپاره چې غواړي په ټولنه کې د ســـعادت او معنوی کمالاتو خاوندان شي او هغی ته لاس رســـی پیدا کړی بهترینه او غوره نمونه او لارښوونه ده.

الله پاک خلک د بدو پرځای ښه کولوته رابولی:

خدای (ج) خلک د بدو په مقابل کی دښوبدلی ته رابولی ځکه چی دارنګه چلند د دی لامل کیږی چی کینه او دښـــمنی د متجاوزینو له زړونه لیری او ځای ئی

دوســـتی او محبت ونیســـی، دغه مبارک ایت ته پاملرنه وکړی چی الله تعالی فرمائی: (**وَلَا تَسْـتَوِي الْحَسَـنَةُ وَلَا السَّـيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَـنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ**).[1]

ژباړه: نیکی او بدی یو شـــان ندی (بدۍ ته په بدۍ سره ځواب مه وایه) بلکه بدۍ ته په ډیره ښه توګه چی نیکی یا احسان دی ، ځواب ورکړه ، ددی کار پایله به داوی هغه کس چی ستا او دده ترمنځ دښمنی وی په خوږه دوستی باندی به بدله شی.

---

۱ - د فصلت سورت ۳٤ آیت.

٤٦

وحدت او یوالی داسلام له نظره

الحمد لله الذي أمرنا بالاجتماع، و نهانا عن الفرقة والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله و أصحابه أجمعين :

قال الله تعالى: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلاَ تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ) [1]

ژباړه: ای مؤمنانو! دالله نه وویریږی په حقه سره اوداسی ومری چی دایمان او اسلام په حالت کی وی، او دالله په رسی-دین-باندی منگولی ولگوی او اختلاف مکوی- یوله بله مه جدا کیږی.

در جهان آواره ای بیچاره ای — وحدتی گم کرده ای،صد پاره ای
بند غیرالله اندر پای تست — داغم از داغی که درسیمای تست
برگ وساز کائنات از وحدت است — اندرین عالم حیات او وحدت است
درگذر ازرنگ وبوهاي کهن — پاك شو از آرزوهاي کهن
این کهن نیززد بادوجو — نقشبند آرزوي تازه شو

(علامه اقبال لاهوری)

---

١ - د آل عمران سورت، ١٠٢ـ١٠٣ آیتونه.

وحـدت، یووالی او داســلامی امـت ترمنځ نږدی والی ډیر اهمیـت لری، دغـه بنســټیزه خبر دقرآنی آیتونو ، نبوی احادیثو او ددین دلویانو لخوا نه د پاملرنی وړگرځیدلی ده ، رسـول الله ﷺ پخپله دامت دوحدت لپاره بنسـټ ایښـوونکی ؤ قرآن کریم سنتو ته مراجعه کول د وحدت رامنځته کیدو سبب بللی: (**فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ**).[1]

دغه مبارک آیت دا توصــیه کوی چی کله مو په کوم کارکی اختلاف پیداکړ نو دالله کتاب او دهغه رسول – سنتو- ته مراجعه وکړی .

هغه مهم شــی چی رســول الله ﷺ وربانـدی زیات ټینگار درلود او هغه یی د مســلمانانو دبریالیتوب او یووالی عامل باله ، هغه د مســلمانانو ترمنځ وحدت او یووالی ؤ .

پیغمبر، او خلفای راشــدینو او ددین لویانو چی دین، زمان یا واحد مکان درلود، دغه اشــتراک که اختیاری یا غیراختیاری ؤ همدارنگه دیوه امت او ډلی په معنا دی چی ورته پیغمبر راغلی ؤ .

اساسي پوښتنې:

د مســلمانانو د وحدت او یووالی لپاره کوم عوامل ســبب گرزی او کوم شــیان د دوی ترمنځ اختلافات او نفاق را پیدا کوي؟

---

۱ - د النساء سورت ۵۹ آیت.

آیا د اسلامی نړی فعلی حالت د الله او د پېغمبر د رضایت وړ دی؟

آیا مونږ د سقوط او نابودی په لور مخته روان نه یو؟

پدی خطبه کی غواړم د اسلامی وحدت او یووالی ضرورت د اسلامی نظریاتو په رڼا کی تر بحث لاندی ونیسو او وګورو چی خدای ﷻ او پېغمبر ﷺ پدی اړوند څومره تأکیدات لری، د مسلمانانو ترمنځ اختلافاتو فرهنګی، ټولنیزو اړخونو ته اشاره وکړو او ددغو ستونزو د حل لپاره ګټور تدابیر وړاندی کړو.

د ځینو اړینو اصطلاحاتو پیژندنه:

وحدت – اتحاد- اتفاق- پیوستون- انسجام – امت

وحدت: په لغت کی یو یوالی یوځای کیدو ته ویل کیږی. [1]

او په اصطلاح کی د امت یو موټی کیدو یووالی همغږی کیدو ته وحدت ویل کیږی یعنی د قومونو او ملتونو یو ځای کیدل پدی شرط چی هر یو دودنیزو کارونو چی هغه کی د مذهب یا قومیت او یا نور عنعناتو سره اړخ لږوی او هغه ته په درنه سترګه کتل او دهغی مراسمو په ازادنه توګه ترسره کول او د قومونو تر مینځ نفرتونو او تعصب له مینځه وړلو ته وحدت ویل کیږی.

---

۱ - جوهري، ج ۲ ، ص ٥٤٧ .

اتحاد: اتحاد په لغت کی په معنی د یو کیدو، یو موټی کیدو، یو نظر کیدو او همغږی ته ویل کیږی.[1]

او په اصطلاح کی: د یو څو توکو د ځانګړیتوبونو او خصوصیتونو لرلو باوجود د یو ځای کیدو ته اتحاد او یووالی وائي.

نو بناء پورته تعریف: د ډلو ترمنځ د عقیدوي، قومي، نژادي، اختلافاتو باوجود د مشترک دښمن په مقابل کی یو ځای او په اتفاق اودریدو ته اتحاد وائي.[2]

پیوستون: د تشکیل شوی ټولنیز نظام د غړو ترمنځ همغږی ته ملي پیوستون وایي او همدغه یووالی او همغږی د ملی پیوستون بنسټیزه برخه هم ده د هر یوی ډلی پخپل منځ کی یو تربله عنعناتو او قومي، مذهبي، او نژادي دودونو ته په دروند نظر کتل د ملی پیوستون بنسټیزه نکته ده البته د دغی عصرـ ځینی تحولاتو او نوی تخنیکی کړنو او ځینی نورو ځمونږ ملی پیوستون د تاثیر لاندی راوستې او له مینځه ئي وړي نو بناء پدی ډیره اړینه او ضروری ده چی دغه د ملی پیوستون موانع او منفی اړخونه له مینځه وی سو او یوه ښکلی بشري او اتحادی پیوسته فضأ رامینځ ته کړو.

انسجام: په لغت کی جوړښت په معنا راځی او همدارنګه د توییدو، روانیدو او منظم کیدو سره ده او په اصطلاح کی انسجام هر هغه ساده او روانو خبرو کلموته

---

۱ - طریحی، ج ٤ .

۲ - سعید بن علی. ص ١٤.

ویل کیږی چي هیڅ ډول اړغیزنتوب ونلري لکه د روانو اوبو په څیر چی د اســانه قالبونو او ســاده تورو سره ســمون خوری د مثال په ډول هر هغه شــعري یا نثري خبری چی په زړه او ځانونو داســی تاثیر وکړي چی دغه تاثیر په بل شــکل کی پیدا نشي دیته انسجام یا جوړښت وائي.

امت: په اصــطلاح کی دخلکو یوی ډلی ته ویل کیږی چی الله ورته پیغمبررا اســتولی وی او دوی وربانـدی ایمان راوړی او لری لارې یی د الله سره تړون کړی او دهغه پواسطه یی ورسره رابطه پیداکړی وی .

د قران له نظره دوحدت ارزښت او مقام :

قران کریم دوحدت او اتحاد موضــوع ته ډیره توجه کړی او دا مت دیووالی او وحدت په موخه یی څو ډوله لارې چارې وړاندی کړی، دوحی په دغه کتاب کی ډیرآیتونه موجود دی چی وحدت او یووالی ته اشــاره کوی او داســی ایتونه شــته چی ټولی بریاوی په وحدت کی نغښــتی دی . ټول تاریخ لیکونکی او پوهان په دی عقیده دی چی په صدر اسلام کی دمسلمانانو وحدت او یووالی ددی لامل ؤ چی دوی په هر ډګرکی بریالی ، په دښـمنانو برلاســی او فوق العاده امتیازات یی پلاس کی لرل، ځکه قران دوی ته په وحدت باندی امر کړی ؤ چی : (**وَاعْتَصِــمُواْ بِحَبْـلِ اللّهِ جَمِيعًـا وَلاَ تَفَرَّقُواْ وَاذْكُرُواْ نِعْمَـتَ اللّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْـدَاء فَـأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا**).[1]

١ - د آل عمران سورت ١٠٣ آیت.

ژباړه: او ټول دالله په رســـی-دین- باندی منګولی ولګوی او مه سره جداکیږی او دالله نعمتونه یادکړی کله چی تاســـی یوله بل سره دښـــمنان وی نو الله تعالی ستاسو په زړونو کی مینه او محبت واچاه او دالله په نعمت سره ورونه وګرځیدی .

قرآن کریم تفرقه او اختلاف داســـمانی عذابونو له جملی نه بللی : (**قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَـــكُمْ شِـــيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ**).[1]

ژباړه: ووایه الله قادر دی چی په تاســـی باندی عذاب را نازل کړی له پاســـه او یاستاسو له پښولاندی نه او یا تاسی سره ډلی ډلی وګرزوی او دجنګ او اختلاف دود تاسی هر یوه ته دبل په واسط ورسیږی.

قران کریم بی اتقاقی اچوونکو ته خبرداری ورکړی او هغوی یی دا سلام نه جلا او د ښمنان بللی او په قاطعیت سره فرمایی : (**إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمْ وَكَانُواْ شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللّهِ**).[2]

ژباړه: په یقین سره هغه کســـانو چی خپل دین یی متفرق کړ او په مختلفو ډلو وویشل شول ، ته ددوی سره هیڅ ډول اړیکی نلری او ددوی سروکار یوازی د الله تعالی سره دی .

---

۱ - د الأنعام سورت ٦٥ آیت.

۲ - د الأنعام سورت ١٥٩ آیت.

قرآن کریم ډله ډله کیدل او یوله بله جلا کیدل دمشرکانو له کارونو څخه بللی او په شـدت سره یی مسـلمانان ورڅخه منعه کړی او د توجیه ترسـیوری لاندی یی وحدت ته رابللی فرمایی: (**وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْـــرِكِينَ مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا**).[1]

ژباړه: او مه کیږي د هغه مشرکان څخه چي دوی خپل دین ټوټې ټوټې کړی دی او په ډلی ډلی وویشل شوی دي.

د الحجرات ســورت په ۱۳ آیت کی راځی: (**يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ**).[2]

ژباړه: ای خلکو! تاســو مو دیوه نارینه او یوی ښـځینه نه را پیداکړی او بیاموډلی ډلی وګرزولی څو یو بل سره وپیژني ، یقینا ستا سی نه دالله په وړاندی ستا سی پرهیزګاره شخص دی .

پدی آیت کی دانســا نانو د مختلفو ډلو او قبایلو په وحدت او یووالی ټینګار شویدی انسان د آزادی عدالت او حق تږی دی چی ا سلام دیووالی په آوازه سره وکولای شـول چی دغنی غوښـتنی ته ځواب ووای په قرآن آیتونو باندی تمسـک یوه قیمتی ډالۍ او میراث دی چی مسلمانان ورباندی عمل وکړی، قرآن کریم په

۱ - د الروم سورت ۳۱- ۳۲ آیتونه.

۲ - د الحجرات سورت ۳۱ آیت.

صریحو آیتونو کی ټولو مؤمنانو ته دا اعلانوی چی الله په دین سره راټول او دبی اتفاقی نه ځان وژغوری الله تعالی فرمایی: (**وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُوا**...)[1]

ژباړه: او ټول دالله په رسی (دین) باندی منگولی ولگوی او اختلاف مکوی او په یاد درولی چی څنگه پخپل منځ کی سره یو دبل دښمنان وی او دالله په فضل او نعمت باندی یو له بل سره ورونه وگرځیدی .

دالله درسی نه مطلب مفسرینو، قرآن ، کتاب اوسنت، الهی دین، دالله اطاعت، خالص توحید او جماعت مرادکړیدی، ځینو حبل الله نه مطلب دا ټول مفاهیم اخیستی دی .

قرآن کریم لومړنی ندا دامت واحده کړیده الله تعالی فرمایی: (**إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ**).[2]

داستاسی امت یوواحد امت او دین دی او زه ستاسی رب یم نوزما عبادت وکړی .

باید مسلمانان ددغه قرآنی شعار (وحدت) په اهمیت پوه او دهغه عظمت وپیژنی او بی اتفاقی له خپلو منځونو نه لیری کړی او هر هغه خو ځښت چی دمسلمانانو په تفرقه او اختلاف باندی تمامیږی ، هغه داسلام ددښمنانو حرکت او دقرآن په خلاف دي .

---

۱ - آل عمران سورت ۱۰۳ آیت.

۲ - د الأنبیاء سورت ۹۲ آیت.

دوحدت محور دقرآن له لرلیده توحید او داسلام دین دی قرآن کریم پیغمبر اهل کتاب ته استوی او دهغو نه داغواړی چی توحید ته راشی او دغیر الله عبادت پریږدی ، الله فرمایی: (**قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ**).[1]

ژباړه: اهل کتاب ته ووایه ، راځی دغه کلمی پراساس چی زموږ او تاسو ترمنځ شریکه ده داچی پرته له الله نه د بل چا عبادت ونکړو او دهغه سره هیڅ شریک ونه نیسو او یو بل دالله په وړاندی رب او معبودونه بولو، که چیری یی مخ واړاوه نو ووایی چی شاهداوسیږی چی موږ دحق په وړاندی تسلیم یو – مسلمانان یو .

درسول الله سنت همدرانګه دیووالی او وحدت دساتلو محور دی ، الله تعالی فرمایی: (**فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ**).[2]

دا آیت شریف دا جوتوی چی کله په یوه کارکی اختلاف را پیداشی نو باید الله او دهغه رسول ته رجوع وشی ، قرآن غواړی دمسلمانانو ټولنه تر نورو غوره وی: (**وَلاَ تَهِنُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ**).[3]

---

١ - د آل عمران سورت ٦٤ آیت.

٢ - د النساء سورت ٥٩ آیت.

٣ - د آل عمران سورت ١٣٩ آیت.

په دغه مبارک آیت کی ایمان دبترۍ او تفوق معیار بلل شـــوی، ایمان دټولنی دوحدت سـمبول، دشـخصـیت رکن او داسـتقلال او اسـلامی ټولنی دحرکت قوه ده، نزاع او اختلاف داسلامی شخصیت درنگیدو مهم عامل دی،

الله پاک په بل ځای کی فرمایی: (**ولا تنازعوا فتفشلوا و تذهب ریحکم**) .[1]

ژباړه: او یوله بل سره نزاع مکوی او یو له بله اختلاف مکوی چی ســـســـت او کمزوری به شی او خپل قوت به له لاسه ورکړی.

وحدت دپیغمبر ﷺ په سیرت او سنتو کې:

رســـول الله ﷺ دامت دیووالی او وحدت لپاره مهمی لارې چارې بیان کړی، کله چی هغه مبارک مدینی منوری ته تشرـــیف یووړ نو داوس او خزرج قبیلو تر منځ یی اسلامی وحدت منځته راوړ او دملی او اسلامی احساساتو په راپارولو سره یی دهغی ټولنی یووالی ټینگ کړ، دمهاجرینو او انصـــارو ترمنځ دوروروڼی تړون په رامنځته کیدو سره یی داسلامی یووالی بنسټ کیښود چی انصارو دخپلو مهاجرو وروڼو سره هرڅه شریک کړل.

پیغمبر ﷺ دملی او توکمیزو تعصـباتو په نفی کولو دټولنی موجوده ظرفیت نه په گټه اخلیســـتنی او دکعبی شریفی له رغنده رول څخه داســـلامی یووالی په رامنځته کیدوکی کوښښ وکړ او خپل ملاتړ یی دټولنی دمحروم او مظلوم قشر نه

---

١ - د الأنفال سورت ٤٦ آیت.

اعلان او ټول یی د هدا یت یوه مرکز ته را دعوت کړل او په د غه کار سره یی داسلامی امت پایی پیاوړی کړی .

په تحمل ، تیریدنی او دشخصي مسایلو په نظرکی نه نیولو بلکه عمومی مصالحو ته په ترجیع سره یی اسلامی وحدت پیاوړی کړ.

اسلامی وحدت او یووالی دآنحضرت ﷺ دهغو ارزښتونو څخه بلل کیده چی هغه مبارک وربانده زیات تأکید کاوه او دمســـلمانانو هراړخیز اقتداریی په وحدت، انسـجام او یووالی کی لیده او داســلامی امت او یووالی دامت اســلامی د اقتدار دبنـستیزو ا صولو څخه بولی او دهغه دتحقق رامنځته کیدو په موخه یی ډیر زیار گاللی .

علامه اقبال لاهوری وایی:

نقش نو برصفحه هستي کشید امتي گیتي گشایي آفرید

امتي از ما سوا بیگانه یي بر چراغ مصطفي ّروانه یي

از گرمي حق سینه تاب ذره اش شمع حریم آفتاب

کاینات از طیف او رنگین شده کعبه ها بت خانه چین شده

مرسلان و انبیا آباي او اکرم او نزد حق اتقاي او

کل مؤمن اخوة اندر دلش حرمت سرمایه آب و گلشن

پیغمبر ﷺ دژوند په ټولو اړخونوکی کامله اسوه دی ،طبیعی ده چی دده مبارک دسلوک اورویی نه قدوه جوړول دمسلمانانو لپاره په هغه پسی اقتداء بلل کیږي .

رسول الله ﷺ درسالت دپیل نه دجزیرة العرب دټولنو په یووالی کی زیار وایست، هغه ټولنی چی د جهل او ناپوهۍ له وجی په فساد کی غرقی وی او جنگ وینه تویول یی کاروبار گرځیدلی ؤ، نو هغه مبارک په ډیر لږ وخت وکولی شول چی دوی ته سوله او صفا راولی .

سیرت پوهانو او تاریخ لیکونکو ډیری نمونی ذکر کړی چی مسلمانانو پخپل منځ کی او یا دمسلمانانو او نورو غیرمسلمانانو ترمنځ تاریخی سندونه او معاهدی کړی چی دهغی په اثر سوله او امنیت دوی ته راغلی له هغی جملی نه کولای شو دمدینی منوری دیهودیانو او مسلمانانو ترمنځ تړون حساسو نکتوته اشاره وکړو:

۱-مسلمانان به دظلم او تیری په وړاندی سره متحدوی.

۲- ددغه تړون لاسلیکوونکی یو ملت تشکیلوی دقریشو مهاجر به داسلام نه مخکی رواج خونبها (دوینوپور) ورکولو باندی پاته وی، که چاددوی نه څوک وواژه او یا یوکس ورڅخه اسیرشو نو باید دخپلو وینوگټوونکی مرسته وغواړی او خپل اسیر بیرته واخلی .

۳- هیڅ مسلمان به دمشوری پرته په فی سبیل الله جهاد کی سوله نکوی او سوله به دټولو لپاره اجراء کیږی نه دیوه فرد لپاره.

٤- ټولی ډلی(چی په جگره کی مشـــغولی دی) په ترتیب سره د جنگ ډگرته حاضریږی، او دیوی ډلی سره(دوه ځله پرله پسی) جنگیدل به نه تحملیږی .

٥- د ذمة الله دټولو افرادو په وړاندی یو شان ده.

٦- که چیری بی اتفاقی دمسلمانانو ترمنځ را پیدا شوه دهغی دحل مرجع به الله او دهغه رسول وی .

٧- مسلمانان به هغه مقروض او مدیون شخص چی قرض یی دروند وی همداسی نه پریږدی بلکه له هغه سره به مرسته کوی .

٨- هیڅ مؤمن شـــخص حق نلری یو مؤمن کس دکافر دوژنی په جرم ووژنی او نه باید هیڅ یو کافر سره دمسلمان په ضد مرسته وکړی .

٩- دالله عهد او تړون دټولو مســلمانانو سره یوشــان دی له همدی کبله کمزوری کس یی کولای شی د کفارو په وړاندی تعهدات په غاړه واخلی .

١٠- مسلمانان یو دبل ملگری او دوستان دی.

١١- هر یهودی شخص چی له موږ پیروی وکړی او اسلام ومنی نو زموږ دمرستی نه به برخورداره شـــی او دنورو مســـلمانانو سره به یی تفاوت نه وی او څوک حق نلری چی وربا ندی تیری وکړی او یا بل څوک دده په ضـــد تحریک او یا دده دښمن سره مرسته وکړی .

۱۲- د سولی تړون په هکله باید مسلمانان سره متحد شی او هیڅ مسلمان دبل مسلمان دنظر جلبولو پرته له عدالت او مساوات نشی کولای سوله وکړی .

ددغه تاریخی تړون په یوه بله برخه کی چی دمسلمانانو ترمنځ دوحدت او یووالی نه **حکایت کوی داسی راغلی دی :**

۱-هیڅوک حق نلری د (محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم) داجازی پرته له دغه اتحادیی نه بیرون ووزی .

۲- دهر مجرم وینه (څه داچی هغه مقتول وی) ددغه افرادو نه محترمه ده او څوک چی دچاوینه تویي کړی نو وربانـدی به قصاص شی او په پایله کی به داوی چی پخپله او خپله کورنۍ یی هلاکه کړی وی مگر دا چی قاتل باندی ظلم شوی وی .

۳- په هغو جگرو کی چی یهودیان او مسـلمانان څنگ پرڅنگ سره جنگیږي، نو مصـارف یی دهریوه پخپله غاړه دی او هر څوک چی ددغه تړون د متحدانو سره وجنگیږی نو باید په متحدانه توگه دهغه په مقابل کی وجنگیږی .

٤- دتړون کوونکو مناسبات په نیکی سره دی باید له بدۍ نه ډډه وکړی.

٥- هیڅوک باید دخپل هم عهده په وړاندی ظلم ونکړی پداسـی حال کی باید دظلم کړل شوی سره مرسته وشی .

٦- دیثرب داخل منطقه به دتړون امضاء کوونکو لوریوته دحرم منطقه اعلانیږی .

۷- دهغو گاونډیانو ځانونه چی پناه ورکړل شـــوی ، زموږ دځانونو په څیردی باید ورته ضررونه رسیږی.

۸- مســـلمانان او یهودیان امت واحده دی او دیوه ملت په څیر به په مدینه کی ژوندکوی او هریو ځانته خپل دین لری.

همدارنگه درسول الله ﷺ هغه تړون چی د ټولو مسلمانانو داخوت په اړه یی کله چی مدینی منوری ته تشرـــیف راوړ او داوس او خزرج قبیلو تر منځ تړون چی کلونه کلونه یوله بل سره دښـــمنان ؤ او داختلافانو پرمهال هغه تأکید او ســـفارش به چی رسول الله ﷺ دسولی او پخلاینی په اړه کاوه، دا ټول کارونه دهغه نازنین استازی درحمت نمونی دی .

د وحدت او یو والي موخی:

۱-داســـلامی وحدت له مهمو اهدافو څخه داختلاف اونزاع له منځه وړل دی: (وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ).[۱]

ژباړه: اوالله او دهغه درســـول نه پیروی وکړی او نزاع او اختلاف مکوی، کمزوری به شـــی او قوت رعب او هیمنت به موله منځه لاړشـــی او صـــبرکوی، یقیناً الله د صبر کوونکو سره مل دی .

نو مختلفو مذاهبو او ډلوته پکار ده څو د خپلو داخلی اختلافاتو او ســـتونزو لیری کولو په موخه مشترکانو باندی سره راټول شی څو دپر دیو په وړاندی خپل یووالی

۱ - د الأنفال سورت ٤٦ آیت.

وســـاتی ، خو پرته لدینه او پخپل منځ کی په جنجالونو لگیا کیدل جســـمی ، فکری ، اقتصادی او نوری قواوی له لاسه ورکوی چی بیا به پردی او دښمنان گټه وړی ، لکه چی نن او ســـبا اســـلامی نړۍ په همدغه بلا اخته دی دغو اهدافو ته درسیدو په لاره کی عملی لارې چارې پکار اچول ضروری دی:

الف: یوه لاره داده چی د وحدت د کلمی نه اســـتفاده وشـــی الله فرمایی: (**قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَـــوَاء بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْـــرِكَ بِهِ شَـــيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ**).[1]

ژباړه ورته ووایه! ای اهل کتابو راځی داســـی کلمی ته چی زموږ او تاســـو تر منځ شریکه ده او هغه دا چی پرته له الله نه د بل چاعبادت ونکړو او ورسره څوک شریک را نه وړو او بعضی زموږ ځینی نور پرته له الله نه رب او لویان ونه گڼو ، که چیری د دغه دعوت نه مخ واړوی نو ووایی، شـــاهدان اوســـی چی موږ مســـلمانان یو.

بله مهمه لاره د تسلیمی او اطاعت خبره ده ، الله فرمایی: (**وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى**).[2]

---

١ - د آل عمران سورت ٦٤ آیت.

٢ - د لقمان سورت ٢٢ آیت.

ژباړه: او څوک چی خپل زړه او روح الله ته وسپاری او دهغه په وړاندی د اطاعت سر ټیټ کړی پداسی حال کی چی نیکو کاره وی نو په محکمه رسی ئی منگولی لگولی چی هیڅ نه شلیږی.

د یوی واحدې رهبری نه ا ستفاده ، لکه چی د انفال سورت په ۴٦ ایت کی ورته ا شاره وشوه او جوته ده چی د دغو لارو چارو په کاراچول ټول مشترکاتوته رابولی او د وحدت او یووالی لا مل کیږی.مرحوم عبدالغفور آخو ند نعمانی ترکمنی د مسلمانانو اقتدار د دوی د وحدت په صورت کی پخپلو شعری بیتونو کی دارنگه بیانوی:

ما مسلمانان چه نیکو روزگاری داشتی
راستی خوش عزت و خوشاعتباری داشتیم
چون گلی و بلبل انیس و مونس و دمسازهم
در گلستان وفا، خوش برگ وباری داشتیم
سوزن و مـــژگان مهیا تاکه بیرون آوریم
گر به پا از گردش ایام ، خاری داشتیم
پرچم دین مبین بردیم تا دیوار چین
چون که عزم آهنین و استواری داشتیم
امپراطوران عالم، مرتعش از بیم ما
چون رشادت های بی حد وشماری داشتیم
این چنین بودیم تا بودیم باهم متحد

از نفاق واز تفرق تا فراری داشتیم
این چنین بودیم تا بودیم باهم راستگوی
از دروغ و از تصنع تگ وعاری داشتیم
در میان ما درآمد، عاقبت دست نفاق
رفت از آن برباد ، هر عزو وقاری داشتیم

په اوسـني عصرـ کي د مسـلمانانو دیو والي لارې چارې او د دوی د اتحاد موانع :

که څه هم د دغو موانعو ذکر کول زیات وخت ته اړتیا لری خو زموږ هڅه په لږ فرصت کی داده چی دهغی کلی او اصلی خطوطو ته اشاره وکړو:

الف: د اتحاد اخلاقی موانع:

رسـول الله ﷺ د خپل بعثت موخه د اخلاقی مکارمو اتمام بیانوی: (**انما بعثت لأتمم مکارم الأخلاق**) .[1]

او اخلاق یوازی په فردی آدابو کی نه خلاصـه کیږی بلکه ټولنیز اخلاق ئی هم عمده برخه تشـکیلوی او هر کله چی د فرد اخلاق فاسـد شـی نو ټولنه چی د افرادونه جوړه شویده هم فاسدیږی او انسان ناسالم اړیکی سره پیدا کوی. اتحاد د یوه ټولنیز عنصرـ په توگه د دغه کار څخه مسـتثنی ندی ، صـحیح اسـلامی

۱ - مسند البزار، حدیث: ۸۹٤۹.

اخلاق چی د وحدت پربنسټ جوړ شـوی وی ، ټولنه جوړوی او فاسـد او رزیل اخلاق بیاخو ټولنه خرابوی:

لکه:

۱- هوا پرسـتی او اخلاق نه لرل: په ډیرو ځایونو کی د افرادو او ډلو اختلافات ظاهراً علمی او فکری بڼه لری خو په اصـل کی پرته له هوا غوښـتنی ځان خوښوونی او خودخواهی نه بله منشأ نلری.

۲- ړوند تعصب: شخصی ، مذهبی او ټولنیز تعصبونه داتحاد له مهموموا نعوڅخه گنل کیږی ، متعصـب انسـان د مذهبی ، ملی او ټولنیز تړاو په خاطر او پرته له دلیله په افراطی توگه د بل حزب ، فکر یا مذهب په حمایت او یائی کوبلو سره لاس پوری کوی او پرته له خپل لوری او خپلی عقیدی نور ټول نظریات باطل گنی.

۳- تکبر او خپل ځان خوښـونه: تکبر یو اخلاقی آفت دی چی د ټولنیزو اړیکو خرابتیا کی مهم رول لری ، خپل ځان لوی بلل یوازی د پردیو پوری تړاو نلری، بلکه ډیر ضـعیف مسـلمانان هم دارنگه روحیه لری چی کله قدرت ته ورسـږی نو دخارجی متکبرانونه زیات ملسمانانو ته ضرر رسوی.

٤- حسادت ، کینه او بدگمانی: د مسلمانانو اړیکو پر مهال خوامخا څه ستونزی او زړه بدوالی رامنځته کیږی چی په عفو ، تیریدنه او سـوله غوښـتنی سره درمل

کیدای شـــی ، خو بالعکس ، کینه لرل دغه فاصـــلی نوری هم زیاتوی او ژوری کیږی.

۵- دنیا پرســـتی او جاه طلبی: اتحاد په ډیرو مواردوکی ، ایثار او ځان تیریدنی ،عفو، ښښنی او تواضع ته ضرورت لری ، دنیا خوښوونکی او د شهرت تږی چی له مال او مقام پرته بل هیڅ گام نه اخلی او په بحرانی او ســـختو حالاتو کی ددی پرځای چی اســـتعداد لرونکو او وړ خلکوته میدان پریږدی ، پخپل ناوړه موقف ،قدرت ً حزب او ډلی ساتنې باندی ټینگار کوی.

ب : سیاسی موانع:

۱ – گوښه خوښول ، مصلحان او پوهان چی پداسی حالاتو کی پخپلو دندو عمل نکوی.

۲ – حزب او ډله پالل.

۳ – استعمار او بهرنی عوامل.

د مسلمانانو د اختلافاتو پایلی:

دمســـلمانانو دبی اتفاقی او اختلافاتو بدی پایلی خو ډیری دی ، دلته موږ یوازی ځینو فرهنگی ، ټولنیز او اخلاقی برخوته ئی اشاره کوو:

فرهنگی پایلی:

۱ – د دین کمزورتیا ځکه چی مسلمانان خپل منځ کی سره اخته وی.
۲ – نورو خلکوته زمینه برابریدل څو ددوی ترمنځ لاس وهنی وکړی.

ټولنیزی پایلی:

۱ – د ټولنو انحطاط او د اسلامی تمدن سقوط.

۲ – اسلامی عزت او هیبت کمزورتیا.

۳ – وژنه ،قساوت او بی رحمی.

۴ – نا امنی او گډوډی.

اخلاقی پایلی:

۱ – سوءظن او بدگمانی

۲ – کنځاوی

۳ – قطع د رحم او سخت ړزی.

۴ – خپل ځان خوښونه

۵ – ناروا تهمتونه

٦ – تجسس او عیب پلټنه.

نتیجه: د اســلامی امت وحدت او یوالی په متعددوقرانی آیتونو او نبوی مبارکو احادینو کی په تأکید سره ذکر شــوی او رســول الله ﷺ هغه د اســلامی امت له ضروری بنســټونو څخه بللی او دهغه تحقق ئی په ټولنه کی دعدالت ، اســلامی دین د حفاظت او د شــیطان د نه برلاســی لامل بللی ، همدارنگه پدی اړه ئی عملی گامونه پورته کړی او د مســلمانانو وروســته پاتی والی ئی دهغوی په اختلافاتو پوری تړلی.

د اسلامي یو والی او وحدت لارې چارې په لاندي ډول دي:

د فردي او ټولنیزی یووالی لارې چارې:

الف: د محرومانونه حمایت کول

ب: تحمل او زغمل.

د محرومانو او بی وزلانو نه حمایت او ساتنه د وحدت په لوری د آنحضرت ﷺ له مهمو کړنو څخه بلل کیږی چی د مظلوم او بی وزلی ډلی نه ئی پخپل حمایت اعلانولو سره دوی ټول یوه مرکز ته راټول او د هدایت نورئی ورته وځلاوه ، څو اســلامی یووالي رامنځته شــی ، همدارنگه دهغه مبارک تحمل او زغم هم پدی برخه کی نمونه او قدوه گڼل کیږی

په اوسنی عصر کی مهمې لارې چارې :

۱ – قرآن ، سنت او نبوی سیرت ته مراجعه کول چی دائما خلک وحدت او یووالی تــه رابــولــی.

۲ – د مخالف لوری د نظریاتو تحمل او دمذاهبو پیروانو سره ښــه چلند کوی .

۳ – لـه بیځـایـه وچو ملی ، ټوکمیزو او مـذهبی تعصـــبـاتو نـه ډډه کول.
۴ – دســـنی او شـــعیه ترمنځ د افکارو تبادله او یو دبل کتابونو مطالعه کول.
۵ – د مختلفو ډلو علماؤ یو له بل سره لیدنه کتنه او اختلافاتو له منځه وړلو په موخه علمی بحثونه کول.

٦ – د دښـمنانو د توطیو او دسـیسـو په وړاندی بیدارتیا دا چی اختلافات اچوی.
۷ – یو دبل مقدساتوته درناوی کول.

۸ – یوبل ته له تومت او افتراء نه ډډه کول.

۹ – د سخت دریزه خلکو کنترولول چی د نفاق او اختلاف لامل گرځی.

۱۰ – د شریکو نکاتو تقویت.

۱۱ – گډ ښوونیز او څیړنیز مرکز ونه جوړول.

۱۲ – گډی پیغام رسونکې رسنۍ رامنځته کول ، څو د وحدت او یووالی پیغامونه په امانت سره ورسوی.

و اخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین.

٤٧

د اسلامي شريعت له نظره د ژوند ارزښت

الحمد لله رب العالمين و الصلاة و السلام على سيد الأنبياء و المرسلين قال الله تبارک و تعالى أعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم: (أَنَّهُ مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا). [1]

د اوسنی عصر خطر ناکه ستونزه :

د اوسنی عصر پیچلی او خطرناکه ستونزه هماغه عدم مصؤنیت او په بی رحمانه توګه پخپل او د نورو په حیات تعرض کول دی لکه چی لیدل کیږی د کلونو راهیسی زموږ په هیواد او ځینو نورو هیوادونو کی یوه ډله ځوانان او تنکی ځوانان د اسلام نه په غلط فهم او برداشت او یا د نور و سیاسي او دیني عواملو له امله ځان وژنی او انتحار ته لاس اچوی ځینی یی د ټولنیزو ستونزوله امله ځینی د اقتصادی ناخوالو له لاسه په تنګ راغلی وي چی ځان وژنه کوی او داسی کسان شته دی چی د ناچیزه پیسوپه مقابل کی او یا د خپلی انتقام اخیستنی او غضب ظالمانه غریزی د اشباع په خاطر د نورو د ژوند سره لوبی کوی او هغه له منځه

---

١ - د المائده سورت ٣٢ آیت.

وړی او که چیری ځیرشو ټول ذکر شوی عوامل په دود عواملو (ظلم او نا پوهی) کې را خلاصه کیږي .

څرنګه چی الله ﷻ فرمايي: (**إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا**).[1]

نو دغه بداو بد مرغه عمل خطر ته په کتولو سره غواړم د ژوند اهمیت او مقام د قرآني او شرعي معتبرونصوصو په رڼا کی و څیرو.

د حیات او ژوند حق لومړنی او په عین حال کی دډیر مهمو حقونو له جملی څخه دی چی اسلام او ټولو نړیوالو قوانینو دغه حق انسان ته ورکړی او دا حق د انســـاني نورو حقونو په پرتله د ډیر اهمیت لرونکی دی چی په لاندی توګه بیانیږي:

۱-حق حیات پوری د ټولو حقونو تړل :

کله چی انســـان د ژوند حق پیدا کړ نو کولای شي د نورو حقونو لکه د علم حاصـــلول د کســـب او کار حق دروغتیا او تندرســـتی حق د آزادی حق .او نورو حقونو څخه برخمن شی خو د حیات حق د نه شتون په صورت کی بیا نور حقونه څـه مـفـهـوم نـه لـري.

۲- د ژوند حق، یو الهی موهبت او ورکړه ده: د حیات حق په اصـــل کی یوه

۱ - د الأحزاب سورت ۷۲ آیت.

الهی پیرزوینه ده ، لکه الله پاک چی دا ورکړه دیوه لوی نعمت په توګه یادوي ، فرمایي: (**کیف تکفرون بالله و کنتم أمواتا فأحیاکم**) .[1]

ژباړه : څرنګه په الله باندی کفر کوی پدا سی حال کی چی تا سی مړه وی بیا مو را ژوندی کړی . همدارنګه فرمایی:

(**و هوالذی أحیاکم ثم یمیتکم ثم یحییکم ان الانسان لکفور**) .[2]

ژباړه : او هغه الله هغه ذات دی چی تا سی یی ژوندی کړی بیایی مړه او بیا مو را ژوندی کوي ، په یقین سره انسان ناشکره دی او د نعمت کفران کوی له پورتنیو مبارکو آیتونو نه په صراحت سره را معلومیږي چی د حیات نعمت یو خدای ورکړی او لوی نعمت دی، نو لدی کبله هر غیر شرعی او غیر قانوني اقدام چی د دغه نعمت د له منځه وړلو لامل کیږی د اسلام له نظره حرام دی او داسی جرم او جنایت دی چی د بښلو وړ ندی.

۳- د حیات حق تامینول د اسلام شریعت له ضروری مقاصدو څخه ګڼل کیږی:

لکه چی ظلم او جهل الله پاک د هر انسان اصلی حالتونه بللی او فرمایی: (**إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا**)[3]

---

۱ - د البقری سورت ۲۸ آیت.

۲ - د الحج سورت ٦٦ آیت.

۳ - د الأحزاب سورت ۷۲ آیت.

د ژوند حق ته لاسرسـی د (**حفظ نفس**) تر عنوان لاندی د اسـلامي شريعت يوله لوړو او ضروری مقاصدو څخه دی چی الله پاک د هغه د ايجاد او تحقق په موخه ازدواج د انسانی نسل د توالد او تناسل لپاره يوه مشروعه لار ټاکلی، او دانسانانو د ځانونو مصـونيت په خاطر يی پرته له شرعی دليله قتل او قاتل حتی که په تيروتنه او خطا سره هم ترسره شي، د عذاب او مجازاتو مسـتحق بللی، لکه چی الله پاک فرمايی : (**وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلاَّ خَطَئًا وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلاَّ أَن يَصَّدَّقُواْ...**).[1]

ژباړه : هيڅ مومن ته نه ښايی چی يو مسلمان ووژنی مگر داچی دغه کار د خطا او سـهوی له وجی ورڅخه وشي او که څوک بل کس سـهواً او په تيروتنه سره ووژنی نو ديت به ورکوی د هغوی أقرباؤ ته مگر کچيري هغوي عفوه وکړه.

الله پاک د قصـاص قانون د تطبيق اړوند چی پکی د حيات حفاظت منځته راځی ، فرمايي:

(**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى**).[2]

ژباړه : ای مومنانو! تا سو باندی د قتل په صورت کی قصاص فرض شوی، په بل آيت کی د قصاص حکمت دا رنگه بيانوی:

---

١ - د النساء سورت ٩٢ آيت.

٢ - د البقری سورت ١٧٨ آيت.

(**و لكم فى القصاص حياة يآ أولى الألباب لعلكم تتقون**) .[1]

ژباړه : او تاسو لپاره په قصاص کی ژوند دی ای د عقل خاوندانو تر څو تاسی پاک شی.

۴- د ژوند ساتلو په غرض د حرامونه د استفا دې جواز:

د حیات ساتلو بل اهمیت دادی چی د اسلام مقدس دین او د هغه دایمی او ابدی قانون د حرامونه گټه اخیستنه روا کړی کله چی د (مخمصې) حالت یعنی دا چی د انسان ژوند تامین کړی، الله پاک پدی اړه فرمایی: (**فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ**) .[2]

ژباړه : که څوک مجبور شو (د خپل ځان ژغورلو په موخه) نو د حرامونه دوخوری، البته پداسی حال کی چی لذت اخیستونکی او تیری کوونکی نه وی نو پروا وربانـدی نشته (گناه وربانـدی نشته).

پدی مورد کی فقهاو یوه کلی قاعده بیان کړی او وایی (**الضرورات تبيح المحظورات**).[3]

یعنی ضرورتونه حرام شیان مباح کوی :

---

۱ - د البقری سورت ۱۷۹ آیت.

۲ - د البقری سورت ۱۷۳ آیت.

۳ - د مجلة الأحكام العدلية مادة رقم : ۲۱

۵- له محدودو ځايونو پرته د نفس د قتل حرمت :

په اسلام کی د حيات بل اهميت دا دی چی اسلام قتل نه يوازی دا چی يو حرام عمل اوله کبيره گناهونو څخه بولی ، بلکه په متعددو آياتو کی الله تعالی د نفس وژل د شرک او کفر سره يو ځای ذکر کړی، لکه چی الله فرمايی:

(**وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ**) .[1]

ژباړه : او هيڅ يو نفس مه وژنئ هغه چی الله تعالی يی وژنه حرامه گرزولی مگر پــه حــق سره.

په فرقان ســـورت کی د نفس د وژنی نه ډډه کول د الله د نيکو بندگانو يو غوره صفت بللی ، فرمايي: (**وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ**).[2]

او هيڅ يو نفس مه وژنئ هغه چی الله يی وژنه حرامه کړی مگر په حق سره.

له حضرت انس رضی الله عنه – نه روايت شويدی چی رسول الله ﷺ – فرمايلی دی: (**أكبر الكبائر الاشراک بالله و قتل النفس**).[3]

ژبــاړه : تر ټولو لويــه گنــاه د اللــه سره شريــک نيول او انســـــان وژل دی. هر کله چی د مطلق نفس وژل دومره لوی جرم دی نو د مومن او مســـلمان وژل به څرنگه وی؟ له همدی کبله الله متعال د مسلمان نفس وژنی په هکله فرمايی:

---

۱ - د الأنعام سورت ۱۵۱ آيت.

۲ - د الفرقان سورت ٦٨ آيت.

۳ - صحيح البخاري، حديث: ٦٨٧١.

(وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا).[1]

ژباړه : او څوک چې يو مسلمان قصدا ووژني نو جزايي دا ده چې هغه به جهنم ته ځي او پکې به هميشه پا تيږي ، الله به ورته په غضب وي او لعنت به ورباندې وايي او ده ته يې سخت عذاب برابر کړي.

په بل مبارک آيت کې الله پاک دغه کار مومن دشان نه ډيرلرې بولي ، فرمايي:

(وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلاَّ خَطَئًا) .[2]

ژباړه : او مومن شخص ته هيڅ نه ښايي چې يو مومن د ووژني مگر دا چې په سهوه او تيروتنې سره ترې نه دا کار وشي.

او د (وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ) نه دا مطلب دې چې دغه کار په هيڅ حالت کې د يوه مسلمان مومن سره نه ښايي.

٦ - د نفس وژلو او انتحار حرمت:

دې ته په کتو سره چې ژوند د انسان په اختيار او واک کې شي نه، بلکه د الله له طرفه لويه ورکړه او موهبه دې ، او روح او ځان انسان ته د امانت حيثيت لري ، نو د هيڅ انسان لپاره روا نده څو پخپل ځان او نفس باندې تيرې وکړي، له همدې کبله اسلام انتحار او ځان وژنه لوې جرم بولي او ځان وژونکې د اخيرت د سخت عذاب مستحق بولي ، لکه په يوه صحيح حديث کې راځي چې رسول الله ﷺ

١ - د النساء سورت ٩٣ آيت.

٢ - د النساء سورت ٩٢ آيت.

فرمـايی: (**من قتـل نفســـه بشـــيء فی الـدنيـا عـذب بـه يوم القيـامـة**).[1]
ژباړه : څوک چی خپل ځان په کومه آله باندی ووژنی نو دقيامت په ورځ به په هماغه آله سره ورته عذاب ورکول کيږی.

۷- د الله تعالی په وړاندی د مسلمان د وينی ارزښت :

د حيات حق بل اهميت دا دی چی د مسلمان شخص وينه د الله په وړاندی ډير لوړ ارزښت لری او له دنيا او ټولو هغو شيانو نه چی په دنيا کی دی زيات قدر او اهميت لری، لکه چی په يوه مبارک حديث کی راغلی:

(**لزوال الدنيا أهون على الله من قتل رجل مسلم**) .[2]

ژباړه : د الله په وړاندی د دنيا زوال او له منځه تلل آســـانه دي تر دی چی يو مسلمان کس په قتل ورسيږی.

او هغه څه چې د حيات حق اهميت خاصتاً مسلمان فرد ژوند اهميت جوتوی هغه د رسول الله ﷺ – هغه عکس العمل و چی د اسامه بن زيد په وړاندی يی څرګند کړ

(**يا أسامة: أقتلته بعد ما قال لآ اله الا الله؟ قلت: كان متعوذا، فمازال يكررها حتى تمنيت أن لم أكن أسلم قبل ذلک اليوم**).[3]

---

۱ - صحيح البخاري ، حديث: ٦٠٤٧.
۲ - سنن الترمذی ، حديث: ۱۳۹۵.
۳ - صحيح البخاري، حديث: ٤٢٦٩.

ژباړه : ای اسامه : وروسته لدینه چی **لا اله الا الله** یي وویل ، هغه دوواژه ؟ ما ورته وویل : هغه د خپل ځان د خلاصون له وجی دغه کلمه وویله ، بیا رسول الله ﷺ دغه کلمه دومره تکرار کړه چی ما دا آرزو درلوده چی کاشکی له هغی ورځی نه وروسته مسلمان شوی وم.

۸- د قاتل په وړاندی د توبی دروازی بندیدلو امکان :

په ناحقه قاتل باندی د توبی د دروازی د تنگیدو او یا تړل کیدو لامل کیږی، لکه چی د ابن عمر نه روایت دی چی رسـول الله ﷺ فرمایلی: (**لن يزال المؤمن في فسحة من دينه مالم يصب دما حراما**).[1]

ژباړه : مومن ترڅو چی د نا حقه قتل مرتکب نه وی شوی ، احتمال لری چی توبه یی ومنل شی.

له معاویه رضـی الله عنه – نه روایت دی چی پیغمبر ﷺ فرمایلی: (**كل ذنب عسـى الله أن يغفره الا الرجل يموت كافرا أو الرجل يقتل مؤمناً متعمدا**).[2]

ژباړه : د هری گناه په هکله امید دی چی وبه بښل شي خو د هغه کس چی کافر مړشـی یا د هغه کس چی یو مسـلمان په ناحقه او قصـد سره مړکړي او د ابن عباس رضـی الله عنه په روایت راغلی چی قاتل د قیامت په ورځ د الله تعالی پوښتنی پر مهال بی ځوابه پاتیږي او هیڅ بهانه نشی جوړولی ، لکه چې رسول

---

۱ - صحيح البخاري، حديث: ٦٨٦٢.

۲ - سنن أبي داود، حديث: ٤٢٧٢.

الله ﷺ فرمايي:

(يجيء المقتول بالقاتل يوم القيامة، ناصيته ورأسه بيده و أوداجه تشخب دماً، يقول يا رب! سل هذا فيم قتلني حتى يدنيه العرش) .[1]

۹- په نا حقه سره د يوه انسـان وژل د ټول انسـانيت د وژنی سره برابر دی:

په اســلام کی د حيات حق بل اهميت دا دی چی د يوه انســان په نا حقه وژل داســی لوی جرم دی لکه ټول انسـانان يی چی وژلی وی او يوه انسـان ته نجات ورکول د ټول انســانيت له مرگه خلاصــون حيثيت لری، لکه چی خدای (ج) فرمايی:

(مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ كَتَبْنَا عَلَى بَنِي إِسْـرَائِيلَ أَنَّهُ مَن قَتَلَ نَفْسًـا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَـادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا).[2]

ژباړه : له همدی کبله مو بنی اسراييلو باندی دا ضرور کړی وه چی هر څوک يو انسان لدی پرته چی د قتل مرتکب شوی وی او يا په ځمکه کی يی فساد کړی وی ، په ناحقه ووژنی ، نو داســی گناه يی کړی لکه ټول خلک يی چی وژلی وی او که څوک د چا د ژوندی پاته کيدو سـبب شـی نو داسـی ده لکه ټول خلک يی چی ژوندي کړي وي.

---

۱ - سن الترمذی، حديث: ۳۰۲۹.

۲ - د المائده سورت ۳۲ آيت.

۱۰- د قتل د اجازې ورکولو حرمت:

د قتل حرمت ته په کتو سره هيڅوک نشيــ کولی ، د چا د وژلو اجازه ورکړي، ځکه اجازه ورکوونکی او اجازه اخيستونکی دواړه پداسی صورت کی چی اجازه اخيستونکی قتل تر سره کړي، دواړه يو شان د گناه مرتکب وگرځيدل ، ځکه د حيات حق يوازی الله لری چی ژوندی کوونکی او روح اخيستونکی دی او بل څوک پدی کار کی د تصرف حق نلری

۱۱- د مسلمان پر ضد د جنگ او مبارزې حرمت:

د حيات حق ته په پاملرنی سره ، روا نده چی دوه کسان د خپل ضايع شوی حق د ترلاسه کولو لپاره او يا هم د عار او اهانت نه د ليری کولو په خاطر يو له بل سره په جنگ او جگړه اخته شی ، لکه رسول الله ﷺ فرمايلی :

(اذا التقى المسلمان بسيفيها فالقاتل و المقتول فى النار، قلت يا رسول الله أهذا القاتل فما بال المقتول؟ قال: انه كان حريصا على قتل صاحبه) .[1]

ژباړه : کله چی دوه مسلمان پخپلو تورو سره يو د بل په مقابل کی ودريږی نو قاتل او مقتول دواړه په دوزخ کی دی، صحابی وايي : ورته می وويل ای د الله رسوله! دغه خو قاتل دی نو د مقتول څه گناه ده ؟ هغه مبارک وفرمايل: مقتول د اغو ښتل او حريص و چی خپل ملگری ووژنی. د دغه حديث شارح وايی : دغه حديث وعيد دی د هغو کسانو لپاره چی د دنيوی کارونو يا زمامدارانو ، حکومت

---

۱ - صحيح البخاري ، حديث: ۳۱.

راتلو لپاره جنګيږی خو هغه څوک چی د اهل بغی يا سر کښـو په ضـد جنګيږی او يا له خپل ځانه د متجاوز په وړاندی دفاع وکړی او ووژل شـــی، په دغه وعيد کی نه داخليږی ځکه شريعت ورته اجازه ورکړيده.

۱۲- د جنين د اسقاط او اجهاض حرمت:

دا چی حق حيات په اســلام کی ډير ارزښــت لری نو ځکه اجهاض او يا د جنين اسقاط د بشپړيدو نه مخکی حرام بللی او د دغه کار په قصدی کولو صورت کی عره (پنځه سـوه درهمه او يا پنځه اوښـه) چی نصـف عشرـديت بلل کيږی لازم کړی او که چيری جنين د تيری په نتيجه کی وروسته لدينه چی ژوندی راووزی ، تلف شی، نو پوره ديت لازميږی.

د ژوند حق ته په کتو سره اوسـنی معتبر ميثاقونه او تړونونه همدارنګه د دغه حق په مصـــونيت باندی ټينګار کوی څو په ژوند کی له خپل طبيعی حق نه برخمن وی او قانون هم لدغه حقه حمايت کړی، لکه چی د بشرــ د حقوقو نړيوالی اعلاميی په دريمه ماده کی راغلی زر هر څوک د ژوند ، آزادی او شـــخص امنيت حق لری))

د انسان د مدنی او سياسی حقوقونه د ملاتړ نړيوال قانون وايی: هر انسان حق لری چی پخپل ژوند کی له خپل طبعی حق څخه برخمن شی او قانون هم لدغه حقه ملاتړ کوی او د هيڅ انسـان محروميدل له دغه حقه د زياتی په شـکل مجاز نلری.

همدارنگه د بشرــ د حقوقو نړيواله اســلامی اعلامه دغه حق باندی تاکيد کړی وايی : ژوند يو الهی ورکړه ده او داسی حق دی چی هر انسان ته ورکړل شوی او په ټولو افرادو ، ټولنو او حکومتونو باندی لازمه ده چی د دغه حق څخه ملاتړ وکړی او د هر متجاوز په وړاندی ودريږی او د هيڅ انســان وژل پرته له شرعی مجوړه روا ندی.

پدی توگه سره د حيات حق د اســلامی شريعت له نظره يو مقدس او محترم حق دی ، ساتنه او رعايتول يی واجب او هر ډول تيری ورباندی حرام دی لکه رسول الله ﷺ چی فرمايی:

(كل المسلم على المسلم حرام دمه و ماله وعرضه) .[1]

ژباړه : د هر مسلمان پر بل مسلمان باندی حرام دی ، وينه تويول ، مال خوړل او آبرو تويول يی .

او دحجة الوداع په تاريخی خطبه کی وفرمايل: (ان دماءكم و أموالكم و أعراضكم حرام عليكم كحرمة يومكم هذا في شهركم هذا في بلدكم هذا، ألا هل بلغت).[2]
ژباړه : يقينا ســتاســی وينی او مالونه او آبرو يو پر بل باندی حرام دی لکه د دغه ورځی – عرفی – حرمت ، په دغه مياشــت کی (ذی الحجه) په دغه ښــارکی مو (مکه مکرمه آيا ما خپل رسالت ورسا وه !؟

---

١ - صحيح مسلم ، حديث: ٢٥٦٤.

٢ - صحيح البخاري، حديث: ١٧٤١.

نو هر انسان حتی جنین چی د مور په گیډه کی قرار لری، د اسلامی شریعت له نظره د حق حیات نه په یوه شـــان سره برخورداره دی ځکه په لومړی گام کی په ټولو افرادو او بیا په بشرـــی ټولنو او په دریمه مرحله کی په دولتونو ضروری ده چی د دغه دعام او تام ملاتړ ترڅنگ د دغه حق د ساتلو او تضمینولو وسایل لکه خواړه ، دوا، د امن فضـــا، جســـمی ، بدنی ، فکری او روانی آرامتیا تامین او برابر کړی.

٤٨

د نورو په خصوصي حريم تېرى نه كول

الحمد لله الذي أمرنا بالتقوى و نهانا عن التجسس و العدوان و الصلاة و السلام على سيدنا محمد و على آله وأصحابه أجمعين.

قال الله تبارک و تعالى في محكم التنزيل و هو أصدق القائلين أعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا)[1]

و قال الله تعالى فى مكان آخر:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ، فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ)[2]

و قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (من أستمع الى حديث قوم و هم له كارهون صب في أدنيه الآنک يوم القيامة) [3]

---

١ - د الحجرات سورت ١٢ آيت.

٢ - النور سورت ٢٧-٢٨ آيت.

٣ - د مسند امام احمد حديث : ٨٧٩٧ .

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (كل المسلم على المسلم حرام عرضه و ماله و دمه التقوى ههنا...) [1]

وايضا قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (لا يؤمن أحدكم حتى يحب لأخيه ما يحب لنفسه). [2]

و قال رسول الله : (لا تحقرن من المعروف شيئا...) [3]

و ايضا قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (اياک والظن، فان الظن أكذب الحديث، ولا تحسسوا ولا تجسسوا). [4]

و قال رسول الله : (من اطلع في بيت قوم بغير اذنهم فقد حل لهم أن يفقئوا عينه). [5]

و في رواية: (من اطلع في بيت قوم ففقوا عينه فلادية له ولا قصاص). [6]

صدق الله مولانا العظيم و بلغه رسوله النبي الكريم و نحن على ذلک من الشاهدين و الشاكرين والحمد لله رب العالمين.

السلام عليكم ورحمة الله و بركاته وبعد:

---

١ - د سنن الترمذي ، حديث: ١٩٢٧.

٢ - متفق عليه او د امام بخاري حديث: ١٣.

٣ - د صحيح امام مسلم حديث: ٢٦٢٦.

٤ - د مسند امام احمد، حديث: ٨٥٠٤.

٥ - د صحيح امام مسلم ،حديث: ٢١٥٨

٦ - د مسند امام احمد، حديث: ٨٩٩٧

دا يوه منل شــوى خبره ده چې : انســان اشرف المخلوقات دى ، د كون او كان خالق په وړاندى د لوى او ځانګړى منزلت او مقام او دلوړو ښــايســته ټولنيزو او ديني حقونو څخه بر خمن دى او په لوړو حقونو كې يو حق د شخصي حريم حق دى چې بايد د ټولنى هر غړى د نور و شخصي حريم ساتنى ته پآملرنه وكړي او پدى هكله خپل دينى ، وجدانى دنده ترسره كړي ، ځكه مونږ هله د مســؤليت اداء كولو دعوا كولاى شــو چې د نورو حقونو او منزلت ته احترام او اعتنا وكړو د اسلام سپيڅلى او انسان جوړونكى دين چې يو كامل ، شامل او پوره نظام دى دى مسئلى ته ځانګړى اهتمام وركوي ، ځكه تجسس او دخلكو د رازونو لو څول ناوړه نا مشرــوع ، غير اخلاقى ، ناروا او حرام كار دى ، دهمدى لامله د اســلام شريف دين تل خپلو پلويانوته توصــيه كوي چې دى مســائلو رعايت وكړي او له تجسس او د شخصي حريم د حقونو له نقض څخه يې منعه كوي ، دغه توصيه او فرمان يو ډير جامع او حساب شوى فرمان دى چې اجتماعي روابط پلي كوي او دامنيت مســئله په كامل ډول څرګندوي او په هراړخيز ډول يې ټولنه كې تضـمينوي ، د نورو په شـخصي- حريم كې تجسـس له يوى خوا د پټو رازونو د بر بنډېدو او دخلكو ترمينځ د نزاع او بيلتون لامل ګرځى له بله اړخه د نورو په كارونو كې تجسس او دهغوى په شخصى حريم باندى تيرى د اسلام له لرليده ګناه ده ، د هـمدى كبـله داســلام مـقدس دين هيڅكـله اجازه نه وركوي چې د نورو خصـوصي راز خپور شي ، بلكه عزيز اسـلام غواړى چې خلك په خصـوصـى ژوند كې په هر لحاظ په امنيت او امن كې وخت تېركړي.

خصوصي حريم څه څيزدى؟

خصوصي حريم د هر سړي د خاصى محدودى په معنا ده چې نورخلک نشي- کولاى چې دغه محدوده کې ننووځي يايې پرخلاف شي شخصى حريم په بيلابيلو سطحو سره د پام وړگرځيداى شي ، کله کله د يو شخص خصوصى حريم څخه مقصد داوي چې آن ځامن هم د ډيرونزدى خلکو په توگه نشي کولاى چې ورنزدى شي. حريم دهغه څه په معنى چې دودانى او خونى په چاپير کى ورپورى تړلى وي او هغه ځاى چي ساتنه او دفاع ورڅخه واجب ده ، او خصوصي د شخصي- په معنا هر هغه څه چې دوگړو خصوصي ژوند په نظر کې ونيسي- کارول شوى ده. د تحريم ، حرم ، حرمت ، احترام الفاظ يوه ريښه لري حقوقي پلوه حريم د حرمت څخه د منع په معنا ده ، ځکه د نورو تيرى د حريم د څښتن پر حق باندى ممنوع دى ، د همدى لامله خصوصي حريم د هغه ځاى او مکان په معنا ده چې يو فرد پورى ځانگړى وي او دفاع ورڅخه واجب او تيرى ورباندى ممنوع وي او حريم يوه عربى کلمه ده په لغت کې د منع په معنا ده او په اصطلاح کې حريم يوه اندازه ځمکه ده چې د ملک ، نهراو بيالو او نورو شاه خواوي چي ځمکى څخه د پوره گټې اخستنى لپاره اړتيا ورته وي .

په بل عبارت : خصوصي حريم د بشريو انساني او اساسي حق او منطقى غوښتنه ده .

په ټولیز ډول خصوصي حريم څه شی دی ؟

لکه څنګه موچې وړاندی یاده کړه ، حريم دهغه څه په معنا چې د ودانی او خونی شاوخوا او ورپوری تړلی وي ، همداشان کیدای شي چې خصوصی حريم د حقوقي ، سیاسي او اخلاقي نظره د توجه وړوګرځي او د بیلابیلو لرلیدونو څخه یې وڅیړو د انسان شخصي حريم د اسلام شرعي مقاصدوله ډلی چې دخلکو د دین ، نفس ، عقل ، مال او عرض ساتنه ده شمیرل کیږي چې څلور یې زموږ د بحث څخه بهر دي ، لکن عرض د پت ، اعتبار ، حرمت ، شرافت ، او وجاهت د انسان د اسلام د مبین دین مؤکد و تعلیماتو څخه شمیر کیږي نو په خصوصی حريم کې تر ټولو مهم عنصر او اصلي مولفه د اشخاصو آبرو او عزت مسئله دی چې په قرآنی تعلیماتو او نبوی سیرت کې هومره د پت او حیثیت انسان ته توجه شوی او تاکید پری شوی آن چی خپله شخص هم نشي- کولای او حق نه لري چې خپل عزت تر پشولاندی کړي بلکه انسانان باید دخپل عزت احترام وکړی او په ساتنه کې یې هڅه وکړي ځکه چې د اسلام خوږ پیغمبر ﷺ پدی هلکه داسی لارښوونه کوي: (**فان الله حرم عليكم دماءكم و أموالكم و أعرضكم كحرمة يومكم هذا، في شهركم هذا، في بلدكم هذا**).[1]

يعني : (په رښتیا چی ستاسی وینی ، شتمنی ، عزتونو یو بربل حرام دي لکه حرمت د دی ورځی ستاسو پدی ښار او دی میاشت ستاسو).

---

١ - صحيح البخاری ، حديث: ٦٠٤٣.

د خصوصي حريم ډولونه :

۱ – حدودي حريم: د يو هيواد د سرحداتو او سر سيموڅخه عبارت ده چى د بين المللي ترونونو سره سم ټاکل کيږى اودبدلون وړنه وي

۲- فضـايي حريم : د هيواد د فضـا هغه برخه ده چې بېلابېلو ځانگوکې گټه ترى اخســتل کيږي ، او کله کله بل هېواد د الوتکى له لارى د دى لارى پرى تېريږى بايد له وړاندى اړوند هېواد سره تفاهم وشي گنى د هېواد دفضـــايى حريم نقض شميرل کيږى.

۳ – ميشت ځاى حريم : د افرادو خصوصي حريم دى چې د ملکيت اسنادو کې درج وي او د مالک حق ثابتوي او هيڅ څوک حق نه لري چې بى اجازى وردننه شي .

۴ – زراعتي حريم : څنگ به څنگ کيدل د ځمکى د يو شخص د بل شخص د ځمکى سره چې تر مينځه يې د اوبو بياله ، کښـــتى ځمکى پوله يا ټاکل شـــوى عامه لاره وي

۵ – ليکوالي حريم : د يو ليکوال ټول آثار ، کتاب ، رساله ، مقاله ، شعرونه ، قلم او نور فرهنگى او ليکوالي کارونه دهمده پورى تړاو لري او دليکوال د اجازى پرته هيڅوک د مداخلى حق پکې نه لري او دا شـــخصـــى گڼل کيږي ، او د هيواد اساسي قانون ته په کتو د اشخاصو ملکيت د تعرض څخه مصئون وي

٦ – کورنی حريم : د هيواد دودونو ، عرف او نافذه قوانينو ته په کتو کورنی هم د ا شخا صو شخ صي حريم ده او هيڅوک په هغه کې د لاس وهلو حق نه لري ، د لاس وهنی په صورت کې کورنی جوړښت او بنسټ نړيږی او د جګړو او جنجالونو لامل ګرځي .

٧ –مجازي حريم : فيسبوک ، يوتوپ ، الکترونيکی پست يا ايميل (بريښنالیک) هم د انســانانو دخصــوصي حريم يوه برخه ده ، ځينی خلک د بريښــنا ليک له لاری د کورنۍ ، کار ، مالی امورات او نوری مسئلی تبادله کوي په همدی اساس لاره پيداکول شـخصي- بريښـنا ليک د يوشـخص ته د هغه په خصـوصي حريم د تيري په معنا ده چی شرعاً حرام دی ، او هيچاته رواندہ چې د افرادو د خصوصي حريم بر بنډولو په موخه ياد تفريح او وخت تيرولو په نيت د هغو د بريښـــنا ليک هک کولو او غلاکولو اقدام وکړي.

٨ –ا ستراق سمع : تيلفونی ، تلګرامی وغيره خبرو اوريدل هم د افرادو شخ صی حريم برخه ده آن چې شخصي ليکونه هم په دی بحث کې را تلای شي ، بريښنا ليک خصوصی خبری اتری ددوو ترمينځ.

د هستوګنځي احترام :

په فقه کې د هستوګنځي احترام په هکله راغلي دي چې : کچيری کوم و سلوال د (يرغل په توګه) د چاکور ته ننووځي او ووژل شي وينه يې توی ده ، که څوک د بل چاکورته د سترګو څرولوپه موخه وګوري د کور څښتن کولای شي هغه منع کړي او کچيری يی لاس نه اخست ديو څه پر اچولو دی وشړي پدی صورت کې

کچیرى تېپى يا کوم نقص پرى راغى آن که ووژل شو نو وينه يې توى او هدر ده او دکور څښتن گړم ندى ، بناءً خصوصي حريم د ښاري حقوقو يو ا ساسي حق په عنوان د انساني مهمو ارزښتونو لکه : د کرامت ، شخصيت ، فردي استقلال ، شخصي روابطو پراخوالي د صميميت ، تلپاتى روانى امنيت خپراوي،پراحساساتو او افکارو حاکميت او نورو ساتنى سره عميقى اړيکى لري .

د هستوگنځي حريم په هکله په قرآنکريم کې ځينى ادبونه بيان شوي دي چې د کورد اوسيدونکو د موافقى پرته او د دروازى پرته په بله لارننوتل حرام گرځول شوي دي لکه چې الله تعالى په قران کريم کې فرمايى : (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا**).[1]

يعنى : اى مؤمنانو ! هغه کورونو ته مه ننوځى چې ستا سونه دي مگر ورو سته د اجازى اخستلو څخه (په زنگ وهلو يا ټکولو او نور) او سلام کولو پراوسيدونکويى ، دغه کار ستا سو لپاره غوره دى له (پرته د اجازى او سلام کولو څخه ننوتلونه) هيله ده چى : تاسى دغه دوه کارونه د نورو کورونو ته د تللو پر مهال مراعلت او هغه په نظر کې ولرئ ، که کورکې مو څوک بيا نه موند چى اجازه درکړى ، نو هلته مه ننوځى ترڅو ، څوک پيداکړى او تاسوته اجازه درکول کيږى که بياهم تاسوته (اجازه درنکړاى شوه) او درته وويل شول چې بېرته وگرځئ نو بېرته وگرځئ (و ټينگار مه کوى) دغه(کار بېرته گرځيدل) ستا سو حال سره ډيرور او

---

١ - د النور سورت ٢٧ آيت.

منا سب دى ، الله ﷻ په هغو كارونو ښه پوه دى چى تاسي يى كوى نو دهغه له لارښونو څخه سرغړاوى مه كوئ او همدا شان فرمايى (**ولا تجسسوا**).
يعنى : جا سوسي او پردى مه شلوئ .) همدا شان د بشريت ښوونكي سيدنا و نبينا محمد مصطفى ﷺ د يو حديث په ترڅ كې چې شيخينو(امام بخارى او امام مسلم) روايت كړى فرمايلي دي : ..... استراق سمع مه كوئ او د (جاسوسى په موخه) په پټه د خلكو خبروته غوږ مه ږدئ ، او دجاسوسى او دخلكو درازونو له لو څولو څخه ډډه وكړئ.) د همدغو اساسي قرآنى لارښوونو په بنسټ ؤچې د راشدينو خلفاؤ په زمانه كې په ځانگړى ډول د سيدنا عمر رضى الله عنه د خلافت په دوران كې دوگرود كورونو د حرمت مراعات كيده او هرچاپه خپل كوركې د سوكالى او آرامى احساس كاوه .

په شخصي حريم تېرى حرام دي :

د اسلام پاكيزه شريعت دوگړو په خصوصى حريم باندى تېرى حرام كړى او سخته رټنه د مسلمانانو په حريم باندى تيري كوونكى لپاره راغلى لكه : تجسس تحريم ، د خلكو د اجازى پرته د هغو خبروته د غوږ نيولو حرمت، د نورو دكورنو چاپيريال ته د كتلو تحريم او د نورو كورنوو ته د اجازى پرته د سراوږ دو لو تحريم. لكه چى قرآن كريم دغه د بشريت ځلانده مشعل او دهدايت سرچينه فرمايى :
(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا).[1]

---

١ - د الحجرات سورت ١٢ آيت.

دهېواد اساسي قانون کې د نورو په شخصي حريم د تيرى ممانعت :

د افغانستان اساسي قانون دوګړو خصوصي حريم موضوع د مهمو موضوعاتو څخه ګڼلی ده چې تل د دولت او عدلي او قضايي چارواکو په مټ ساتل شوی او احترام ورته شوی د افغانستان اساسي قانون ۳۸ ماده پدی هکله داسی څرګندونه کوي ، دشخص هستوګنځی مصئون دی د تيري څخه ، هيڅوک د دولت په شمول نشی کولای د هستوګن د اجازی يا دبا صلاحيته محکمی د فيصلی پرته او د اظطراری حالاتو پرته چې په قانون کی څرګند شوی د چا هستوګنځي ته ننووځي ، ياهغه ولټي ، بناً د افرادو شخصی حريم ساتنه په ټولو قوانينو ، بين المللي کنوانسيونونو کې د توجه وړګرځيدلی ده.

د انسان د پت ساتلو وجوب :

آبرو يا پت دانسان د عرض ، حرمت ، شرافت ، کرامت ، او وجاهت په معنا د اسلام د تاکيد وړ ، په ټولو اديانو کې د پنځو مقاصدو څخه د يو مقصد په عنوان ځانګړی شتون او حضور لري ، او په قرآنی آيتونوکې آبرو د وجاهت ، عفت ، په نوم ياده شوی ده الله ﷻ فرمايی: (**قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا**).[1]

ژباړه : هغوی وويلی : ای مريم نا آشنا ناوړه کاردی کړی! ای دهارون خوری ! نه دی پلار کوم بد سړی ؤ او نه دی مور کومه ناوړه ښځه وه. داحزاب په سورت کې

---

۱ - د المريم سورت ۲۷-۲۸ آيتونه.

رب العلمين فرمايى: (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَى فَبَرَّأَهُ اللَّهُ مِمَّا قَالُوا وَكَانَ عِندَ اللَّهِ وَجِيهًا**).[1]

يعنى : (اى مؤمنانو ! د هغو كســانو په څېر مه اوســئ چې (په ناروا خبرويې) موسى عليه السلام زوراوه او رنځ يې وركاوه) او الله ﷻ هغه د هغه څه څخه چې هغوى ويلى تبرئه كاوه او هغه الله تعالى ته عزتمن او د قدر من ؤ) . افراد د سپكاوى او شرمولو څخه منع شوى او د چاپرده لوڅول او عيب يې ښكاره كول او عزت يې تر پښو لاندى كول لويه گناه گڼل شوى او سخته سزا ورته ټاكل شوى ده .

دحضرت يوسف عليه السلام كيسه:

اســلام د انســان د كرامت او شرافت ســاتنى لپاره ، د حيثيت عاده روا كړى او د يوسف عليه السلام د كيسى په بيانولو كې په زندان كې د حيثيت دا عادى لپاره د هغه هڅه يادوي او د ا چې حضرت يو سف عليه السلام هومره خپل حيثيت او عزت ته قايل ؤ چى ديته حاضرنه ؤ چى د پاچا عفوه او ښښــنه قبوله كړي او د حيثيت د اعادى وړاندى د زندان څخه بهر شي د همدى لامله پاچا يو مجلس نيســى او وروســته د حيثيت دا عادى او له مينځه تللى آبروڅخه ، يوســف عليه الســلام حاضريږي چې له زندان څخه بيرون شي لكه چى قرآن كريم پدى هكله

١ - د الأحزاب سورت ٦٩ آيت.

فرمايي: (وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ فَلَمَّا جَاءهُ الرَّسُـــولُ قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْـــأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللاَّتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ) .[1]

يعنى : پاچا وويلى : ((هغه ماته راولئ)) خو کله چې دهغه اســـتازى ورته راغى يوسـف وويلې: خپل يارته بيرته ورشـه ! او دهغه څخه وپوښـته چې د هغو ښـځو کيســـه څنګه وه چى خپل لاســـونه يې پرى کړل ؟ چى زما رب دهغوى په دوکه خبردى)). هو ! پاچا د ساقى په بيان سره له پيله هم په يوسف عليه السلام زړه بايللى ؤ ، اوس يې چې ښـــه تعبير او تدبير د رعايت د رعيت يې له هغه څخه واوريده نو دهغه په علم ، فضـيلت ، هوښـيارى او اخلاقومين شـو امريي وکړ چې هغه حاضر کړي او غوښـــتل يې چې له ليدو څخه ګټه ترلاســـه کړى او دهغه د وړتيا سره سم يې احترام وکړي . کله چې دپاچا قا صد د فرمان سره يو سف عليه السـلام ته ورغى ، نو د ددى لامله چى يوسـف عليه السـلام خپل عزت او ديني ، اخلاقي احترام د دنيا ټولو څخه اوچت ګا ڼه او پوهيده چې د خلکو بدګمان د الله تعالى د پيغمبر په وړاندي د هدايت او ارشـــاد په لار کې ســـتره ســـتونزه ده اوکچېرى نن په پټه خوله د پاچا په فرمان له زندانه ووځم او هغه تور چى ځما د دى څو کلونو د بندى کېدو لامل شوى له بيخه له مينځه لاړ نشي ، کيداى شي ډيرى ځما د عصـمت په اړه ناخبره خلک تذبذب او شـبه ولري او حسـد لرونکي خلک څه موده وروسته د دى بى ا صله اغيزوڅخه ګټه پورته کړي او بيا لاملونه را ټول کړي ، دغو مصالحوته په کتلو يوسف عليه السلام د پاچا فرمان عملى نه کړ

---

١ - د يوسف سورت ٥٠ آيت.

او صبر او ثبات څخه يې كار واخست او د پاچا ا ستازي ته يې وويل : پاچا څخه پوښتنه وكړه ؟ چى آيا خبرياست ولى د مصر ښځو د ميلمستيا په مهال خپل لاسونه پرى كړل ؟ ! يوسف عليه السلام د ښځو نومونه يادنه ول خو دومره پوهيده چى دغه پېښه هرومرو عواموكي شهرت لري د همدى لامله يې يوازى د واقعى هغه مهمه برخه يعنى د لاس پريكون يې څرگند كړ او پاچا يې متوجه كړ چى دغه مشهوره كيسه وڅيړي ، غالبا يې دا گمان ؤ چى اوس به د مصر ښځى مقصد څرگند كړي .

لنډه دا چى يوسف عليه السلام د برائت ثابتولو او حيثيت راگرځولو پرته له زندانه ونه ووت ، د ټولو قرآنى آيتونو څخه دغه معنا جوتيږى چى د فرد د عزت ساتلو دنده نه يوازى د شخص دنده ده بلكه ټولنه او دولت هم وظيفه لري . نو هيڅ حقيقى او حقوقى انسان يا دولتي بنسټ د افرادو په خصوصى حريم تعرض نشي كولاى او ځان ، مال او آبرو د ا شخا صو ته زنان نشي رسولاى ، دولت بايد دى ځانگى ته داخل نشي او تجسس يا څيړنه ونه كړي آند قوانينو او مجازاتو په سختولو سره دى د دى ځانگى امنيتي كچه لازياته كړي.

پايله او نتيجه :

لومړى : بايد د الهى فرمانونو او احكامو مطابق د نوروخصوصي حريم باندى له تعرض څخه جدا لرى اوسئ.

دوهم : د هېواد اساسي قانون په صراحت (شخصي ملكيت د تعرض څخه مصئون دى) باند بايد عمل وشي

دريم: نه ښايي چې د ټولنى د يو فرد خ صوصي حريم تورن کړو ، د پيغمبر عليه الســلام د دى وينا پر اســاس چى فرمايى (لايؤمن أحدكم حتى يحب لأخيه ما يحب لنفسه).[1]

څلورمه : د افرادو د آمدني ، پس انداز په اړه پوښتل راپښتلو ، بوختيا او درسمى افرادو تخصص څيړلو څخه په غير ضروري شرايطو ځان وساتو .

پنځم: پلټنه او پوښتنه د عمرونو او شخصى رابطى د نورو سره هم بايد ونکړو.

شپږم: د نورو د هستوګنځي خصوصي حريم ته کتل حرام دي

اووم: د نورو پيغامونو ، بريښــناليکونو ، ياد داشــتونو ، همدارنګه تيلفوني خبروته غوږ نيونه منع دي

اتم: څوک چې د نورو شــخصي- حريم ته احترام کوي هغه خپله هم په امان کې وي او هغه کســان چې دى اړخ ته توجه نه کوي ، دشــخصــيت او هويت څخه کميږى او تل په بيلابيلو مصــيبتونو اخته وي ، همداشــان هغه هېوادونه چې کلکى او محکمى پولى لري د هرډول انتحار ، انفجار ، او بهرنى لاســوهنى څخه په امان کې وي

استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين، فاستغفروه انه هو الغفور الرحيم

---

١ - صحيح البخاري، حديث: ١٣.

٤٩

د انسان کرامت او دهغه د وژنې حرمت

الحمد لله الذي خلق الانسان في أحسن تقويم و كرمه على سائر مخلوقه و سخر له مافى السموات و ما فى الأرض و جعله مسجودا للملائكة و فضله على كثير ممن خلقه تفضيلا، و الصلاة و السلام على سيدنا محمد و على آله و أصحابه أجمعين.

قال الله فى محكم التنزيل و هو أصدق القائلين ، أعوذبالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم: (وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا). [١]

و قال رسول الله ﷺ : **(لزوال الدنيا أهون عندالله من قتل مسلم).** [٢]

د اسلام د ټولنيز نظام د مهمو ارکانو څخه يو هم د انسان د ځان او کرامت ساتنه او دهغه دوژلو حرمت دی نو زموږ د ټولنی او سنيو ستونزو ته په کتو سره ښه ده چی پدی اړه معلومات ولرو: الله پاک پخپل بلاکيف لاس سره انسان پيدا کړ او

---

١ - د الاسراء سورت آيت:٧٠ .

٢ - د سنن الترمذی حديث:١٣٩٥.

پخپل قدرت سره یی هغه ته عقل او فکر ورکړ ، اوریدل او لیدل یی ورکړل که چیری هغه دقت او مهارت ته چی د انسان په جوړښت کی ترسره شوی نظر وکړو هیڅ مخلوق ورسره برابری نشيـ کولی ، الله پاک د قرآن کریم په څو ځایونو کی د انســان د خلقت او مختلف پړاوونه په تفصــیل سره بیان کړي او هغه یی اشرف مخلوقاتو گرزولی ، لاندی آیتونو ته دقت وکړو:

الله پاک فرمایی: (**انا خلقنا الانسان من نطفة أمشاج نبتليه فجعلناه سميعاً بصيرا**).[1]

ژباړه: او موږ انسان د گډی نطفی نه را پیدا کړ او دا چی آزمیښت یې کوو نو هغه مو اوریدونکی او لیدونکی گرځولی.

همدارنگه فرمایی: (**لقد خلقنا الانسان فی أحسن تقويم**).[2]

ژباړه: په یقین سره مو انسان په ډیره ښکلی بنه او خلقت سره پیدا کړی.

او فرمایی: (**الَّذِي أَحْسَـنَ كُلَّ شَـيْءٍ خَلَقَهُ وَبَدَأَ خَلْقَ الْإِنسَـانِ مِن طِينٍ ثُمَّ جَعَلَ نَسْـلَهُ مِن سُلَالَةٍ مِّن مَّاء مَّهِينٍ ثُمَّ سَوَّاهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ**).[3]

---

١ - د الانسان سورت ٢ آیت.

٢ - د التین سورت ٤ آیت.

٣ - د السجده سورت ٧-٩ آیتونه.

ژباړه: او الله هغه ذات دی چی هر څه یی پیدا کړی او انســان یی له خاوری را پیدا کړ (دهغه پیدایښــت یی له خاوری را پیل کړ) بیایی نســل د ناچیز او بوله عصــاری نه را پیدا کړ، وروســته یی اندامونه ورپوره او ویی پوښــل او له خپل روح څخه په هغه کی پو کړل او تاســوته یی غوږونه ، ســترگی او زړونه درکړل(خو) تاسی کم د هغه شکر اداء کوی.

پرته له شــکه د انســان خلقت ډیر پیچلی دی او زیات ظرافتونه پکی پکار اچول شـویدی په پیدایښـت کی هیڅ مخلوق ورسره شـباهت نلري او د انسـان وجود د الهي لوړ قدرت او حکمت نمونه ده.

د انسان ارزښت:

انســان دومره ارزښــت لري چی الله پاک ټول موجودات د هغه خدمت لپاره پیدا کړي او متعدد مخلوقات یی دهغه نفعی لپاره ورته مســخر کړي یعني د هغه ترولکی لاندی یی راوستلي دي قرآن کریم پدی اړوند فرمایی: (**هوالذي خلق لکم ما فی الأرض جمیعاً**).[1]

ژباړه: الله هغه ذات دی چی ټول موجودات او هغه څه چی ځمکه کی دي تا سو لپاره پیدا کړیدي

---

۱ - د البقری سورت ۲۹ آیت.

په آســـمان کی توری ، گڼی وریځی په ځمکه کی ډیر او قیانوســـونه طوفانی دریابونه روان رودونه تازه او شنه فصلونه ټول د انسان په خدمت په آسمان کی مامور او مشـغول دي او انســان غوره د مخلوقاتو دی ملائکو ورته سـجده کړی او ټول موجودات یی په خدمت کی دي ، دا دانســـان ارزښـــت او مقام دی چی پرښـتی یی هم د انسـان خدمت ته گوما رلي ، ځینی یی ورځخه حفاظت کوي ، ځینی ورته د خیر دعاوی کوي ، ځینی یی عملونه لیکي ځینی دده سره دي ، د پیغمبرانو بعثت د انســانانو د لارښــوونی لپاره هم د انســان په اهمیت او ارزښـت باندی دلالت کوي.

همدغه انســاني احترام او عزت په اســاس الله تعالی هیچاته دا حق ندی ورکړی چی د چاپه ځان او مال باندی پرته له الهی حکم نه ډیر کوچنی تعرض هم وکړي.

تاســی یو زحمتکش باغوان ته متوجه شــی چی پخپله ځمکه کی یی باغ ایښــی ونی او بوټي یی کینولی او رنگ رنگ گلان یی کرلي آیا باغوان دا منی چی څوک پرته د ده له اجازی نه دهغه باغ ته ور داخل او گلان یی پاڼی پاڼی کړي ، ونی غوڅی او باغ له منځه یوسي ؟ نه هیڅکله نه!

پوهیږی کله چی گیاوی او ونی په باغ کی مړاوی او وچې شي او یا څوک ورته کاڼی واچوی نو د باغوان په زړه به څه تیریږی؟

یو جوړوونکی – صـنعتگر – ته توجه وکړئ که څوک یی دلاس جوړ شـوي شـیان مات کړي نو څه عکس العمل به وښـی، ایا نو ختګر اجازه ورکوي چی منگی یی پرته له دلیله مات شي؟

د یوه انسان وژنه په ناحقه سره د ټولو انسانانو د وژنی سره برابر ده:

نو الله پاک چی انســان یی پخپل لاس او قدرت سره پیدا کړی او هغه ته یی لوړ مقام ورکړی څرنگه به دا ومنی چی دا مخلوق یی د ســپکاوي مورد وگرځي او یا له منځه ولارشي په همدی وجه الله پاک دیوه انسان وژل پرته له شرعي مجوزه د ټولو انسانانو د وژنی سره معادل بللی دی.

د اسـلام له نظره د هر انسـان ځان مسـلمان وي یا غیر مسـلمان محترم دی او د ځان اخیستل یوازی د روح ورکوونکي ذات حق دی او بس.

پرته له ځان ورکوونکي او روح پیداکوونکي بل څوک د ځان اخیستلو حق نلري

واقعا څومره گرانه او د تحمل وړنده چی یو بی گناه انســان چی د خپل خالق دومره د لطف او مهربانی مخلوق دی، د یوه بل ســخت زړي او قاسي انســان لخوانه په یوه لحظه کی له منځه ولاړ او د ظلم او تیري قرباني وگرزي آیا دغه سخت زړي او بی رحمه قاتل دا فکر کړی چی د څومره لوی جنایت مرتکب شو؟ او څومره ارزښتناک مخلوق یی پرته د خالق له اجازی نابود کړی؟ او د انسانیت

د بڼ نه یی څومره ښــکلي نیالگی له منځه وړی او د بشرـیت د باغ گل یی پانی پاڼی کړی ، حتماً به پیدا کوونکی خالق د دغه قســـی القلب قاتل نه کســـات اخلی.

د هر انســان قتل په حال کی یو دروند او خطر ناکه جرم دی ، خو دیوه مسـلمان وژل د هغه ایمان او اســلام ته په کتو سره ډیر دروند او څوچنده خطرناک دی له همدی کبله یی سزا سخته او ډاروونکی ده.

د نفس وژل د آیتونو په رڼا کې:

الله تعالی فرمایی: (**وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا**).[1]

ژباړه: او څوک چی یومؤمن په قصـــدي ډول سره ووژني نو جزایی دوزخ دی چی همیشــه به پکی وي او الله به ورته په غصــی وي لعنت به وربانـدی کوي او ده ته یی سخت عذاب برابر کړی.

په دغه مبارک آیت کی الله پاک پنځه ډوله سزا د قاتل لپاره بیان کړی:

۱ – دوزخ

۱ - د النساء سورت ۹۳ آیت.

۲- په دوزخ کی دایمی پاتیدل

۳- الهی غضب

۴- لعنت

۵- لوی عذاب

د قاتل لومړنی ســزا دوزخ او دوهمه یی په دوزخ کی دایمی پاته کیدل (**خالدا فیها**) له همدی کبله د (جهنم) د ذکر ورو سته راغلی چی ډیر گنهکاران دوزخ ته داخلیږی خو د لږ یا ډیر وخت نه وروســته بیا ورڅخه خارجیږی. خو قاتل داســی ندی بلکه باید همیشــه په دوزخ کی پاته شــی قاتل درییمه ســزا داده چی الله تعالی به خپل قهر او غضب وربانـدی نازلوي او دهغه به قتل د ورځی نه د ژوند تر آخري ورځی پوری پخپل ژوند کی د الهي غضــب او قهر سره مخامخ وي ، او دا قهر او الهي غضب یی مرگ وروسته هم ملتیا کوی.

ځلورمه ســزا لعنت یعنی د الله د رحمت او مهربانی نه محرومیدل دی علامه مفتی محمد شفیع عثمانی په معارف القرآن تفسیر کې د دغه آیت لاندی لیکي : لعنت عبارت دی له لری کیدو د الله د رحمت نه په زیاتو او بی نهایته رســوایی او ذلت باندی اخته کیدو او هر څوک چی د الله لعنت وربانـدی وشي هیڅکله به

الهي قریب ته ونه سیږي او له هر خیر نه به محروم پاته وي لکه چی په بل ځای کی د لعنت شوو په اړه فرمایی: (**و من یلعن الله فلن تجدله نصیرا**).[1]

ځوک چی الله وربا ندی لعنت ووایی نو هیڅکله به یار او کومک کوونکی پیدا نکړي یعنی داسی به تل او په هر ځای محروم او ناکامه وي.

پنځم څیز چی الله تعالی قاتل وربا ندی تهدید وی ، لوی عذابدی دوزخ ته تلل پخپله یو دردوونکی عذاب دی خو ځینی دوزخیان دوزخ ته له داخلیدو علاوه په نورو دردونکو عذاب اخته کیږي قاتل به هم همدارنگه وي ځکه الله تعالی بیان کړی چی ســخت عذاب یی ورته تیا کړی چی له معمولي عذاب نه به څو برابره سخت او دردوونکی وي. (العیاذ بالله)

د نفس وژل دروایتونو په رڼا کې:

کله چی نبی الرحمة ﷺ ظهور وکړ په نړی کی فساد او وینه تویول خورؤ د انسان ځان هیڅ ارزښـــت نه درلود او په ډیر کوچنی څیز باندی به جگری کیدلی چی کلونه به یی دوام کاوه او بی شمیره انسانان به وژل کیدل.

---

۱ - د النساء سورت ۵۲ آیت.

رسول الله ﷺ د انسان ځان ته درناوی وکړ او قاطع امریې صادر کړ او دوژنی او وینی توییدنی سره یی په کلکه مبارزه وکړه اوس هغو نبوی ملغروته اشـــاره کوو چی دقتل اړوند دی:

عن ابن مســعود رضي الله عنه قال: قال رســول الله ﷺ : (أول ما يقضـــى بين الناس يوم القيامة فى الدمآء).[1]

ژباره: ابن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چی رسول الله ﷺ : لومړنی مسئله چی دقیامت په ورځ به یی د خلکو تر منځ فیصـــله کیږي هغه د قتل دعواگانی دي.

د یاونی وړه ده چی په ځینو روایتونو کی راځی: د قیا مت په ورځ به لومړی پوښـــتنه د لمانځه په هکله کیږي او په ځینو کی راځي چی د شرک او توحید پوښـتنه به کیږي پدی اړه علماؤ دارنگه توضـیحات ورکوي : چی د عقیدی اړوند به لومړی د توحید او شرک په اړه پوښـــتنه کیږي او د عباداتو په برخه کی به لومړی د لمانځه مو ضوع مطرح کیږي او د حقوق العباد په اړه به لومړی قضاوت د ناحقه وژلی د موضوع په برخه کی ترسره کیږي.[2]

---

١ - صحيح البخارى، حديث: ٦٥٣٣.

٢ - . فتح الباري شرح صحيح البخاري باب يوم القيامة ج ١ ص ٣٩٦ ،المكتبة الشاملة.

عن ابی هریرة رضی الله عنه أن رسول الله قال : (اجتنبوا السبع الموبقات، قیل: یا رسول الله! ما هن قال: الشـرک بالله، والسـحر و قتل النفس التي حرم الله الا بالحق و أکل مال الیتیم و أکل الربا و التولي یوم الزحف و قذف المحصنات الغافلات المؤمنات).[1]

ژباره: له اووه هلاکوونکو گناهو نه ځان وژغورئ پوښـتنه وشـوه ای د الله رسـوله هغه څه دی؟ رسـول الله ﷺ وفرمایل : د الله سره شریک نیول ، سـحر او دهغه نفس وژل چی وژنه یی الله نارواکړی مگر په حق سره د یتیم د مال خوړل ، سود خوړل ، ددښـمن د حملی پر مهال د جگری نه تیښـته او په مؤمنو پاک بی خبره ښځو پسی توری پوری کول.

له دغه حدیث نه را معلومیږی چی یو مسـلمان دا چی تیروتنه او خطا ورڅخه کیږی امکان لری ورڅخه گناوی وشي او دغه گناوی که څه هم زیاتی او د جزاوړ وي خو په توبه او ا ستغفار سره د بښنی او عفوی قابلیت لري ، خو په ناحقه سره وینه تویول نه پټی کیږي ځکه د انسان د یانت له منځه وړي او دقاتل شخص د بدبختی لامل گرزي او کله چی انسـان د الله درباره ورټل شـو نو ژوند به یی تنگیږی او نیک کارونه کول به یی بیا ورت؛ټه ونه رسوي.

---

١ - صحیح البخاری، حدیث: ٢٧٦٦.

ابن حجر رحمة الله وايي: په دين کی پراختيا نه مطلب دادی چی توبه قبول شي خو کله چی قتل وشي نو قاتل د توبی له قبوليت نه محروميږي ، د ټولې دنيا له منځه تلل اوړنګيدل دالله په وړاندی د ناحقه قتل نه کم ارزښـــته ده ، په بل روايت کی رانګه راغلي:

(**لواجتمع أهل السماء و أهل الأرض على قتل رجل مؤمن لكبهم الله في النار**).[1]

ژباړه: که چيری د يوه مومن شـــخص په قتل کې د أســـمان او ځمکی ټول اوسيدونکي لاس ولري نو الله به دوی ټول دوزخ ته بوزي.

عبدالله بن عمر وايي: (**ما أطيبک و أطيب ريحک و أعظم حرمتک و الذي نفس محمد بيده لحرمة المؤمن أعظم عندالله تعالى حرمة منک ماله ودمه**).[2]

ژباړه: يوه ورځ مى رســـول ﷺ وليد چی د بيت الله په طواف مشـــغول ؤ ويی فرمايل يی: ای کعبی ! ته څومره زړه وړونکی او خوشـبويه يی سـتا حرمت څومره لوړ او ډير دی ، خو ســـوګند په هغه ذات چی د محمد نفس د هغه په يدبلاکيف کی دی د مومن او دځان او مال حرمت د الله متعال په وړاندی ســـتا تر حرمت زيات دی.

---

١ - شعب الايمان، حديث: ٤٩٦٨.

٢ - سنن ابن ماجه، حديث:٣٩٣٢.

دقت وکړی کعبه شریفه چی زیارت او طواف یی د هر مسـلمان آرزو ده حتی که څوک یی په خوب کی هم ووینی نو د خوښـی او نیک بختی احسـاس به کوي ، کعبه چی د ټولو انبیاؤ اولیاؤ او مسـلمانو قبله ده کعبه چی دومره د الله په وړاندی حرمت لري چی هیڅوک دا حق نلری چی حتی پخپل سر راشـنه شـوی بوټي او گیاوي یی وشـکوي هغه کعبه چی هیڅوک دا حق نلري چی دهغی په لوی د خپلی خولی لاړی توکړي او یا پښی یی په طرف وغځوي هغه کعبه چی د الهي نور مرکز او د آسماني برکتونو ډیوه ده...

دهغی سره سره بیا هم ددغی کعبی حرمت او مقام د مسلمان په پرتله کمه ده له همدی کبله څوک چی د یوه مسـلمان په ځان او مال باندی تعرض کوي له سختو عواقبو سره مخامخ کیږي.

عن ابن عباس رضي الله عنهما قال : قتل بالمدينة قتيل على عهد رسول الله ﷺ لم يعلم من قلته، فصـعد النبي ﷺ المنبر فقال: يآ أيها الناس يقتل قتيل و أنا فيكم و لا يعلم من قتله لو اجتمع أهل السماء والأرض على قتل امرى لعذبهم الله الا أن يفعل ما يشاء).[1]

ژباړه: ابن عباس روایت کوی چی یو سړی د رسول الله په زمانه کی په مدینه کی ووژل شـو او معلوم نشـو چی چاوژلی دی نو رسـول الله ﷺ منبر ته خوت او ویی

١ - شعب الایمان، حدیث: ٤٩٦٧.

فرمایل: ای خلکو! یو څوک وژل کیږي پداســی حال کی چی زه ســتاســی منځ کی موجودیم ! او قاتل یې هم ندی معلوم چی چا وژلی دی ! بیایی و فرمایل: که چیری د آســمان او ځمکی ټول اوســیدونکي د یوه انســان په وژلو کی سره ملګري شي نو الله پاک به دوی ټولو ته عذاب ورکړي ، مګر دا چی د الله غوښتنه بل څه وي.

هغه کسان چی نن سبا د انسانانو وینی په ناحقه تویوی او دهغی اثر هم ورکوی پدی باید پوه شي چی رسول الله ﷺ مبارک زړه یی وزواوه او الله یی نارا ضه کړ . دا جنایتکار هیڅکله د الله تعالی نه نشيــ پټیدای او په دنیا او آخرت کی به دلیل او سواشي.

رسـول الله ﷺ فرمایی: (**کل ذنب عسـی الله أن یغفره الا الرجل یموت کافرا أو الرجل قتل مؤمناً متعمدا**).[1]

ژباړه: هره ګنا امید دی چی الله تعالی به یی وبښــي مګر د هغه چا ګناه چی مشرک مړ شوی وي او یا په قصد سره یو مسلمان مړ کړي.

شیخ سعدی د حکیمانو نه را نقل کوي:

---

۱ - مسند الامام احمد، حدیث: ۱٦۹۰۷.

(څوک چی الله پاک آزار کړي څو د خلکو زړه لاســته راوړي نو الله تعالی به هماغه خلک ورته را پورته کړي څو یی ژوند ورتریخ کړي.

آتش سوزان نکند با سپنه آنچه کند دود دل درمند

نماند ستمگر بد روزگار بماند براو لعنت پایدار

یعنی سـوزونکی اور چی سـپینلی ورباندی واچوی دود یی دومره زیان نه رسـوی لکه د هغه درمند مظلوم انســان د زړه آه چی ظالم ته به جزا ورکړي او هیڅ ظالم به په دغه زمانه کی پاته نشی مگر دا چی په ده باندی به لعنت دایماً اوریږی.

أبو موسـی أشـعري د رسـول الله ﷺ نه نقل کوي چی هغه مبارک فرمایلی : (اذا أصـبح ابلیس بث جنوده فیقول : من أضل الیوم مسلماً ألبسه التاج ، قال: فیخرج هذا فیقول: لم أزل به حتی طلق امراته فیقول: یوشـــک أن یتزوج، و یجيء هذا فیقول: لم أزل به حتی عق والدیه فیقول یوشـک أن یبر، و یجیئ هذا فیقول: لم أزل به حتی أشـرک فیقول: أنت أنت ویجئ هذا فیقول: لم أزل به حتی قتل فیقول : أنت أنت ویلبسه التاج).[1]

ژباړه: ابلیس د ســهار پر مهال خپل لښــکر دندی ته اســتوی اوو ورته وایی: هرچاچی یو مســلمان بی لاری کړ نوزه به تاج ورپه سر کړم یو کس له لښــکر نه یی له خپلی دندی راځی : ما زیار وایست څو یوه مسلمان یی خپله ښځه طلاقه

١ - صحیح ابن حبان، حدیث: ٦١٨٩.

کړه ، ابلیس ورته وایی : کیدای شی بله ښځه وکړی او بیا بل راځی او ووایی : ما ددغه مسلمان په هکله زیار وکړ ترڅو هغه خپل پلار او مور عاق کړ . ابلیس ورته وایی کیداي شي چی هغه به یی بیرته راضي کړي بیا بل ځلی اووای ما زیاروایست څو هغه مشرک شو ابلیس ورته وایی : ستا کار غوره دی بیا بل راځی او وایی : ما زیاوایست څو هغه قتل وکړ نو ابلیس ډیر خوښ شي او ورته وایی : ستا کار واقعاً ډیر غوره دی نو بیا ددغه کار په بدل هکی تاج ورپه سر کوي.

عبادة بن صامت رضي الله عنه وایی: رسول الله ﷺ فرمایی: (**من قتل مؤمنا ثم اغتبط بقتله، لم يقبل منه صرف ولا عدل**).[1]

(هرڅوک چی یو مسلمان ووژني او پخپل دغه ناوړ کار باندی فخر وکړي نو الله د ده نه هیڅ عمل نه قبلوي نه یی فرضي عملونه او نه یی هم نفلي.

په ډیر تاسف سره ډیر سخت زړی او بدبخته انسانان دارنگه دی ددی پرځای چی پښیمانتیاوښي لانورهم خپل ځان زړه وراو غیرتي بولي احساس کوي چی نیک بخته او سر لوړی شو، دا کسان باید پوه شي چی د الله په وړاندی دومره سپک او ذلیل دي چی هیڅ عمل یی نه قبلیږي.

---

١ - السنن الكبرى، للبيهقي حديث: ١٦٢٨٢.

دیني علماء وایی: څوک چی د یوه بی گناه انسان په وژلو فخر وکړي او خوشحاله شي نو د قیامت په ورځ به ده سره د قاتل په څیر چلند وشي اوبالاخره به د الله د قهر او غضب مورد و گرځي

رسـول الله ﷺ فرمایی: **(من قتل معاهداً لم یرح رائحة الجنة و ان ریحها توجد من مسـیرة أربعین عاماً)**.[1]

ژباړه: هرڅوک چی یو غیر مســلمان کس په اســلامی هیواد کی چی د ځاني تامین نه برخمن وي ووژني نو د جنت بوی به احســاس نکری حال دا چی د جنت بوی د څلویښتو کلونو مسافی لیری نه احساسیږي.

ځینی داسی وایی: چی د غیر مسلمان وژل په هر حال اجر او ثواب لري پداسی حال کی چی د انگیزه غلطه ده ، په پورتني حدیث کی (معاهد) ذکر شو معاهد غیر مسـلمان شـخص ته ویل کیږي چی د تولد د اولی ورځی نه په یوه اسـلامي هیواد کی استوگنه کوي او دهغه هیواد د اوسیدونکو له جملی نه حسابیږي . او یا دا چی د یوه غیر اسلامی هیواد نه په ویزه او قانوني توگه یوه اسلامي هیواد ته راغلی وي په هر حال د دارنگه خلکو وژل دومره لویه گناه ده چی سـړی د جنت د بوی نه په فرسخونو سره لیری کوي.

---

١ - صحیح البخاري، حدیث: ٣١٦٦.

د یادونی وړ ده چی د دارنگه خلکو وژل ددی ترڅنگ چی لویه گناه ده ، دمسلمانانو اخلاقي بڼه او ټولنیز اعتبار او باور د نا مسلمانو خلکو پّ وړاندی خرابوي او د اسلام د تبلیغ او توسعی مخه نیسي.

له دی سببه داسی خلکو باندی تعرض کول د وژلو یا برمته نیولو او یاورته د ضرر رسولو په بڼه وی حرام دی ، البته که د جنایت مرتکب شی نو دهغه هیواد د جنایي قوانینو مطابق به محاکمه کیږي او د خپلی گناه په سزا به رسي خو هیڅوک حق نلري پخپل سر باندی ددارنگه خلکو امنیت په یوه اسلامي هیواد کی په خطر کی واچوي.

۵۰

په اسلام کې د ماشوم حقونه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسول الله و على آله وأصحابه أجمعين.

امابعد: قال الله الحكيم في قرآنه الكريم أعوذ بالله من الشـــيطان الرجيم بســـم الله الرحمن الرحيم: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ).[1]

ترجمه : ای مؤمنانو ځانونه او کورنی مو دهغه اور څخه وژغورئ چې خا شاک یې انسانان ، ډبری دي . خپل ځان او تاسی بندگان د الله ، الهی تقوی مراعاتولو او محرماتو څخه پرهیزته رابولم . زمونږ ننی وینا په اســلام کې د ماشــومانانو حقونو په هکله ده.

ما ولی دغه سریزه وټاکله ؟ ماشـــومان په اســـلام کې څه حقونه لري ؟ او مونږ د والدینو په توگه په کومه اندازه د دی حقونو څخه خبریو او آیا دا مســؤلیت مواداء کړی دی ؟

---

۱ - د التحریم سورت ٦ آیت.

دا ډیری مهمی پوښـــتنی دي چې زمونږ مســـؤلیت پدی هکله نور هم لوړیږي ، کوچنیان د الهي ستر امانت په توګه ما او تاسو سره امانت دي .

پام وکړو چې دی الهی امانت کې الله مکړه خیانت ونشيـ ، د ماشـــوم حقونه یو مهم بحث او مهمو موضوعاتو څخه ده چې اوس بشري حقونو ښستونه یي څېړي او هڅه یې کړی چې دماشـــومانوســـاتنه وکړي د هغو ټولنیز و آفتونو او زیانونو په وړاندی چې کېدای شي ما شومان ورسره مخامخ شي ، ا سلامي دین د ژوند پوره نظام په توګه نه یوازی د ماشـــومانو حقونه یې تر پوښـــښ لاندی نیولي بلکه د موضوعه قوانینو څخه یې لازیات د ماشومانو حقونه مطرح کړي او د فاع یي تری کړی ده او ډیر مســـولیت یې مور او پلار ته متوجه کړی پېغمبر ﷺ وفرمایل : (**کل مولود یولد علی الفطرة فأبواه یهودانه أو ینصرانه أو یمجسانه**).[1]

هر ماشـــوم او کوچنی چې مور څخه پېداکیږي په اســـلامي فطرت او خداي غوښتنی فطرت دنیا ته راځي دغه ما شوم موحد او خدای پالونکی دی خودا مور او پلار دي چې د ماشوم زیږون څخه وروسته که مسیحی وي نو ماشوم مسیحی کیږي او که یهودي وي ماشـوم یې یهودي کیږي او که مجوسي وي نو ماشـوم د هغه په پل مجوسي کېږي ، نو دپلار او مور اغیز په برخلیک کې خورا جدي دی، کچېری د ماشـــوم راتلونکی وران شي نو مور او پلار به هم مســـول وي د دی وړاندی چې بحث ته داخل شو باید طفل او ماشوم وپیژنو: !

---

١ - صحیح البخاري، حدیث: ١٣٨٥.

د ماشوم پېژندنه:

اگر که د طفل لغت ساده مفهوم معلومیږي او کیدای شي تصور شي چې په عام عرف او ټولنه کې دطفل د معنی بدیهي کیدو لامله د هغه په معنی پوهیدل مهم نه وي ، خو باید وویل شي ، چې د حقوقی پایلو او کټې اخستنې په لحاظ چی لری یې ډیر مهم او د پاملرنی وړدی په همدی لحاظ د علماؤ او پوهانو ترمینځ دماشـــوم کلمی په تعریف او دا چې تر کوم پړاو عمره پوری کولای شـــو چې د ما شوم نوم د بشرپه افرادو وکارؤ اختلاف شته او د دی فن اکثرو متخصصینو یو خاص عمر د ماشـوم توب پړاو لپاره ټاکل شـوی ندی او یوازی د نښـو یادونه یی کړی ده ترڅو هغه نښـــی په افرادوکې څرگندی نه شي انســـان په ماشـــومتوب پړاوکې وخت تیروي ۳. ډاکتر وهبه الزحیلی په (**الفقه الاســـلامي و أدلته**) کتاب کې وایي : (**الصغر طور یمر به کل انسان یبدأ من حین الولادة الی البلوغ**) .[۱]

ماشـوم توب یو پړاو دی چې پر هرانســان راځی، پیل یې زیږون او پای یې بلوغ حدته رسیدل دي.

هغه څه چې د حقوقو د فقها ؤ او علماؤ څخه لاســته راځي دادي چې کوم ځانگړي عمر باندی توافق نشته او یوازی د ځینو نښو په ښکاره کېدو ویلی شو چې د ماشـوم توب پړاو پای مومي او کېدای شي د دی خبری اصـلي دلیل چې علماء په یو خاص عمر تاکید نه کوي د اوي چې د شرایطو او اوضـــاعو توپیر او د زمانی غوښتنی په نظر کې نیول وي او ډیر ځله داسی شوي چې په یوه دوره کې

۱ - الفقه الاسلامي وأدلته للدکتور وهبة الزحیلي، ج ٦، ص ۲۸۳ المکتبة الشاملة.

ډېر انسانان رشد ، جسمی او فکري حالته ورسيږي نه په بل دور کې ، همدارنګه چاپيريال او جغرافيا پدی مسئلې کې دخالت لري خود ماشوم حقونو کنوانسيون کې د ۱۸ کلن عمر لاندی ماشوم ته طفل ويل شوي .

په اسلام کې د ماشومانو ځينی حقونه:

۱ – **د والدينو يو شأن کېدل** : اسلام او سليم عقل حکم کوي چې جفت بايد د ډيرو اړخونو خصـــوصـــا د اعتقاداتو او ايمان له پلوه يو شـــان وي ، پېغمبر ﷺ مسلمانان ، د ناوړه ودونو څخه منع کړي دي ترڅو کورنی د هر ډول ککړتيا څخه پاکه اوسي او ماشوم په سوچه رحم او چاپيريال کې وده وکړي.

۲ - د والدينو حلاله غذاء:

د اســلام له نظره لاســته راغلی نطفه بايد د حلالې او پاکې غذا څخه وي ، ځکه حرامه غذا د ماشـــوم په راتلونکي برخليک باندی ناوړه روزنيزی اغيزی لري په همدی پړاو کې نطفه وروســـته بيا پرتمينه معجزه د خلقت ګورو ، الله ﷻ د قرآن کريم آيتونو کې فرمايي:

(ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْـغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْـغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ) [۱]

فرمايی: مونږ انسان د نطفی په بڼه په رحم کې راووست او نطفه مو د مور په رحم کې په علقه (تړلی يوه ټوټه وينه) بيا مو علقه په مضغه (ټوټه غوښه) واړوله او په

۱ - د المؤمنين سورت ۱۳-۱٤ آيتونه.

مضغه کې مو هډوکې راوټو کاوه ، او هډوکی مو په غوښی وپو ښاوه او پېدا موکړ بارک الله پر هغه خدای چې دیر غوره پېداکوونکی او خالق دی.

۳ - د سقوط څخه د جنین ساتنی حق:

د مور په رحم کې د جنین صـــحیح ســـاتنه د مور او پلار په غاړه دی ، لکه چې وویل شول د جنین سقوط بر سیره پردی چې په اسلام کې گناه ده او دیت لري د وضـعي قوانینو له نظره هم حرام دی ځکه جنین د مورد شـخصـیت څخه بیل شخصیت لري .

۴ – دژوند حق:

اسلام د ماشومانو وژل په هره بهانه چې وي منع کړي ، د فقر یا دفقر (تهدید په خاطر یا دکورنی د عزت په خاطر وي ، فقر او لاس تنگي په هیڅ وجه د ما شوم د قتل لپاره دلیل نشي کېدای ، او داسلام څخه وړاندی د ورکې عربانو ماشومان د لاس تنگي لامله وژل قرانکریم هغوی د دغه ناوړه عمل څخه منع کړل د اسرا مبارک سورت په یودیرشم آیت کې فرمایي:

(وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُم إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْ ا كَبِيرًا)[1]

خپل اولاد د لوږی له بېری مه وژنئ مونږ هغوی او تاسو ته روزي ورکوو.

---

۱ - د الاسراء سورت ۳۱ آیت.

۵ – عقیقه:

په اسلام کې یو حسنه سنت د ماشوم او نوي زیږیدلي لپاره د پسه حلالول دی د عقیقی په نوم او دبلا دفع د ماشــوم څخه ، په روایت کې نقل شــوي (**کل مولود مرتهن بعقیقته**)[1]

یعنی : عقیقه ماشــوم د ډول ډول بلاګانو څخه ســاتي او یا د شــولی حدیث په ځینو سرچینو کې د (کل غلام مرتهن بعقیقته) عبارت سره ذکر شوی دی . (**عن سمرة عن النبي صلی الله علیه وسلم قال** : (**کل مولود مرتهن بعقیقته یذبح عنه یوم سابعه و یسمی و یحلق**)[2]

سمره د پیغمبر ﷺ څخه روایت کړی ، هر مولود دخپلی عقیقی په ګاڼه کې دی، د زوکړی په اوو مه ورځ یی حلالیږي بیا نوم ایښــود نه او حلق ترسره کیږي ، همداشـــان په بل حدیث کې راغلي دي : (**عن قتادة عن انس بن مالک قال : عق رسول الله صلی الله علیه وسلم عن حسن و حسین بکبشین**).[3]

په بل حدیث کې راغلي دي :

(**عن عائشــة رضــی الله عنهما عن النبي صــلی الله علیه وســلم قال: یعق عن الغلام شــاتان مکافأتان و عن الجاریة شاة**).[4]

---

۱ - د سنن أبي داود، حدیث :۳۱٦٥.

۲ - سنن أبی داود، حدیث : ۳۱٦٥.

۳ - رواه أبو داود.

٤ - سنن البیهقی، حدیث: ۱۹۷۷۲.

او په بل حديث کې راغلي دي : (**عن ابن عباس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يقول: عن الغلام عقيقتان وعن الجارية عقيقة**). [1]

چې د معنا له نظره ټول يو شان دي ، عقيقه يو موکد سنت دی هغه کسان چې مالي وس نه لري نو کله يې چی وس پېداکړ عقيقه دی وکړي او که هيڅکله يې عقيقه ونکړای شــوه نو پروانه لري . د عقيقی په ســنتوالي کې د نجلی ، هلک ، لومړي ، دوهم او نوروکې توپير نشته ، په عين حال کې عقيقه يو ډول شکراومننه کول دي د الله ﷻ څخه چې د اولاد څښــتن شــو داســی نعمت چې د دنيا په نعمتونو کې سيال نه لري.

د عقيقي تاريخي مخيزه :

په تاريخ کې راغلي چې رسول الله د امام حسن او امام حسين زوکړو په ورځ د هغوي په غوږونو کې آذان وکړ او حضرــت فاطمه رضي الله عنها به اوومه ورځ د هغوی لپاره عقيقی وکړي: (**عن عبيدالله بن أبي رافع عن أبيه قال: رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم أذن في أذن الحسن بن علي حين ولدته فاطمة بالصلاة**).[2]

ژباړه: عبدالله بن أبي رافع له خپل پلار څخه روايت کوي چی رســول الله صــلی الله عليه وسلم کله چی فاطمي څخه حسن تولد شو دده په غږونو کې د لمانځه اذان وکړو.

---

١ - المعجم الكبير للطبراني، حديث: ١١٣٢٧.

٢ - سنن أبي داود، حديث: ٥١٠٧.

د عقیقی گټې:

کله چې ورته زیر شو گورو چې د عقیقی په عمل کې ډیری گټې شته ، لومړی دا چې اسـلام د انسـان حیات او ژوند ته د زوکړی تر مړینی اهمیت ورکوي د هر یو لپاره ځانگړي فرمانونه لري او ثانیا په ځانگړی ډول کولای شـــو عقیقی ته څه گټې شمیر کړو:

الف : هغه څه چی ما شوم ته راگرځی شکر کول د الله ﷻ دي چې دا سی ستر لطف یې وکړ چې داولاد څښتن شوی او دغه شکر په ژبه او څاروي حلالولو سره ترسره کېږي.

ب : هغه څه چې فقراؤته را گرځي مونږ گورو چې پدی قضـــیه کې فقراؤته اطعام او تصـــدق ترسره کېږي چې دغه عمل د دین غوښـــتنه او دآیتونو او روایتونو لخوا تایید دی.

ج: ټولنیزو مسئلو له مخی د مؤمنانو بلنه ده ، اسلام د مؤمنانود دعوت او دنورو د زیارت کولو سپارښتنه کوي

د : د کورنی د عاطفی له مخی دا چې ماشوم د پام وړگرځي او خلک د هغوی په خوښی کې برخه اخلي آرامی او ډاډینه ترلاسه کوي

هه : ددی څخه علاوه عقیقه د الله ﷻ شکر گذاري ده د ماشوم پر پلار باندی.

د عقیقی شرطونه او ادبونه:

۱ – عقیقه هرومرو باید د دریو څارو یونه په یوه باند وی یعنی یا دپســه له ډلی څخه وي البته بزه هم په دی ډله کې شمیرل کیږي یا دغوایي او اوښ له ډلی څخه وي

۲ – سنت ده چې د ماشوم لپاره نرڅاروی او ماشومی لپاره ښځینه څاروی عقیقه شي

۳ – لکه چې په ځینو پخوانیو حدیثونو کې تیر شــول باید د ماشــوم لپاره دوه پسونه او د ماشومی لپاره یو پسه عقیقه شي.

۴ – ســنت ده چې عقیقه دزوکړی په اوومه ورځ و شي خو کچېری دعذر لامله یا بی عذره د اوومې ورځې څخه وروسته وي سنت والی یې نه ساقطیږي.

۵ – ویل شوي چې سنت داده هغه شرطونه چې د قربانی څاروي لپاره اړین وي د عقیقي څاروي لپاره هم جمع شي یعنی:

الف: څاروی روغ وي.

ب: که اوښ وي نوعمریې د پنځو کالونه کم نه وي

ج : که غوایه وي عمریې د دووکلونو لږ نه وي.

د : بزه باید یوکلنه وي.

ه : پسه باید یو کلن وي.

٦- کېدای شي چې د عقیقی غوښــه خامه پر مومنانو وویشــل شي او پخه هم ویشل کیږي ، همدا شان کېدای شي چې پخه شي او مومنان ورته راوبلل شي

دعقیقی دعا :

ســنت داده چی د عقیقی حلالولوپه مهال ماثوری دعاگانی ووایي او الله تعالی څخه وغواړي چې دا عقیقه فدیه وگرځوي یعنی : غوښـه یې د غوښـی او هډوکې یې د هډوکي ، څرمن یې د څرمن ، ویښـته یې د ماشـوم د ویښـتو په مقابل کي وي . پدی هکله چې کومی دعاگانی نقل شوی دي د هغو څو بېلگی : (**بسم الله و الله أکبر، اللهم لک و الیک هذه عقیقة فلان**).[1]

د فلان په ځای کی د ماشـوم نوم اخسـتل پکار دي) همدا شـان په بل حدیث کې دعایشه څخه پدی مضمون نقل شوی (**بسم الله**) د فلان په ځای دی د ماشوم نوم واخستل شي.

٦- د نسب د ثبوت حق:

حلال زیږیدل یا روا جنسي- اړیکی د نکاح تړلو وروسـته په اسـلام کې د کورنی جورښـت بنسـټ جوړوي ، هر مسـلمان ماشـوم د حلال زیږیدو حق لري په دی معنا چی پلار یې معلوم او د نکاح تړلو وروسته وزیږیږي.

١ - کنز العمال في سنن الأقوال و الأفعال، حدیث: ٤٥٣٠٠.

۷- د لور اوځوی ترمینځ یو شان ،او توپیر پرته چلند کولو حق: په اسلام کې ماشومان حق لري چې یوشان چلند ورسره وشی او جنس او نوروته ونه کتل شي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: (**سووا بین أولادکم فی العطیة کما تحبون أن یسووا بینکم فی البر**).[1]

په ورکړه (عطیه) کې دخپلو اولادونو ترمینځ عدالت وکړئ همغه شان چې تا سو خوښـــوی چې تاســـو تر مینځ په نیکي کولو کي عدالت وکړي .) مخکی کول دځوی او له سترگو غورځول د لور د اسلام له نظره ناوړه عمل دی.

۸- د مور شیدو څخه د ماشوم تغذیه:

دیني تعلیماتو کې چې زیات تاکید پری شوی یو هم د مور په شیدو تغذیه کول دي ځکه همغه شان چې د تغذیي برخی پوهانو اعلان کړی چې د مور شیدی د ماشـوم د طبعي ودی لپاره ټول اړین مواد لري او هم د بېلابېلو بېماریو د مقابلی لپاره د ماشوم بدن غښتلی کوي او د ماشوم د څارنی لپاره ډیری اړینی دي.

اســلام نه یوازی په اصــل کې د مور شــیدو په تغذیې تاکید کوي ، بلکه د شــیدو ورکولو په پوره والي ټینگار کوي ، قرانکریم فرمایي : (**والوالدات یرضـــعن أولادهن حولین کاملین لمن أراد أن یتم الرضاعة**).[2]

---

۱ - شرح مشکل الأثار، حدیث: ۵۰۷۳.

۲ - د البقری سورت ۲۳۳ آیت.

مورگانی که غواړي چې شـیدی ورکولو موده پوره کړي خپل ماشـوم ته نو ښـايي چې دوه کاله شیدي ورکړي . د الله پېغمبر محمد صلی الله علیه وسلم فرمايي: (لیس للصـبی .... د ماشـوم لپاره د مور دشـیدو هیڅ ښـی شـیدی نشـته بلخوا متوجی اوسئ چې همغه شان چې د مور شیدې د جسمي او غذايي کیفیت له مخی فوق العاده تاثیر لري ، د روزنی او روان له مخی هم دماشـــوم په راتلونکی کې تاثیر لري ، د مور تقوی ، سوکالي ، روغتیا ، خو ښی د شیدو ورکولو په مهال او حلالو خوړو څخه تغذیه د مور ټول په ټوله د ماشـوم په شـخصـیت ، خوی او خلق باندی تاثیر لري.

۹- د ماشوم لپاره ښکلی نوم ټاکل:

د پلار او مور پر غاړه د ماشـوم یو حق داده چې ماشـوم لپاره ښـه او مناسـب نوم وټاکي ، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي :(**ان من حق الولد علی الوالد أن یحسن اسمه و یحسن أدبه**).[1]

په پلار باندی د ماشـــوم یو حق دادی چې ښـــه نوم پری کېږدي او ښـــی روزنی هڅه يې وکړي. ددی علت چې اسـلام د دی تاکید کوي دا دی چې د اسـلام له نظره ښه او ښکلی نوم د ماشوم لپاره امنیت او رواني هوساینه راوړي ! په حقیقت کې د ماشـوم لپاره د نیک نوم ټاکل په اسـلام کې یوډول احسـان او ښـېګڼه بلل شـــوی چي والدینو لخوا ورسره کېږي ، ځکه چې هم دماشـــوم ځینی رواني او

۱ - مسند البزار ، حدیث:۵۸٤۰.

روحي اړتیا ترلاســه کېږي او شــخصــیت او اعتبار وربښــي او هم هغه د نورو د استهزاء او سپکاوي څخه لری کوي.

۱۰- د ماشوم حضانت او نفقه:

په اسلامي تعلیماتو کې د عمومي دندو برسیره چې مېړه او ښځه یې د ماشوم په وړاندی لري باید د ماشومانو په روزنې او پالنې کې سره مرسته وکړي.

چی په اسلامي فقه کې د ماشوم ساتل او روزنی ته حضانت وایي. دماشوم ساتنه عبارت ده له د ماشــوم د جســمي او رواني اړتیا ؤ د پوره کولو لپاره مناســب ډګر برابر ولو څخه ، دماشــوم د شــخصــیت ټولو اړخونو ته پاملرنه یوازی د کورنی په چاپېریال کې شــونی دی ، د مورګانو تودی غېږی او دپلرونو محبت څخه ډکو لمنو کې دغه دنده ترسره کېدای شي.

۱۱- د تعلیم او تحصیل حق:

ماشــوم لطیف اخلاقي عواطف لري چې په ټوله زمانه اوکرار ، کرار جوړیږي او پرمختګ ته رسېږي ، دغه پرمختګ سالم او مناسب تعلیمي او تربیتي چاپېریال ته اړتیا لري ، ترڅو د وخت په تېرېدو د قوت څخه فعل ته راشي، همدا شــان د ماشــوم بدن دروغ پاتی کېدو لپاره هرډول خوړوته ضرورت لري ، دهغه فکري و دی لپاره باید فرش او محیط آماده شي او دی نتایجو ترلاســه کولو لپاره مناســب اسباب او توکي مهیا کول پکاردي د همدی ضرورت له امله اسلام د علم زده کړه

یو فریضــه ګڼي د علم زده کړه یی د ماشــومانو د حقونو په دله کې پروالدینو لازم کړی او فرمایي : (**من حق الولد علی والده ان یحسن أدبه و تعلمه**).[1]

ترجمه : د اولاد حقونو کې یو دا دی چې ښه ادب او زده کړه ورکړي) په حقیقت کې هغه مهال پلار او مور د خپل ماشــوم احترام کوي چې هغه ته ویل ، لیکل او د ژوند ادب ورزده کړي او دا چې د ماشــوم شــخصــیت د ژوند په لومړیو کې په کورنی کې جوړیږي نو زده کړه ورکول ، و یل او لیـکل ور ته د وا لدینو پر غاړه اېښـودل شـوي دي . ترڅو د ژوند په پیل کې خپل اولاد د علم او پوهی په وسـله سمبال کړي.

۱۲- ماشوم سره د محبت او مینی حق:

انســـان چې هر عمر او موقعیـت کې وي مینی او محبـت تـه ضرورت لري او ما شومان د نورو څخه زیات عطوفت او مهربانی ته اړتیا لري ، ما شوم د عاطفی ، احســـاس ، او انســـانیت مظهر دی ، پیغمبرﷺ فرمایي: (**من لم یرحم صـــغیرنا ولم یوقرکبیرنا فلیس منا**).[2] ژباړه : څوک چې د وړو سره مینه، محبت او شــفقت ونکړي او دلویانو حق ونه پېژني زمونږ څخه ندی .څومره ما شومان د پلار او مور د نعمت څخه بی برخی دي نو پر مونږ لازمه ده چی د دوی په ژوند د غه کمښت پوره کړو

۱ - شعب الایمان، حدیث:۸٦۷۳.

۲ - جامع الأحادیث، حدیث: ۲۳۸٤۸.

او د هغوی لپاره پلارا و مور اوسو ! پېغمبر ﷺ وفرمایل : (**أنا وكافل اليتيم كهاتين**).[1] زه او یتیم پالونکی به گوتو په شان په جنت کې وي.

له بلخوا باید د ماشــومانو په وړاندی له تاوتریخوالي او ناوړه کړنو څخه ډډه وشي او د ماشــوم تر بیت په خشــونت سره ونشيـ. د دی لپاره چې د خپل پلار او مور غېږ کې اوسي او ښــکل یې کړي او ناز ورکړی . پدی حال کې د هوســاینی احســاس کوي او خوند اخلي : (**أن أباهريرة رضــي الله عنه قال : قال قبل رســول الله الحسـن و الحسـين بن علي و عنده الأقرع بن حابس التميمي جالسـا (جالس) فقال الأقرع ان لي عشـــرة من الولد ما قبلت منهم أحدا فنظر اليه رســـول الله ثم قال من لايرحم لا يرحم**).[2]

ابو هریره رضي الله عنه د رســـول الله څخه روایت کوي چې اقرع بن حابس ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید چي حسین (رض) ښکلوي، اقرع وویل : زه لس ماشـومان لرم او یو می هم ښـکل کړی ندی ، رسـول الله ص وفرمایل : (**من لايرحم لايرحم**)[3]

(ځوک چې په نورو رحم ونکړي پر ده به رحم ونشي.

د عمیر کیسه:

دپېغمبر ﷺ سیرت کې د ماشوم محبت په هکله بله کیسه د عمیر کیسه ده:

---

١ - شعب الايمان، حديث: ١١٠٢٦.

٢ - متفق عليه صحيح البخاري فى الدعوات، حديث:٥٩٩٧ ، او مسلم في الفضائل ، حديث:٢٣١٨.

٣ - صحيح البخاري، حديث: ٥٩٩٧.

(عن أنس قال : كان النبي صلى الله عليه وسلم أحسن الناس خلقا و كان لي أخ يقال له عمير قال أحسبه قال: كان فطيما قال: فكان اذا جاء رسول الله صلى الله عليه وسلم فراه قال: يا عمير ما فعل النغير قال: فكان يلعب به). [1]

أنس وايي : پېغمبر ﷺ ټولو خلکو څخه ښه اخلاق درلودل ، زما یو کوچنی ورور ؤ د عمیر په نوم د یوی چونچوڼی سره یې لوبی کولی کله یې چې چونچو ته مړه شــوه د الله پېغمبر د کمکي ماشــوم تســلي ورکوله وی فرمایل : یا عمیر مافعل النغیر ای عمیره! هغه مرغی دی څه شوه ؟

د دی مبارک حدیث پېغامونه:

۱ – محبت او مینه کول د ماشومانو سره .

۲ – د ماشومانو د حالاتو پوښتنه.

۳ – د ماشومانو سره دهغوی په ژبه خبری کول

۴ – ماشومان د غم ، تنگسیا او ژړاڅخه ژغورل

۵ – د ماشومانو سره مینه د پېغمبر اخلاق دي

۱۳- د ماشوم امنیت:

په اولیاؤ باندی د ماشــوم بل حق د امنیت برابرول دي د نطفی ، ولادت نه تر ځوانی پوری ، پخوا شینی سره چې نن د ماشومانو د امنیت په برخه کې ستونزی

---

۱ - الجمع بين الصحيحين لمحمد بن فتوح الحميدي، حديث: ۱۹۸۱.

لرو لکه : قاچاق ، پلورل ، پېرودل ، جنسي ـ سوء استفاده او .... چې ماشومان تهديدوي.

١٤- دماشوم رواني اړتياوې پوره کول:

د حضانت ، تغذيه ، امنيت او نورو اړتيا و د ماشوم څخه وروسته والدين مکلف دي چې د ماشوم عمرته په کتو ، تفريحي امکانات ، سواد زده کړه ، او تربيت امکانات هغوی ته تيارکړي او لاندی کارونو ته توجه وشي:

١ – کور بايد د ماشومانو او ځوانانو لپاره ډاډمن چاپېريال اوسئ.

٢ – کور بايد داسی چاپېريال وي چې ټول غړي خصوصا ماشومان ، کمکي ځوانان پکې د ډاډينی او خوښي احساس وکړي

٣ – بايد د کور په محيط کې د ماشومانو باور په وينا و کړنو او وعدی ته په وفا سره جلب کړو.

۴ - د کور په فضا کې بايدداسی صميميت ، يووالی شتون ولري چې د اولاد هر يو کومه ستونزه ولري هغه خپلو والدينوته ووايي

۵ – بايد اولاد ته فرصت ورکړ شي چې خپله وينا وکړي

٦ - دماشومانو په منځ کې توپير نه وي او دخپلو اړوند حقونو څخه برخمن وي او يو ماشوم ته د نورو په پرتله بايد د محبت څرګندونه ونه شي

۷ – والدین باید په خپلی وینا ، رفتار سره ماشـــومان وپوهاوي چې هغوي سره مینه د دوی لپاره ده نه د دی لپاره چې بوډا توپ کې دهغه د لاس امســـاشي ، پلرونو ، مورګانوته نه ښـــایي چې د کور څخه بهر بوخیتا ولامله خپل عواطف وســـپموي له خپلو ماشـــومانو څخه ، خپل وختونه په منطقي عادلانه ډول د کورڅخه بهر کار او ماشومانو سره په کورکې د ملتیا ترمینځ و ویشي.

۸ - په ژوند کې د هدف نه شتون د سرګردانی لامل ګرځي او مشهور متل وایي : (دی ځانګی څخه بلی ځانګی ته الوتلوته هڅوي) نو په ځای ده چې دماشوم د وړتیا یو هدف او د کورنی د شرایطو سره ســم په وړوکوالي کې ماشــومانو ته القاء شي ، هرماشـــوم یو بالقوه اســـتعداد دی پدی شرطچی ښـــه مســـیرته هدایت شی،هیڅکله به خپل ماشوم ته نه وایوچی تاڅخه څه نه جوړیږي.

د افغانستان په قوانیوکې دماشوم حقونه:

داســلامي فقه په پیروی د افغانســتان د جزا او مدني قانون د نورو ښــاري حقونو ترڅنګ ماشـــوم حقونه هم د توجه وړګر ځولي پدی ډول چې د قانون جزاء ۷۰-۹۳ مواد د ماشـــومانو اړوند دي ، د بېلګی په توګه په ۷۱ ماده کې راغلي دي : ماشـــوم چې ۱۸ کاله یې پوره کړی نه وي د هغه په وړاندی د جزا دعوا اقامه کولای نشيــ همدا شـــان مدني قانون په ۲۱۷-۲٦۳ (۴٦ ماده) مادوکې د ماشـــومانو اړوند حقونو په هکله چې د والدینو پر غاړه دي یادونه کړی او پدی موادو کې بېلا بېلی مســئلې لکه : روزنه ، ښـــوونه ، نفقه ، سرپرســـتی ، ماشـــوم ساتنه ، د امکاناتو ، اسانتیاو برابرولو په اړه بحث شوی دی.

دبېلگی په ډول (٢٥٦) ماده کې راغلي دي:

نفقه د ډولو نو سره يې د ماشــوم په برخه کې د کارکولو پوری او ماشــومی په اړه دواده پوری د پلار په غاړه ده .

د ماشومانو حقونو په اړه ستونزی:

١ – د پام وړشمېر ماشومان په افغانستان کی په سختو کارونو بوخت دي پداسی حال کې چې د قانون له نظره هغه ماشـــومان چې ١٨ کلونو څخه يې عمر کم وي کاريې منع دی.

٢ – د افغانستان يوه برخه ما شومان نن مخدره مواد و باندی روږدي دي د ځينو شمېر و سره سم نزدی يو مليون ماشوم او ځوان روږدي دي.

٣ – داسې ما شومان چې سرپرست نه لري ، او د مور اوپلار يا يو څخه بی برخی دي

۴ – داسی ما شومان چې زده کړی ته لاس رسی نه لري خصوصا د نجونو په اړه ډيره جدي ستونزه او خواشينه وونکی ده.

۵ - روغتيا له مخی افغان ماشــوم د کامل او نړيوال ســتندرد مصــئونيت څخه برخمن ندی او صحت يې له تهديدونو او زياتو خطرونو سره مخ دی.

٦ – په جگړو کې د سرتيرو په ډول د ماشومانو کارول

۷ – ماشــومان د والدینو لخوا ، کورنی او هم د ښــوونځي او زدکړیز محیط کې د ډول ډول خشونت سره مخامخ دي.

۸ – داســـی ماشـــومان چی په کم عمری کې په ودولومجبوریږی د نجونو په اړه دغه ستونزه ډیره ده.

۹ – تفریحي سالم محیط د ډیرو ما شومانو لپاره شتون نه لري دا بله مسئله ده چې افغان ماشومان ورسره مخامخ دي او په واضح ډول یې گورو.

حل لارې:

۱ – دنشه یې توکو په وړاندی جدی او پرلپسی مبارزه

۲ – د دولت او ټولنی افرادو لخوا بی پلاره ماشومانو ته لازمه توجه

۳ – د روغتیایی مرکز ونو توســعه او ایجادول او دماشــوم ا و مور صــحت ته اړینه پاملرنه

۴ – په وسله والو جگړوکې د ماشومانو د حضور مخنیوی

۵ – د سالمو تفریحي پارکونو شتون د ماشومانو او ځوانانو لپاره

٦ – دکم عمری ودونو مخنیوی

۷ – ماشومانو لپاره د اسلام لخوا په رسمیت پېژندل شوو حقونو ته توجه کول.

پایله او نتیجه:

بناء ماشـومان د ژوند ښـکلو ګلونو په توګه د ښـایسـته او ازرښـتمنو حقونو څخه برخمن دي چې هغوی ته هم نړیوالی بشرـي تولنی او بین المللی کنوانسـیون توجه کړی او هم ژوند ښونکي اسلامي مکتب فوق العاده توجه ورته کړی ده

اوس په ځانګړی ډول سـتاسـو مور اوپلار او په عام ډول د ټولنی د ټولو افرادو دنده ده چې پدی دګرکې اغیز من او ارزښتمن ګامونه پورته کړي

پلرونو او میندو ! - دنن ماشومان د سبا ورځی ځوانان او دهېواد جوړونکي دي ، راشـئ د ماشـومانو د حقونو رعایت سره هم خپل الهي او اخلاقی مسـئولیت تر سره کړو او هم په ښوونی او روزنی سره بریالي ما شومان د هېواد لپاره وړاندی او ښایسته خدمت ترسره کړو .

۵۱

دودونو، زیږونونو او مړینو ثبتولو اهمیت

الحمد لله الذي خلق الانسان مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاء وَاتَّقُواْ اللّهَ الَّذِي تَسَاءلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا والصلاة و السلام على رسوله محمد و على آله و أصحابه أجمعين و بعد!

د اســـلام مقدس او ژغورونکی دین ټول د رحمت، فضـــیلت دین دی او یوازینی مکتب دی چې ټول انســـانیت ته وینا کوي او یو ډول نه یو ډول یې رحمتونه او برکتونه ټول بشریت ته شامل دي هلته چې د ژوند یوه گوښه یی هم له یاده نده ویستلی او د زمان، مکان په هر پړاو کې د ظروفو او غوښتنو سره سم د وینا لپاره خبره لري او هغه ته لوری ورکوي او د ژغورلو او بریا لاری ورته ښـــي، په اســـلامي شریعت کې به د فضـــیلتونو او ارزښـــمند نظرونو پدی کی وي چې نوی زیږیدلي ماشـــوم اړوند ټول احکام، مســـایل، ودونو او نورو موضـــوعاتو لکه مرگ او مړینی اړوند بحث او څیړنی لاندی نیولی او چارواکي اړ باسي چې د همغه لومړیو ورځو نه د خپلو ماشـــومانو، نویو پیدا شـــوو، دودونو، طلاق ثبتولو او مړینو ثبتولو په اړه خپلو دندو او وجایبوته متوجه اوسي څومره به ښـــه وي چې هغه کســـان چې دغه دنده په غاړه لري په ښه او پوره ډول د اسلام د قواعدو او اصولو سره سم ترسره او تطبیق کړي دغه ټول کارونه د نیکمرغه ټولنی راوســـتلو کې مهم اغیز لري، بله

کومه موخه پکې نشته، دی موخی ته د رسیدو لپاره هغه تگلوری چې مونږ دغه هدف ته نزدی کوي او پدی ډگر کې مرسته کوي په واک کې ولرو او هغه پرته د یو منظم فردي، دوتلی کلک پلان د شتون او د زړه سواندو، صالحو او متخصصو افرادو درلودلو پرته ناشونی دی.

دلته ده چې د نفوسو د احوالو د ثبتولو اهمیت او ارزښت مطرح کیږي د نفوسو ثبتول چې د نارینه، ښځینه او عمر او کال په تفکیک سره ترسره شي یو ستر اسلامي عالم وایي: د یو هیواد پرمختگ او ترقي دوو شیانو پوری تړلی ده:

۱- تلپاتی منظم، مستحکم پلان جوړونه:

۲- د هغه د کار کوونکو او چارواکو روزنه، او دا کار هلته شونتیا لري او آسانه ده چې: مونږ د خپلو امکاناتو او سر چینو دقیقه شمیره ولرو او دهغی سره سم پلان او تگلاره ولرو.

نو اړینه ده چې دودونو، زیږونو نو آن د مړینو د ثبتولو ارزښت او اهمیت وپیژنو او عملا په خپله پدی لارکې مخکی شو، ځکه په کومه ټولنه کې چې تگلوری او پانگه یې چې نفوس هم د هغه یوه برخه ده معلومه نه وي هیڅ ډول پرمختگ ممکن او میسر ندی، نو لازمه ده چې د پورته مواردو په اړه لږ تم شو:

د واده اهمیت او ځایگی:

یوه مهمه مسئله چې د اسلام ژغورونکي دین د منکراتو او فحشاؤ د پلتی نه د ټولنی د پاکی او عفت ساتنی او دنسل د بقاء په موخه پری تاکید او ټینگار کوي

هغه اســلامي واده دی لکه چې رســول کریم ځوانانو ته په وینا کې فرمایی: (**من اســتطاع منکم الباءة فلیتزوج فانه أغض للبصــر و أحصــن للفرج و من لم یســتطع فعلیه بالصوم فانه له وجاء**)[1]

ځوان ســړی کچېری د ژوند د مصــارفو برابرولو وس لري باید ازدواج وکړي دا تا نورو ښځو ته د کتلو نه ساتي او د ناوړه کارونو نه مصئون پاتیږی خو هغه کسان چې واده نشيــ کولای باید روژه ونیسيــ ځکه روژه غریزه منع کوي رســول الله صــلی الله علیه وســلم په بل ځای کې فرمایي: (**الدنیا کلها متاع و خیر متاع الدنیا المرأة الصالحة**) [2]

ټوله دنیا د انســان د خوند اخســتلو لپاره ده خورا غوره څیز په دی دنیا کې ښــه ښځه ده.

الله تعالی فرمایي:(**وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِــكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْــكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ**) [3]

او دهغه د نښو نه داچی ستاسو د نوع نه یې تاسوته ښځی پیدا کړی ترڅو ورسره هوساشی او ستاسو ترمینځ یې دوستي او رحمت راووست هو پدی (نعمت) کې د هغو خلکو لپاره نښی دي چې فکر کوي.

---

١ - صحیح بخاری، حدیث: ١٩٠٥.

٢ - صحیح مسلم حدیث : ١٤٦٧

٣ - د الروم سورت ٢١ آیت.

مشـهور عالم حمودا عبدالاتی پدی هکله لیکي: په هر نیت چي خلک واده کوي اسلامي ډیر کلک تړون (میثاق غلیظ) ګڼي یو ډیر پوره د خاطرو ډک تړون دی د ژوند او ټولنی تړون د انسـان پرتمین نسـل د پایښـت تړون داسـی تړون دی چې ښـځه او خاوند یې په خپل مینځ او خپل رب سره تړي په دی تړون کې نه یوازی خاوند او ښـځه ګډ ژوند اړتیا وی مومي بلکی خپله د مهر، امن، ارامتیا، سـکون، هیلو په خبرتیا پوهیږي، ددغو ټولو ښېګڼو لپاره اسلام ازدواج (واده) د یو لومړنی سـتر قدم په توګه راپیژني چې انسـان خپله تقوی، ایمان، مسـئولیت منل او سرښندنه پوره او تکمیل کړي. [1]

د احوالو نفوس د ثبت قانون په یوویشتمه ماده کې د ازدواج تړون د ثبت او دهغه د انحلال په اړه راغلي دي:

۱-د اسـنادو او وثیقو د ثبت اداره اړ ده چې د واده د عقد یا انحلال راپور د معلوماتو مرکز (دیتابیس) کې د ثبتولو په موخه د نفوسـو د احوال د ثبت څانګی ته په لیکلي ډول وړاندی کړیئ.

۲-ښـځه خاوند اړ دي چې د واده د تړون یا انحلال راپور د نفوسـو د احوال ثبت څانګی ته ووایی.

۳-د نفوسـو د احوال ثبتولو څانګه مکلفه ده چې د اړوند تګلاری سره سـم پدی هکله چلند وکړي.

---

۱ - د (حقوق و وجایب زن در اسلام ص ۸۸) کتاب څخه.

د زیږونونو او مړینو ثبتولو ارزښت او اهمیت:

لکه څنګه چې نوي زیږیدلي په غوږوکې اذان، اقامت ویل، د ماشـــوم پلار ته زیری ورکول، عقیقه، ختنه تســـمیه، ســـالمه روزنه چې د مور او پلار لومړنی او ضروری دنده ده د مولود په وړاندی او ټول اړین دی او هر یو کار باید په همغه ټاکلی ورځ ترسره شـی او ددی کار سرګندویه ده چې باید د ماشـوم د زیږون ورځ معلومه او ثبت او راجستر شوی وي، ددی بر سیره یو لړ دیني کارونه دي چې په مســـتقیم ډول د وګړي د اهلیت پوری ارتباط لري مثلا: په مالونو کې تصرـــف د خور او ورور د بسترو بیلول، چې اوه کلنی ته ورسی دینی فرایضو ادا کول د هغه چا لپاره چې دوه جنســـه وي او د بلوغ مرحله یې معلومه نده د ځینی فقهاؤ په وینا باید د (۱۰) کلنی په عمر او د ځینو په آند چې اتلس کلنی ته ورسیږي ترڅو شرعي مکلفیتونه په غاړه واخلي، د ارث په مســـئلو کې هم د مړی د متروکې نه کچېري د ســـړي د مړینی او زوکړی نیټه معلومه او سرګنده نه وي کله کله د کورنی د جنجالونو لاملونه برابروي دا ټول هغه ځایونه دي چې د مړینو او زوکړو ثبتول اړین او ضروري ګرځوي او ددی کار د اهمیت سرګندوی دي، په همدی ترتیب د ماشومانو د ښوونی او روزنی په هکله هم لازمه ده چې چارواکي پوه شي هلک او انجلی د څو کلونو دي او د روزونکو او د پوهانو د تجربو سره ســـم ورسره څرنګه چلند وشي.

د دوشنبې ورځې په اړه د پیغمبر علیه السلام حدیث:

لکه چې د پیغمبر ﷺ نه یو روایت لرو چې پدی شرح راغلی دی: (**عن أبي قتادة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم سئل عن يوم الاثنين فقال: فيه ولدت وفيه أنزل علي**)[1]

د ابو قتاده (رض) نه روایت دي چې د دوشنبی ورځی اړوند د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه هغه وفرمایل: دوشنبي په ورځ زیږیدلی یم او په همدی ورځ د قرآن نزول را باندی پیل شوی. پورتنی شریف حدیث په خپله ددی خبری بیان کوي چې د زوکړی د ورځی معلوم والی او ثبتول خورا زیات اهمیت او ارزښت لري، ددی بر سیره چې ځینی شرعی احکام د عمر او کال په بنسټ تحقق پیدا کوي د پلان جوړونی او خلکوته د ښو خدمتونو وړاندی کولو لپاره هم لازمي او ضروري دی ترڅو جوته شي چې څومره خلک د خدمتونو د پوښښ لاندی دي.

د نویو زیږیدونکو ماشومانو د ثبتولو لپاره د عمر رضي الله عنه اهتمام:

ویل کیږي چې حضرت عمر (رض) ماشومانو ته ځانګړی اهتمام درلود او هغوی یې ثبت او راجسترول ترڅو په ټاکلي وخت کې ورته لاسرسی وشي لکه چې پدی شرح یو روایت لرو: د حضرت عمر (رض) د خلافت په زمانه کې هر ماشوم ثبتیده او د بیت المال څخه ورته څه حقونه ټاکل کېدل لکه چې راغلي دی: اسلم د عمر آزاد شوی مریه وایی: یو شمیر سوداګر مدینی منوری ته راغلل او د شپی

---

١ - صحيح مسلم ،حديث : ١١٦٢.

تیرولو لپاره مصلی کې میشت شول، حضرت عمر (رض) عبدالرحمن بن عوف ته وویل: نن شــپه باید ددی خلکو ســاتنه وکړو، د شــپی په ترځ کې حضرـت عمر (رض) د یو ماشــوم د ژړا غږ واوریدو مورته یې وویل: د الله ﷻ نه وډاره شــه او دخپل ماشــوم څارنه وکړه، د شــپی په پای کې بیاهم د ماشــوم د ژړا غږ واوریدل شــو بیا ځلی حضرــت عمر (رض) د ماشــوم مورته ورغی وی فرمایل: عجیبه نامهربانه موریې ماشــوم دی ولی ژاړي؟ ای د الله بنده زه شــپدی نه ورکوم ځکه حضرــت عمر (رض) هغو ماشــومانو ته برخه ټاکلی چې شــیدی نه خوري، عمر (رض) پوښــتنه وکړه ماشــوم دی څو کلن دی؟ ښــځی ځواب ورکړ څو میاشــتو نه زیات عمر نلري عمر وفرمایل: خواره شی! د ماشوم نه د شپدو بندولو کې بېړه مه کوه د همغی شــپی په ســهار د ســهار لمانځه ادا کولو په مهال یې ډیر وژړل وی ویل: عمر بی وســی شــو او سرګنده نده چې څومره مســلمان کوچینان یې وژلي دي؟ بیایی اعلان وکړ چې خپل ماشــومان د دوو کلونو نه وړاندی د شــپدو نه بندوئ.

او مونږ به هم د نوي زیږیدلي هرماشوم ته برخه ټاکل او دغه مطلب یې د اسلامي مملکت ټولو ســیموته ورســاوه خو هیرنکړو چې مونږ ژوندي انســانان یو د دینی کارونو ترسره کولو ترڅنګ هوساینی او سوکالی ته هم اړتیا لرو.[1] باید ترلاسه شي، مثلا: خوړو، روغتیا، زده کړی، پالنی، جامو، هســتوګنځي ته اړتیا لرو، چې اړینه ده د کورنی د هېواد چارواکو په کچه دی کارته متوجه اوسي نو څوک چې پدی

۱ - البدایه والنهایه، ج ۷، ص ٤٠.

پوه نه وي چې څومره خلک دده واک لاندی سیمو کې ژوند کوي نشي کولای د خلکو د بهبود لپاره بریالی او اغیزمنه تګلاره ولري او د هیواد د پرمختګ او ودی لاملونه برابر کړي نو ځمونږ هېواد او خلک به تر هغه د خوښـــی او هوســـاینی خوندونه څکي چې منظم او شامل پلان ونلرو پلان او تګلاره علماء داسی معرفي کوي: پلان او تګلاره عبارت ده له مشـــخص کولو د اهدافو په معینو کارونو او ددغو اهدافو ترلاسه کولو لپاره د لازمو وسایلو تعینول دي پداسی بڼه چې په کم لګښت ډیره ښه پایله ترلاسه کړو.

نو تګلاره داسی وسیله ده چې انسان پل په پل مخ په وړاندی وړي او د یو پړاونه یې بل پړاوته داســی طریقی سره خوزوي چې د پلان جوړونی مراجع د هر سـړی وس او ځواک تعینوي.

پلان جوړونه مخصوصا په اوسنی نړی کې: هغه علم دی چې: ځانګړی اصول او قواعـد ولري او د تولیـد عملي د یوی برخی پـه توګـه د ژونـد پـه ټولو څـانګو اقتصادی، سیاسي، اجتماعي او نورو کې کارول کیږي نو زمونږ په هیواد کې باید لومړی د پروګرام طرح او پلان مســـتقل مرکزونه جوړ شي ځکه په نورو هیوادونو کې آن دوګړو د رخصیتو ورځو لپاره پلان او تګلوري تیاروي، د سوداګري، کاروبار آن شخص تګلاری د خلکو په واک کې ورکوي.

د همدی لامله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د عدلیي وزارت رسمي جریدی کې و دنفوســو د احوال د ثبت قانون په اړه د شـپاړسـمی مادی په ۱، ۲، ۳ فقرو کې لیکي:

۱- د زیږون، مړینی، واده، د واده له مینځه وړلو پیښې د نفوسو د احوالو ثبتولو د معلوماتو مرکز (دیتابیس) کې ددی قانون د احکامو او طرزالعمل سره سم درجیږي.

۲-د زیږون، مړینی، ازدواج راپورونه د ولي یا قانوني خپلوان لخوا لږ ترلږ د دری میاشتو په ترځ کې د نفوسو د احوالو د ثبت ټولو نه نزدی مرجع ته وړاندی کیږی.

۳-د راپور وړاندی کولو څرنګوالی او د زیږون، مړینی، واده اوله مینځه وړلو فورمی محتویات د جلا طرزالعمل په مټ تنظیمیږی. [۱]

په همدی ډول د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د نفوسو احوالو ثبت قانون د ماشوم خورا نزدی ولي اړباسي چې د ماشوم ثبتول په ټاکلی موده کې ترسره کړی همغه شان چې ددی قانون اولسمی مادی په لومړی فقره کې راغلي دي:

۱-ولي یادنوي زیږیدلي ماشوم قانوني قریب مکلف دی چې د دری میاشتو په موده کې د ماشوم د زیږون په اړه د نفوسو د احوال ثبتولو نزدی مرکز یا د زیږونونو د ثبت مرکز ته راپور ورکړي. د همدی مادي په دوهمه فقره کي د هیواد نه بهر د افغانستان د اتباعو په اړه داسی راغلی دي:

۱ - د نفوسو د احوال ثبتولو قانون ص ۱۷.

۲-د هیواد نه بهر ثبت د افغانستان اتباع مکلف دي د خپلو ماشومانو د زیږون په هکله د دری میاشتو په موده کې د افغانستان سیاسي نماینده گیو یا قنسلیو ته په لیکلي بڼه راپور وړاندی کړي. [۱]

۳-د راپور وړاندی کولو څرنگوالی او د زیږون، مړینی، واده اوله منځه وړلو فورمی محتویات د جلا طرزالعمل په مټ تنظیمیږي.

په همدی ډول دافغانستان اسلامي جمهوری دولت د نفوسو احوالو ثبت قانون د ماشـــوم خورا نزدی ولي اړباسي چې د ماشـــوم ثبتول په ټاکلی موده کې ترسره کړي همغه شان چې ددی قانون اولسمی مادی په لومړی فقره کې راغلي دي:

د همدی قانون په اتلسمه ماده کې .

د نوی زیږیدلی مجهول الهویه ماشوم اړوند داسی راغلي دي:

څوک چې نوی زیږیدلي مجهول الهویه ماشوم پیدا کړي مکلف دی چې موضوع د پولیســو د همغه ځای اداری ته خبر ورکړي، پولیس باید دغه راپور د هغه ځای د نفوســو د احوال ثبتولو اداری ته ورولیږی او د هغوی او ذیصــلاح محکمي لخوا دی د طب عدلي او (DNA) څیړنی وروســته دی په گډه نوم پری کېښــودل شي او هویت دی ورته وټاکي.[۲]

---

۱ - همدغه مرجع ص ۱۸.

۲ - د نفوسو د احوال ثبتولو قانون ص ۱۸.

په پای کې ویلې شـــو چې یو هیواد هیڅکله د پرمختګ او ودی لوړو پوړونو ته نشی رسیدلی ترڅو دغه کار ته دقیق اوسنجول شوی پلان ونلری، او په واقعیتونو ولاړه او بریالی تګلاره به شـــتون ونلري ترڅو مونږ د خپلو بشرـــي، مالي سرچینو امکاناتو اړوند شمیری او ارقام ونلرو.

د همدی لامله د ټولنی هر غړی د نوی زیږیدلي ماشـوم دنیا ته راتلو سره سـم او څوک چې د دوی د خپلوانو څخه د اجل بلونکي ته لبیک وایي او تلپاتی توب ته ورځي په اړوندو دفترونو کې ثبت کړي، ترڅو دولت وکولای شي د هغو په رڼا کې د لنډ مهاله، مینځ مودی او بالآخره اوږ مهاله خپل پلانونه په بیلا بیلو برخو کې تیار او پلي کړي.

جوته ده چې ترڅو مونږ خپل نوی زیږیدلي ثبت نکړو په بیلابیلو برخو کې لکه: روغتیا، ښـــوونه، روزنه ښـــاری چوپړتیا او نور پرمختیاوي او موفق پروګرامونه چې ملموس وي نشـو درلودلای، ځکه نه پوهیږو چې څومره شـمیر خلکو ته خدمتونه وړاندی کړو، او څومره ځوان او وړ بشري ځواک په واک کې لرو.

له بلی خوا په ټوله نړی کې داسی برنامی شته چې ماشومان د وژونکو او خطری بیماریو څخه وقایه او وسـاتل شي باید په مختلفو عمرونو کې ماشـومان واکسـین شي، دغلته ده چې ددغه کار د ثمر ته رسولو او ترلاسه کولو لپاره یې د ماشومانو ثبت او راجستر کول اړین او ضروري کوي.

نو د ټولنی هرغړي ته لازمه ده چې دغه مهم او اسـاسي کارته چې سـتونزمن هم ندی پام وکړی او په خپله برخه کې د هیواد په ودانی او دخلکو د ســـوکالی او

هوساینی لپاره خپل اغیز و کاروي او چارواکي د ما شوم د ژوند په مختلفو څانګو کې مرسته او خپل اسلامي او هېوادنی مسؤلیت ادا کړي.

۵۲

د اسلام له نظره د یتیم مقام

الحمد لله رب العالمین وماوی المظلومین و قاسم الجبارین و الصلاة والسلام علی خیر خلقه محمد و علی آله و أصحابه المنتجبین اما بعد! فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم.

قال الله الحکیم عزوجل:(أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَى وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَى فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ)[1]

و قال رسول الله ﷺ : (أنا و کافل الیتیم فی الجنة هکذا) [2]

یتیم که څه هم د پلرنی نازا و نعمت نه محروم دی خو د الله تعالی له رحمته محروم ندی او دالله لطف او مهربانی د ده شامل د حال دی ، د اسلام مقدس دین کی د یتیم پالنی او د هغه حقوقوته درناوی په اړه ډیر ټنیگار شویدی او همدارنگه په نور و آسمانی ادیانو کی هم پدی اړه تاکید شوی ؤ د ا سلام نازنین پیغمبر چی پخپله د یتیم والی ښکار شوی ؤ ، د یتیم په اړه یی ډیر سفارش کړیدی .داسلام له نظره د یتیمانو حال ته رسیدنه دیری دنیایی او اخروی گټی

---

۱ - د الضحی سورت ٦-١١ آیتونه.

۲ - رواه البخاري، حدیث: ٦٠٠٥.

لري ، او ورته نه پاملرنه بدی پایلی رامنځته کوي ، په افغانســـتان کی له دریو لســیزوو زیاتو جنگ او جگړو اثرات داؤ چی په زرگونه ، یتیمان ، کونډی ، معلول او ضررلیدونکی کســـان یی را پیدا کړل غواړم پدی خطبه کي د یتیمانو حالت او ورسره مرسته دقران او نبوي ارشاداتو په رڼا کی بیا نکړم.

اساسی پوښتنې:

د مســلمانانو په توگه زمونږ دنده د یتیمانو په اړوند څه ده ؟ الله او د هغه رســول ﷺ پدی اړه څه هدایت لری؟ آیا دوی ته نه پاملرنه زمونږ دبدعاقبت لامل نه کیږي ؟ او آیاد ودونو او فاتحو مراسمو پر مهال په هوتلونو او میلمستونو کی چی کوم بی ځایه مصــارف کیږی د هغه په عوض به ښــه نه وی چې د یتیما نو حالت ته رسیدنه وشي ؟

د یتیم تعریف:

یتیم په لغت کی : یتیم په اصـــل کی د یوازی او منفرد په معنی دی او دیتیم ، یتما او یتما نه اخستل شوی چی د ټولنی په هغو افرادویی اطلاق کیږی چی له پلار نه مخکی له بلوغه محروم شوي وي.

په اصطلاح کي: هغه ماشومان چی پلاریی له لاسه ورکړی وی او د میړانی حدته نه وي رسیدلی ، بی پلاره او ځینی بی موره ماشوم ته هم ویل کیږي او یا د اچی هغه ماشـــوم چی پلار او مور دواړه ونلري ، ځینی پدی عقیده سره دي چی

دانســانو نه هغه چاته یتیم ویل کیږی چی پلار یی مړشــوی وی او د حیواناتو نه هغه ته یتیم ویل کیږي چې موریی مړه وي

(مفردات راغب).

اکرام : په لغت کی درناوی کول ، گرانول ، لوی نیول او احترام کول دی (دکتور معین ، دهخدا) او په اصطلاح کی: د بی کوره افرادو سره نیکی او محبت کولو ته وایي .

بی کوره :

په لغت کې هغه چاته ویل کیږي چی کور ، ژوند ، ښـځه او اولادونلري ، مســافر در په در په اصــطلاح کي : هغه چی هل، عیال ، کور او د سرســیوری ونلری او د نورو مرستی او مساعدت ته محتاج وي.

مستضعف :

په لغت کی ضعیف شمیرل شوی ، سست او ناتوانه ، بی وزله ، بی بضاعته ، فقیر او محتاج.

په اصــطلاح کی : هغه شــخص منظور دی چی مظلوم واقع شــوی دی او باید مرسته ورسره وشي.

د یتیم فقهی تعریف :

یتیم چی غالبا له لفظی پلوه (صـــغیر) ورته ویل شـــوی ، هغه چاته ویل کیږي چی د پلار ، نیکه ، وصي او یا قیم تر ولایت لاندی وی او دســـن له پلوه د ژوند لازمي جســـمي او روحي ودی او تکامل ته نه وی رســـیدلی ، هغه چی د مدني قانون څخه پلاس راځي ، دا دي چی د ما شومتوب (صغارت) دوره د پیدایښت نه را پیل او تر ۱۸ اتلس کلنی پوری ختمیږی.

د یتیم پالنی تاریخ:

د یتیمي ســـتونزه د طبیعی او ټولنیزو حالاتو زیږنده ده او له پخوا نه په بشرـــی ټولنو کی مطرح ده او ډیر شـواهد شـته چی د یتیمانو او بی سرپرسـته انسـانانو حالت ته پاملرنه کیده ، دا چی انسان د عقل او عاطفی لرونکی دی نو د یتیمانو داکرام او ترحم کیســـی هم له پخوا نه را نقل شـــویدي همدارنگه د نړۍ په ټولو ادیانو کی د یتیم پالنی په هکله مطالب ذکر شـوی او وربانـدی تاکید شـویدی د یتیم او دیتیمی موضوع او ورسره نیکی کول په ټولو الهی ادیانو کی ریښی لري ، ځینو پیغمبرانو لکه حضرـت موسـی او حضرـت عیسـی په کلکه سره د یتیمانو له حقوقو څخه پلوي کوله او په یتیمانو باندی ظلم یی له کبیره گناهونو څخه باله، د ا سلام نه مخکی او د جاهلیت په دوره کی د یتیمانو مالونو په چورولو او پردوی باندی په ظلم کولو سره نه یوازی دا چی یتیمان یی نه اکرامول ، بلکه یتیم د دوی په وړاندی هیڅ ارزښـت نه درلود او تل به یی دوی په خواری ، سـسـتی بی وزلی او فقر سره یادول.

په اسلام کې د یتیم مقام:

د اســلام مقدس دین پلوشــو راځلیدو سره ، جاهلیت له منځه ولاړ او یو ښــکلی نظام د تورتم ، جاهلانه اخلاقو ، رواجونو او آدابو ځای ونیو ، او یتیم هم له خاص موقف او مقام نه برخمن شو ، د اسلام مبین دین ، د یوه جامع ، کامل الهي دین په توګه تل د ټولنی بی وزله ، مســتضــعف محروم خلک تر خپل حمایت لاندی نیولي دي چی پدی لړی کې یې یتیمان تر نورو زیات د عطوفت او مهربانۍ موردګرزولي .

په اســلام کی د یتیم مقام اړوند موضــوع په اړه دا کافی ده چی پوه شــو چی د یتیم لفظ او مشتقات یی درویشت ځله په قرآن کریم کی ذکر شویدي ، د دی نه علاوه ځینی داسی آیتونه شته چی په ظاهر کی ورڅخه نه افاده کیږي خو د هغو آیتونو مضــمون د یتیم پـه اړونـد وي چی عبـارت دی لـه ، دیتیمانو پـالنـه او سرپرســتی ، قرآن کریم د یتیمانو پالنه د ډیرو مهمو کارونو له جملی څخه بولی او مؤمنان یی هڅول څو په ټولنه کی باید هیڅ یتیم داســی پاته نشــی چی ورته پاملرنه ونشي.

د یتیم پالنې په اړه قرآنی لارښونی:

الله تعالی فرمایي : (وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُواْ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا) [1]

---

۱ - د النساء سورت ۵ آیت.

ژباړه : او ورته روزي غذا او خوراک ورکړئ ، لباس ورته ورواغوندئ او ورته غوره او خوږی خبری وکړی . په دغه مبارک آیت کی د یتیمانو په هکله دوه مهم امرونه دي :

۱ – د دوی خوراک او پوښـــاک د دوی د مالونو نه ورته برابر کړئ ځو په آبرو سره لوی شـــی او دبلوغ مرحلی ته ورســـیږي ځکه په (فیها) باندی تعبیر شـــویدی ، یعنی د یتیمانو ژوند د دوی د مالونو او پانگی نه ورته تأمین کړئ.

۲ – دا چی د یتیمانو سره په ښـه غوره او خوږه ژبه خبری وکړی یعنی ښـو اوغوره عباراتو او خبرو سره به هم د هغوی رواني کمزورتیاوی لیری شي او هم به یې په عقلي وده کی مرسته وکړي.

د یتیمانو په هکله د رسول الله ﷺ سپارښتنه:

داســلام ســتر پیغمبر د یتیمانو پالنی په اړوند ډیره ســپارښــتنه او تأکید کړی او اسلامي امت ته یی د دوی د حقوقو په اړه لارښونه کړیده . احمد بن حنبل پخپل مسند کی د رسول الله ﷺ نه یو حدیث را نقل کړی چی هغه مبارک د یتیمانو په اړه داکرام امر کوي:

(حدثنا عبدالله حدثني أبي ثنا أســـود بن عامر ثنا اسرائیل عن ابراهیم یعني بن مهاجرعن مجاهد عن الســـائب بن عبدالله قال: جيء بي الی النبي ﷺ یوم فتح

مكة... فقال يا سائب أنظر أخلاقک التي كنت تصنعها فی الجاهلية فاجعلها في الاسلام أقر الضيف و أكرم اليتيم و أحسن الی جارک) [1]

ژباړه : سائب بن عبدالله وايي د مکی د فتحی په ورځ رسول الله ﷺ ته ورغلم ... رسول الله وفرمايل : ای سائبه ! خپلو اخلاقو ته پاملرنه وکړه هغه اخلاق دی چی د جاهليت په زمانه کی دلرل په هماغه خويونو پابنداوســـه نو د ميلمنو درناوی کوه ، د يتيم اکرام کوه او د ګاونډي سره نيکي کوه.

رســـول الله ﷺ : به تل دا تاکيد کاوه چی د ټولنی د کمزورو خلکو په ځانګړی توګه يتيمانو سره ښـــه چلند وکړئ ، په ځينو روايتونو کی راغلی چی رســـول الله صلی عليه وسلم د يتيمانو د ځورولو او ژړولونه منع کړی.

روی عن أبي سعيد الخدری : قال : قال رسول الله ﷺ : (اياكم و بكاء اليتيم فانه يسري في الليل و الناس نيام) [2]

ژباړه : د يتيم د ژړانه ځان وساتئ ، ځکه دهغه اوښکی په شـپه کی بهيږي چی خلک ويده وی . بی له شـــکه د افرادو ځينی ښـــه او بد کارونه په عالم تکوين باندی وضـــعی اثرات اچوي ، ځينو آياتو مطابق هغه اعمال چې په عالم خلقت باندی وضعي اثر لري ، د يتيم ژړول دي!

---

۱ - مسند الامام احمد، حديث: ۱۵۵۰۰ .

۲ - مسند الامام احمد، حديث: ۱۳۳۸.

د پیغمبر ﷺ یتیم پالنه:

عبدالله ابن جعفر فرمايي: هغه وخت مې یاد دی چې پیغمبر ﷺ زما مور ته زما د پلار د شـــهادت د خبر ورکولو په خاطر راغې په داســـې حال کې چې ما ژړل او پیغمبر ﷺ ځما او ځماد ورور په سر لاس را ښکه او د سترګو نه یې او ښکې جاری او په مخ یې بهیدلی او بیایې وویل: ای خدایه جعفر د نیکی اجر ته رسیدلی دی ته دهغوی د بچو په مینځ کی د هغه په عوض متکفل شـــه ته تر ټولو بهترین متکفل یې! بیایې وویل: ای اســـماء آیا زه تا ته زیری در نکړم؟ وی ویل: ولی نه زما مور او پلار دی لتا څخه قربان شي بیا رسول ﷺ وفرمایل ای الله ﷻ حضرت جعفر رضي ته الله عنه دوه وزرونه ورکړئ ترڅو په جنت کی د هغی په واســـطه الوتل وکړي.

د یتیمانو پالنه د ابرارو او نیکانو په سیرت کې:

په قرآن کریم کې د الله تعالی ځینی بندګان د (ابرار) په نامه یاد شـــوی چې د دوی خصلت د یتیمانو ، مسکینانو او اسیرانو سره نیکی او ورته خواړه ورکول ؤ ،د انسان سورت لومړني آیتونه (ابرار) دارنګه را پیژني:

(إِنَّ الْأَبْرَارَ يَشْـرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا عَيْنًا يَشْـرَبُ بِهَا عِبَادُ اللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَـرُّهُ مُسْـتَطِيرًا وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْـكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاء وَلَا شُكُورًا).[1]

---

١ - د الانسان سورت ٥-٩ آیتونه.

ژباړه : په یقین سره ابرار نیکان به یی دهغه جام نه وڅښـــي چی په کافور سره به خوشــبو یه شــوی وي ، چینی به وی چی وبه څشي- ورڅخه د الله تعالی خاص بندگان او هر چیری چی وغواړي ورته جاري به وي ، دوی پخپلو نذرونو باندی وفا کوله او د هغی ورځی له عذابه ویریدل چی عذاب یی خور وي او پخپل زړه او خوښـــه سره او یا دا چی پخپله یی ورته ضرورت هم لره خو د دی سره سره یی یتیمانو ، مســکینانو او اســیرانو ته خپل خواړه ورکول او دا به یی ویل چی موږ دا خواړه یوازی د الله په خاطر تا سوته درکوو او د دی په بدل کی تا سونه هیڅ بدل او شکرانه نه غواړو .

ابرار څوک دی ؟ دا یو اوږ د تفصـــیلي بحث دی او په دغه لنډ بحث کی یی د ځانگړنو څخه ډډه کوو . د قرآنی آیتونو مطابق الله پاک د ټولو بندگانو نه دا عهد اخیستلی چی د یتیمانو سره غوره چلند ولری او خپل پیغمبرته ښوونه کوي چی یتیم پالنه وکړئ لکه چی دغه پیغمبر په ماشومتوب کی یتیم شوی ؤ او الله پاک یی پالنه کوله ، په بل آیت کی د یتیم نه پالنه په قیامت د ایمان لرلو علامه او د ذلت او خواري عامل بللی او نور داســـی آیتونه دي چی د یتیم احترام او اکرام یې واجب او بدچلند یي ورسره حرام بللی.

پروین اعتصامي وائي :

چیزها دیده و نخواسته ام دل من دل است آهن نیست

روی ما در ندیده ام هرگز چشم طفل یتیم روشن نیست

کودکان گریه می کنند و مرا فرصتی به گریه کردن نیست
دامن مادران خوش است چه شد که سر من به هیچ دامن نیست
خواندم از شوق هر که را مادر گفت که با من مادر من نیست
کودکی گفت : مسکن تو کجاست گفتم : آنجا که هیچ مسکن نیست
همه گویند پیش ما منشین هیچ جا بهر من نشیمن نیست

ژباړه : شاعر د یوه یتیم حالت تمثیلوي او وایي: دا سی شیان می ولیدل چی نه می غوښـــتل ، زما زړه خو زړه دی اخر خو تیږه نده ، د مور مخ می هیڅکله ندی لیدلی د یتیم ماشــوم ســترگی لیدل نکوي ، ماشــومان خو ژاړی مگر خوزه ژړاته هم نه وزگاریږم ، مور لمن څومره خوږه ده خوافســوس چی زما سرکومی لمني ته ونه رسید، هرچا ته می مور مور وویل خو ماته یی وویل چی نه زه ستا مور نه یم ، ما شوم راته وویل : چیری او سیږی ؟ ورته می وویل هلته چی هیڅ داو سیدوځای ندی ، ټول راته وایي ماسره مه کښــینه ، نو هیڅ چیری زما لپاره د ناســتی ځای نشته.

د یتیم انواع:

فرهنگ لیکوونکي لکه چی مخکی مو ورڅخه یادونه وکړه د یتیم په اړوند دارنگه لیکي : د دغه کلمی اصلی یوه منفرده کلمه ده چی د ماشوم له پلار نه جداوالی یا مخکی له بلوغ څخه یي د پلار له لاســه ورکولو څخه اطلاق کیږي خو په

حیواناتو کی هغه ته یتیم وایي چی مور نلری . د عربو له نظره هغه ماشـــوم چی یوازی پاته وی او پلاریي چی حامی او دفاع کوونکی او نفقه ورکوونکی دی ، له لاسه ورکړی وي ، یتیم بلل کیږي او مطالب د مور په اړه صدق نکوي ځکه د مور له لاسه ورکولوسره ماشوم بی سرپرسته نکیږي.

د یتیم اقسام:

۱ – هغه ماشـــومان چی پلار یي له لاســـه ورکړی دی یا په بل عبارت سره هغه ماشومان چی پلار او مور ونلري.

۲ – هغه ماشـــومان چی پلار ولري خو د والدینو د محبت نه محروم دی او ورسره بد چلند کوي.

۳ -حضرـــت علی کرم الله وجهه وایي : (لیس الیتیم من مات و الده ، بل الیتیم یتیم العلم و الأدب).

هغه څوک یتیم دی چی د علم و ادب زده کړی څخه محروم پاته شوی وی.

۴ -هغه ماشـــومان چی د فقر او بی وزلی له وجی د مخدره توکو او یا قاچاقبرانو ښکار گرزی.

۵ – هغه ماشومان چی د ځینو عواملو له کبله گدایي کوي که څه هم مور او پلار لری.

٦ – هغه ماشـــومان چی د والدینو د کورني اختلافاتو په پایله کي یو له بل سره جلا کیږی او دوی .د مور او پلار او یا هم یو یې د لاسه ورکوي.

٧ – او بالآخره یتیمه ټولنه ، یتیم والی یوازی فردته نه شاملیږي بلکه په پراخ نظر سره معنا ورکوی ، هغه ټولنه چی د ملی اتحاد او یووالی نه یي فاصـله نیولی او د پوچو اختلافاتو ښـکار شـوی وی ، خپل فرهنگی او معنوی حیثیت او ارزښـت یي له لاسه ورکړی دی ، همدارنگه یتیمه بلل کیږی.

٨ – هغه ځوانان چی د ناکار او نا اهله دوســتانو او ملگرو مل شي نو روځ په ورځ به دبد مرغۍ په لورځي هغه چی د ملگرو د انتخاب پر مهال یي ښـــو اخلافو او انساني معیارونو ته متوجه نه وی.

د یتیمانو په وړاندی زموږ دندې:

١-یتیم پالنه:

مینی او محبت ته هر انســان اړتیا لری او همدا عامل دی چی د انســان د ودی لامل کیږي خو دغه ضرورت په ماشـــومانو کی زیات وي او دغه اړتیا په والدینو پوری تړلی او حل کیږی خو یتیم په کوچنیوالی کی د ده نعمت نه محروم وی نو له همدی کبله په اسلام کی د یتیم په اړه ډیره سپارښتنه شوی او دیتیم سره په محبت او مرستی کولو سره لوی اجر او ثواب د خدای په وړاندی ترلاسه کیږي.

الله پاک د يتيم پالنی په اړه په قرآنکريم کی فرمايي : (**لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْـــرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَالْمَلآئِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّآئِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ**)[1]

ژباړه: نيکی او نيکو کاری دانده چی خپل مخونه مشرـــق او مغرب لورته واړوی ، بلکه نيکو کاری او نيکو کاره خلک هغه دي چی په الله د اخرت په ورځ ملائکه آســـمانی کتابونو او پيغمبرانو باندی يی ايمان راوړی وي او خپل مال پخپله خوښه او زيات محبت لرلو سره ورکوي خپلو يتيمانو ، مسکينانو ، مسافرو سوالگر او دغلامانو آزدولو په لاره کی

رســـول الله ﷺ : د يتيم پالنی په اړوند فرمايي : (**أتحب أن يلين قلبک و تدرک حاجتک ؟ ارحم اليتيم و امســـح رأســـه و اطعمه من طعامک يلين قلبک و تدرک حاجتک**).[2]

ژباړه : آيا غواړی چی زړه د نرم او غوښـــتنی د پوره شي ؟ په يتيم رحم وکړه د شـــفقت لاس بی پر سرکش کړه او هغه له خپل طعامه موړ کړه څو دزړه نرم او حاجت د پوره شي.

---

۱ - د البقری سورت ۱۷۷ آيت.

۲ - الجامع الأحاديث، حديث: ۳۷۵.

۲ -د يتيم د مال ساتنه:

د يتيم د مال ساتنی په اړه په آيتونو کی دريو مسئلوته اشاره شوی : د يتيم د مال د خوړنې عاقبت ، د مال بيرته نه ورکول يي ، د يتيم په مال کی د تصرف شرط ، پدی اړه دو مثالونو ذکر کوو:

(إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا) .[۱]

ژباړه : هغه کسان چی ديتيمانو مالونه په ظلم خوری نو خامخا به دغه مالونه د دوی په ګيډو کی په اوربدل شي او زر ده چي اور کی به واچول شي . (کل) هم په ظاهري ډول او هم په باطنی ډول خوړلو ته وايي او دوهمه معنا راجح ده . او دغه آيت د ميراث په هکله د يتيم د مال نه خوړل او ورباندی ظلم نه کولو په باره کی د ی او دهغو آيتونو له جملی نه دی چی د اعمالوپه تجسم باندی دلالت کوي ، لکه چی رسول الله ﷺ : د يتيم د مال نه خوړل دهغو اعمالونه ذکر کړی چی الله پاک د جنت وعده ورکړی ده .

الله پاک فرمايي : **(وَآتُواْ الْيَتَامَى أَمْوَالَهُمْ وَلاَ تَتَبَدَّلُواْ الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَهُمْ إِلَى أَمْوَالِكُمْ إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا)**.[۲]

---

۱ - د النساء سورت ۱۰ آيت.

۲ - د النساء سورت ۲ آيت.

ژباړه : او د یتیمانو مالونه د دوی د بلوغت نه وروســـته دوی ته ورکړئ او خپل بیکار مال د دوی په ښـــومالونو باندی مه بدلوی او د دوی مالونه د خپلو مالونو سره گډمه خورئ ، چی دا کارلویه گناه ده.

۳ - د یتیم سرپرستی:

یوله اخلاقی محاسـنو څخه دا دی چی دیتیم پالنه او سرپرسـتي وشي ، باید پوه شو چی یتیم ماشوم ډیر ضرورتونه لري چی له هغی جملی نه د کورنۍ ژوند او د یوه انســـان وجود چی د تکی په توگه ورڅخه کار واخلي ، د اســـلامي فرهنگ له مخی د یتیمانو د کمبوداتو لری کولولپاره ښـــه وســـیله داده چی یتیم ماشـــوم د ســـړي د کورنۍ یو جز او غړی وگرزي او مرســـتی او کمکونه ورسره په محترمانه توگه سرته ورسیږي څو دوی د حقارت او کمۍ احساس ونکړي.

رســـول الله ﷺ : چی پخپله یتیم ؤ او د یتیمانو له در ده ښـــه خبرؤ د یتیم د سر پرستی د اجر او ثواب په اړوند فرمایلي : څوک چی د یوه یتیم پالنه او سرپرستي وکړي تر څو چی هغه د احتیاجه وخیژی نو الله پاک به یي جنت ته بوزی ، لکه چی څوک د یتیم په مال کی خیانت وکړي د دوزخ مســتحق گرزی . د الضــحی سورت په مبارکو آیتونو کی هم دغه مطلب ته ا شاره شویده الله پاک رسول الله ﷺ ته فرمایي : لکه څنگه چی ته یتیم وی او ما درته پنا درکړه ، نو ته هم یتیمان ونازوه او هغوی له خپله ځانه هم مه لیری کوه.

۴ -په یتیمانو باندی ظلم نکول:

د هر انســـان په وړاندی ظلم کول په اخلاقی لحاظ سره ناوړه عمل بلل کیږي ، خو ظلم د ماشومانو په اړه هغه هم چی یتیم وي ډیر بد او ناوړه عمل او لویه گناه ده لکه چی په مبارک آیت کی راغلي : (**أرایت الذي یکذب بالدین ، فذلک الذي یدع الیتیم ولا یحض علی طعام المسکین**) .[1]

ژباړه : آیا هغه د ولید چی د ین یي تکذیباوه ، پس هغه کس چی یتیم یې وراټه او نور یې د مسکین په اطعام باندی نه هڅول.

۵- په یتیم احسان او اکرام:

محبت ، احسان او دیتیم سره اکرام داسی یوه مسئله ده چی د آیتونو او احادیثو نه راجوتیږی او که څوک د دغه الهي فرمان نه سرکشي کوي نو د الهی مؤاخذی او جزا مورد بـه وگرزي ، اللـه تعـالی فرمـایی : (کلا بـل لا تکرمون الیتیم و لا تحاضون علی طعام المسکین).[2]

د تکرمون فعل د کرم له مادی نه د محترم شـــمیرلو عزت او شرف په معنا ده او تحاضون د حضض له مادی نه د شوق او رغبت لرلو په معنا سره ده.

مسکین هغه څوک دی چی هیڅ څه نلري او حالت یې د فقیر نه هم بد وی او د ناروغی ، بوداتوپ یا بدني او مالي نقصـــان په وجه د ژوند اړتیا پوره کولو باندی

---

۱ - د الماعون سورت ۱-۳ آیتونه.

۲ - د الفجر سورت ۱۷-۱۸ آیتونه.

قادر نه وی په قرآني آیتونوکې د یتیمانو او مسکینانو اکرام کله دالله د قیامت په ورځ ، پیغمبرانو ، آســمانی کتابونو او ملائکو با ندی د ایمان نه وروســته ذکر شــویدی ، دیتیم اکرام او احســان په دومره اندازه سره دی چی په مبارک حدیث که راغلي چی رسول الله ﷺ فرمایلي : کله چی یتیم ژاړی نو د الله عرش لړزیږی، نو هغه مهال الله فرمایی : زما دغه بنده چی پلار او مور می تری اخســتي دی چاوژړاوه ؟ نو زمادی پخپل عزت او جلال باندی ســوګند وي هرڅوک چې دهغه اوښکی پاکی او ژړاو دروي نو جنت به یې ځای کړم!

د یتیم پالنې اجرونه:

الف : په جنت کې میشت کیدل:

په مختلفو احادیثو کي راځی چی جنت د هغه چالپاره تضــمین شــویدی چی یتیم ته یی پناه ورکړی وي او پخپل کور کی له هغه نه پزیرایي وکړي.

ب: د زړه نرم والی او د حاجت پوره کیدل :

رســول اللهﷺ فرمایي : (أتحب أن یلین قلبک و تدرک حاجتک ؟ ارحم الیتم وامسح رأسه و أطعمه من طعامک یلین قلبک و تدرک حاجتک).[1] ژباړه : آیا دا خو ښوی چی زړه د نرم او غو ښتنی د پوره شی ؟ نو په یتیم باندی رحم وکړه او به سریی د شــفقت لاس راکش کړه او هغه ته له خپله طعامه خواړه ورکړه خو زړه د نرم او حاجت د پوره شي.

---

١ - الجامع الصحیح و المسانید، ج١، ص ٢٤٤.

ج – د درجاتو لوړوالی او د ګناهونو محوه کيدل:

رسول الله ﷺ فرمايي : (**و الذي نفسی بيده لايلي مسلم يتيما فيحسن ولايته و يضع يده على رأسه الا رفعه الله عزوجل بكل شعرة درجة و كتب له بكل شعرة حسنة و محاعنه بكل شعرة سيئة**).[1]

ژباړه : قسم په هغه ذات چی زما روح د هغه په يدبلاکيف کی دی ، هر مسلمان چی يتيم ته ورنږدی او د هغه پالنه په غاړه واخلي او خپل لاس د هغه په سرکيږدی نوالله پاک به يی د هر ويښته چی د ده ترلاس لاندی دي په اندازه د ده درجات لوړ او د هر ويښته په شميره به يی حسنات زيات او هر ويښته په شمير سره به يی ګناوی ورڅخه محوه کړي.

يتيمانو ته د نه پاملرنې پايلی:

الف – زوی به يې په همداسی سرنوشت اخته شي

ب – برکات به يی له ژونده واخستل شي

ج – آسمانی ورکړی او نعمتونه کميږي

د – نو دارنګه وضعيت به زموږ په اطفالو باندی راشي

هه : د محبت او مهر بنسټ له منځه ځي.

---

١ - جامع الأحاديث، حديث:٢٥١٦٥.

و – په یتیم با ندی ظلم کوونکی به دوزخ ته ځی ، الله ﷻ په قرآن کریم کې فرمایي: څوک چی د یتیمانو شتمني په ناحقه خوري نوبل څه ندی مگر دا چی اور خپلی گیډی ته ننه باسي او ډیر زر به سوزونکی اورکی واچول شی.

رسول الله ﷺ فرمایی : کله چی معراج ته بوتلل شوم ، یوه ډله می ولیده چی او رونه یی په گیډو کی وراچول کیده او د شا له طرفه به ورڅخه وتل ، پوښتنه می وکړه ای جبرئیله ! دا څوک دی ؟ هغه راته وویل : دا هغه کسان دی چی ظلم او زیاتی سره یې دیتمیانو مالونه خوړلي دي.

پایله:

دی ته په کتو سره چی یتیم یوه ټولنیزه ستونزه ده او د تاریخ په اوږدوکی او ټولو ادیانو د توجه وړگرځیدلی د ا سلام مبارک دین چی یو جامع او کامل دین دی د بشر ټولو اړخونو د نیوی او اخروي ته یې توجه کړی یتیم انسان ته چی په ماشومتوب کی د مور اوپلار نعمته محروم وي خاصه پاملرنه کړیده ، په قرآن کریم او نبوی احادیثو کی وربانده زیات تاکید شوی دا چی زمونږ ۹۹ په سلو کې او سیدونکی مسلمان دی او له بده مرغه د تیرو تپل شوو جنگونو له کبله زمونږ په هیواد کی د زرگونو یتیمانو ، کو نډوښځو ، بی سرپرسته معلولو او معیوبوانسانا نو شتون دی نو باید د غوبی وزله انسانانوته لاس رسي او مرسته ورسره کول چی زمونږ د ژوند سر لوحه د مسؤلیتونو دی ، ځکه که چیري په دیني هداياتو عمل ونشي او دغه ډلی ته توجه ونشی نو دنیوي او أخروي بدی پایلی له ځان سره به لري او د الهي عذاب سره مخامخ شو.

۵۳

د اوسیدو چاپېریال

الحمد لله الذي جعل من الماء كل شـــيء حي ورزق عباده من الطيبات، والصـــلاة والســلام على من جعل الطهور شـطرالايمان و على آله و أصـحابه الأخيار، أما بعد فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم فقد قال الله تبارک و تعالى في محكم كتابه الكريم:

(وَلاَ تُفْسِـــدُواْ فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْـــلاَحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَتَ اللّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ) [1]

وقال رســول الله ﷺ : (ألم أكن نهيتكم عن أكل هذه الشــجرة ان الملائكة تتأذى مما يتأذى منه الانسان). [2]

درنو حاضرینو ! غواړم پدی خطبه کې د الله ﷻ یو ډیر ژوندی نعمت د اوسیدو چاپېریال په هکله وینا وکړم.

---

۱ - د الأعراف سورت ٥٦ آیت.

۲ - سنن ابن ماجه، حدیث: ٣٣٦٥، قال الألباني هذا الحديث صحيح .

نن یوه ډیره جدی ستونزه دلویو ښارونو په ځانګړي ډول زمونږ د هستوګنی ښار فوق العاده ککړه فضاده ، سره له دی چې : سالمه فضا د الله ﷻ د لویو نعمتونو نه ده خو مونږ په خپله ځان د دغه نعمت څخه محروموو پداســـی حال کې چې کولای شــو د اوســیدو محیط په رعایت او ســاتنی سره ځان ته طراوت ، نشــاط ، تازګي او خو ښي ډالی کړو او د اوبو خاوری او هوا دککړتیا نه په ډډه کولو او ښی اســـتفادی کولو ورنه دلږ ترلږه د خپلو لومړ ینو اړتیاؤ پوره کولو په موخه مو دالله ﷻ یو ډول شکر په ځای کړو ،په خواشینی چې اوسنی وضعیت داسی دی چې په ښــارکې ژوند کول عملاً ناشــونی شــوی دی ، باید په یاد ولرو چې داســلامی تعلیماتو سره سم انسان د الله ﷻ د ټولو مخلوقاتو په وړاندی پړ دی لکه د ژوند چاپېریال او دانســـان د ارمانونو دپوره کولو په لارکې یو الهي لوی نعمت دی ، په دی لنډ وخت کې غواړم دســالم محیط او دمحیط ککړتیا ناوړه خطرونو په اړه څه وینا وکړم د بحث څخه وړاندی غواړم څه پوښتنی مطرح کړم:

پوښتنی : آیا پدی پوهېدی چې طبعیت د الله ﷻ د شتون څرګند مظهر دی ؟

او د الله ﷻ په مظاهرو باندی تېری نه ښبل کیدونکی ګناه ده؟

آیا پدی پوهېدی چې : اوبه ، خاوره او هوا د ژوند دری اساسی (اصلي) عنصرونه دي ؟ آیا خبریاســـت چې د اوســـیدو چاپېریال ورانول د انســـانانو د خفګان آن دهغوی دحتمي مړینی لامل ګرځي ؟ آیا د او سیدو چاپېریال رغونه د انسانانو د خوښی سره کلک تړاولري ؟

اصطلاحات او مفاهیم:

په پېل کې د مطلب دښــه پوهېدو لپاره دی بحث کې کارول شــوي لغتونو معنا کوو:

د اوسیدلو چاپیریال:

هغه ځایونه چې ژوند پکې روان وي محیط نومول کېږي د بېلګی په توګه : ویاله، یوښار ، بحیره ، دښته او ټول د محیط ډولونه ګڼل کېږي .

د اوســیدومحیط : دمیشــت کېدو چاپېریال کې بی ژونده عوامل لکه : خاوره ، اوبه، ګازونه او نور د ســاه لرونکی سره شــتون لري ، ژوندي موجودات په خپل مینځ اوبی ژونده محیط سره متقابل ارتباط ســاتي د غه ارتباطات د اوســیدو چاپېریال ســاتنی او پایښــت لپاره ډیر لازم دي ، د چاپېریال ســاتنی پوهان کله چې هتوګنی منطقی څېړي ، نو هر ه منطقه د هســتوګنی کې ژوندی موجودات شــته خصــوصــا ناژوندی عوامل شــته چې اکوســیســتم نومېږي ، هغه پوه چې اکوسیتم څېړی اکولوژی یا دهستوګنی چاپېریال نومول کیږی.

د هوا ککړتیا :

د هوا ککړتیا عبارت ده له په پرانســتې هوا کې د یو یاډیرو ککړوونکو له شــتون څخه د بېلګی په ډول ، ګرد ،خاوره ، کلک دود ، یا هواشــوي بخارونه په زیات شـمېر کي د دوامدارو ځانګړو خواصـو سره چې کولای شي چې د نباتاتو او نورو ژوندیو ژوند په خطر کې وغورځوي ددي پوښــتونو په ځواب کې باید ووایو! د چا

پېریال ککړتیا د ښـــار ، باندو ، اوســـیدونکو لپاره جدي ســـتونز ه ده ، نن د نورو ســـتونزو او مشـــکلاتو بر ســـیره چې شـــارونه یې د چاپېریال سره تړاو لري ، اوس سـخته ککړتیا د هوا هم ورزیاته شـوی لکه چې کومې شـمېرې د صـحي مرکزونو لخوا کلني را پور کې اعلام شـــوي ، هرکال د دری زرو څخه زیات ماشـــومان او زرګونه بوډا ګان او قلبی او تنفســـی مرضـــونو والادککړی هوا د تنفس په علت ځانونه له لا سه ورکړي دي . د ښارونو د هوا ککړتیا خ صو صا د سهار په لومړنیو ساعتونو کې او ماښام ته نزدی ښه کتلای شو چې څرنګه سخت دود د ښار فضا رانغاړي ، بوګنونکی قضیه دا چې په خواشینی سره چې تر اوسه کوم مسؤل مقام پدی ډګرکې کوم جدي ا قدام ندی کړی ، په هـمدی خاطر د هوا دو خا مت وضـعیت پدی ورځو کې ښـه کتلای شـو. ډیری ښـاریان په جدی ســتونزو سره کولای شـی چې ځانونه وظیفوته ورسـوي په همدی حال کې ډیری هغه کسـان چې تنفسي ســـتونزه لري مجبور دي چې په کور کې بندي پاتې شي ، دغه و ضعیت د روحي او ځانی سلامتیا لپاره د تحمل وړندی ، هغه و ضعیت بېل دی چې د ککړتیا له مخې په فیصـــدی او ګراف کې ډیر لوړ دی ، هغه دود چې دبی کیفیته سوند موادو د نقلیه وسایطو ، د سکرودود ، پلاستیک ، غیر معیاري سوند موادو او ګرد او دوســایطو ګرځیدو را ګرځیدو خاوری ، دځنګلونو او وونو د مینځه تللو په سبب راغلی او دوخت څخه وړاندی مړینه زیاته شوی او دخلکو د ستونزو کچه زیاتوي ، پدی ترڅ کې موږ د مسلمان ښاري په توګه څه دنده لرو؟

روښـانه او څرګنده ده چې مونږ کولای شـو د مسـلمان انسـان په توګه دمسـؤلو مقاماتو ترڅنګ اساسی او مهم نقش ولوبوو!

درنو حاضرینو:

اسلام او هستوګنی چاپېرپال:

د اســلامي فرهنګ او تعلیماتو مطابق چې طبعیت او دژوند چاپېریال د پالنی او دانســان د کمال لپاره زانګو ګڼي ، د همدی لامله اســلام دهر هغه ځای چې د ژوند چاپېریال ته زیان رسوي او د انسان د رشد لپاره یې نا امن کوي مقابله کوي ، د طبعیت جوړښت د حکمت پرښسټ پېدا شوی دی ، او ټول عناصریې ، وریځ ، باد ، میاشــت ، لمر او فلک کارکوي ترڅو انســان د هغو په رڼا کې د مادیت نه معنویت ته ورســېږي او دنیا او آخرت په شــه ډول په ځان کې کمال ته ورســوي ، الله ﷻ خپل ټول نعمتونه د طبعیت په دنیا کې د آدمی د تعالی او رشــد لپاره پېداکړي دي او انســان یې د دغو نعمتونو مالک ګرځولی دی ، الله ﷻ د بقره سورت په ۲۹ ایت کې فرمایي : (**هوالذی خلق لکم ما فی الأرض جمیعا**).[۱]

ژباړه : هغه دا سی الله دی چې هرټول نعمتونه چې په ځمکه کې شته ستا سو لپاره پېداکړی دي) نو ټول دنده لري چې د طبعیت ساتنی لپاره هڅه وکړئ.

د الله ﷻ یو صفت حفیظ دی او اسلامي جهان بیني کې ټوله هستي د الله ﷻ د ساتنی په دایره کې ده د اسلامي تعلیماتو پرښسټ باید مسلمان انسان خپل ځان پدی صفت سنبال کړي او ځان په هرځای او هر موقع کې وساتي ، او ځان دی دامانتونو ، نعمتونو لکه انساني ، ژوند چاپېریال ساتونکی وګڼی ، د طبعیت

۱ - د البقری سورت ۲۹ آیت.

د نابودی او تلف کېدو مخنیوی هم د امانت داری او حفاظت په رعایت سره امکان لري.

پېغمبر ﷺ ځمکه د انســان مور او د خدای امین بولي او فرمايي : (د ځمکی د ســاتنی هڅه وکړئ او احترام يې وکړئ چې ســتاســی مور ده هر څوک چې د ځمکی پرسر کوم ښه یا بد کاروکړي خبر به ورکوي . داسی کتنه طبیعت ته چې پیغمبر ﷺ يې خپلو امتیانو ته ور زده کوي دا څرګندوي چې : اســلام په ټولو انساني روابطو او څانګو کې د خالت کړی او ټولو لپاره يې څه مقررات وضع کړي دي ، خو دا په دی معنی نده چې د هری موضــوع لپاره دی د ځانګړی عنوان او اوسني دود سره سم یو خاص حکم دی مقرر وي . د چاپېریال ساتنی مسئله هم همدا څیر ده یقینا چې په یوی اســلامي سرچینی کې هم د چاپېریال په هکله کوم حکم ندی راغلی خود شــک پرته د اوبو ، ځمکی ، پاکی ، ناپاکي ، او رسوزېدنی او د دی په څیر مسلو په هکله په آیتونو ، احادیثو او نورو سرچینو کې زیات حکمونه شتون لري چې د هغو په مټ کولای شو چې ځینی د قیق مقررات د چاپېریال ساتنی په اړه مسئلی تر لاسه کړو . په خواشینی سره چې پدی هکله د اسلام له نظره په کوم شان چې لازم ؤ د تحقیق خاوندانو لخوا کومه څېړنه نده ترسره شوي . د ژمي فصل په راتلو او د هوا په سړېدوسره د هوا د ککړتیا وضعیت خواشینوونکی دی په ځانګړي ډول د ماشومانو او بوډا ګانو لپاره ډیر خطري دی. د اسلام په اصلي روایتي منابعو کې لولو چې پېغمبرانو علیهم السلام بز ګري ، نهال ایښــودنی ته ډیره پاملرنه کوله ، د اســلامي فقهي مذاهبو یو امام حضرت امام صــادق رضــی الله عنه د کافی کتاب ۲ ټوک کې پدی هکله فرمایلي دي :

(**كان أميرالمومنين يضـــرب**.....) حضرــت علی رضـــی الله عنه په بېل سره ځمکه تیاروله ، او پیغمبر ﷺ به د خرما ډډ لمداوه او نهالاوه یې . دیني لارښـــونوکي په خپله د اسلامي او انساني روزنی بېلگی روزونکي دي ، او دښو او ښایسته کارونو مخکښ افراد دي د همدی لامله دی ســپڅلی کار ترسره کولو کې د ټولو څخه وړاندی دي .

محترمو حاضرینو: !

د اوســـیدو چاپېریال ککړیتا په طبیعی دوران او څرنگوالي باندی تاثیر لري او ډیری ناوړی پایلی لری په انساني ژوند ، حیوان ، گیاه او ودانیوباندی.

په اوسنی نړی کې د هوا ککړتیا مسئله د انساني پرمختگ یوه ډیره مهمه او اړینه ســـتونزه گرځېدلی ده ، او د اوســـیدو په چاپېریال ککړتیا کې د انســـان نقش ډیرزیات دی طبعیت د بشری نسل د پایښت لپاره خلق شوی دی او دانسان او طبیعت ترمینځ نه شلېدونکی تړاو شته ، حضرت علی رضی الله عنه دغه پېوند او تړاو د انسان له طبیعت سره څومره ښکلی بیان کړی دی :د بندگانو او ښارونو په حق کې تقوی وکړئ ځکه چې تاســـی مســـؤلین یاســـت آن دځمکو او څارویو ، انسان هیڅکله اجازه نه لري چې ځان خو شی او آزاد وگر ځوي د طبیعت څخه په گټه اخســـتنه کې او د دی حق هم نه لری چې د طبیعت په ککړولو او ورانولوسره ســـوکالی ته ورســـېږي ، په اســـلامي فرهنگ کې طبیعت د انســـان د کمال ، پالنی زانگو او دگرگنېل کېږي ، په همدی خاطر د هغه چا سره چې دی عامل ته زیان رسوي ا و د بشر د ودی لپاره یې نا امن کوي ډغره وهي ، آسماني

مقدس متون په تیره بیا قرآن کریم د بشرـ هستی تکریم کړی او هغه یې عزتمن شمېرلی ، او دهغه د کرامت په اړه د اسرا ، سورت په ۷۰ آیت کې داسی فرمایلي دي : (**وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا**).[1]

مونږ د آدم او لاد ډیر پتمن کړی دی ، او هغوی مو په سیند او وچه پر سوری سپاره کړي دي او دپاکو څیزونو مو روزي ورکړی ده ، او په خپلو ډیرو مخلوقاتو باندی مو غوره کړی ، د انسان کرامت دهغه د خلافت مرهون دی ، ځکه د کریم ځای ناستی د کرامت څخه برخمن وي او داسی کرامت چې د الهی خلافت له اړخه وي د غیر انسان برخه نده ، په همدی خاطر کوم تعبیر چې د انسان په هکله شوی د هیڅ بل موجود په هکله ندی شوی، اوس د کابل ښار د ککړولو ځینی لاملونو ته اشاره کوو:

د پېغمبر ﷺ په سیرت کې نظافت او پاکي:

د اسلام ستر پېغمبر په سیرت کې د نظافت او طهارت په هکله ارزښتمند مطالب تر سترگو کېږي ، صحیح مسلم په کتاب کې راغلي دي چې هغه ښاغلي و فرمایل: (**الطهور شطر الایمان**)[2] پاکوالی نیم ایمان دی.

---

۱ - د الاسراء سورت ۷۰ آیت.

۲ - صحیح مسلم، حدیث: ۲۲۳.

رسول الله ﷺ فرمایی: (**لاتقبل صلاة بغير طهور**). [1]

لمونځ بی طهارته نه منل کېږی. په ګنو منابعو کې د رسـول الله ص نه نقل شوی چې : د بدن ، خولی ، غاښ ، پوزی ، جامو ، خونی ، د ژوند اړتیا و ،کوڅی ، دتګ راتګ ځای ، د کار او تحصـیل فضـا او عبادت نظافت لکه د جماتونو ، مدرسـو او دمسـلمانانو دټولنځیونو نظافت د مهمو کارونو څخه دی چې داسـلام دځانګړی پاملرنی وړدی ، د قرآن ، سنت د پېغمبر ﷺ دیارانو دویناو او د هغوی د ژوند تګلاری خورا ډیر شـواهد شـته چې د طهارت او نظافت په مراقبت او توجه باندی دلالت کوی .

یو مسـلمان څیړونکی داسـی لیکي : د پخوانیو مسـلمانانو ترمینځ د اجتماعي او شخصي روغتیا ټینګار په اسلامي تعلیماتو نیغ په نیغه تأثیر دي.

دصدر اسلام مسلمانان د نبوي ﷺ د روزنی د سیوري لاندی په لومړنیو پیړیوکې داسی په پاکوالي عادت شول چې یو اروپایي لیکوال د مسلمانانو د هغه ورځو په هکله داسي لیکي: کچېری مسـلمان یو دینارنه زیات په لاس کې ونه لري دیته حاضر دی چې خواړه تیا رنکړی او په هغو پېسو صابون واخلي او خپل نظافت او پاکي وساتي.

الهي حکمونه دطهارت ، نظافت په دګر کې بی ځایه سـختي کوونکی په انسـان باندی ندی بلکه هدف د بشر پاکوالی دی له باطني اوظاهري پلیتیوڅخه تر څو

---

١ - صحیح مسلم، حدیث: ٢٢٤.

هغه د الهي نعمتونو نه ډېر زیات او ښه برخه واخلي ، په مائده سورت کې راغلي دي : (**مَا يُرِيدُ اللّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَكِن يُرِيدُ لِيُطَهَّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ**).[1]

د اوبو د پیدایښت او دباران راکوزید و فلسفه د انسان د ظاهر او باطن نظافت او پاکوالی دی ، سره له دی چې د اوبو پرته ژوند شـــونی ندی خو الله ﷻ د انفال ســـورت په یوولســـم آیت کې د باران نزول لپاره څلور هدفونه شـــمېرلي دي : دمســـلمانانو پاکوالی ، هغوی نه د پلیتي لری کول د مؤمنانو زړونه قوي کول ، د هغوی د گامونو ټینگول.

الله تعالی فرمایی : (**إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّن السَّمَاء مَاء لِّيُطَهِّرَكُم بِهِ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ وَلِيَرْبِطَ عَلَى قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الأَقْدَامَ**).[2]

اســـلام په طهارت او نظافت کې یواځی د روغتیا نظر نه دی بلکه عبادي ، اخلاقي ، روغتیایي ، اجتماعي او اقتصـــادي او ... اړخونه د نظر وړدي ، د او داســه، مضــمضــی ، اســتنشــاق ، غســل او تخلي په وخت د عاگانې د پاکوالي مســـئلی ته د جامعیت نظر را څرگندوي ، په حقیقت کې ویلای شـــو چې الهي حکمونو کې څومو خې رانغښتی دي.

---

۱ - د المائده سورت ٦ آیت.

۲ - د الأنفال سورت ۱۱ آیت.

د پېغمبر ﷺ ځینی حدیثونه د روغتیا او چاپېریال ساتنی نظافت پوری ځانګړي دي چې عبارت دی له : (نهی ﷺ أن یختلی الرجل تحت شجرة مثمرة) .[1]

د میوه لرونکی ونې لاندی او دس ماتی کولو نه رسول الله ﷺ منع کړی ده .

(**أوعلی قارعة الطریق**) د واټ په مینځ او دتګ راتګ ځای کې میتیازو کولو څخه ډډه وکړئ (**أنه نهی آن یبال فی الماء الراکد**). [2]

په ولاړو اوبوکې د میتیازو کولو څخه منع شوي یاست.

(**ونهی ﷺ أن یمشي الرجل في النعل الواحدة**).[3]

ژباړه: او رسول ﷺ له دینه منع کړی چی یو څوک په یوه کلوش کې تګ کوي.

(**ولا یبیتن أحدکم وفی یده غمرة الطعام فان أصابه شيء فلایلومن الانفسه**).[4]

او تاسو کې دی څوک په غوړو لاسونو نه بیده کېږي که داسی یې وکړل او دشیطان د اړیکی سره مخامخ شو نو یواځی خپل ځان دی ملامتوي .

---

١ - المعجم الأوسط، حدیث:٢٣٩٢ .

٢ - صحیح مسلم، حدیث: ٢٨١.

٣ - شرح مشکل الآثار، ج ٣، ص ٣٨٧.

٤ - جامع الاحادیث، حدیث :١٧٤٣٠.

(**و نهى أن يســـتنجي الرجل بالروث و الرمة**) او لدینه یې منع کړی چې څوک په غوشیانو او هډوکو ځان پاک کړي.

(**ونهى عن البزاق فى البئرالتي يشـــرب منها**) پېغمبر ﷺ دهغی څاه په اوبو کې د لاړو اچولو څخه منع کړی چې څښـکل کېږي . د دی کار ترڅنګ چې د دی نه کولو فلسفه دلته مونږ ته څرګنده نه ده خو د هرډول ککړتیا څخه د اوسیدو چاپېریال د ســاتنی او پاکوالی د دی فرمانونو څخه څرګندوی ، پېغمبر ﷺ د بشرـي ټولنی لپاره مونږ مسلمانانو ته یو پوره او کامل بېلګه کېدای شي ، هغه جناب په رفتار او کردار کې د سعادت لاری مونږ ته راښودلي دي.

قاعده: (لاضرر ولاضرار فى الاسلام):

د (لاضرر) قاعده د اسلام په دین کې خورا ډیر لوی ډګر لري او دبشر د ژوند ټول اړخونه تر پوښــښ لاندی راولي د ضرر په ډله کې د اوســیدو چاپېریال ورانول او دانســـانی فردي ،اجتماعی ژوند ته زیان رســـول دي دلا ضرر قاعده د حدیث په چوکاټ کې د تواتر حدته په اثبات رســـیدلی ده او ټولی، اســـلامي ډلی پدی قاعدی یوه خوله دي ، د بېلګی په دول : د اســـلام مکرم نبی حدیثونه د دی څرګندونه کوي چې د لاضرر قاعدی وړانګی دانســـان ژوند ټول رانغاړي د دی حدیثونو نه د اســـتدلال تګلوری د اراښـــي چې : اســـلام نوروته تاوان او نقصـــان رسول نه قبلوي او دشک پرته د ضرر او زیان یوه بېلګه د انسان او سیدو چاپېریال ورانول دي . دالله ﷻ د رســـول څخه روایت شـــوی چې هغه حضرـت و فرمایل :

ضرراو ضرر ورکول مؤمن ته نشته او هم یې فرمایلي دي : (**لاضرر ولاضرار فی الاسلام**).

په اسلام کې ځان اوبل ته ضرر رسول نشته) دغه مسئله اتفاقي او اجماعي ده چې هیچاته رواندہ چې په لار او واټ کې مانع پیدا کړي او یا کومه ونه نهال کړي په هغه صورت کې چې دا کاریې د لاری د تنگیوالي لامل شي او تیریدونکوته ضرر او تاوان ورسوي نو ضامن دی ځکه ضرر او ضرار نشته علماؤ کرامونوروته د ضررسولو په هکله په همدی حدیثونو استدلال کړ ی دی.

پوهان او د اوسیدو چاپېریال :

پوهان وایي : کومی منفي پایلی چې مونږ ته پرمخ تللو او صنعتی کېدلو راوړی دی هغه د طبعی بلاگانو نه ډیری دي ، په همدی اساس د اوسیدو چاپېریال بیا ژوندي کول او د ژوند بیا راگرځول او ځکمی ته بیا ښیرازي ورکول په انسانانو کې د خوښی او هیلو روحیه پیداکولو مهم عامل دی خپله د انسان په مټ د محیط زیست ورانول پدی معنا دی چې : یوځوک د چپاوونو نه ډک سیندکی د ننه په کښتی کې وي او قصداً په خپل لاس د کښتی دسوري کولو هڅه وکړي او په پای کې هم خپل ځان په خطر کې واچوي او هم نور ملگري ، پداسی حال کې چې الله تعالی مونږ ته امر کړی چې د ژوند چاپېریال ودان کړئ ، د طبیعت سره د انسان د تړاو په هکله راغلي دي : (**هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا**) .[1]

---

١ - د هود سورت ٦١ آیت.

هغه ذات دی چې تاسي یې له ځمکی پېدا کړی اود هغی ودانول یې تاســوته پریښوداوسني انسان د بشر راتلونکی تباه کړی او کوم تمدن ته رسیدلای یا کوم تمدن سره مل شــوی او کنه هرومرویي ورسره مل کړی چې خپله په خپل لاس د فرانسوي پوه روژه گارودي په وینا:

۱ – کچېری مو په راتلونکو دیرشــو کلونو کې هغه شــان ژوند وکړو چې په تیرو دیرشو کلونو کې مو کړی نو دخپلو کوچنیانو وژنه مو په خپل لاس کړی ده.

لومړني ټولنپوه ابن خلدون د خپل کتاب په سریزه کې وایي : د اوسیدو چاپېریال د یو فرد په هوښ ، وړتیا ، در ایت او کفایت باندی اغیزه کوي او دعقل ، روح سلامتیا او منځلاری په اعمالو او کړنو کې د اوسید چاپېریال د روغتیا پوری تړلی دی ، د ځمکی معتدلو مناطقو او ســیدونکي زیات خوزښــت او خوښــي لري ، تگلاره یې معتدله او مینځنی منشــا لري ، افراط او تفریط یې په ژوند کې لږ او رغونه او جوړښــت یې په منا طقوکي زیاته ده ، دهغوی په جســم رنگ ، پوســت اخلاق او عقاید وباندی اعتدال واکمن دی ، لرلیدونه او تعقل دهغوی په کارونو او تگلارو کي شتون لري . د دوی په مینځ کې بی پروایي ، له حده زیاته خوښي ډیره لږ ده ، د هرچا د قد ، قا مت ، رنگ ډول ، او دا ندام ظاهری او باطنی څرنگوالی آن فکر او سوچ ، اخلاق د هغه د طبیعت او د اوسیدو چاپېریال پوری تړلی ده.

د هوا دککړتیا پایلې:

د څېړونکو د معلوماتو له مخی د هوا دککړتیا اغیزی او پایلی ډیری خطري او هلاکوونکی دي د محققینو په وینا په هوا کې شته .... ذری کولای شي د مرکزی عصابو سیستم باندی د تاثیر راوستلوله مخی دانسان به خوب باندی تاثیر راولي ، د دی راپور له مخی د هوا ککړتیا د انســانانو د روغتیا لپاره جدي تهدید دی ، او د بېلابېلو بیمار یو په څرګندونه کې عمده نقش لري ، د ککړی هوا ا ستنشاق که د لږی مودی لپاره هم وي د انســان ســلامتی لپاره مضرـ دی ، په وروســتینو څیړونو کې څرګنده شــوی چې د هوا ککړتیا د انســان په بدن کی د ژنتیکی بدلونونو لامل ګرځي چی په نوبت سره د سرطان او نورو خطري مرضونو په شان مرضــونو د پېداکېدو ســبب کیږی په واقعیت کې د هوا ککړتیا په(ډی ، ان)آوراثتی مولکول باندی تاثیر کوي ، دغه نوې څېړنه هم د بشرــ پر ژوند د هوا دورانوونکو اثراتو څرګندونه کوي د دی څېړنی جزئیات په امریکایی مجلی (طب تنفس و مراقبت بالیني کې خپاره شوي دي.

۱ – د هوا ککړتیا د طب په لحاظ د راتلونکو بېماریو لامل ګرځي : تنفسيــ ، قلبي، عروقي زړه حملی ، د جنین په وده کې کمزورتیا ، تنفسي دستګاه عفونت ، کلمو ورانی ، ټوخي ، ســني درد ، د ســترګو اوســتوني ســوزېدل ، کم خونی ، د وینی فشار زیاتېدل ، د مغزوو رانښت عصبي او اروایي ګډوډي ، سرطان او ..... کمښت.

۲ – اروایي او روحي بېماریو زیاتوالی

۳ – جسمي بېماریو زیاتوالی

۴ – تلپاتی مړاوی توپ

۵ – د ترددستونزی دښاریانوتګ راتګ

٦ اسیدي بارانونه چې زیات زیانونه لري.

۷ – ژر ژر مړینه خصوصا د ماشومانو ، بوډاګانو او دزړه مرضونو لرونکو افرادو

اوپه پایکې دنوروبېلابېلوبېماریولامل اوآخرکې دمنطقه وي اکوسیستم دله منځه تللوسبب ګرځي.

د ککړتیا لاملونه:

۱ – په کوڅو، واټونو ،دویالوشـــاوخوا کې د کثافت ډیروالی ، غیرفنی کنارآبونه ، کنارابونو په څنګ کې د څا ګانو ویستل ، دفني کانالیزاسیونو نه شتون.

۲ – د زړو او له کاره لویدلو نقلیه وسایطو دو دونه او ګردونه او دبی کیفیته تیلونه استفاده،او دمعیاري واټونو نه شتون او د روند ترافیک.

۳ – د غیر اصــولي ســوند موادو کارول لکه : پلاســتیک ، ســکاره ، د حمامونو مناسب او معیاري دود ویستونکو(نلونو) نه مراعات کول.

۴ – د مسؤلو قانوني مقاماتو ، رسنیو او مدني تولنی بی پروایي

۵ – د امامانو ، روحانیونو بی پروایي ، موثر اسلامي تبلیغ چې د اسلام په مقدس دین کې ذکر دی د نظافت په هکله نشته.

٦ – په کابل ښار کې د نفوسوز یاتوالی او تراکم چې د اوسیدو چاپېریال باندی د تاثیر برسیره د بېلابېلو مرضونو لامل گرځي.

۷ - د جگړی ناوړه اغېزی او د خلکو او مسئولو مقاما تو په مینځ کې د بی تفاوتی فرهنگ اودود.

۸ – فقر او بدمرغي او سوند موادونه شتون چې ځنگلي منطقې یې سپېري د ښتی گرځولي حتی د نباتاتو رښي یې له بېخه ویستلي او د پاکستان بازارونو ته یې رسولي دي.

۹ – په ټوله کې د اوسیدو چاپېریال ساتنی لپاره د منظم ، سنجول شوي پلان نه شتون چی د ښوونځینو د رسی پروگرامونو ، ورځپاڼو ، جریدو ، اخبارو ، تلویزون او رادیو او نورو ډله ییزو رسنیوله لاری پلي شي

۱۰ - د مالدارانو ، بزگرانو لخوا فصلي څرځایونو نه مراعاتول د تخم څخه وړاندی د واښولو کول یایي سوزول چې کله وچ شي چې بېلابېل نباتات وژل کیږي

۱۱ – صوتي ککړتیاوی چې په ځینو بازارونو او هټیوکې د ځینو هټیوالو له خوا د رادیو ، تیپ یا لاسپېکر په چالانولو سره پېدا کیږي پداسی کچه چې کنوونکی وي او اکثرا مبتذل او غیر اخلاقي سندری وي

۱۲ - په لویو لارو کې د ناستې او دخلکو نا موسونو ته د کتلو څخه باید ډډه وشي ، هغه څه چې په خواشینی سره نن د غسی غیر اخلاقي کړنی د ډیرو ښاریانو د شکایت لامل شوی ،پېغمبر ﷺ فرمایی : نا محرم ته کتل د شېطان یو زهرجن شی دی

نتیجه :

د هېواد ښارونو د ککړی هوا ، زیاتېدونکو خطرونو ته په پام او د اسلام تاکید ته چې د چاپېریال ساتنی ، روغتیا او هستو ګنځي سلامتیا په اړه یي لري د ا غواړي چې چارواکي او ښاریان پدی هکله اړین تدابیر ونیسي۔ ، د کابل ښار د موسمی بادونوپه درلودلو سره د هوا ککړتیا له اړخه ډیر زیان منونکی دی اړینه ده چې ژر اقدامات وشي د یادونی وړده چې د لاندی اقداماتو په کولو سره د دولت هیڅ پانګه نه مصرفیږي بلکه د دولت عواید هم په ډیرو ځایونو کې زیاتیږي.

د چاپېریال ساتنی لپاره د ښاریانو دندی:

بی شکه دهوا ککړتیا کمول د ټولو ښاریانو ګډون ته اړتیا لري نو باید د ښار اونواحیو هراوسیدونکی د ښار او هستوګنځي په پاکوالي ، نظافت کې برخه واخلي ، د کوڅی ، کورشاوخوا ، عمومي لارو په پاکولو کې زیاته هڅه وکړي اوپری نږدي چې عمومي او خصوصي میشت ځایونه په پلیتی اخته شي ښکلي شعار (زمونږ ښار زمونږ کور) څخه په الهام اخستلو د ښاري ژوند تګلاره دی د

کورنی ټولو غړو خصوصا ما شومانو ته ورزده کړي ، دټولنیز گډون اړتیا ته په کتلو لاندی کړنی د یادولو وړدي:

۱ – په کوڅو ، بیالو واټونو غاړو ، واټونو خپل چم گاوند کې د کثافاتو او پلیتیونه اچول

۲ – داونې په ترڅ کې دی د کوڅې اوســـیدونکي د خپل چاپېریال پاکولو لپاره حشر (اشر) وکړي

۳ – د پاڼو او کثافاتو سوزولو څخه دی ډډه وکړي

۴ - په عمومی لاروکې دی میتیازی نه کوي او لاړی او گړنگ دی نه غورځوي

۵ – د اوســـیدونکو په هم غړی دی خپله کوڅه کانکریت کړي ترڅود دوړو او خاوروڅخه مخنیوی وشي.

٦ -خپل موټر دی هر وخت له ټولو اړخونو فني معاینه کړي

۷ – هڅه دی وکړي چې غیر ضروري کارونو کې خپل شخصی موټرونه بهر نکړي او دعمومي وسایطو څخه دی گټه واخلي

۸ – د ســـپرلي په موســـم کې دی ډیره هڅه وکړي چې خپلې حویلی کې یو نیالگی کینوي چې دځای طراوت او ښکلا ترڅنگ د هوا ککړتیا کمه شي

۹ – عمومي حمامونو کې دی معیاري نلونه او هوا ویستونکي نصب کړي

۱۰ – خپلو ما شومانو ته دی هم ور زده کړي چې په گڼو ځایونو کې کثافات و نه غورځوي د هغی ورځی په هیله چې سالم چاپېریال ولرو ! و من الله التوفیق

٥٤

د نیالګیو کینول او په ټولنه کې یې ګټې

الحمد لله الذي جعل لكم الأرض فراشـــا و الســـماء بناءً و أنزل من الســـماء ماء فأخرج به من الثمرات رزقالكم، والصلاة و السلام على سيدنا محمد و على آله و أصحابه أجمعين . أما بعد: قال الله الحكيم في قرآنه الكريم:

(أَمَّنْ خَلَقَ السَّـــمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ السَّـــمَاءِ مَاء فَأَنبَتْنَا بِهِ حَدَائِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنبِتُوا شَجَرَهَا أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ). [١]

و قال رســـول الله ﷺ (لا يغرس مســـلم غرســـا، و لايزرع زرعاً فيأكل منه طير أو انســـان أوبهيمة الا كانت له صدقة). [٢]

به دست خود درختی می نشانم — په پایش جوی آبی می کشانم
کمی تخم چمن بر روی خاکش — برای یادگاری می فشانم
درختم کم کم آرد برک و باری — بسازد بر سرخود شاخساری
چمن روید در آنجا سبزوخرم — شود زیر درختم سبزه زاری
به تابستان که گرما رو نماید — درختم چتر خود رامی گشاید
خنک می سازد آنجا را زسایه — دل هر رهگذر را می باید

---

١ - د النمل سورت ٦٠ آیت.

٢ - د صحیح البخاری، حدیث : ٢٣٢٠.

به پایش خسته ای بی حال و بی تاب میان روزگرمی می رود خواب
شود بیدار و گوید ای که اینجا درختی کاشتی روح تو شاداب

ژباړه : پخپل لاس سره ونه کینوم او ورته او به ورکوم او د یادګار په توګه لږ د چمن تخم یی هم د خاور ورپر سر کړم ، ونه می لږلږ راټوکیږی او پاڼی او بار راوړي او شـــا خونه یی پر سر را پورته کیږی، چمن هم تک شـــین را پورته کیږي ، نو زما دونی لاندی به یو شـــین چمن لیدل کیږی ، اوړی چی هوا ګرمه وی او زما ونی ښـه سـیور جوړ کړی وي او هغه ځای تر سـیوري لاندی ډیر ښـه شـین او یخ وی چی د هر لا روي زړه ورته کیږي، نو یو څوک چی ډیر سـتړی او ګرمی ځپلی وي راشـــی او تر سـیوري لاندی یی ویده شي آرام وکړی او کله چی راویښ شي نو به وایی : هر چا چی داونه کینولی او دا سیوري یی جوړي کړی روح دښا دوی.

ګرانو حضارو!

د پسرلـی په موســم کی قرار لرو ، د ګل ، بلبل ، غوټیواو ژوند فصـــل ، نو خپلی خبری د دغه فصل سره مناسب په ونه او ژوند سره پیل کوم .

ځینی ضروری لغتونه : ساتنه ، کینول ، چاپیریال او د اوسیدو چاپیریال:

غرس: غرس په لغت کی د کرلو ، ونی ایښوولو ، نیالګی کرلو ، قلمچی ایښولو... ته وایی او په اصطلاح کی ونی کینولو ته وایي او جمع یی اغراس ده.

حفاظت: ساتنه (حراست) ساتنی مصدر (ساتل) مراقبت.

او به اصـطلاح کی (حراسـت) محافظت ، مراقبت ، مواظبت ، سـاتنی ، وقایت ، وقایه او څارنی په معناو راغلی دی .

محیط یاچاپیریال: هر هغه ځای چې پکې ژوند کول جریان ولري ، لکه کور ، اوبه ، یو ښار ، او قیانوس ...

د اوســـیدو چاپیریال :غیر ژوندی عوامل لکه خاوره ، اوبه ، غازونه او دغه غیر ژوندی عوامل له ژوندیو عواملو سره متقابل ارتباط لری دغه اړیکی د چاپیریال اوسیدو د بقا لپاره ډیری لازمی دي، د اوسیدو چاپیریال پوهان د خپلو څیړنو په لړکی د اوسیدو ځایونه تر مطالعی لاندی نیسي هره منطقه ژوندیو او غیر ژوندیو عواملو ته شامله ده چې داکو سیستم په نامه یادیږي ، اکولوژي یا د اوسیدو چا پیریال ورته ویل کیږي.

ددغه مطلب د ښې توضیح په موخه لاندی سوالونه مطرح کوو:

په اسلام کی دنیا لګیو کینول ولی دومره د اهمیت وړ موضوع بلل شوی؟ او ولی د اسلام ستر لارښود او نورو دین لویانو پدی اړه تاکید کړی دی؟ ولی د حکیمانو او لویانو په خبروکی ونی کرلو کینو لوته اهمیت ورکړل شوی؟ اساساً ونه اوځنګل د بشر په ژوندکی څه ګټې لري ؟

د علمی پلوه د اثابته شـــوی چې ونی د ځمکې نبض بلل کیږي او د انســـانانو، حیوا ناتو او ځینو بوټو اوونو لپاره یو حیاتي ماده ده چې د زهر جنو غازونو په جذبولو لکه دی اکســـید او کاربن او د اکســـیجن په تولیدولو سره چې د ژوندی پاته کیدو ماده ده او د روح لرونکو د ژوند د دوام لامل کیږی، د ژوند د ماشـــین چلول او سلامتیا په ونو او بوټو پوری تړلی ده. دونو کمښت او د ځنګلونو له منځه وړل او په ځانګړی توګه نن سبا چې ماشـیني ژوند اره پیل شـوی، د انسـان او د

حیوان د نســـل د انقراض لامل شـــوی ، نو ونه په حقیقت کی د طبیعت او چاپیریال د ښکلا او د الله د خلقت یو لوی نعمت دی.
ونه د آبادی ، شـینوالی ، طراوت او د هوا د پاکی وسـیله ده همدارنګه د خلکو د ژوند د ښکلا ، هوساینی او پاکی ډیوه.
نو د ونوا او بټو ساتنه او ورڅخه پالنه ډیر اهمیت لرونکی موضوع بلل کیږی.
د اســـلام مقدس دین له نظره د ونو ایښـــول او کینول ډیر مهم بلل شـــوی چی ورڅخه یادونه کوو.

ونه د قرآن له نظره :

په قرآن کریم کې متعدد آیتونه موجود دي چی د ونو اهمیت ورڅخه جوتیږي او په آخرت کي د الله له نعمتونو او د جنتیانو له خصـــوصـــیتونو څخه دوی ته ونی ورکول دي، لکه چې فرمایي :
ژباړه : (په جنت کی باغونه موجود دی چی ترونو لاندی به یی د اوبو ویالی بهیږي)
په قرآن کریم کی ونه ډیره یاده شـــوی او مختلف موارد لری چی په لاندی توګه ورڅخه یادونه کوو:

ونی الله تعالی ته سجده کوي:

الله تعالی فرمایي: (**أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْـجُدُ لَهُ مَن فِي السَّـمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ وَالشَّـمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ**).[1]

---

١ - د الحج سورت ١٨ آیت.

ژباړه : آیا نه ګوری چی الله ته سجده کوی هغه څوک چی په آسمانونو او ځمکه کی دی ، او لمر ، سپوږمی ، ستوري ، غرونه ، ونی او ټول ژوندي خو ځنده موجودات او ډیر له خلکو.

همدارنګه د الرحمن سورت په شپږم آیت کي ذکر شوي چی ټول موجودات الله ته سجده کوي او د ونی څخه د سجده کوونکو په توګه یادونه شوی.

سجده په لغت کی : تذلل، خضوع او دعا جزی ، ښکاره کولو ته وایي.

ونه د الله د قدرت نښه ده:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار هر ورقش دفتریست معرفت کردگار

یعنی د ونو شنی پاڼی د هوښیار و مسلمانانو له انده هره پاڼه یی د الله د قدرت او معرفت نښه ده.

د ونو د خلقت او پیدایښت موضوع په اړه چی بی پروایی کیږي او یوازی خاص کسان چی د قرآن په ژبه ورته (أولوا الألباب) ویل کیږي دغی نکتی ته متوجه کیږي ، هغه دا دی چی د ونو یوازی ظاهری ښکلا، پاڼی ، شینوالی ، غوټی او میوی ته ګوري خو ځینی نور بیا د دغه ظاهری شکل نه تیریږی او د مطلب حقیقي اړخ ته ګوري ، لکه شاعر چی وویل : برگ درختان سبز در نظرهوشیار ... هماغه اړخ دی چی چا ورته دا ښکلا او ژوند ورکړی ، له همدی کبله الله تعالی د نمل په سورت ٦٠ آیت کی وروسته له دینه چی آسمانونه ، ځمکه ، د باران اوریدل په باغونو باندی ، ته اشاره کړی ، وروسته یی دغه مهم ټکی ته اشاره کړی چی ای انسانه ! په ونوکی د ژوند ایجادته وګوره چی که چیری هغه

الهی روح او خلقت نه وای تاسو نشوای کولای چی هغه راشنی او د میوو څخه یی وخوری ، الله تعالی فرمایی:

(أَمَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ السَّمَاءِ مَاء فَأَنبَتْنَا بِهِ حَدَائِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنبِتُوا شَجَرَهَا أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ) .[1]

هوکی : د ونو په راشنه کیدو او لوییدوکی زموږ انسانانو کار یوازی تخم شیندل او د هغه اوبول دی ، خو هغه څوک چی د دغه تخم په زړه کی ژوند را پیدا کوی او د لمر په وړانګو او د باران په ژوند ورکوونکو څاڅکو او خاوری ته په فرمان ورکولوسره چی دغه ونه لویږی ، هغه یوازی الله تعالی دی.

له همدی کبله دا پایله لاسته راځی چی دونی یوازی، ریښه ، ساقه ، پاڼه ، ښاخ او میوه مطلوب نده بلکه د هغه ژوند دی چی یوازی هغه د الله پاک قدرت دی، دغه تعمق او فکر کول په واقعیت کی د انسان توحید پیاوړی کوي چي دیوی دانی نه دومره ښکلی ونه را جوړوي هغه ډیر قادر او توانا ذات دی.

په قران کې ونه مثال ګرځیدلی: الله پاک په قرآنکریم کي د ځینو حقایقو د تفهیم لپاره د خپل مخلوق نه مثالونه راوړي چي یویی هم ونه ده الله فرمایلي :

(أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاء) .[2]

پدی آیت کي ، کلمه طیبه د یوی پیاوړی ونی سره چی ګڼ شاخونه ولري او برکتي او میوه لرونکي وی ، تشبیه کړی، چی قوی ریښی لری او ګڼو ښاخونویی

---

۱ - د النمل سورت ٦٠ آیت.

۲ - د ابرهیم سورت ٢٤ آیت.

آســمان تیاره کړی وي، کله یی چی د بار او میوی وخت را ورســیږي نو میوه او ښکلایی هر لیدونکی ځانته راجلبوي او په تعجب کی یی اچوی.

د ســورت ابراهیم ٢٦ آیت کې چی راغلی: (و مثل کلمة خبیثة کشــجرة خبیثة اجتثت من فوق الأرض مالها من قرار).[1]

د خبیثی کلمی ذکر دی چی د (شجرة خبیثة) سره یی شباهت ورکړی، مرحوم علامه طباطبایی وایي :

کلمه خبیثه د کلمه طیبی په مقابل کی ده ، او د کلمه خبیثه نه مراد ، شرک په الله باندی دی چی په خبیثه ونی باندی مشــابهت ورکړی چی له خپله ځایه ایســتل شــوی وي او په پایله کی ثابت او آرام بنســټ او بیخ ونلری او څرنګه چی خبیثه (مرداره) ده پرته له شر او زیان څخه بل څه له ځان سره نه راوړي.

د انسان په ژوند کی د ونې ارزښت:

پدی برخه کی د ونی هغه برخی ته اشاره کوو چی د انسانی ژوندانه ضروری څیز (اور) پری بلیږي ، الله تعالی فرمایي:

(الذي جعل لكم من الشجر الأخضر نارا فاذا أنتم منه توقدون).[2]

١ - د ابراهیم سورت ٢٦ آیت.

٢ - د یس سورت ٨٠ آیت.

ژباړه : او الله هغه ذات دی چې تاســې ته یې دونو نه اور درکړ چې تاســې خپل ځانونو ورباندې ګرم کړی.

په دغه آیت کې د الله د قدرت یوه نښـه د اور پیدا کول بولي چې دشـنې ونې نه رامنځته کیږي ، ځکه ډیره د تعجب خبره ده چې هغه شـنه ونه چې انسـان به له ګرمې نه د هغه سیورې ته کیناسته ، په اور باندې بدله کړي هغه اور چې هر څه خوري او نابودوي یې ، دا کار یوازې د هغه مقتدر ذات دی او بس.

د النحل سورت ۱۰ آیت کې فرمایي: (**هُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ**).[۱]

ژباړه : او الله هغه ذات دی چې د آسمان نه یې تا سوته اوبه را نازلې کړې ، چې تاســې یې چښــې او له د غواوبو نه یې ونې راشــنې کړې چې خپل څاروی پکې ځروی په دغه آیت کې د ونې اهمیت ذکر شــوی چې هغه د اهلي او ځینو غیر اهلي څاوریو لپاره دغذا تامینول دی.

الله پاک په ټولو دغو آیتونو کې انســان ته ور په یادوی چې انســان باید له ټولو دغو نعمتونو چې په آسـانه توګه یې په اختیار کې ورکړې که ونې ، باغونه کښـت ... د الله نه بې خبره نشـې او ددغوشـیانو په اهمیت وپوهیږي او باید کرکیلې او دنیا لکیو کینولو ته اهمیت ورکړي.

۱ - د النحل سورت ۱۰ آیت.

ځکه دنیا لګیو کینولو فرهنګ په حقیقت کی په طبیعت کی پانګه اچونه ده، هسی پانګه اچونه چی هیڅ تاوان نه قبلوی او دا دا سی پانګه ده چی نتیجه یی انسان په دنیا او اخرت کی ویني.

د اسلام مبین دین له ښکلاو څخه یو دادی چی هغه کامل دین دی او هیڅ د اهمیت وړ څه یی بهرندی پری ایښی او هر څه ته یی د هغوی د اهمیت په معیار کتلي ، چه له هغه جمله نه ونی او ګیاوی دی.

ونی او بوټی د آبادۍ او ښکلا منظر ، د ژوند طراوت ، د هوا لطافت او د انساني ژوندانه د رفاه او سعادت او د طبیعت د پاکی تمثیلونکی دی له همدی کبله جنتیانو ته د الهي نورو نعماتو ترڅنګ چی دوی ته به ورکول کیږي (ونه) هم ذکر شوی الله فرمايي: (**وَبَشِّرِ الَّذِين آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُواْ هَذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُواْ بِهِ مُتَشَابِهًا وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ**) .[1]

ژباړه : او زیری ورکړه هغه کسانو ته چی ایمان یی راوړی او نیک عملونه یی کړي دا چی دوی لپاره د جنت باغونه تیار شوي چی د لاندی ترونو به یی ویالی بهیږي کله چی ورکړل شی له هغو میوو څخه نو وايي به چی دا خو هغه روزی وه چی مخکی موږ ته راکړل شوی وه . خو ده د هغه په پرتله څومره ښه او غوره ده او هغه میوی چی دوی ته راوړل کیږی ټولي دښه والی او شکل له پلوه یو شان

---

۱ - د البقری سورت ۲۵ آیت.

وي او دوی لپاره به پدغه جنت کی وی ښــځي پاکي او ســتره او دوی به وی په دغه جنت کي همیشه.

د ونو په اړه نبوي ملغلری او د لویانو خبری :

کله چی د اسلام ویاړلي تاریخ ته مراجعه کوو وبه ګورو چی د دین لویانو د اسلام له لومړیو وختونو را پدیخوا د ونو کینولو او کښــت او کرکیلی په هکله تاکید کړی او د هغه فضــیلت یی بیان کړی دی رســول الله ﷺ د ونو او نیال کینولو په اړه فرمایي:

(من غرس غرســاً أو زرع زرعا فأكل منه انســان أو طير أو ســبع أو دابة فهو له صدقة).[1]

ژباړه : څوک چی یو نیال کینوی نو ورڅخه انســان یا مرغه یا یو حیوان یا ځناور وخوری نو پدغه کار سره ده ته صدقه ده :

د ده مبارک له ویناوو څخه دا را معلومیږی چی ونی کینول ډیر غوره او ګټور کار د انســان لپاره بلل کیږي او خرما د یوی نمونی په توګه ذکر شــویده . همدا رنګه بی میوی او ځنګلي ونی هم ګټوری بلل شویدي.

په یوه بل روایت کي رســول الله ﷺ د ونو کینولو ته ډیره پاملرنه کړی لکه چی فرمایي:

(ان قامت على أحدكم القيامة و في يده فسيلة فليغرسها).[2]

---

۱ - مسند الامام أحمد، حديث: ۲۷۰٤۳.

۲ - مسند أحمد، حديث: ۱۲۹۳۳.

ژباړه : که چیری د دنیا عمر پای او قیامت ورځ را شی او ستا سو یوه پلاس کی یو نیالګی وي نو که دومره فرصـــت ورته پیدا شـــو چی دا نیالګی کینوئ هغه د کینوئ او فرصت د له لاسه نه ورکوي.

د اسـلام مقدس دین له تاکیداتو سره سره ، د نن سـبا تجربوی بشرـی علومو یی ځینی ګټی د چاپیریال ښی ساتنی په اړه بیان کړي چي په لاندی ډول بیانیږي: ګرانو حضارو پوهیږی چی ونی څه ګټي لري؟

په ژوندکی د ونو ګټې:

۱ . په تجربه ثابته شـــوی زیات عملیات شـــوی او یا قلبی امراضـــو ناروغان په روغتونو کی که چیری پداسی کوټو کی بستروي چي منظره لري او یا ونو او شنو فصلونو لورته وي نو په روغتیا کی یی مرسته کوي.

۲ . هغه ونی چی د ســـړکونو پر او ږدو لیدل کیږي ، د ســـړکونو د ښـــکلا او د طبیعت او انســـان پخوانی تړاو ورڅخه بریښـــي ، له همدی کبله باید ټول زیارو با سو څو د پخوانیو زړو ونو نه حفاظت وکړو.

۳ . د ونو په ضخامت ، لوړوالی او استحکام تفاوت کی د دوی ښکلا جوړیږي ته به وایی چی تل ژوندی دی او موږ انسانان کله د ونو کینولو په اړه سستی کوو.

۴ . په ښـــارونو او نورو مناطقو کی د شـــنی فضـــا او ونو بله مهم ګټه ښـــکلا او په ګرمۍ کی یی ســـیوری ده ، لدی پرته نوری ډیری ټولنیزی اقتصـــادي محیطي او نوری ګټی له ځان سره لري.

۵ .انســـان د ښـــکلي طبیعت او ونو نه خوند اخلي ، هغو ته په کتو سره د ژوند احساس کوو، څیړنو جوته کړی چی موږ انسانان ونی د خپل ژوند یوه برخه بولو.

٦ .په کورکی ښـکلی منظر را پیداکوي ، خو د ونو کینو لو چی پخپلو کورونو کی یی کرو باید دا پاملرنه وشـی چی ګاونډیانو حریم ته پری تیری ونکړو مګر دا چی ګاونډی هم ورسره علاقه ولري نو دونو په کینولو کی د مجاور و تعمیرونو او کورونو فضا باید اشغال نشي.

۷ . ونی د ژوند په اوږ دوکی د غرونو په احاطه کولو ښکلی فضا ، د هوا د پاکی د اوبو منابعو ساتلو او دوحشی څارویو د پناه وړلو په چارو کی پوره چاپیریالی ونډه لری، هوا حالات ، د لمر وړانګی ، باد او نور و نو پوری تړلي دي. په اوړي کي د لمر وړانګی دونو پاڼو په ذریعه جذبیږي او په ژمي کي د فلتر شـــوی هوا په توګه طبیعت ته بیرته ورکول کیږي. په اوړي او ګرمه هوا کی دونو شنی او یخ سیوری ته پناه وروړو، له همدی کبله په کورونو او یا چاپیریال کی د اوړی ونی کینوو.

۸ .همدا رنګه ونی د بادونو او طوفانونو کچه را کموي او د زیاتو اورښتونو پر مهال اوبه جذبوي او د سیل مخه نیـسي ، ترونو اوبوټو لاندی د شبنم څاڅکی کم وي ځکه په شپه کي د خاوری د سطحی نه را دیات انرژی کمه آزادیږي.

۹ .د ونو په را پیدا شوی یخنی سره ، په ښارونو کي یی کینول د هوا د سړ ښت لامل کیږي.

۱۰ .د شنې فضا، ونو او بوټو شتون د هوا د فیلتر کولو او صافولو لامل کیږي او زیات غازونه لکه کاربن او نور جذبوي او اکسیجن آزادوي ځینې ککړونکې ذرې لکه منو اکسید کاربن ، دی اکسید ګوګړ جذبوي او موږ ته صافه او پاکه هوا را په برخه کوي.

۱۱ .په ښارونو کې د ونو په شتون سره ژوندی طبیعت بیرته جریان پیدا کوي، الوتونکې پکې ځای جوړوي او د ژوند پړاوونه پیل کوي او پدې سره د طبیعت اوښارونو کې د ژوند کولو تر منځ تعامل را منځته کیږي، چې له بده مرغه زموږ ښارونه د څو کلو پرله پسې جګړو له امله اکثراً ددغه نعمت څخه محروم دي ، موږ باید هڅه وکړو چې یو ځل بیا دنیا لګیو په کینولو خپل ښا رونه ، کوڅې او د خپل کور چاپیریال پرې ښکلی او سالم ژوند د سره را پیل کړو.

۱۲ .د ونو د میوو څخه په هر فصل کې ګټه اخیستل ، د هغې د سیورۍ څخه ګټه ، په پسرلی کې یې شینوالی او ... د ناروغیو او چټلتیا په لرې کولو کې مهم رول لوبوي.

پایله:

د اسلامي تعلیماتو – الهي ارشاداتو او نبوي ملغلرو او لویانو د هداياتو – مطابق انسان د طبیعت په وړاندې مسؤل دی او د غفلت په صورت کې د پوښتنې مو رد ګرزي او اسلام له لومړیو وختونو څخه پدغه هکله تاکید کړی دی.

نو پدی اساس باید د پسرلی موسم په رارسیدو سره موږ هر یو د یوه نیالګی په ایښولو سره اخروی حسنات زیات کړو او په دنیایي ژوندکی هم له هغو څخه ګټه تر لاسه کړو.

د ونو او بوټو لپاره چی څومره لګښت کیږي هغه یوازی د لومړی کینولو او رانیولو پر مهال وی نو باید د ښه نیال اخیستلو او د هغی اوبه کولو او پاللوته توجه وکړو، د هغو نه اضافی شاخونه غوڅ ، او مختلفی د واوی وربانده وپاشو.

د ونو د ښی روزنی او ښکلی فضا په رامنځته کولو کي باید د علمي تجاربو او زراعتي متخصصینو له تجاربو څخه ګټه واخیستل شي، نو د دارنګه اقداماتو په کارولو سره کولای شو خپله فضا شنه ، ښکلی او یو پاک چاپیریال را منځته کړو.

د هغی ورځی په تمه چی یو آباد، شین ، د جنګ او تاوتریخوالي نه خلاص ښکلی هېواد ولرو.

و من الله التوفیق.

٥٥

نکاح او دهغی ګټې

الحمد لله الذي شــرف المؤمنين بالنكاح الشــرعي و جعل بين الزوجين مودة و رحمة حيث قال: (وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ).[1] والصــلاة والســلام على نبي الرحمة ســيدنا و حبيبنا محمد الذي رغب شــباب الأمة بالنكاح و قال: (النكاح من ســنتي فمن رغب عن سنتي فليس مني).[2]

أما بعد!

الله پاک په انســان کی د نکاح او د واده کولو غریزه را پیدا کړی څو د انســاني نســل د بقا ســبب شــی، له همدی کبله اســلامي شریعت نکاح یوه حلاله لار د نارینه او ښځینه ګډ او یو دبل ترڅنګ ژوندانه لپاره ګرزولی ده.

د نکاح تعریف: نکاح هغه تړون یا عقد ته ویل کیږی چی د نارینه او ښــځینه یو له بل څخه جنسی ګټه اخیستنه یی رواکړی ده.

---

١ - د الروم سورت ٢١ آیت.

٢ - سنن الدارمي، حدیث: ٢٣٠٨.

د نکاح د مشروعیت حکمتونه:

۱ .نکاح د انسان د اطمینان او آرامتیا لامل کیږي، الله تعالی فرمایي : (**وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ**).[۱]

ژباړه : او د الله د قدرت د نښونه داده چی ستا سی له خپلی نوعی نه یی تا سی ته د ژوند شریکی پیدا کړی څو د هغو په څنګ کی آرام وکړی او ستا سو تر منځ یی دوستی او محبت او رحمت ګرزولی، یقیناً پدغه نعمت کی خامخا د لاتل دي د هغه چا لپاره چی تفکر کوي.

۲ .نکاح د انساني نسل د بقا او زیاتوالی وسیله ده.

رســـول الله ﷺ پدی اړوند فرمایي: (**تزوجوا الودود الولود فاني مكاثر بكم الأمم يوم القيامة**) .[۲]

ژباړه : یعنی د محبت لرونکو او اولاد زیږوونکو ښځو سره واده وکړئ، ځکه ستاسو په ډیروالی د پیغمبرانو ټولی کی د قیامت په ورځ فخر کوم.

۳ .نکاح د نسب ساتلو ښه وسیله ده

له همدی کبله نســـب د ګډیدو او ضـــایع کیدو څخه ژغوري، که چیری نکاح نه وای نو پلاربه نه معلومیده او د اولادنو روزنه به یوازی د ښـځو په غاړه پاته کیده او

---

۱ - د الروم سورت ۲۱ آیت.

۲ - سنن أبي داود، حدیث: ۲۰۵۲ او سنن النسائي، حدیث:۲۲۲۷.

هغوی به هم نـشوای کولای چی په یوازیتوب سره دغه کاروکړی ، نو پدی وجه به د انسان نسل د انقراض سره مخامخ کیده.

۴ .نکاح د سترگو د کنترول او فرج د محافظت لپاره مناسبه لارده

ځکه په حدیث شریف کې راغلي : (**یا معشر الشباب من استطاع منکم الباءة فلیتزوج فانه اغض للبصر و أحصن للفرج**) .[۱]

ژباړه : ای د ځوانانو ډلی ! له تا ســـونه که څوک دا توان ولری چی واده وکړي نو نکاح د وکړی ځکه نکاح ورته د ســـترگو د کابو کولو او فرج محافظت لپاره ښـــه وسیله ده.

د نکاح حکم:

د نکاح حکم د نکاح کوونکی حالت ته په کتو سره تغییر کوی:

الف .ســـنت مؤکده نکاح : د اعتدال په حالت کې نکاح ســـنت مؤکده ده او د اعتدال حال دا دی چی شـخص د جماع، مهر ورکولو او نفقی توان ولري او د زنا د ارتکاب ویره ونلری، رسـول الله ﷺ فرمایي: (**النکاح من سـنتي فمن لم یعمل بسـنتي فلیس مني**).[۲] یعنی نکاح زما له سنتو څخه ده ، څوک چی زما په سنتو عمل نکوی نو هغه زما امتی ندی.

۱ - صحیح البخاري، حدیث: ٥٠٦٦ او صحیح مسلم، حدیث:١٤٠٠.

۲ - سنن ابن ماجه، حدیث : ١٨٤٦.

نو که چیری د گناه څخه د ژغورلو په خاطر، نکاح وکړي ، الله تعالی ورته ثواب ورکوی.

ب. واجبه نکاح: په هغه چا باندی نکاح کول واجب دي چی تمایل او شـــوق یی زیات وي او د مهر او نفقی ورکولو توان ولری او د نکاح نه کولو په صـــورت کې د زنا ویره ورسره وي.

ج. مکروه نکاح : که چیری څوک دا ویره ولری چی د واده کولو په صـــورت کی د خپلی ښځی نفقه نشی تامینولای او یایی په حق کې ورڅخه ظلم کیږی او پدی کولو د میړه او ښـــځی تر منځ د حقوقو رعایتولو څخه عاجز پاته کیږي، نو نکاح کول ورته مکروه دي، ځکه د نکاح د مشرـــوعیت علت د ثواب حاصـــلول او پاک لمنی ده، نه دا چی په نورو باندی ظلم او تیری او د گناه مرتکب کیدل چی دواده کولو له مصلحت سره کاملاً متضاد دی.

د نکاح تأخیر:

که چیری نکاح د ځینو ضروري مقا صدو په خاطر لکه : د تحصیل سرته رسول ، د مناسب کار او کسب زده کول او یا د ضروري مصارفو لکه کور د واده مصارف او نورو په وجه وځنډیږي، نو پروا نلري ، خو ښـــه داده چی ځوانان د نکاح په اړوند ځینی ســـتونزی او کمبودی تحمل کړي. خو ځوانان باید په یاد ولري چی واده پخپله د مسؤلیت احساس کول دي او انسان کار او کسب ته هڅوی او له ډیرو بی بندوباریو څخه یی ژغوري، پدی اړوند الله تعالی داسی وعده کړیده:

(**ان یکونوا فقراء یغنیهم الله من فضله**).[1]

ژباړه : که چیری بی وزله او فقیر وی نو الله به یی له خپل فضــل او برکته بډایان کړي.

یادونه:

هغه غوښتنه او نامزاد کیدل چی شرعی ایجاب او قبول پکی تر سره شوی نه وي دو عدی او توافق معنا لری او ورته شرعي صحیح عقد نه ویل کیږي

ځکه د نکاح عقد په ایجاب او قبول سره صورت نیسی.

بی له شــکه چی واده به هله کامیاب وبلل شي چی میړه خپله ښــځه پخپله انتخاب کړي او ښځه هم د خپل میړه په ټاکلوکی آزاده وي او پخپله غوښتنه دغه کار تر سره کړی.

د ژوند د شریک د ټاکلو لازم معیارونه:

د ژوند ملگري په انتخاب کی باید لاندی ټکي په پام کی ونیول شی:

۱ .دینداري:

میړه باید اخلاقي او دینداره ښــځه انتخاب کړي، ځکه دینداري ښــځه دی ته اړباسي څو د خپل میړه نه اطاعت وکړي او د هغه د نیکمرغۍ او خوښــی لپاره کار وکړي، او د خپل عفت او عزت په ساتلو سره د خپل میړه شرف اوعزت وساتي،

۱ - د النور سورت ۳۲ آیت.

او که چیری ښځه هم د میړه په انتخاب کی د هغه دینداري په نظر کی ونیسی نو په حقیقت کې د خپل راتلونکي ژوند د نیک بختۍ او د دنیا او آخرت د سعادت په لوریې ګام اخیستی دی، پدی اړه رسول الله ﷺ فرمایي :

(تنکح المراة لأربع لمالها و لحسبها و لجمالها و لدینها فاظفر بذات الدین تربت یداک).[1]

ژباره: ښځه د څلورو خصلتو په اثر په نکاح کیږي:

۱. د هغی دشتمنۍ په وجه

۲. د هغی د نسب په وجه (د کورنۍ د روندوالی)

۳. د حسن او ښکلا په وجه

۴. د هغی د ینداری په وجه ، نو هغه څوک چی دینداري لري هغه انتخاب کړه او ورڅخه مخ مه اړوه.

۲ .پیغله:

غوره داده چی پیغله نجلی په نکاح شي ځکه د نوی ژوند په پیلولو سره دوه طرفه محبت او دوستی زیاتیږي او پیاوړی کیږي له حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمایلي: (**هل نکحت یا جابر ؟ قلت: نعم ، قال : ماذا أبکراً أم ثیباً؟ قلت: لا بل ثیباً، قال فهلا جاریة تلاعبک).**[2]

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث: ٤٠٥٢ او صحیح مسلم، حدیث:٧١٥.

۲ - صحیح البخاري، حدیث: ٤٠٥٢.

ژباړه : رسـول الله ﷺ وفرمایل: جابره ! آیا واده دوکړ، ما ورته وویل : هو کی ، هغه وفرمایل : پیغله ده که کونډه ؟ ما ورته وویل : نه بلکه کونډه ، هغه وفرمایل : ولی د پیغلی نجلی سره نکاح نه کوله څو تاسو دواړو د محبت او مهر په فضا کی ژوند کړی وای.

خو که څوک د خا صو شرایطو په وجه مثلاً دا چی عمریې لوړ وی او یا په کورکی یی د اولادونو پالنه او روزنه او نور مصـلحتونه ولري او د کونډی ښـځی سره نکاح وکړي، څه اشکال نلري ، بلکه دا کارورته غوره دی.

۳ .مینه ناکه اواولاد زیږوونکی وي:

غوره ده چی سـړی هغه ښـځه غوره کړي چی ډیره مینه ناکه او اولاد زیږوونکی وي، ځکه دا رنګه ښځه د خپل میړه سره ښه چلند کوي او دوه طرفه محبت هم په کورني ژوند کې د نیک بختی ، سـعادت او د اولادونو ښـی روزنی لامل کیږي، له همدی کبله رسـول الله ﷺ فرمایلی : (**تزوجوا الودود الولود فاني مكاثر بكم الأمم يوم القيامة**).[1]

ژباړه : یعنی تاسـی واده وکړی د محبت کوونکو او زیات اولاد زیږوونکو ښـځو سره ځکه زه د قیامت په ورځ ستاسی په ډیروالی فخر کوم.

---

۱ - سنن أبي داود، حديث:۲۰۵۲ او سنن النسائي ،حديث:۲۲۲۷.

۴ .عزتمنه کورنۍ:

غوره ده چې سړی د یوی عزتمنی او آبرو لرونکی کورنۍ نه دواده غوښتنه وکړي، هغه کورنی چې افرادیی د ښو اخلاقو او صفاتو په لرلو سره پیژندل شوی وي څو اولادونه یی هم په هماغه غوره اخلاقو او صفاتو برابر راشي ، ځکه ډیر صفتونه له مور او پلار نه اولاد ته ور نقل کیږی او پدی اړوند ډیر احادیث دلالت کوي، لکه چې حضرت عایشه رضی اله عنها روایت کوی چې رسول الله ﷺ فرمایلی: (**تخیروا لنطفتکم فان النساء یلدن أشباه اخوانهن و أخواتهن**).[1]

ژباړه : تا سی د خپلو نطفو لپاره غوره ځایونه وټاکئ ، ځکه ښځی دا سی اولادونه زیږوی چې ورونو او خویندو ته یی ورته وی .

۵ .د نسب لیری والی:

غوره ده چې سړی د نږدی خپلوانو پر ځای، د هغه ښځی سره واده وکړی چې د نسبی پلوه ورځخه لیری وی ، ځکه دا کاریی د اولادونو د ښی روغتیا او سلامیتا لامل ګرزي او پدی اړه ویل شوي (د بیګانه ښځو سره واده وکړي څو ناروغ او کمزوری اولادونه ونه زیږوی).

د واده د اهدافو د منځ ته راوړو مهم عناصر:

د یو ښی او مطمئنه کورنې مینځته راوړو کې دا لاندیني لا ملونه مونږ سره مرسته کوي.

---

۱ - جامع الأحادیث، حدیث: ۱۰٦۵۳.

۱- د زوم انتخاب:

لکه څنگه چی نارینه پدی مکلف دی څو ښه ښځه وټاکی ، نو همدارنگه خپله په نجلۍ او د هغی په کورنی لازمه ده څو د مناسب زوم په انتخاب کی ښه دقت وکړي او کوشش وکړي چی هغه د لاندی صفاتو لرونکی وي:

۲- دینداری:

لازمه ده چی زوم (میړه) یو دینداره او اخلاقي انسان وي ځکه دینداري او تقوا هغه د دی نه ساتی چی پخپله ښځه ظلم اوزیاتی وکړي او حقوق یې ترپښو لاندی کړی له همدی کبله رسول الله ﷺ امر کړی څو د ینداره او اخلاقی نارینه سره واده وکړی که څه هم هغه فقیر وی : (**اذا جاءکم من ترضون دینه و خلقه فزوجوه الا تفعلوه تکن فتنة فی الأرض و فساد عریض**).[1]

ژباړه : کله چی تاسی ته داسی یو څوک راغی چی دین او اخلاق یی ستاسی خوښ ؤ نو غوښتنه یی ومنئ او خپله لور د هغه په نکاح کی ورکړئ، که چیری مو دا کارونکړی نو په ځمکه کی به فتنه او خور فساد رامنځته شي.

واقعیت دا دی چی که چیری نارینه دینداره وي او یوازی د هغه د فقر له وجی یی غوښتنه ونه منل شی نو دا ویره شته چي شیطاني وسوسی هغه نا مشروع او نا وړه کارته اړباسي چی د فتنو لامل به وگرزي.

همدارنگه که چیری ښځه د بی دینه او بد اخلاقه سړي سره واده وکړي او یا دی ته منتظره وي چی مالدار او شتمن سړی یی خوا ستگاریته راشي ، احتمال لري چي ښځه په فساد او ناروا کارونو لاس پوری کړي نو پدی صورت کی به د نجلۍ

---

۱ - سنن الترمذی، حدیث: ۱۱۰۸.

پلار د خپلی لور په سرنوشـــت چی هغه ده سره یوامانت ده، لوبی کړی وي او د نجلی راتلونکی یی ورخرابه او د زیاتو خطرونو به انتظار باسي.

۳- د انجلۍاوهلک ډیرسنی تفاوت موجود نه وی:

لازمه ده چی د نجلۍ او هلک عمرونه سره نږدی وي نو دا ښـــه نده چی نجلۍ دا سی چاته ورکړو چی د دواړو عمرونو تر منځ ډیراوږ دواټن وي او میړه یی د پلار او نیکه همزولی وي ، ځکه کامیاب واده هغه دی چی د دوســـتۍ او محبت پر بنسټ ولاړوي او د عمر دتوپیر کموالی یو له هغو ا سبابو څخه دی چی د میړه او ښځی تر منځ مینه او محبت پیاوړی کوي.

خو دا پدی مانا سره ندی چی د نجلۍ واده کول د لوړ عمر لرونکي ســـړی سره جواز نلري خو د نکاح اړوند هغه لوړ مقاصـــد او اهداف په ښـــه توگه تحقق نه مومي.

٤- د هغی نجلۍ لیدل چی غوښتل کیږی:

شریعت خواستگار – غوښتوونکي – ته دا اجازه ورکوی چي له نکاح مخکی نجلۍ ووینـي او د دغه کار حکمت دادی چی غوښـــتوونکی پدی سره کولی شي د هغی نجلۍ په اړه چی واده کول ورسره غواړي ، معلومات ولري . پدی اړه رسول الله ﷺ فرمایلی:

(**فانظر اليها فانه أحرى أن يؤدم بينكما**).[1]

---

۱ - سنن الترمذي، حديث:۱۰۸۷.

ژباړه : هغه ووینه ځکه دا کار ښه لاره ده ستاسو تر منځ د رغبت او تمایل لپاره.

د بل چا په غوښتلو ورتلل جواز نه لری:

کله چی یو څوک یوه نجلۍ وغواړی او د نجلۍ د کورنی له طرفنه ورته ځواب نه وي ورکړل شـــوی نو بل چاته روا نده چی هغه نجلی وغواړي، خوکه چیر لومړی سړی ته یی منفي ځواب ورکړی وی نو پدی صورت کی کولی شي چی غوښتنی ته وروړاندی شي ځکه رســـول الله ﷺ دیوه ســـړي خواســـتگاری د بل چا په خواستگاری باندی منعه کړی ده.

د ښځی او میړه حقوق:

د نکاح تړلو وروسته اسلامي شریعت په نارینه او ښځینه – میړه او ښځی – باندی حقوق او مکلفیتونه لازم کړي چی رعایتول یی لازم دي د ښځی ځینی حقوق په میړه باندی په لاندی ډول دي.

۱- د مهر ورکول: کله چی د نکاح عقد وتړل شو ، نو د مهر ورکول په میړه باندی لازم شـــو، الله تعالی فرمایي (و آتوا النســـآء صـــدقاتهن نحلة).[1] یعنی ورکړی د ښځو مهرونه په ښه زړه او د هدیی په توگه دوی ته.

۲- نفقه: کله چی ښـــځه د میړه عقد ته راغله ، نو میړه مکلف دی چی د هغی نفقه تامین کړي، او نفقه عبارت ده له: خوراک ، لباس او د اوســـیدو ځای څخه الله پاک فرمایی:

---

۱ - د النساء سورت ٤ آیت.

(أسكنوهن من حيث سكنتم من وجدكم و لا تضاروهن لتضيقوا عليهن).[1]
ژباړه : او ځای ورکړئ دوی ته د خپل توان په اندازه په هغو ځایونو کی چی تاسی او سیږی او ورته ضرر مه رسوئ چی وربانده تنگسیا راولی.

چې د طلاق نه وروسته او د عدت پر مهال نفقه لازمیږي، نو مخکی له طلاقه خو ضرور او په طریقه اولی سره لازمیږي، ځکه چی ښځه خپل میړه پوری تړلی ده او د هغه په واک کی ده ، نو نفقه یې هم په نارینه باندی لازمه ده،

الله تعالی فرمایي: (**لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا**).[2]
ژباړه : په شتمن باندی لازمه ده چی له خپلی شتمنی څخه یی مصرف کړی او د چاچی روزی تنگه وی – بی وزله وی – نو باید له هغه څه نه خرڅ کړی چی الله ورکړی او الله پاک هیڅوک پرته له – هغی اندازی – نه چی هغه ته یی ورکړی وی ، نه تکلیفوي ، الله به زر وروسته له سختی نه أساني راولي.
د نفقی اندازه د کفایت او د میړه د مالی توان او قدرت په اندازه ده او باید پکی اسراف ونشي.

هغه ښځه چی کارکوي:

اســـلام ښـــځه نده مکلفه کړی چی کار وکړي ځکه هغه د نفقی په را پیدا کولو مکلفه نده ، بلکه نفقه یی په بل چا لازمه ده ، ځکه د لور نفقه پر پلار د خور نفقه

---

١ - د الطلاق سورت ٦ آیت.

٢ - د الطلاق سورت ٧ آیت.

پر ورور – چی توان ولري – د مور نفقه پر اولاد لازمه ده چی توان ولري او د ښځی نفقه هم پر میړه لازمه ده ، خو ددی سره سره بیا هم اسـلام ښـځی ته د کارکولو حق ورکړی خو پدی شرط چی :

الف. که چیری ښځه میړه ولري نو د میړه اجازه یی ضروري ده

ب. د پردیو خلکو سره اختلاط او خلوت ونلري.

ج. کار د ښـځی له طبیعت سره برابر وي لکه خیاطی ، تعلیم ، ډاکټري او دی ته ورته نور دولت او ټولنه مکلف دي څو ښځه په سختو کارونو و نه گوماري . او هغه مال چی ښـځه یی را پیدا کوي، یوازی د دې حق دی او یوازی هغه پخپله پکی د تصرف حق لري او میړه او یا بل څوک نشي کولی چی ددې د اجازی پرته هغه واخلي.

۳ .په سوله ایزه فضاکی نیکی او ژوند:

ښځه یو الهي امانت د نارینه سره دی او په هغه یی باورکړی او کورته یی راغلی ، نو ځکه په نارینه واجبه ده چی د ښځی سره په نیکۍ چلند وکړي څو ژوندیی په ښـــه او خوشـــحاله فضـــاکی تیر شي. الله فرمایي: (**وَعَاشِـــرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا**).[۱]

۱ - د النساء سورت ۱۹ آیت.

ژباړه : او ورسره په نیکی چلند وکړئ او که چیری مو ورڅخه کرکه وکړه نو ډیر دا سی شیان دی چی تا سی یی نه خوښوی خو الله په هغه کی د خپل حکمت په مقتضا لوی خیر اچولی وی.

رسول الله ﷺ په یوه مبارک حدیث کی فرمایي : (**أكمل المؤمنين ايمانا أحسنهم خلقا و خياركم خياركم لأهله**).[1]

ژباړه : کاملترین مؤمن هغه څوک دی چی اخلاق یی ښه وي او ستاسی غوره کس هغه دی چی د خپل اهل (دکور غړو) سره ښه چلند کوي.

د ښه معاشرت (ژوند کولو) آداب په لاندې ډول دی:

- نارینه باید د ښځی په تیروتنو صبر وکړئ، رسول الله ﷺ فرمایي:
  (**لايفرک مؤمن مؤمنة ان کره منها خلقا رضي منها آخر**).[2]
  یعنی مؤمن سړی د مومنی ښځی نه کرکه نکوی ځکه چیری یی یو خوی بد راشی نو بل خوی به یی هغه خوښ کړي .
- د ښځی په نفقه کی پراختیا راولئ او کله کله د تحایفو په ورکولو سره هغه و نازوی ځکه په حدیث کی راځي چی هدیه یا تحفه زړه بد والی لری کوي.
- د خپلی ښځی سره خوش طبعی او خوږی خبری وکړي له مبارکو احادیثو جوتیږي چی رسول الله ﷺ به د خپلو بیبیانو سره خوش طبعی کوله.
- د دین ضروری مسایل خپلی ښځی ته ور زده کړئ څو هغه د دی په رڼا کی وکولی شی چی د خپل ژوند چاری د شریعت په سیوری کی سرته ورسوی

---

١ - سنن الدارمي، حديث: ٢٩٩٩.

٢ - مسند الامام احمد، حديث: ٨٣٤٥.

الله تعالی فرمایلي: (**يآ أيها الذين أمنوا قوا أنفسكم و أهليكم نارا**) .[1]

ژباړه : ای مومنانو: خپل ځانونه او خپل اهل د اور څخه وژغورئ.

- د کور په کارونو کی د هغی سره مرسته وکړي لکه چی د حضرت عایشی رضـــی الله عنها څخه روایت شـــوی چي رســـول الله ﷺ به د کور په کارونو کی ورسره مرسته کوله.

که چیری د یوی ښـځی نه زیاتی ولري، د شریعت د لارښـوونو مطابق یی تر منځ عدالت وکړي، که چیری نارینه معقول عذر ونلري ، نو د څلورمیاشـــتو نه زیاته موده باید له خپلی ښځی نه جدا نشي.

---

۱ - د التحریم سورت ٦ آیت.

٥٦

د پردي مراعات

الحمد لله رب العالمين و العاقبة للمتقين و الصلاة و السلام على سيد المرسلين سيدنا و نبينا محمد و على آله و أصحابه أجمعين و بعد:

د اسلام سپڅلی دین د کرامت، عفت ساتلو لپاره حجاب پرښځی لازم کړی دی. ځمادنن ورځی خبری تا سو خویندو اوو رونو په منیځ کی دحجاب، دحجاب ګټی او مراعاتو لوته، وګوروچی خوږ اسلام په کومه اندازه ارزښت ورکړی او دحجاب کومه بڼه یی لازمه کړی اودحجاب ګتی څه دي؟

دحجاب تعریف: حجاب په لغت کی: ستراو پوښښ ته وایی. او په شریعت کي: ددی څخه عبارت دی چی: ښځه خپل عورت پټ کړي، او خپلی سترگی و ساتی، او نارینه و بی ځایه ناستی و ولاړی او پردیو سره ځانته والی څخه ډډه وکري.

دحجاب حکم:قرآنکریم اونبوی سنت دحجاب په هکله ځانگړی لارښوونی لری:

الف: حجاب د کریم قرآن دلرلیده:

الله تعالی فرمایی:(**وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ**

آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَـائِهِنَّ أَوْ أَبْنَـاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَـــائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَـاء وَلَا يَضْـرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ).[1]

« او ایمان لرونکو ښځوته و وایه خپلی سترگی(دهرنا محرم) نه ټیټی کړئ، او پا کلمی او سئ او خپلی گانی نه ښکاره کوی مگرهغه چی طبعا ښکاره شی باید خپل پړونی په خپلی سینی را ښکته کړی او خپلی گانی پرته د خپلو خاوندانو، د میړ ونو پلرونو، ځامنو، پرکټیانو، ورونو، وریرونو، خوریونو یا خپل پخیر ښځو، یانی مینځو، یاد نارینه خدمتکارانو چی ښځوته اړ تیا نلری یا هغه کوچنیان چی د ښځو عورت باندی خبر ندي بل چاته ښکاره نکړي، او په ځمکه دی ځپی نه وهي چی پټه ښکلایی ښکاره او سرگنده شي ای مومنانو! ټول (نراوښځه) د الله در ته توبه وکړئ هیله ده چی بریالي شی.

په بل ځای کې فرمایي : (**يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَـــاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ**).[2]

ترجمه: ای پیغمبره خپلو ښځو، لورگانو د مومنانو ښځو ته و وایه چی خپل ځا درونه را کوز کړئ ترڅو و پیژندل شي او ونه زور ول شي او احتیاط ته نزدی ده، او الله ﷻ ښونکی دی».

---

۱ - د النور سورت ۳۱ آیت.

۲ - د الاحزاب سورت۵۹ آیت.

ب : حجاب دسنت له نظره:

حضرت عايشه رضي الله عنها فرمايي: (**كان رسول الله يصلي الفجر فينصرف النساء متلفعات بمروطهن ما يعرفن من الغلس أحد**) [1].

کله به چی رسول الله ﷺ دسهار لمونځ اداء کړ« د سلام نه وروسته» به ښځی خپلو کورونو ته بیرته تللی دتیار و دشتون لامله به نه پیژندل کیدلي. په بل حدیث کي را غلی دی چی اسماء رضي الله عنها نازکی جامی اغوستی وی نو رسول الله ﷺ ورته و فرمایل : (**يآ أسماء ان المرآة اذا بلغت المحيض لم يصلح أن يرى منها الا هذا و هذا و أشار الى و جهه و كفيه**).[2]

ای اسماء کله چی ښځه دحیض عمرته ورسیږی (پیغله شی) مناسبه نده چی: دبدن یوه برخه یی هم ولیدل شی مگر دغه دغه اوخپل مخ او ورغووته یی اشاره وکړه. نود پورته قرآني او نبوی حدیثوونو نه په زغرده سرگندیږي چی حجاب ته توجه او مراعات په هر مسلمان لازم دی، همداشان په نارینه و لازمه ده چی د اړتیا پرته نامحرمو ښځو ته و نه گورئ او د تور ځایونونه ډډه وکړئ.

د حجاب د مشروعیت حکمت:

د محمدي شریعت د اخلاقی مکار مونه یوهم حیاء ده چي رسول الله ﷺ هغه د ایمان یوه برخه گنلی، دکومی حیاء رعایت چی شرعا او عرفا امر شوی داده چی:

١- صحيح البخاري، حديث: ٨٦٧.

٢- سنن أبی داود، حديث: ٤١٠٤

ښځه د دا سی خویونو لرونکي وی چه هغه دفتنو، شکی ځایونو نه لری کړي، او شک نشته چی: د حجاب اغوستل داسی اخلاق او ګاڼه ده چی ښځی د سپکو خلکو د تیری او تورو فتنونه ساتی. دحجاب مراعاتول او دجنسي اړیکو ښځی او خاوند چو کاټه پوری تړل دټولنی روانی سلامتیا برابروي. د ښځی او کاري ځواک د ضائع کیدلو مخنیوی کوي.

الله ﷻ ښځو ته امرکړی چی: خپل صفت و ساتئ او د اغوستلو حجاب دکرامت او عفت ساتنی بوډ یرمهم و سیلو څخه دی . ځکه د عورت بربنډول ددی لامل ګرځي چی نارینه ورته وګوري اوګنوسوچونو کي ولویږی او بالاآخره په فحشاء او زناکی اخته شي، دهمدی لامله رسول الله ﷺ فرمایلي دي : « سترگی هم زنا کویی او زنایی کتل دي» تردی چی فرمایی: « **بیا فرج یا دهغه تصدیق کویی اویا تکذیب**»[1] .

په تیرو آیتونوکی مو ولوستل چی نارینه ته هم امر شوی چی: خپل سترگی ښکته واچوئ اوځان د فحشاء نه و ساتئ او ښځوته هم همداسی امر شوی دی.اسلامي شریعت نه غواړی چی ښایست او ښکلا وټکوي بلکی غواړی نارینه د خپلی خوښی ښځه نکاح کړي او هغه د خپل اوپاملرنی محوروګر ځوي اوټوله خپل ځان ته را واړ وي او دفحشاءاو ناروانه لری اوسي.

١- صحیح ابن حبان، حدیث:٤٤١٩.

عورت پټول:

عورت پټول په لمانځه کی وی یا بهرکی دمســـلمان یو فرض دی آن چی کوم څوک نه وی هم د عورت پټول لازم دی په یو حد یث کی راغلی دی چی یو صحابي د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه کچیری مونږ یواځی یو څه وکړو؟

رسول الله ﷺ و فرمایل:« الله ﷻ دټو لوزیات وړ دی چی حیاء ترینه وشي[1].

د عورت پټولو مسئلی:

۱- نارینه اوښـــځی ته رواندہ چي د اړ تیا پرته بیا بیا ځلی یوبل ته وګوری بلکی یوازی لومری کتل روا دي که اړتیا وي لکه د شا هدی ور کولو په مهال یاد اکثرته تلل پدی وخت کي روا ده چی: یوبل ته وګوري.

۲ – نامحرم سړي لپاره د ښځی ټول بدن عورت دی دمخ، دواړه لا سونو، او پښو پرته.

۳- نا محرمو نارینه و لپاره د نوم ترز نګون، خیټی او شا عورت ده ، یعنی: دهغوی کتل، مخ، سر، ســـینه قدمونو، مټواو ویښـــتوته روادی پدی شرط چی د شـــهوت خطره موجوده نه وي.

٤- خاوند کولای شی دخپلی ښځی دبدن ټولو بر خوته وګوری اولمس یي کړیي

۱- المحجم الکبیر،حدیث:۱۹۹.

٥- یوه ښــځه کولای شي دبلی ښــځی دبدن هغی برخی ته وګوري چی محرم سړی هغه کتلای شو خو نامه ترز نګونوپوری کتل جایز نه دی چي خیټه او شاه هم پکي راځي

٦- دنارینه عورت د نارینه و او ښځه و لپاره د نامه نه تر زنګنو ده.

٧- د ښځو لپاره ښتی جامی اغو ستل چی دبدن غړی یی ښکاری رواندی، که څه هم د داســی جامو سره لمونځ کول د دی لپاره چی عورت پټ دی جایز دی، خو مراعات د حجاب د ارت لباس اغستلو مستلزم دی.

د ښځو ښکلا او سینګار:

ښــایســت او ښــکلاته میلان د انســان په فطرت کې امانت ایښــودل شــوی، او داسلام مقدس دین دغه طبیعی غوښتنه په نظرکی نیولی ده ، او سینګاریی ټولو نارینه او زنانه و لپاره رواکړی ده. متعال رب نړی ډیره ښــکلی پیدا کړی ده، د ورځی په اوږ دوکی لمر خپلی وړانګی خپروی اوشــپه کي میاشــت او ســتوری په خپلی ځلا سره آسمان سینګاره وي معطراو ډول ډول ګلونه، دنګ دنګ غرونه په سپینو او شفافو واورو پوښلی زړه را ښکو نکو اواز و نو والا مرغان حیوانات ښکلی چینی د سیند څپی ټول په ټوله کی د نړی د ښکلا یوه ګوښه او دالهی مخلوقاتو یوه بپلګه ننداری ته ږ دی خود کایناتو دښــکلا اصــلی مرکز انســان دی، چی پرټولو مخلوقاتو غوره دی هســی موجود چی الله ﷻ یی په هکله فرمایی: « **لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ**»[1]

١- د التین سورت ٤ آیت.

يقينا: انسان مو په ډيره ښه بڼه او ښکلی قيافه پيدا کړی دی.

دشرعی له نظره دښځو دسينگار کلي شرطونه:

۱- د نا محرمو خلکونه د ښکلا پټول او تبرج نه کول: الله ﷻ په قرآن کی ارشاد فرمايی«**وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ**»[۱].

او مومنو ښځو ته ووايه سترگی (دنا محرمو دکتلونه) ښکته کړئ او پاکلمنی وکړئ اوخپل زينت مه ښکاره کوی مگرڅه چی تری ښکاره دی. نو دا چی زينت او سينگار د ښځی فطرت اړتيا ځواب او دخاوند دمحبت او پام را اړولو يوه وسيله ده، نه ښايی چی: دبيگانه وو سترگو په وړاندی و غرځيږی، سينگار ښځو ته حلال ده او دښځو دفطرت لپاره يوځواب دی، هره ښځه هيله لري چی کلي او سينگار وی ښکلی او ښايسته سرگنده شي، سينگارهم ديوی زمانی له بلی زمانی سره جلاوي اسلام د دی ميلان اورغبت سره مبارزه نه کوي مگرهغه ته نظم او جوړ ښت ورکوي او د ښځی ښکلاوی ديو سړي لپاره ځانگړی کوي چی ددی د ژوند شريک دی.

۲- د ښځی ځان سينگارول د نا محرمو خلکو دجلبولو لپاره وي: الله ﷻ فرمايي: «**وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ**»[۲] اوخپل څادرونه دی په خپلو سينو

۱- د النور سورت ۳۱ آيت.

۲- د النور سورت ۳۱ آيت.

راکوز کړی اوخپل سینگار دی نه ښکاره کوئ پدی آیت کي مومنی ښځی منع شوي چی د جاهلیت دورد ښځو متابعت وکړي ځکه د جاهلیت په دورکی ښځی د تللوپه مهال خپلی پښی په زمکی و هلی ترڅوشرنگانی یی پام را وگرځوي او دخپل پټ سینگار دښودلو لپاره یی داسی خوزښت کاوه چی د نارینه و لیدلو وړ وگرځي.

۳- دنارینه سره د مشابهت نه ډډه کول: د ښځی ښکلا او سینگار باید داسي وي چی د نارینه و په شان نه وی لکه چی حضرت ابن عباس(رض) فرمایی: (**لعن رسول الله المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال**). [۱]

رسول الله ﷺفرمایي د ښځو او نارینه و هریو مکلف دی چی: دهغه سینگار او جامو اغوستلونه ډډه وکړی چی مخالف جنس پوری خاص وی.

٤- د ښځی سینگار د حرام کار لامل نه وي د: ښځی ښکلا او سینگار حتی دخپل خاوند لپاره دکور دننه هم باید د شریعت د موار ینو په چوکاټ کي وي. همدی لامله هر زینت په مطلق ډول د ښځی لپاره مباح نه دی، او نشی کولای چی د ټولنی دود او عرف په استناد د شریعت خلاف زینتو نوته مخه کړی.

٥- دغیر مسلمو او لاوبالی ښځو سره نه مشابهت: دغه شرط دمسلمانو ښځو د ځان سینگار ولو لپاره یو ډپرمهم شرط شمیرل کیږي خو دهغه مراعاتول ددی لامل گرځي چې مسلمانه ښځه دپر دیو فرهنگونو او کوڅه گردو ښځو نه جلا شي او مرتبه اوو قاریي و ساتل شي او دعزت او کرامت احساس وکړی.

۱- صحيح البخاري حديث:۲۲۸۳

٦- د مینځلاری او اسراف نه لری والی مراعات: دښــځو زینت او ســینگار باید متعادل او داسراف تبذیر نه لری وي ترڅو خدای مکړه پایله یی تکبر او نخره شی اله تعالی فرمایي.

«**إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُواْ إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ** »[1] اسراف کوونکی دشیطانانو ورونه دی.

٧- دهغه ســینگار او ښــکلا نه ډډه کول چی د انســان روغتیا او ســلامتیاته زیان لري: داچي ا سلام هر خبیث اوم ضر ثیز حرام کړی اوتل د م صالحورا جلبولو او مفاســدو دفعه کولوپه لټه کی ده . هغه ســینگار اوزینت چی جســم ته زیان او تاوان رســوي منع دی په نبوي حدیث کي راغلي دي: «**لا ضرر ولاضرار**» ځان اونوروته زیان او تاوان رســول نشــته. یقینا ځه چي شــارع حرام کړیدي په هغه حرمت کی د دنیا آو آخرت گټه تغښتی ده که څه هم چی کله کله دهغه دتحریم حکمت مونږ ته معلوم نه وي.

٨- په ښه نیت وی: د ښځی ځان سینگار ول بایدد خاوند د خوشحالي اورضایت جلبولو په موخه وی چی دهغه د انحراف مخنیوی پکي وي او ښــځه ددی لاری خپل خاوند سره مرســته وکړی چی ســترگی ونه څره وی او اخلاقي منکراتو نه په ډډه وي و پا کوالی او عفت یی زیانمن نشــی داســی کار د معنوی اجر و ثواب لامل گرځي رســول الله ﷺفرمایي: « **انما الأعمال بالنیات**» [2] . **د**عملونو بنســټ په نیت ولاړدی.

١- د الاسراء سورت ٢٧ آیت.

٢- صحیح البخاري حدیث: ١.

اوس دښــځو دســـینګار اړوند ځینو جز ییا تو ته ورځو او دشریعت په رڼاکی یی ځیړو:

د جامو سینګار:

مسلمانه ښځه حق لری چی ظاهری ډول ښکلی اوښایسته وی خو پر دیو نارینه وپه واړندی د تبرح اوځان ښودنې حق نلري د مسلماني ښځي جامی باید نازکې نه وي داســـی چی ځان یی ښــکاره شي یا داســـی تنګی جامی و اغوندیی چی دبدن غړي یی معلوم شي په نبوي حدیث کی داډله ښــځی دوزخي ګڼل شــوي دي « **نساء کاسیات عاریات**»[1] .

هغه ښځی چی په ښکاره پټی خو په حقیقت کی لوڅی دی.

د حجاب ګټې:

دحجاب حکم چی د ښځی د پا کلمی او عفت ساتلوپه موخه وضع شوی. انسان یی خدای ته د تقرب او هغه ته فرمان وړلوپه مســـیرکی راوســـتی ډیری ګټی او ثمرات دځان سره لري:

۱- د روانی ارامتیا راوستل:

انســان دبیلا بپلو تمایلو او غوښــتنو لرونکی دی لکه: خوړوته میل مرتبی او مقام سره مینه پدی کی شـــهواني تمایلات او مخالف جنس ته توجه د انســـان د ډیرو

- صحیح مسلم ، حدیث: ۲۱۲۸. ۱

مهموتمایلا تو څخه دي، کچیری دغه میل قابو نشـــی یاپه ناوړه ډول پوره شـــی زیان لرونکی آثار دځان سره لری او دانســـان د آرامتیا د مینځه تللوسره برابر وي اود ښـځو ناوړه جامی او دحجاب نه مراعاتول یقینا دانســان دغه میل او خواهش ډیر را پاره وي او نارینه ځان پسی را کاږي.

۲- دکورنی چوکاټ کلکوالی:

اسلامی پټوالی د ښځی خاوند اړ یکو کلکوالي کی مهم اغیز لري او کولای شي د کورنی د ټینګښـت لامل شي ځکه د کورنی ثبات، د ګړد ژوند پایښـت د مناسـب پټوالی پوری تړلی دی، ځکه کچیری نارینه په هرځای او دهر ډول کوم محدودیت پرته ښـځو ته لاس رسـی ولري او نوروته دکتو له لاری خپل جنسي- غوښـتی پوره کړی نو ژوند څخه زړه سوړ اود کورنی جوړښت به ګډوډکري.

۳- دکار ځواک نه ښه استفاده:

دیته په کتو چی د ټولنی نیم وګړي ښـــځی دي ځینی خلک حجاب په ټولنه دښځو دحضور مانع ګڼي او هغه دکار ځینی ځواک دبیکاره کیدلو موجب ګڼلی، پداســـی حال کی چی ددی ادعا خلاف حجاب او مناســـب پټوالی ښـــځوته نه یوازی دهغوی دکاری فعالیت مانع نګرځي بلکی په ټولنه کي دکار ځواک د ښی ګټی اخســـتنی لامل ګرځی. دین د ټولنی په ډګر او ټو لنیز و فعالیتونو کي د ښځو حضور سره مخالف ندی، لکن دښځو او نارینه و داختلاط دحجاب د رعایت نه بغیر په ځینو ډګرونو کي مخالف دی.

٤- په ټولنه کې د ښځو د امنیت برابرول:

د حجاب یوه فایده داده چی ښـــځوته امنیت برابریږي دیته په کتوچي: دټولنی ټول وګړی امنیت ته اړتیالری اوهغه هم دبیلا بیلو اړ خونو لکه: ځاني امنیت، اروایي امنیت مالي امنیت اونور، داد عوا کولای شو چی ښځوته منا سب پټوالی دهغوی لپاره مناسب امنیت برابر کري قرآنگریم د احزاب سورت په (٥٩) آیه کی همدي مسـئلی ته اشـاره کوي فرمایي: ای پیغمبر! خپلوښـځو، لورانو او مومنانو ښـــځو ته ووایه! خپل څادرونه ځانوته نزدی کړی تر څو و پیژندل شي او دزور ولولاندی را نشيـ اوداکار احتیاط ته نزدی دی. ددی آیت په وینا دحجاب یوکار د ښځو ډ اډ من تیا ده داهل فسق د آزار او زور ولونه.

٥- د عفاف او پاک لمنی ساتل:

حجاب اوعفاف متقابل اغیز لري، د حجاب مراعاتول کولای شي د عفت او پاک لمنی لپاره لاره هواره کړي او هم یی و ســاتي همغه شــان چی د عفاف شــتون کولای شي ظاهري حجاب او پټوالی له ځان سره و لري.

د بی حجابی زیانونه:

د حجاب ګټوته په کتو کچیری اسلامی حجاب مراعات نشي کیدای شي لاندی اغیزی ولري:

١- اروایي اوروحي آرامتیانه شتون.
٢- دکورني جوړښت ګدوډ یدل.

۳- دکار ځواک بیجایه تلل.
٤- ښځو لپاره نا امني.
٥- د پاک لمنی او عفاف کمښت.

په اسلام کي چي څومره بی حجابي سره مبارزه شوی ده هومره دبد حجابی سره هم مبارزه شـویده ، په هرحال حجاب یوه قرآني او شرعی مسـئله ده او مراعاتول یی د مسلمانو ښځو یو اخلاقي او دیني مسئولیت دی.

دحجاب دود خپراوی تګلارې:

۱- د پوهاوی کچی لوړ والی:

داســلامي حجاب دمرتبی، اوګتی یی او دبی حجابی دبدو اغیز و په اړه دخلکو پوهاوی خصوصا د ښځو دحجاب فرهنګ په خپراوی کی اغیز لري.

۲- دپردی غوره بیلګو معرفی کول:

دیته په کتلو چی بیلګه جوړونه نا خواله منلوکی مهم نقش لري، ښــه ده چې دحجاب فرهنګ خپرید اړوند بنســټونه غوره بیلګی وړاندی کړي پدی برخه کي علماء ډیر عمده نقش لري، علماء په اسلام کی دبیلګو او نمونه ښځو معرفی کولو سره کولاي شي پدی مســئلی اغیز لرونکی نقش و لري همداشــان انځوریزی رسنی ډیر اغیز لري.

۳- په کورنی کی دلورانو روزنه:

لیدل کیږي چې دپردی دود ولو یوه مناســـبه لار په کورنی کې دلور گانو روزل دی او داچی مورا وپلار خپل ما شومان په کوچینیوالی او تنکی ځواني د مناسب لباس او پټولو سره عادت کړي تر څوپه لوی واکی کی پری دروندوالی و نکري.

٤- په ښونځیو او مدر سوکی دلورانو زده کړه:

مدرســه یا ښــوونځی چی دښــوونی اوروزنی ځائي دی ډیر زیات تاثیر دلورگانو د حجاب په خپراوی کی لري. ځکه کیدای شي ددی لاری متعلمین، زده کوونکی دحجاب اوگتو سره چی آشناشي او دحجاب فرهنگ ورو ښودل شی.

نتیجه ترلاسه کول:

تیر و شـیانوته په کتلو حجاب ځمونږ ټولنی لپاره یو فرهنگی اصـالت دی چی په قرآن کریم اونبوي احادیثو کي رســـني لری، حجاب مراعاتول ددی ترڅنگ چی یو قرآني امردی کولای شي ډیری زیاتی نښی اوگټی ځمونږ ټولنی خصوصا دښځو ټولنی لپاره ولري، انشـــاءالله کولای شـــو اســـلامی حجاب په رعایتو لوسره خپل اسلامی هویت او اصالت خوندی کړو.

۵۷

د نسلو نو په روزنه کې دحلال رزق اغیز

الحمد لله الذي أمر عباده بأكل الطيبات و نهاهم عن أكل أموال الحرام بالباطل و السحت و الصلاة و السلام على الذي قال: (أيما لحم نبت من حرام فالنار أولى به) وعلى آله و صحبه ومن تبعه باحسان الى يوم الدين.

قال الله تبارک و تعالى في محكم التنزيل و هو أصدق القائلين بعد أعوذبالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُواْ لِلّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ»[1]

وقال رسوالله ﷺ: **(يآ أيها الناس اتقوا الله وأجملوا في الطلب فان نفسا لن تموت حتى تستوفي ر زقها و ان أبطأ عنها فاتقوا الله و أجملوا فى الطلب خذوا ما حل و دعوا ماحرم).**[2]

امابعد: داسلام مقدس دین مادي او معنوي دواړه روغتیاوته اهمیت ورکوي پدی بحث کی پدی اړوند څه مطالب لولو:

الله ﷻ ځمکه، آسمانونه، پکی شته بی شمیریی ستوری پیداکړي او دانسانانوپه چوپړ کی یی گرځولي، د قرآن ډ یری. آیتونه د دی خبره کوي چي په آسمانونو

---

۱ - د البقری سورت ۱۷۲ آیت.

۲ - سنن ابن ماجه، حدیث: ۲۱٤٤.

اوزمکه کی ټول شـــته نعمتونه د انســـان دگتی لپاره دی. چی ځینی یی دادی: الله تعالی فرمایی: « **هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعًا**».[1]

« هغه ذات دی چی: دځمکی دسرټول نعمتونه یی ستا سولپاره پیدا کړي دي، همدارنگ متعال رب فرمايي:« **وَسَـــخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّـــمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ**».[2] هغه څه چی په آســـمانونواو زمکه کي دي دیو لطف په تو گه دپا لوونکي له لوری ستاسو خدمت ته وړاندی شوی.

هو! هرڅیز چی: خوړل،څښـــکل یا گټه اخســـتنه تری دقرآنی آیتو نو اونبوي احادیثو په بنسټ منع شوي نه وي ټول یی حلال او دانسان دا ستفادی وړدي. الله ﷻ د څینو څیزونو نه نهی کړی او دځینو په حکمو نو په در ولو سره یی اســـتفاده ترینه محدوده کړی ده، هغه ځیزونه چی تر سره کول یی د آیتونو او حدیثونو په حکمونو سره منع شـوي دی حرام گڼل کیږي، داخپله خدای ﷻ دی چی : دی نیغ په نیغه حرامونه ټا کی او بند گان اړ دی چی یوازی دالهي امر په خاطر تری ډډه وکړي .او داهم یوحقیقت دی چی: هر حرام دپایلی په اعتبار ډیر زیا نونه لري او ممنوعیت یی هم گڼ حکمتونه لري، حرام تر سره کول کله کله ناوړه مادي پایلی او کله هم معنوي اضرار لري.

د پیلگی په تو گه: کیدای شـــی یوه مړي حرام هره شـــیبه انســـان کوږ کړی آن دهغه دښـــځی او لادونو په وضـــعیت باندی اغیزی وکړی. جوته ده چی حلال او

---

۱ - د البقری سورت ۲۹ آیت.

۲ - د الجاثیه سورت ۱۳ آیت.

حرام دپا لونکی په امرونو سره مشـــخص شـــوي دي، هیڅوک حق نلري چي په خپل فکر او لید سره حلالوته حرام یا حرامونه حلال جور کړي، الله ﷻ هغه کسان چی کیدای شي په خپل شخصي تفسیر ونو اوتا ویلونو سره ددی ستری غلطی مرتکب شی داسی ریټی: الله تعالی فرمایي:« **وَلاَ تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هَذَا حَلاَلٌ وَهَذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُواْ عَلَى اللّهِ الْكَذِبَ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللّهِ الْكَذِبَ لاَ يُفْلِحُونَ**».[1]

« او دهغه څه لپاره چی یوازی (ستا سوله مغزه راوتی) او ستاسو له ژبو راځي په دروغو وایي چي: داحلال دی او هغه حرام تر څو خدای پوری دروغ وتړی څوک چی الله پوری دروع تړی نه بریالی کیږی».

تناکی شوی لاس د الله محبوب دی:

نبوی سیرت تل د حلال او حرام مراعاتول ترغوږ و رسولی او په ډیرو حدیثونوکی دحلال رزق برابرولو په اړه هڅه او هاند ستایل شوی او خپل امت چي دحلال تر لاسه کولوته هڅولی حضرت محمدﷺپه خپله یوی ارزښتمنه ویناکی فرمایي:« **ما أكل أحد طعاما قط خيرا من أن يأكل من عمل يده وان نبي الله داود لا يأكل الا من عمل يده**».[2]

---

١ - د النحل سورت ١١٦ آیت.

٢ - صحیح البخاري، حدیث: ٩٧٩.

هیچا دخپل لاس دتنا کونه غوره ډ وډی نده خوړلی او دالله نبی حضرت داود هم دخپل دلاس د کار کولو خواړه خوړل».

ځمونږ پیغمبر په خپلی دی وینا سره هغه کسان ستایلي او تقدیر کړي چي د خپلی کورنی د ژوند برابرلو لپاره خپلی خولی تویوی، د رسول الله دهر فرصت نه گټه اخستی او خپل یاران یی حلال کسب ته هڅولي، ځمونږ ستر لارښود خپلو ټولو ویناو او عملی ژوند سره جوته کړی ده چی دغه لنډ عمر داسی اوهسی تیریږی ، ایمان و الا انسان ددینه وړاندی چی دخپل کار آسانوالی یا سختوالی یا اعتباري دي او کنه دي دده مسلک فکر وکړی باید دیته متوجه اوسي چي آیا لاسته راوړنه ئی حلاله ده او که حرامه او پدی لټه کی وي چی په هر لارچی وي حلال رزق ترلاسه کړي، او د اړتیاپه مهال لاړشي او ډبری ماتی کړي یا یو بیل واخلی او هغه ځای کی انتظار و باسي چی نور انتظار باسي، بیاد فرصت ترلاسه کولو سره دچازمکه کی یوی وکړي او دچالار جوړ کړي خو هر و مرو خپل معیشت دهغی لاری پوره کړی چی الله مشروع کړي.

حرامه مړی دزړه وژونکی ده:

رسول الله چی تل یی حراموکې دلویدو نه منځه کول یو شریف حدیث کی داسی فرمایي: « **الحلال بین و الحرام بین و بینهما مشتبهات لا یعلمها کثیرمن الناس فمن اتقی الشبهات استبرأ لعرضه و دینه و من وقع في الشبهات وقع في الحرام کالراعي یرعی حول الحمی یوشک أن یوقعه ثم ان لکل ملک حمي ألا و ان حمي الله محارمه ألا و ان**

في الجسد مضغة اذا صلحت صلح الجسد كله و اذا فسدت فسد الجسد كله ألا وهي القلب»[1]

« حلال روښانه دی او حرام هم خود دی دواړو مینځ کی مشتبه څیزونه شته چی دواړوپه څیر دی» « ډیری خلک پدی نه پوهیږی او بیلولی نه شي، کوم انسان ددی شکی څیزونو نه لری اوسی نو خپل دین ، پت او حیثیت یي وساته » څوک چی په شکمنه او مشتبه زمکه کی مزل کوي دهغه شپون په څیردي چي: دکښت څنګ ته خپله رمه پیایی پداسی شان چی کیدای شی چی پکی ولویږی نو بیا هر پا چا یوه سیمه لري او دالله سیمه هم دهغه حرامونه دي، پدی هم پوه شئ چی په بدن کی یوه ټوټه غوښه ده چی هغه روغه وي نو بدن هم روغ وی اوپه و رانیدو سره یي بدن هم ورانیږی او هغه زړه دی.

د پیغمبر(ﷺ) دغی و ینانه چی ډیر حقایق پکی پراته دی داشاری په توګه داهم را ویستی شوچی: وینه چی زړه ته راځی او دهغه ځایه ټول بدن ته ورځي کچیری داوینه د حلال رزق محصول وی نوهم زړه سالم او روغ پاتی کیږي. او هم دټول بدن روغتیا تضمینږي، ددی پرته کوم زړه چی پلیتی ویني په ګرځولو راګرځولو کی بوخت وی فساد او تباهي نه ځان نشي- ژغورلی او په ککړی وینی سره چی تیته کړی یی ده ټول بدن فاسدوي.

په همدی الله ﷻ یو دوست ویلي دي: « کله کله زړه یوی مړی سره داسی بدلیږي چي بیا هیڅکله نشي- کولای چی په حال شي او پخوانی حال ته

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث:۳۸ او سنن الدارمي، حدیث: ۲۷۲۷ .

راوګرځي» ټول ګناهونه قلب سختوي خصوصا دشپې د پا ځید و مانع ګرځي، د شـپینو عبادتونو او تهجد لمانځه سره دشـپې تیارو رڼا کولو په لارکي سـتر خنډ حرامه مړی ده.

حلاله مړی هم په زړه باندی مثبت اثرات لري او هغه ژوندی کوي او پوهوي چې بل هیڅ څیز یی نشي- کولای. دانسـان په ناکامی کې د حرامو ویرانوونکو اغیز و باندی پو هید و لپاره د رسول الله دغه نصیحتونه ډیر مهم دي:

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (**ان العبد ليقدف اللقمة الحرام في جوفه ما يتقبل منه عمل أربعين يوماْ**).[1]

دهغه انسان عمل تر څلویښت ورځوپوری نه قبلیږي چي معده کي یي حرام وي.

په بل حدیث کي هم دي « **ان الله طيب لايقبل الا طيبا**»[2] په بیا نولو سره ددی موضوع اهمیت لانښه سرګندیږي.

ترجمه: « الله ﷻ پاک دی او دحلال او پاک نه پرته بل څه نه منی» په بل روایت کی راغلی دی: « **قام سعدبن أبي و قاص فقال يا رسول الله ادع الله أن يجعلني مستجاب الدعوة فقال رسول الله : يا سعد أطب مطعمک تکن مستجاب الدعوة**).[3]

---

١ - المعجم الأوسط للطبراني، حديث: ٦٤٩٥.

١ - مسند الامام احمد، حديث :٨٣٣٠.

٢ - المجعم الأوسط للطبراني، حديث: ٦٤٩٥

« یوه ورځ حضرت سعدبن ابی و قاص پا ځیده او د رسول الله نه یی هیله وکړ چی الله ﷻ ځما ټولی دعا گانی قبولی کړی، د بشریت و یاړ و فرمایل: که غواړی چی دعاگانی دی قبولی شی نو حلال مړی خوره. حضرت رسول الله یادونه وکړی:(**الر جل یطیل السفر أشعث أغبر یمد یدیه الی السماء، یقول: یارب... یارب، و مطعمه حرام و مشربه حرام و ملبسه حرام ، و غذي بالحرام! فأنی یستجاب لذلک**).[1]

«چی یو سړی پهاو ږ دسفرکی ببر سره اوخیرن خپل لاسونه آسمان په لور اوږدی لپاره پورته کوی او وایی: یارب، یارب پداسی حال کی چی حرام خوری، حرام اغوندی دداسی سړی دعا ځنکه قبلیدای شی».

دپاک لمنو نسلونو په روزنه کی دحلالی مړی اغیزی:

رومي مولناوایی : « دحلالې مړی نه هم حکمت، هم عشق او هم مرحمت لاسته راځي کچیری کومه مړی دحسد او چل لامل شی او دناپوهی او غفلت سبب شی نو پوه شه! چي دغه مړي حرامه ده ، آیاد اموکله لیدلی چی غنم وکرل شي او وربشی وریبل شي؟ او یادونه یی کړی ده چی: دانسان صالح کیدل او دصالح اولاد روزنه دحلال رزق سره کلک تړاولری، نوکله مبارکو آیتونو، شریفو حدیثونو اوخپلو مثرانو اخطارو نو ته غوږ ونیسو سرگنده به گوروچي که غواړو دالله ﷻ صالح بندگان او د سیلم زړه خاوندان شوهرومرو باید د خرامونه لری و اوسو اوپه حلالو باندی بسنه وکړو، کچیری غواړو پاک او سچه نسلونه وروزو،اړیو چي: خپل

---

۳ - مسند الامام احمد، حدیث:۸۳۳۰

اولاد دکورنی نورغړی چی زموږ دکفالت لاندی دی او لونږیی دڅارنی او مراقبت دنده په غاړه لرو په حلالو خوړ و تغذیه کړو، یقینا هر تخم موچې کرلی یا خوبه زقوم کیږی او نور بخیی ســـده کویی او یاپه داســـی یوی مبارکی ونی اوړی چی ریښـــی یی دزمکی په ژوروکی غزیدلي اوڅانگی یی آســـمانونوته رســـیدلی او په خپل سیوری، پاڼو او میوو سره دبشریت خدمت کوی. هغه څه چی د نامشروعو لارونه ترلاسه شي جهنم زقوم ته ورته ده اوبس، کوم ماشومان چي په هغه باندی تغذیه شـــی نو یوه ورځ به هرومرو خپل پلار، مور ټولنه اړ باسي چي و ینه قی کړي، خدای مکړه کچیری ځموږ خواړه حرام وي،جامی موحرامی، ژوند موپه حرا مو ککړ وي. دا پدی معناده چی موږ له یوی خوا خپل معنوي ژوند تباه او بر بادوو اوله بلی خوا دخپلوماشـــومانو احتمالی نیکمرغی د صـــفر سره ضربه وو د همدی لامله که څرمره زمانه بدله شي شرطونه تغیر و کړي، ټول نارواو لاروته مخه کړي او حلال او حرام ته دپا ملرنی پرته د دنیوی امکاناتو نه گټه و اخلي موږ ښـــه کولای شـــو چی حرام و خورو او دکوموو گړوچې دڅارنی او مراقبت مسئولیت لرو هغوی په حرامو تغذیه کړو.

حکماء او طبیبان وایي: گیډه لرونکی ښـــځی ته د (د یاز پام) په توگه آرام و رکورنکی دواگاني ورنه کول شي، ځکه چی کیدای شي دغه ډول دواگانی بدی اغیزی دجنین په جوړښت ولري او دهغه دبدن دځینو غړو دخرابوالي لامل شـــی شـــاید داډول دارو په هر ماشـــوم په هر دوران کی تا ثیر ونکړي . خوکچیرې یو سلنه احتمال د زیان هم پکی وي مور باید د حکیم نصحیتونو ته غوږ کیږ دي او احتیاط وکړي خصـــوصـــاد دحمل په څووروســـتیو میاشـــتو کي دداډ ول دو اگانو

کارولوڅخه ډډه وکړي عینا پدی بڼه دمعنا عالم پوهانو، مشرانو لکه شیخ عبدالقادر گیلانی، امام شاذی، شاه نقشبند او امام غزالی دخپلو تصوفی تجربو په رڼاکي گوت څنډنه کړی چي حرامه مړی به دانسان په وړاندی بدی اغیزی ولري او دحرام خور مورا پلار ونه چي کوم ما شوم دنیا ته راځی هغه به هم دځینو استثنا یي حالاتو پرته معنوي خراب جوړښت به لري، دغو بزرگانو هم ددي دگر ده حکیما نوپه توگه و یلی دی حرامه مړی دځینو حرامیانو دنیا ته در اتلو لاري هواروي. نو آیا هغه والدین چي دنوي زیږیدلی دفزیکي او بیولوژیکی سلامتی لپاره هر لازم شرط مراعاتوی او هرډول احتمال و لویو یا دوه سلنه هم وي په نظرکی نیسي۔ او هڅه کوي ډیره ښه اودقیقه کړنه تر سره کړي نوړینه نده چی همدا حساسیت دهغه معنوي صحت او سلامتی لپاره هم ښکاره کړي؟ دموردگل گنډ لو ستن دماشوم دجوال گندلو ستن ده. هو! په حلال رزق دیو ماشوم تغذیه کیدل دمور په رحم کي د جوړښت دلو مړنیو ورځو څخه ډیر مهم دی ، داسي چي هر ډول نا غیړي د الله سره ځمونږ په تړاوکي د جنین د تکامل او رشد په دوران کی هرو مرو دیوی ناوړه پیښی په توگه – اگر که لند مهال وي ماشوم باندی اغیز کوي، او یوه ټوټه حرام د موراو پلار په گوتوکي کیدای شي د ماشوم دموقت یاتل انحراف اغیز من لامل وگرځي. حضرت ابو وفاء ددی موضوع په بیان کی دخپل شخصی ژوند اودخپل ځوی یوخوی بیلگه وړاندی کوی ځوی یی تل دغوندی ستن په لاس کی گر ځوله او دخلکو داوبو ډک ژی به یی سوری کاوه، خلکو ددی لپاره شیخ ابووفاء خواشینی نشي۔ ډیره موده داخبره پټوله او شکایت یی نه کاوه خود وخت په تیریدو دغه کار دخپل حدنه اوړي او دخلکو

دصبر کاسه ډکیږي خلک اړکیږي چی پیښه د خدای دوست مخی ته کیږدي او ځوی نه یی شکایت وکړي، حضرت دخپل ځوی دکارونو نه چی خبر شو په رښتیا خفه شـو او حیران پاتی شـو، مسـئله یی خپلی ښـځی ته وویلی او ددی خبری معلومولو لپاره چې ددی کار سـبب یا پلار دی او یا مور نود خپلی ښـځی نه پوښـتي چې دحمل په دوران کی کوم ناوړه خوزښـت تری شـوی اوکنه؟ مورځان ته زحمت ورکوي او فکر کوي او خپل خاوند ته داسـی وایي: « دنیاته دماشـوم دراتک څو میاشـتی وړاندي دگاونډی کورته تللی ووم هلته می دمنو او انارو ونی ولیدی، زړه می ډیر غو ښته چی:

وی خورم خوپه غو ښـتویی و شرمیدم دگاوندی دخبر ولو پرته می دگل گنډ لو ستن را واخیـسته اوپه میو وکی ننویـسته او په خټلو می په میوه باندی تنده ماته کړه» شـیخ ابو وفاء ددی خبروپه اوریدلو وایي: دگا ونډي دمیوونه دهغه داجازی پرته ستاخټل ددی سبب شو چی ځمونږ کوچنی دخلکو دژیو سوري کولو باندی روږ دی شي، اوس د الله ﷻ در بارته مخه کړه او وژاړه چې : اللهﷻ دی گناه وبښی.کله هم چي مورپه خپل کرغیړن عمل پوه شوه او دعاته یی لاس پورته کړ او دالله ﷻ نه یی ښښنه او گاونډی څخه ی حلالوالی و غوښت یو ناآشنا احساس چې په کې پیدا شو وی ویل:

« دغه کار بیخی له ما سره نه ښـایی، څنگه کولای شـم داسـی کړنی ته لاس واچوم» او دغوندی ستنه یی لری و غورځوله.

لنډه داچې: همغه شان چې حلال دزړه ځلا ده ، حرام هم دزړه زنګ دی، څوک چې غواړي عبادتونه یې معتبر دعاګا نې قبولې، اولادیې نیکان شي باید دحلالو دچوکاټ نه دوتلو مسئلې ته ډیر دقیق وي.

لکه چې جوته ده محترم حاجیان د « لبیک اللهم لبیک» غږ اوچتو لو سره هر غرا اوسمه په خوزښت راولی داهغه مقدسه جمله ده چې مومنان یې دحج په ترځ کې احرام کې تراو سیدو پورې پرلپ سې تکراروي چې معنایې دا سې ده « امرکوه ای ربه، وفرمایه ای پالو نیکه! تابلنه راکړه او مونږ راغلو، په زړه اوځان ستابلنه منو، وفرمایه ای الله! ای پالو نکیه چې سیال او شریک نه کرې پاک یې حمد ستا، احسان ستا او پاچا یې ستاده، ته یې یوازې،بې مثاله او بې سیاله یې وفرمایه ای ستره ربه!» نوکله چې مخلص مؤمنان په دغې دزړه له کومې را ولاړې شوې جمله سره مقدس ښار په زړ یرویې را ولې کوم سړې چې په بدن یې دحرامو اخستل شوې داحرام جامې اوپه معده کې هم حرامه مړې شتون لري او وایې: «لبیک اللهم لبیک» هغه رحمان اورحیم ذات، سره له دې چې خپل مخلص میلمانه په ځانګړي الهي اکرام او مننې استقبالوي هغه دحرامو تغذیه او داحرامو پوښل شوې احرام والا ته په خطاب کې وایي« لا لبیک ولاسعد یک» ددې جملې لنډه معنا داده: ستالبیک او سعد یک دې خپل اوسه ته ښه را نغلې صفا او پاکي دې نده راوړې!»

۵۸

نظافت اوسوچه والی

نحمد الله سبحانه و تعالی الذي يحب التوابين و يحب المتطهرين، والصلاة والسلام على الذي جعل الطهور والنظافة جزءا من الايمان و على آله وصحبه أجمعين.

امابعد: الله تعالی فرمایی«إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ».[1]

ژباړه: « الله ﷻ توبه کوونکی او پاک خلک خوښوي» او حدیث شریف هم سچه والی دایمان یوه برخه بللی ده : (**الطهور شطر الایمان**)[2]

لکه څنکه چی پاکی د انسان معرفی کوونکی او دشخصیت مطهر دی، داو سید و چاپیر یال او ژوند څرنګوالی دانسانانو هم دیوی ټولنی شخصیت او دهغی دفرهنګی او روز نیزی کچه، مخصوصاً په او سنیو شرایطو کی چې انسانان ډیر زیات خپلو سترګو لیدو باندی باور کوي، هرمسلمان اړ دی چی دخپل ژوند ټولو څانګو کې دنظافت او سپڅلتیا په مراعاتو لو سره دیو مسلمان او اسلامی ښار یوه ځلانده بڼه وړاندی کړي، هغه څه ونکړي چې نور د دهغه د ژوند ناوړه کړوړه په لیدو سره داسلام په هکله غلط قضاوت وکړي.

---

۱ - د البقری سورت ۲۲۲ آیت.

۲ - صحیح مسلم حدیث:۲۲۳.

نظافت او پاکوالی ته دلمانځه کلیي ده:

اســـلام نظافت او پاکی دلمانځه دصـــحت لپاره چی د دین ســـتن ده یو شرط گرځولی، الله تعالی فرمايي:« **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّـــلاةِ فاغْسِـــلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُواْ بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَينِ** ».[1]

ژباړه: ای مؤمنانو کله مو چی دلمانځه اراده وکړه نو خپل مخونه پریمنځئ او لا ســونه موتر څنگلو پوری و مینځئ اوخپل سرونه مســح کړی اوخپلی پښـــی موتر ښنگرو پوری پریمینځئ.

د دینه ښه سرگنده ده چی الله تعالی او به ځان ته دنزد یوالی او راز اونیاز کلیي گر ځولی او هغه شـــان چی رحمت یې دبنده گنا وی مینځي او به هم ښـــکار پلیتي پاکوي.

نظافت او پاکوالی د رسول الله هڅونه:

داسلام سپیڅلي دین خپلو اتبا عوته امرکړی چی داختر ونو او جمعو په ورځوکی غسل وکړئ اوپاکی جامی واغوندئ او دغه غسل یی د دغو ورځو نښه گر ځولی ده تر څوکه یی روغیتا اوسلامتي پوری شي.

۱- د ښکلی منظر او بڼی او پاک چاپیر یال درلودل:

رســـول الله ﷺفرمايي : (**انکم قادمون علی اخوانکم فأصـــلحوا رجالکم و أصـــلحوا لباسکم حتی تکونوا کأنکم شامة فی الناس فان الله لا یحب الفحش ولا التفحش**).[2]

---

۱ - د المائده سورت ٦ آیت.

۲ - سنن أبی داود، حدیث: ٤٠٨٩

ژباړه: تاسو خپلوورونو ته ورځی نوخپل هستو ګنځیونه ښه کړی، جامی موښی کړی، ترڅو دخلکو په ستر ګو کی ښه ورشی ځکه الله ﷻ بدي بد ښودنه نه خوښوی. بیا ځلی په بل حدیث کې رسول الله فرمایلي دي : « **من کان له شعر فلیکرمه**»[1]

یعنی: څوک چی و یښته لري نو احترام دی ورته کوي « په وینځلو اوپاک ساتلوسره» رسول الله ﷺبه مسلمانان دبدن، لباس، ښه بڼه او ښکلی صورت در لود لوته متوجه کول، او تجمل او ښکلا دبڼی او ظاهر یی دتکبر او غرور نښی نه ګڼلی ځکه نظافت اوښکلا دایمان څخه دي او دانسان په روح او اروادیری اغیزی لري ورځنیو ټولو کارونو کې هغه ته دسینی شرح وربښی. پدی هکله رسول اکرم فرمایلي دي : (**قال: لا یدخل الجنة من کان في قلبه مثقال ذرة من کبر قال رجل ان الرجل یحب ان یکون ثوبه حسنا و نعله حسنة قال: ان الله جمیل یحب الجمال**).[2] ترجمه: دچا په زړه کي چې دذری په اندازه کبر وي جنت ته به دننه نشي یو سړي وویل: انسان داخو ښوي چی جامي او پڼی یی (بوټ ،کلوشی) ښکلي وي، دالله رسول وفرمایل: الله ښکلی دی او ښکلا خوښوي».

۱- سنن أبي داود، حدیث: ٤١٦٥

۲ - صحیح مسلم ، حدیث: ١٤٧

۲- د اوسیدو چاپیریال د نظافت په اړه:

په یو حدیث کي راغلي دي : (**ان الله طیب یحب الطیب، نظیف یحب النظافة، کریم یحب الکرم، جواد فنظفوا أفنیتکم و ساحاتکم ولا تشبهوا بالیهود**).[۱]

ژباړه: الله پاک دی، پاک خلک خوښوي نظیف دی، نظیفان خوښوي، کریم دی او ورکړه خو ښوی، سخي دی، سخاوت خو ښوی نوتا سی هم خپل هستو ګځي پاک ساتی او یهودو سره له مشا بهته ځان و ساتئ».

۳- د لاری پاکولو اړوند:

پیغمبر ﷺ دټک راتګ لارو اوسید و چاپیریال پاک ساتنی په اړه وفرمایل: (**الایمان بضع و سبعون شعبة أفضلها شهادة أن لآ اله الا الله، و أدناها اماطة الأذی عن الطریق و الحیاء شعبة من الایمان**).[۲]

معنا: ایمان څه د پاســه څانګی لری چی لوړه یی د « **لا اله الا الله**» ویل دی اوډیره وړه یی دلارنه د زیان رســوونکو شــیانو لري کول دي او حیا د ایمان یوه ستره برخه ده په بل حدیث کی یی فرمایلي دي : (**وکل خطوة یمشیها الی الصلاة صدقة و تمیط الأذی عن الطریق صدقة**).[۳] هرقدم چي انسان یې دلمانځه په لوری او چتوي صدقه ده ، اودهغو څیزونو نه دلاری پاکولو چی دازار او ضرر لامل ګرځی.

---

۳ - سنن الترمذي، حدیث: ۲۷۹۹

۱ - شعب الایمان للبیهقی، حدیث: ۲

۲ - مسند الام احمد، حدیث: ۸۱٦۸

هم صدقه ده» داذی کلمه ټولو ضرری شیا نو لکه: خس، خاشاک، ازغی پلیتي اوگندگی ته شامله ده او ددی څیزونو لری کول دلاری نه او د او سیدو چاپیریال پاکول صدقه شمیرل کیږي.

په صحیح مسلم کې دپیغمبر ﷺ نه روایت شوی: (**بینما رجل یمشي بطریق وجد غصن شوک علی الطریق فأخره فشکر الله له فغفرله**).[1]

یو ســړی دیوی لاری نه په تیریدو دازغی ځانگه ولیده اولری یی کړه الله ﷻ ددغه کار لپاره دهغه مننه وکړه او گناه یی ورته و بښله.»

٤- د لاری پرسر دحاجت پوره کولونه ممانعت:

یو ناوړه عادت چی په خوا شینی سره ځمونږ په هیواد او ځینی نور و هیوادونوکي دود دی هغه دلاری په سرباز ار او کوڅه کی او دښځو اوماشومانو دسترگو لاندی دحاجت پوری کول دی چی دا کار له یوی خوا دچاپیریال دککړ تیا او رنځو نود خپر یدولامل گرځي اوله بلی خوا دمســلمانانو د هســتو گنځی او ښــار بده بڼه ننداری ته ږدی، نا مســلمان خلک او بهرنیان چی پر مختللو هیواد ونونه راځی ددی گړنو په کتو سره دلاملو نویی په دین کی پلټی او داســلام په اړه تبلیغات کوي پداسی حال کې چی اسلام داسی کړنی غندلی او منع یی تری کړی. لکه

---

١ - صحیح البخاري، حدیث:١١٣٢.

چی حضرت معاذ روایت کوي چې رسول الله وفرمایل:« **اتقوا الملاعن الثلاث: البراز فی الموارد و قارعة الطریق والظل**».[1]

یعنی دری کړنونه چی دلعنت لامل گرځی ځان وساتی:

۱- ویا لوکې متیازی کول
۲- هغه لارکي چی خلک پکی تگ را تگ کوی.
۳- هغه ســیوری کی چی: (خلک دارامی، څرولو، او څارویو پمنولو او نورو دمو لپاره تری گټه اخلی نو دغه کړنی دترسره کوونکي دلعنت لامل گرځی.

۵- دخولی پاکوالی:

په حدیث شریف کې راغلي دي : « **السواک مطهرة للفم، مرضاة للرب**».[2]
« مســواک وهل دخولی د پاکوالی او پالونکی دخوښــی لامل گرځي» مســجد او کارځای ته دتلو وړاندی باید داوږی او پیاز له خوړلونه ډډه وشي ترڅو لمونځ کوونکي او ملگري دهغه بدبوی لامله خوابدي نشيــ ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي : « **من أکل ثوما أو بصــلا فلیعتزلنا أو لیعتزل مســجدنا ولیقعد فی بیته**»[3] څوک چی اوږه او یا پیاز و خوری باید.ځمونږ له ډلی او جمات نه لری اوسئ او په خپل کورکی دی کښینی داچی دسگړټ بوی چی دځینی لمونځ کوونکو له خولی را ووځي ډیر بد دی او ږی او پیاز له بوی څخه دهمدلی لامله علماؤ سـگرت څکول دهغه زیان او

۲ - سنن ابن ماجه، حدیث: ۳۲۸.
- صحیح البخاري، حدیث: ۲.۱۹۳۳
- صحیح البخاری، حدیث:٤٤١٣

تا وان لامل چی بدن او مال ته یی رسویی حرام گرځولی، سگرت هم دهغو پلیتو ځیزونو یوه برخه ده چی الله ﷻ اسلامي امت دهغونه منع کړی او فرمایي :
« **وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَآئِثَ**».[1]
اوپاک ځیزونه یی ورته حلال او ناپاکه ځیزونه یی ورته حرام کړی دی.
پېغمبر ﷺ فرمایي : « **لاضرر ولاضرار**»[2]
« ځان او نورو ته زیان رسول حرام دي . دهمدی لامله داچی سگرت بدن ته زیان رسوونکی دی او شاوخوا خلک زوروی او دمال او پانگی دتلف کیدو لامل گرځی نود گناهونو یوه برخه شمیرل کیږی .

- د الاعراف سورت ۱۵۷ آیت.۱
- سنن ابن ماجه، حدیث: ۲۳٤۰ و حکم علیه الشیخ الألباني بالصحة.۲

٥٩

د کمښت کونکو،لږ پلورونکو او تقلب کوونکو رټنه او بدی

الحمد لله نحمده ونستعينه و نستغفره ونعوذ بالله من شرور نفسنا و سيئآت أعمالنا من يهده الله فلا مضـــل له ومن يضـــلله فلا هادي له و نشـــهد أن لآاله الا الله و حده لا شريک له و نشهد أن محمد اعبده و رسوله و سلم تسليما كثيرا و على آله و أصحابه ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين.

قال الله تعالى:« **وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ،الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُواْ عَلَى النَّاسِ يَسْـــتَوْفُونَ،وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ،أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ،لِيَوْمٍ عَظِيمٍ،يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ**»[1]

قال رسول الله ﷺ :(**من غش فليس مني**).[2]

لکه څنګه چی امانت پالل دبشريت نړی يو ارزښتمن او منل شول اخلاق ګڼل کيږي همداشان خيانت کول ددی نړی يو بد او ناوړه عمل شمير ل کيږي، هو ښيار، عاقل او هد فمند انسان نه يوازی ځان دخيانت کولونه لری ساتی بلکی نورخلک هم ددی ناوړه او کرغيړن کار څخه منع کوي. اوس خيانت ځمونږ په

---

١ - المطففين سورت ١-٦ آيتونه.

٢ - صحيح مسلم، حديث: ١٠٢.

ټولنه. چاپیریال،محفلونو مجلســونو، معاملو، معالو ســودا گری، راکړه ورکړه آن ځمونږ و رځینو قضــایاو چاروکی یی ځان ته ځان پیداکړی او دلاری، کوڅه اویو ډول نه یو ډول ځمونږ ټولنی ته راغلی او ځمونږ ډیری خلک یی ځان سره پلیت او ملوث کړی دی او هڅه کوی چی خپل ناولی ټغر خپور کړی او دغه مظلوم او بی وســی ملت بی عدالتی، بی انصــافی ته واړوی او دهلاکت کندی ته ئی وغورځوي .

نوپه پیل کي لازم گڼوچی د خیانت معنی او مفهوم دهغه لونو سره یو ځالی تاسو محترمو لمونځ کوونکو ته وړاندی کړو:

تعریفات او مفاهیم:

خیانت: په اصــل کي دهغه حق نه ورکولو څخه عبارت ده چی انســان دهغه دورکولو ژمنه کړی وي او دامانت په مقابل کی ده خیانت دتړون ماتولو، نقص عهد، بی وفایی ، او امانت ساتلو مراعات نه کولوڅخه عبارت دی.

امانت: په اصطلاح کي : دهغه مال څخه عبارت دی چی دیو انساني عقدپه مټ یاد قانون په حکم دچا سره کیښودل کیږي الله تعالی فرمایي:« **وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ**،».

پدی آیت کی هر څه نه وړاندی لږ پلورونکی دکلک تهدید لاندی راولي فرمایي: هلاکت دی پرلږ پلورونکو باندی وی داپه حقیقت کی د الله ﷻ له لوری د دغو

ظا لما نو تیری کوونکی په وړا ندیي دجګړی اعلان دی ، چي دخلکو حق په نامردی سره تر پښـــو لاندی کوي، « ویل دلته د« شر» غم یا هلاکت یا دردونکی عذاب یا په دوزخ کی یوه ســـختنه او ســـوزونکی کنده په معنی ده او معمولاً دغه کلمه د نفرت او یو څیزد بدي په مهال کارول کیږي او یا داچي تعبیر لنډ خو زیات مفاهیم لري.

لږ پلورونکي څوک دي؟

کم پلورونکي هغه کســـان دي چي کله ځان ته تلل او پیمانه کوي نوخپل حق پوره اخلي الله تعالی فرمایي :« **إِذَا اكْتَالُواْ عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ**» خو کله چی نوروته تلل او پیمانه ورکوي لږ ورکوي **وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِـرُونَ**» بیا هغوی پدغی تو بیخی جملی ریټي **أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ**» آیا دوی با ورنکوي چي را پاڅول کیږي ؟ په ستره ورځ کی **لِيَوْمٍ عَظِيمٍ**» هغه ورځ چی خلک له قبرونو را پورنه کیږی او دالله ﷻ په وړا ندی حاضریږیی « **يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ**»[1] لږ پلورل او خیانت کول په راکړه ورکره کی یو عیبجن صـــفت دی جی الله ﷻ یی کوونکی دګرفت لاندی راولی او وعده یی کریي چی که چوک هغه پری نږ دی پایله یی درد دونکی عذاب دی . او دا کړنه ډیر بد عادت دی چي الله تعالی خپل استازی

۱- المطففین سورت ۱-٦ آیتونه

دغو کارکوونکو په لور و ا ستاوه تر څو هغوی ایمان ته را وبلی او د دغه ناوړه عمل نه یی لری کړي همداراز هغوي ته اخطار ورکړی چی ددی کار نه پرښول دهغوی دهلاکت لامل گر ځیدایی شي.

په را نیو اوخرڅلاوکی دلږ ورکولو او خیانت معنا:

امام ابن کثیر رحمه الله وایي : مقصـد د خیانت نه په را کړه ورکړه کی داده چې په تله او پیمانه دیو جنس کي وزن دهغه کم یاز یات شـــی یعنی: دخرڅلاو په مهال یو پلورونکی څه اندازه دیو جنس ځان ته اخلی او داخســـتلو په وخت یی اندازه زیاتوی، په بل عبارت کله چی غواړی څه واخلی دخپل حق نه زیات اخلی او کله چې پلوری نو دهغوی دحق نه کم ورته ورکوي، همغه شان چې الله تعالی فرمایلی دی: (**الذین اذا اکتا لوا علی الناس یســـتوفون**) یعنی د معاملی په مهال پداسی ډول هغه تلی چې دخپل حق نه زیات ترلاسه کړي همداشان الله تعالی فرمایی« **وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ**» خوکله چی نور و باندی یی خر څوی وزن یی کموي او ځان ته یی اخلي او هغوی ته زیان رســـوي. نو پدی آیتونوکې کوم خیانت او تقلب یاد شوی، همدغي په پیمانه اوتلی سره اندازه کولوکي تقلب دی په حقیقت کي ځکه په همغه زمانه کي دهمد غو دوو وسیلو څخه استفاده کیدله مگر ځینی علماء وایي: دغه تقلب یوازی دیته نه شـامیلیږی بلکی ټولو حقو نوآن عباداتو ته هم شامیلیږی.

پیمانه اووزن کي دعدالت مراعاتول:

اســـلام چی په ایمان والو کوم څه داخلاقی ارزښـــتونو عدالتي ډکر کی واجب کړي هغه په وزن اوپیمانه کي د عدالت حق مراعاتول دی او دغه فرمان بیا ځلی په قرآن کریم راغلی دبیلگی په توگه د انعام سورت په لسگونو ایتونو کي فرمایي :« **وَأَوْفُواْ الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ لاَ نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا**».[1]

یعنی : پیمانه او تله په پوره اوعادلانه ډول مراعاتو کړئ مونږ هیڅوک دکوم څیز تر سره کولو باندی پرته دهغه دوس نه نه گمارو» او د « اسراء» ســورت په حکمت ښوونکو و صیتونوکی فرمایی:« **وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذا كِلْتُمْ وَزِنُواْ بِالقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا**».[2]

یعنی: کله چی کوم څیز پیما نه کوی هغه په پوره او کمال پیما نه کړی او په دقیقه تله (ورنونه) و تلی « او په وزن او پیمانه کی اخستونکي ته زیان مه رسوئ» ځکه ددی کار مراعات ســـتاســـو لپاره په پای کي غوره او بهتر والی (په دنیا او اخرت کي) د ځان سره لري.

۱- د الانعام سورت ۱۵۰ آیت.

۲- د الاسراء سورت ۳۵ آیت.

کله چې رسول الله ﷺمدینې ته راغی گوري چې ددې ښار خلک په خپلو پیمانو او تلو کې دقت نه کوي اولږ پلوري نو الله تعالی ســخت تهدید ونه د قیمت پلور ونکو په اړه نازل کړل وی فرما یل: :« **وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ،الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُواْ عَلَى النَّاسِ يَسْــتَوْفُونَ،وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِــرُونَ،أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ،لِيَوْمٍ عَظِيمٍ،يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ**»[1]

دمدین خلکو سره د شعیب ﷺ کیسه:

یوه پیښــه چې قرآنکریم څوځلي یاده کړی او عاقبت یي هم ذکرکړي د مدین دخلکو ماجرا او کیسه ده چې د شعیب ﷺ ملت دی ، چې څرنگه دغه اقتصادي او اجتماعي ناانډول په هغوي کي خپور شــوی ؤ او څرنگه حضرــت شــعیب ﷺ هغوی انصــاف او عدالت ته را بلل او ددغه ناوړه تکلاری منع کول او د دینه وړاندی یی دالله تعالی خالصــانه عبادت ته دعوتول او ورته فرمایلي چي : هیڅ کوم معبود او مســتعان د الله تعالی پرته معنی او مشرــوعیت نه لری او ددی وروســته یی دپیمانه او تول کمښــت بدوالی ورته یا داوه او عدالت انصــاف ته یی هڅول او نوروته د زیان رســولونه یی منع کول او فرما یل یي:« **أَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ،وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ**» [2]

۱- د المطففین سورت ۱-٦ آیتونه.

۲- د الشعراء سورت ۱۸۱-۱۸۲ آیتونه

د خیانت ډولونه: خیانت دری ډوله دی: د الله امانت سره خیانت د رسـول امانت سره خیانت او دخلکو امانت سره خیانت.

۱- د الله امانت: الله تعالی په احزاب سـورت کی فرمایی: «**إِنَّا عَرضـي الله تعالی عنهنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرضي الله تعالی عنه وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا**»[۱]

په رښـتیا چی مونږ امانت اسـما نونو ځمکو او غرونوته وړاندی کړ هغی د منلو نه اوږه خالی کړه او تری وډارشـول او انسـان هغه او چت کړ یقینا چی هغه ډیر ظالم او نا پوه دی.

۲- عن **جابر بن عبدالله (رضـي الله تعالی عنه) قال: (رأیت رسـول الله فی حجته یوم عرفة و هوعلی ناقته القصـواء یخطب فسـمعته یقول: یآ أیها الناس اني قد ترکت فیکم ما ان اخذتم به لن تضلوا کتاب الله و عترتي أهل بیتي).** [۲]

د حضرت جابر بن عبدالله نه ورایت دی چی: رسول الله می ولیده چې په خپل حج کی دعرفی په ورځ په خپلی قصواء او ښی سپور و ینا کوله وامی وریده چی ویل یي: ای خلکو! تا سـو کی می دوه شـیان پریښـوول که پری و لږوی هیڅکله

۱- د الأحزاب سورت ۷۲ آیت.

۲- سنن الترمذي، حدیث: ۳۷۸٦.

په گمراه نشـــی، د الله کتاب (قرآنکریم) او عزت « ځماکورنی» ده قرآن مجید په وړاندی امانت ساتل دادی چي لو ستلو کی یی ځومره چی کیدایی شي مداومت وکړي او کوم معارف او حقایق چي پکي دي هغه یاد کړي، او په پندونو او نصـــیحتو نویی راویښ او اغیز من شي او په فرما نو نو یی عمل وکړي، او خیانت ورسره، دهغه نه لوســـتل، په آیتونوکي تدبر نکول او په لارښـــونویی عمل نه کول دی، قرآنکریم خیانت کوونکی دقیامت په ورځ د پیغمبر ﷺ دپو ښـــتنی لاندی راځي لکه چی په قرآن مجید کی فرمایی: «**وَقَالَ الرَّسُـولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا**».[1]

دقیامت په روځ به الله ته ووایی: ای پالونکیه! یقینا ځما قوم قرآن پریښود.

۳- د خلکو امانت سره خیانت:

بایدپدی پوه شـــوچی: دخلکو امانت په دوه ډوله دی : مالکی امانت، شرعي امانت مالکي هغه دی چي : ســـړی خپل مال د امانت په توگه بل ته و ســـپاري برابره خبر ده چي اصـــلي موخه همغه امانت ایښـــودل او دمال ســـاتنه کي دبل اســـتازی کول وي چې دیته و دیعه وایي یا داچي اصـــلي موخه کوم بل څیز لکه گټه اخســـتنه او باقي مال دبل په لاس کی امانت کیږی لکه اجاره ځکه څوک

۱- د الفرقان سورت ۳۰ آیت.

چی کوم مال اجاره کویی منظور گټه اخستنه ده له منا فعو څخه او اصل مال پدی حالت کی یو امانت دی دخپل څښتن له لوری دمستا جر په لاس کي اولکه عاریت چی مقصد انتفاع او وړ یا گټه اخستنه ده او اصلی مال دعاریت کوونکي په لاس کي امانت دی او لکه گانه (رهن) چی هدف د مال و ثیقه کیدل دي دغو ښتونکي سره دهغه غو ښتنی په مقابل کی چی دبل خوایی لري پدی صورت کي هغه مال دڅښتن لخوا د مرتهن سره امانت دی یاد مال المضاربه په څیر دعامل سره، لنډه داچې کوم مال دپورته یاد شوووکسانو سره دڅښتنا نو لخوا ورکول کیږي هغه امانت دی او څه حکمونه لري چې ذکر کیږي:

خلکو سره دخیانت ډولونه:

۱- په تله کی خیانت: هغه کسان چې د وزني اجنا سو او مالونو خرڅولو په مهال په تله کی خیانت او تقلب کوي، دنوروحق او حقوق په پوري اوتام ډول سره نه ورکوي بلکی دهغه په ځانگړی چل او دوکی سره کمویی باید دغه الهی فرمان ته وگوري چي فرمايي :«**وَالسَّمَاء رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ ،أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ ،وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ** »[1]

۱- د الرحمن سورت۷-۹ آیتونه.

یعنی: آسمان یی پورته او تله یي ایښی ترڅو تا سی هم په سنجولو کي خیانت ونکړئ. مراد له میزان،« **ووضـع المیزان**» نه هغه څه دي چې دهغه په مټ هر څیز ســنجوي او اندازه کوي، برابره ده چی تله دعقیده لپاره وی او که فعل یا قول او دهغه میزان مصدا قوڅخه دی چې درانده شیان دهغه په وسیله تلی، څه چی شـته د هر څه میزان دهغه په مطابق ده « مثلا: دحرار تو نو میزان یو څیزدی او دطول میزان بل څیزدی، د میزان جلادی او دسرو میزان بل څیز او دعقا یدو، اخلاقو او کړ نو تللو میزان بل څه دی).

دبحث وړ آیت کي منظور د میزان نه همغه معنا ده چې : «**لَقَدْ أَرْسَـــلْنَا رُسُـــلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْـــطِ**»[1] قرآن کریم ایت کې منظور ده .

دآیت له ظاهره سر ګندیږي چې منظور ورڅخه هغه څیز دی چی دهغه په وسیله حق له باطل، رښتیا له دروغو عدل له ظلم او فضیلت له رذالته جلا کیږي ځکه د رسـول الله ﷺشـان همداده چی خپل رب لخوا همداســی میزان را وړي. ځینی نور و ویلی دي : دمیزان نه مراد همدا معمولی ترازو ده چی و زنونه پری ټاکی خولو مړی معنا عامه او وسیعه ده .

۲- د الحدید سورت ۲۵ آیت.

الله تعالی فرمایی: «**أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ،وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ** ».[1]

ظاهراً مراد له « میزان» نه پدی آیت کی غیر ده له هغه میزان نه چی په مخکني آیت کي ده، هلته موویل: منظور په مطلق ډول هر څیز دی چی دسنجش وسیله وي خو پدی آیت کی منظور ځانګړی معمولی ترازوګانی دي چې دراند شیان پری سنجویی. ځکه نو وی فرمایل: « الا تطغوا» په حقیقت کي چې دیو کلي حکم « یعنی ووضع المیزان» حکم نه جزیی حکم را بهر کړی، او معنایی داده چي مونږ د میزان وضع کولو سره ستاسو په مینځ کی حق او عدل تقدیر کړ همدا ده چي خپلو اجناسو په سنجش کی هم د تلی او سنجش مراعات وکړی.

۲- په پیمانه کی خیانت:

څوک چی په کیل او پیمانه کی خیانت کوی یقینا ددغه کریم آیت لاندی راځي چي الله تعالی فرمایي :« **وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ،الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُواْ عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ،وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ**».[2]

ځکه دا ډول خلک دځان لپاره حق مراعاتوی خود نورو لپاره یی نه مراعاتوي ، او په بل عبارت نورو لپاره هغه شان حق نه مراعاتوی چی ځان لپاره ئی مراعاتوی

۱- د الرحمن سورت ۸-۹ آیتونه.

۲- د المطففین سورت ۱-۳ آیتونه.

چی همدا پخپله دا اجتماعي انسان دتباهی لامل ده چی اساس یی په متبا دلو حقوقو کي تعادل ده کچیری دغه تعادل له مینځه لاړشي اوفاســـد شي ټول څیزونه فاسدیږي.

۳- په متر (اندازه) اخستنه کی خیانت:

متاسـفانه څه شـمېر بزازان او کپړه پلورونکي په ځینو ښـارونو او باز ارونود هېواد کي شــتون لري چې : د رختونو پلورلو په مهال دمترا خســتو سره ســم رخت او کپړه ښـــه را کاړي او ځغلوي یي او زمونږ په بیچاره او بی وســـه خلکو یی پلوري، دبیلگی په ټوگه یو توپ رخت په اصل کي شل متره وي، هغه را کاږي او ځغلوي یی د دوه یشتو او یاد دینه زیات تری جوړوي. پداسی حال کي چی دد وی دغه کړنه ټول د الهی دستو راتو او نبوی ارشـادانو، اسـلامی روحی سره مخالفه ده او کاملا په متر کی خیانت شـــمیرل کیږي. الله تعالی فرمایی:« **وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ** ».[1] نو داخلک باید الله ﷻ نه وډارشـــی، د خلکو شرم او دقیامت ورځی او دهغی د حســـاب او محاســـبی نه چی « **يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ، وَصَـــاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ**».[2] ځان و ساتئ.

۱- د المطففین سورت ۱ آیت.

۲- د عبس سورت ٣٤-٣٦ آیتونه.

٤- په صاد را تو کی خیانت:

د فابریکو، شرکتونو، تولیدي کار خانو په تولیداتوکي خیانت: د اســـلام له نظره کار او هڅه په ټوله هغه کســـانو واجب دی چې وس یی لري، او په هیڅ وجه مســـلمان انســـان حق نلری چي عبادت نه دوز گار تیا په بهانه یا توکل په الله تعالی اقتصـــادی هڅه او کار پریږ دي ځکه دا فیصـــله نشـــته چي د اســـمان نه پیســـی او طلا را ووو ریږی، همدارنگ هیڅوک حق نلري چی دنورو مرســـتی او کمک باند باور سره کار او هڅه شـا ته و غور ځوي پداســی حال کي چي خپله د کار و س اوکمال لري.

اسلام دقدر په سترگه کار او اقتصادی هڅی ته گوري « الکاسب حبیب الله کله هغه د عبادت برخه او کله هم هغه یو ډول جهاد دالله ﷻ په لارکي شـــمیري خو پدی شرط چي ښه قصد ولري او په صداقت او ریښتینولي سره یي تر سره کړي.

٥- په وارداتوکې تقلب:

علماؤ ویلي دي کوم څیزکی چی په تصرـــف کول سره بو ســـړی دخپل حق نه زیات و اخلي او یاد حق څښـــتن ته دهغه د حق نه کم ورته ورکړشـــو داتقلب شمیرل کیږي. مثلاً: پلورونکی نا خوښی جامی لری نود دی لپاره چی جامی یی

و پلورل شــی دهغه پرسرد یوهیواد نښــه نښــلوی ترڅوخلک ګمان وکړي چې داد هغه هیواد جوړ دی نوپدی حالت کې دا سړی تقلب کاردی.

بله بیلګه: یو هټیوالی ددی لپاره چي چرګان یی په لوړ قیمت و پلورل شي نو حلال شـــوو چوګانوته هغه پیچکاری کوي چې وزن زیات شي او په لوړه بیه بي خرڅ کړی اود اسـړی تقلب کوونکی دی . دغه ټول خلک ددغه مبارک آیت« **وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ** » لا ندی راځی. حتی کوم خاوند چی دخپلی ښــځی نه د پوره حق ور کولو تمه لري او خپله د خپلی ښځی حقونه پوره نه ورکوی نود ا شان سړی باید پوه شي چې د متقلبینو یوه برخه دی همدا شان هغه ښځه که دا شان وکړی. نو کچیری ووایو چې په آیت کې یاد شـــوی تقلب دا معنا چی د معاملی په مهال دخپل حق اخستل او دنوروحق نه ورکول دی. نو باید پوه شو چې ځمونږ او ستا سو ډیری خلک پدی مصیبت کی اخته یودا سی مصیبت چی ابن حجریی دبیر ګناؤ یوه برخه ګڼی.

د اسلامي اقتصاد اړوند داخلاقو او ارزښتنو اغیز:

په همدی دلیل اســـلام خلک بیلا بیلو اقصـــادی فعالیتونو تولیدی کارونو لکه: کرکیله، دام ایښــودنه، ښــکار، صــنعت، ســوادګری، د ژوند دســو کالی، امنیت، لازیات نیکمرغه ژوند ته هڅولی او دغه اقصـــادی او دنیوی فعالیتونه یی مبارک

فعالیتونه گنلی او کله چی په خالص نیت او قصد تر سره شی او دالله ﷻ حدود پکی مراعات شـــی او دالله د ذکر او دینی مســـولیتونو او آخرت محاســـبی نه د غفلت او هیریدو لامل نشـــی نو اســـلام دهغوی په مادي جوړښـــت باندی معنوي لباس را غوړوي.

د اجناسو په څرنگوالی کمیت او تنوع کې د تقلب څخه ځان ساتنه:

مســـلما: په تولیداتو کی راتلونکی اړخونه ځانگړی اهمیت لری اومشـــتري یو ډول نه یو ډول ځان ته را گاړي نو دشرکتونو، کار خانو او فابریکو څښـــتنان دی اړخونوته خاصـــه توجه باید و لری او با کیفیته او دتقلب نه لری او چل دوکی نه پرته اجناس اومال دی بازار ته وړاندی کړی، داســـی دی نه کوي چی قطی، کارتن، پوښ، مارک او.... اصلی او په ډیری خوښینی سره دننه ټول مواد په پوره ډول بی کیفیته، بی ارزښته، د روغتیایی تجارتی قبول شوو معیارونو ته په نه کتو او په ټیټ او کم مقدار سره وي چی دا په خپله له یوی خوا ځمونږ د هیواد والو دزیان لامل کیږی اوله بلی خوا دځینی تولید کوونکو دکار خانو او شرکتونو د سقوط لا هم مل کیږی.

د مضـــــــرو او حرامو شـیانو دوارد ولو په وړاندی دملی سـوداگرو دنده او مسؤلیت:

د تجارت اړوند د اســلام لومړ یتوبونوکې یوهم د حرامواونا مشرــوعو کالیو تولید، پیرل او پلورل او ویش نه دځان ساتنی تاکید دی پدی هکله صحاح او سنن د جابر(رضي الله تعالی عنه) نه یو روایت نقلوي چی رسـول الله ﷺفرمایلي دي : (**ان الله حرم بیع الخمر والمیتة والخنزیر والأصنام**).[1]

ژباړه: الله ﷻ د بت، خنزیر مرداری غوښـــی او شرابو پلورل او پیرل حرام گر ځولي د نشــه یی توکو په څیر مواد لکه: تریاک، حشـیش، پوډر، کوکایین او نور مشــتقات یی چی ملیارد دونه شــتمنی له مینځه وړي او میلونونه ځوانان او نور افراد دټولنی په بیلا بیلو روانی، جسمی رنځونو اخته کوي او دعمراو استعدا دونو تبـاهی کوي اوژر مړینـه اوکلـه هم آرام مړینـه ورتـه را وړی دا ټول د شراب، شرابخور، تولیدونکی توزیع کوونکی، اخسـتونکی او پلورونکي په څیر داسـلامي شریعت د نفرت او لعنت وړدی.

---

١ - صحیح البخاري، حدیث: ١٠٥٢.

کوم کســـان چی دنشـــه یی توکو ویش، برابرولو، تجارت او تولید ته لاس اچوی دهغو کســانو په پرتله چی الکولي مشرـوبات برابر وی او توزیع کوي جرم یی ډیر دروند او بد دی.

د تاریخ تیرو او بی کیفیته مواد واردولو په اړه د ملي تجارو مسؤلیت:

ویلی شـــو چې : د ټولو هغو شـــیانو، تیارول، تجارت، و یش اومصرـــفول حرام او نارواوادي چی مضرـــوي د بیلگی په توگه: تاریخ تیر شـــوو مواد، فاســـدو او د اســتفادی غیر قابل، د مصرـف نه وتلی در مل، او وژونکو او زیان لرونکی مواد په ځانگړی ډول خطري و ړانگو لرونکی مواد، ټول هغه توکي چې متخصصینود هغو مصرف مضر گڼلی او سرطان زیږونکی یی گڼی او یایی دبیلا بیلو ر نځونو ا صلی لامل چی دانســانانو جســمی او روانی ســلامتی اوســوکاله ژوند منفی اغیز لاندی راولي.

د مبتذل فرهنگ واردولو په اړه د ملی سوادگرو مسئولیت:

یوه بله برخه جامی چی تولید، تجارت او توزیع یی حرام او نارواوادی فرهنگی جامی داســـی دی چی دانســـانانو دفکر، اخلاق اوتگلوي د انحراف لامل کیږي هغه جامی چی: زهر جن هنرد: سینمایی فلمونو، تلویزونی ډ رامو، سپکوترانو او دپټو او ښــکاره ورځپا نو، مجلو، کتابونو او دلیزری دســکونو او سي ډي (CD) په

څیر ټول سـمعی او بصرـي څیز و نو له لاری په خلکو په تیره بیا په ځوانانو کی و یشـی. دغه شـان په اصـطلاح فرهنگی جامی چی زیان یی څوځله د: نیشـه یی توکو ککړو خوړوو او سرطان زیږونو څخه زیات دی ، ځکه دهاغه توکی جسم اعیز منوی خو دغه تو کی د انســانانو ژوند ، ځان، روح، فکر، کرامت، حیثیت، ایمان تباه کوي اوله مینځه یی وړي او انسانان دخواری بسپکاوی په وړاندی تسلیموی او بی وا که کوی یی. په حقیقت که د زهرچنو جامو ناوړه اغیز په فکر، ورځ او انســانانو معنویت کې څوچنده دایدز څخه بددی چی جســم ته یی لري. نود داســی جامو وارد ولو څخه جدا ځان و ســاتی. الله تعالی فرمایی: « **وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ** »[1]

ښوونکی کیسه:

امام غزالی د محمد بن منکدر نه روایت کوي چې : جامی یی درلودی، ځینی پنځه درهمی او ځنی یې : دلســودر همو، دهغه په غیاب کی مریی یې د پنځو درهمو جامی په کوچی باندی په لسودرهمو و پلورلی، کله چی محمد بن منکدر راغی او پیښی نه خبر شو. ټوله ورځ هغه کوچی پسی شو او لټاوه یی تردی چی بیایی موند ورته یی وویل:

۱- د المائده سورت ۲ آیت.

دغه غلام غلط شـوی او پنځو در همو جنس یی په تا باندی لس در همه پلورلی، هغه باندې چی وویله ای سـړیه! ماپه خوښـه معامله کړی! هغه وویل: که څه هم چی تا په رضي الله تعالی عنهایت معامله کړی وی خو مونږ څه چي ځان ته نه خوښـوو نوروته یی هم نه خوښـوو دری کارونوکی یو کار و کړه: یاد خپلو لسـود رهمو په بدل کی دلسو درهمو جامی و اخله یاداچی مونږ درته ینځه درهمه بیرت درکوو، یاداچې : ځمونږ جامی بیرته راکړه او خپلی لس درهمه دی بیرته واخله، بالاآخره پنځه درهمه یی بیرت ورکړی او کوچی خپله لار ونیوله بله پیښه هم پدی هکله امام غزالی نقلوی چی : یونس بن عبید ډول ډول ګانی در کودلی یو ډول ګانې یی ٤٠٠ درهم قیمت درلود اوبل ډول یی ٢٠٠ درهم قمیت ؤ لمانځه ته لاړ او وراره یی هټی کی پریښـود یو بانده چی سـړی راغی او دهغه نه یی د څلور سوو درهمو ګانې و غوښته، هغه ورته د ٢٠٠ درهمو ګانې ورکړه خوښه یی شوه او په ٤٠٠ درهمویی رانیوه او روان شـو. په لارکی هغه یونس ولید او پوه شـو چی ګانه یی دهغه له دکانه رانیولی ده ورته یی وویل: دا ګانه دی څو رانیولی ده ؟ وی ویل: ٤٠٠ درهمه ! وی ویل: د ٢٠٠ درهمه زیات نه ارزی، بیرته لاړشـه او هغه بیرته ورکړه! وی ویل : ځمونږ ولایت کی داګانې ٥٠٠ درهمه قیمت لری اوزه پدی معامله خوښ یم! بالآخره هغه یی دکان ته وګرځاوه او ٢٠٠ درهم یی بیرته ورکړل او خپل وراره یی مواخذه کړ او لرګی لاندی یی و اچاوه چی آیاونه شر

میدی؟ آیا دالله نه وډار شوی؟ سل په سلو گټه غواړی او دمسلمانانو په وړاندی خیرغوښـــتنه پریږدی؟ وی ویل: قســـم په الله په پوره خوښـــی سره یی گاڼه و اخیسته او لاړ! وی ویل: ولی هغه شان دی ورسره ونگړل چی دځان سره دی خو ښیری؟!

٦- په اودس او لمانځه کی خیانت:

همغه شـــان چی الله تعالی په خپل آســـمانی کتاب دغه ځلانده مشـــعل دعلم بشریت لارښود کی دلږ ورکوونکو په اړه ارشاد فرمایلی:(**وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ**).

حضرت عبدالله بن مسعود جلیل القدر صحابی پدی هکله لیکی چی: لمونځ دپیمانی وړندی! څوک چی دهغه پیمانه په پوره ډول اداء کړی اللهﷻ یی ثواب پوره ورکوی او څوک چی کمښـــت یکی راولی دهغه په اړه هغه څه پلی کیږ ي چی الله تعالی د مطففینو په هکله فرمایلی دي . همداشـــان امام قرطبی وایي : نور وویلی دی: په آیت کی یاد شوی تقلب نه یوازی په تلی او پیمانه کې تقلب را نغاړي بلکی په اودس او لمونځ آن په خبروکی را تلای شـــی. او دســـالم بن ابی الجعد نه روایت شـــوی چی: وی ویل: لمونځ دپیمانه سره دی نو څوک پری وفا وکړی هغه سره به هم وفا وشـــی او چاچی تقلب پکی وکړ نو پوه شـــی چی: الله تعالی داسی فرمایی: « **وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ**».

۷- د نورو په وقارا اوعزت کی خیانت:

کوم کســـان چی په ټولنه او اجتماع کی د خاصي مرتبی څخه برخمن دي او خلک یی عزت احترام او ادب کوي او خبروته یی غوږ وي او په وینایی عمل کوی او محفلونو او مجلسونو ته یی دراتګ تود هرکلی کوي په مقابل کی لازمه ده چی دوی دمقابل لوري سره بالمثل عمل وکړی او ورسره یو ځاي ترینه مننه او قدر دانی وشي اوخپل ځان دنورونه اوچت و نه ګڼی بلکی دهغوی عزت، حیثیت او کرامت محترم وګڼي او متقابل احترام مراعات وکړی ددی پرته به ددی آیت« **وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ** » لاندی راشي.

۸- د خلکو دمالونو په وزن یا ارزښت کمولوکی خیانت:

یو هغه کارچې اســـلام خلک دهغه نه منع کړې دخلکو د مالو نو او اجناســـو د ارزښت کمول د، او داسی کړنه دبازار آفت او یوه خطرناکه بیماری ده چی اساس یی ځان غوښتنی ده الله تعالی فرمایی:« **وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ وَلاَ تَنقُصُـــواْ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِنِّيَ أَرَاكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّيَ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ، وَيَا قَوْمِ أَوْفُواْ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تَبْخَسُواْ النَّاسَ أَشْيَاءهُمْ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرضي الله تعالى عنه مُفْسِدِينَ** »[1]

۱- د هود سورت ۸٤-۸۵ آیتونه.

یعنی: گوروچی: الله تعالی په ټولنه کی فساد ځرگندونی نښه دخلکو د مالونو او شیانو دوزن او ارز ښت کموالی ښودلی دی. امام قرطبی وایی: بخش دنقص په معنی او دخلکود مالونو کمول دعیبونو واردولوپه مټ او ایراد یا دوکی په قیمت، وزن او پیمانه کی دټولو خلکو ته خیانت او په باطله طریقه دهغوی دمالونو خوړل دی. او دټولو اسلامي دیا نو په مټ خلک تری منع شوي دي .

۹- د دندی ترسره کولوپه مهال دکار کوونکو خیانت:

همداشان کوم کارمند چی سهار لومړی وخت کې اداري ته ځي ددی لپاره چی: حاضري امضـــاکړی بیاد اداری وو ځی او مازیگر بیاراځي تر ځودپای حاضري امضا کړي او یا هم هغه کارمند چی: دکارپه مهال په اداره کی بیدیږي یا سستي کوی بیاد میا شتی په پای کی تمه لری خپل حقوق د کمښت پرته تر لاسه کړي په حقیقت کی دغه کسان تقلب کوونکي او دآیت برخه دي.

۱۰- د او لاد په ښوونه اورورنه کی خیانت:

همدا ډول کوم پلار چي دخپلو اولادونو حقونه په پوره ډول نه ورکوي او تعلیم او تربیه کې یي تقصیر کوي او په مقابل کې دخپلو اولادونو نه تمه کوي چې : هغه سره دهیڅ نقص پرته نیکي او مهرباني وکړی نو دغه پلارهم د تقلب کار وپه ډله کې دی.

۱۱- د پیغام لیږ لوکې خیانت:

کله چی ســړی بل څوک د پیغام لیږلو لپاره ګماري نودغه ســړي باندی لازم ده چې لږ تر لږه دری شیان په کلکه مراعات کړي:

۱- دپیغام په محتویاتو کی اد لون، بدلون را نه وړی بلکی پیغام کماحقه مقابل لوری ته د زیات او کموالی پرته و رسوي، چی پدی هکله ابن مسعود (رضي الله تعالی عنه) د اسـلام مکرم نبی (رضي الله تعالی عنه) نه راویت کوي :(**نضـر الله امرا سمع مقالتي فوعاها ثم بلغها**).[۱]

یعنی: الله ﷻ دی هغه سـړی تاند او تازه اوخوښ ولری چي : زمونږ نه څه واوری او هغه شان یی نوروته ورسوي.

۲- د پیغام راز او سر هیڅ کله تیت نکړي بلکی دهغه په اداء او ســاتنه کی دی مسئولیت تر سره کړي، کنه ګمارل شوي سړي خپله سپارل شوی دنده په ښه توګه تر سره نکړه او په پیغام رسولوکي یي خیانت کړی.

۳- قاصـد او پیغام رسـوونکی باید په پیغام رسـولوکي ناغیړي او تقصـیرونکړي . ددی برسیره انسان دی راپه ساتنه کي هم هڅه وکړي، که نن دچادوست یا ست حد وساته داسی چی وروسته ستا سو دنیول کیدولامل نشي لکه چی په روایتونو

۱ - المعجم الأوسط للطبراني، حديث: ٥٢٦٢.

کي راغلي دي : دمؤمن دپت ساتل دهغه دوینی په کچه احترام او ارزښت لري . په همدی دلیل مونږ هم باید دنورو د حرمت رعایت وکړو او هم هغه حرمت چې الله ﷻ مونږ ته راکړی ضایع نه کړو، هر سړی په خپل فردي، اجتماعي ژوند کې هرو مرو څه رازونه لري چې باید په ســاتنه کي یي هڅه وکړي ځیني دغه رازونه دده او ځینی دکورنی او ټولنی پوری مربوط دي . اوس دپرمختللو، حســاســو جاســوسي، اطلاعاتي تو کو دشــتون او دملتونود برخلیک دبدلون لپاره فراخه کارونه یی ددی اړ تیا زیا توي چې راز ســاتنه ضروري او انکارنه منوونکی شي. ددی اخو ا چی یو اخلاقي فضــیلت شــمیرل کیږي دخلکو په نیکمرغی کي هم ډیر اغیز لري . داهمیت وړخبره داچي د رازوفو افشاکول د نفس کمزوری او عقل ســســتی ده ځکه د انســان رازونه ددوو حالاتونه بهر ندی: یا دنیکمرغی دولت سعادت او ښی پا یلی بیانوونکی دی یا د بد مرغی شقاوت اوناکامی خبر ورکوي، رازســاتل په دواړو حالانو کي ښــه کار دی ځکه کچیری را ز دانســان د دولت او سعادت خبر ورکړي اظهاریی دبد خواهو او حسد گرو د د ښمن او دطمع گرو او ســپکو خلکو د طمعی لامـل گر ځي او کچیری راز د نـاکـامی او بـدمرغی خبرورکړي نو دهغه ښکاره کول د د ښمنانو دشماتت، خپلوا نود خفگان او ظاهر سپینود سپکاوی لامل گرځي . همدا ډول کوم کسان چې خپل راز نشی ساتلای دنورو رازونه هم نشی ساتلای.

د هېواد تولیداتو ساتنه:

لمړی: د دولت و جایب او مســؤلیت: که دولت په ریښــتیا غواړي چي، وژنه، انتحار، انفجار، ورانی، تباهی، جګړه، وینه تو یو نه و دریږي او په هیواد کی هراړخیز امنیت راشـــی نو باید د هیواد تولیداتوپه رشـــد او وده کی هڅه وکړی داسی چی کم تکس او مالیه دی واخلی او اړین آسا نتیا وی دی برابری کړي نه یوازی دشـــته فابریکو، کار خانو د رفاه او ځان بســـنی په وړاندی د مســـؤلیت احساس وکړي بلکی دهیواد د نوروفابریکه په ایجاد، بیارغونی او فعالولو کي دی رغنده کارونه ترلاس لاندی ونیسي ـــ او دهیواد عمران او بیارغونی کښـــی دی صادقانه گامونه واخلي اوملت دی دفلاح او بریابه په لور و خوزوي.

ثانیا: پدی هکله دملي تا جرانو دنده: ملی ســـوادگر د بهر نیو کالیو دواردولو کمښت سره دورسره پانگوپه مټ لاسی صنایع، غالی او بد لو گلم او بدلو، دغوایو فار مونو، چرگانو فارمونو شـــاتو مچیو، ماهی پاللو، بښوالی او کرکیلی ته وده او رشد ورکړي او د سړو خونو او لاسی صنایع په جوړولاو سره دی دزړه له کومی خپل مسؤلیت اداکړي .

ثالثا: د خصوصي سکتور او کارخانو مالکانو مسؤلیت: دوی باید خپلو تولیدا تو کی د کیفیت لرونکو او اصلي توکو څخه استفاده وکړي او دخپلو توکو په قیمت

او بیه کی دانصـــاف او عدالت نه کارواخلي او خپل تولیداتی مالونه په ټیټ نرخ او لږی ګټې اخستني سره بازارته وړاندی ګړی.

رابعا: ټولنه هم پدی اړوند مســؤلیت لري: د افغاني ټولنی هروګړی دخپل هېواد اجناســواومالونو په را نیوو سره عملا خپل حمایت او ملاتړ اعلان کړي ددی لپاره چې دهیواد د تولیداتو او صـــنعت و ده او انکشـــاف له یوی خوا دهیواد ډیرو خلکوته دکار او بو ختیا زمینه برابر وی اوله بلی خوا دهېواد اقتصــادي جوړښــت کلکوي او ددی برســـیره مونږ د مافیایي باندونو د منګلو څخه ژغوري چې تل غواړي دغه مظلوم او بی وسه شوی ملت دیو مصرفونکي ملت په توګه داسارت په کړی کې وساتي او هېواد تولیداي او صنعتی هېواد په تو گه سر گند نشي.

د احتکارحراموالی:

مقصد داحتکارنه دخلکو اړتیا وړ توکو ساتل او خزانه کول ترڅوبیه یی زیاته شي او پلیتي یې هغه مهال زیاتیږي چې ځینې ســوادګر او پانګوال دلازیاتو توکو دذ خیره کولو لپاره لاس په لاس کې ورګړي .

همداشان داحتکار ډیره بده بیلګه داده چې سوداګر په خپل سیال او مرستندو یـانو بـانـدی تیری وکړي او دمعـاملی وړ توکو بـانـدی خپـل نظر و تپي او ډګر

ورباندی تنک کړی. د الله ﷻ رســـول فرمايي : « **من احتكر فهو خاطىء**»[1] څوک چي احتکارو کړي نو خطا کوونکی دی . ددی حدیث په بل روایت کي داســـی فرمايي چي : د خیانت کوونکی پرته هیڅوک احتکار ته لاس نه اچوی» او دغه کلمه د خطا کوونکي او خیانت کوونکي هماغه ده چی قرآنکریم يي د فرعون، هامان او ملګرو په هکله کاروی او الله تعالی فرمايی:« **آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا كَانُوا خَاطِئِينَ** ».[2]

یعنی: یقینا فرعون، هامان اولښــکر یان د شــاو خوا خلک یی ټول خطا کوونکی اوخاننان دي همداشــان رســول الله ﷺ فرمايي : «**من احتكر طعاما أربعين يوما فقد برىء من الله تعالى و برىء الله تعالى منه**».[3] څوک چی دخوړو توکي څلویښت ورځی احتکار کړي هغه دالله نه دبرائت و اعلام وکړ او الله ﷻ دغه نه برائت اعلان کړی.

دخیانت پایلی او نتیجه:

خیانت په ټولو ابعادو کي ناوړه دی او آثار او عواقب لری چی ډیرو مهموته يي اشاره کوو:

۱- صحیح مسلم، حدیث: ١٦٠٥ .

۲- د القصص سورت ۸ آیت.

۳- مسند الامام احمد حدیث: ٤٨٨٠

۱- د ایمان او دین پالنی ستنی:

همغه شـــان چي د امانت پالو یوه ګټه د ایمان ســـتنو کلکوالی او دین پالنی فراختیا ده په مقابل کي خیانت د ایمان او دین پالنی ســستیا لامل ده لکه چي پیغامبر و فرمایل: « **ایاکم و الخیانة فانها بیش البطارنه** »[1] له خیانته لری او ســـئ ځکه خیانت انسان له اسلام څخه لری کوي.

۲- **دټولنی دباور زوال :** د خیانت یوبل اثر د اجتماعی اعتماد له منځه تلل دی او امانت په ځای کولو باندې د ټولنـي اعتماد باورمند کیږی.

۳- **دعمومي هوســـاینی او ســـو کالی له مینځه تلل:** سرګنده ده چی دزړه کراری او عمومي ســـو کالی دامنیت په خپر یدوکی پټ دی. نا امنی او مرګونی ګډو ډي چي د خیانت خپرپدو په واســطه دیوی ټولنی په چاپیرل واکمنیږي دا پدی معنا ده چي: د عدالت فرښته و تښتول شوه او دملت دجوړښت او شتون ښسټ و نړول شو، هو هلته چي : امنیت، آزادي، وروري او انسانیت شتون نلري. خیانت خاصـــوکارنو پوری منحصرــ ندی بلکی ارته معنا لري او ټولو انســـاني کارونوته شـــا ملیږي هره و یناچي او کړی یو ټاکلی او دقیق حدلري چې ډیر لږ اوښتون او تخطی ترینه ددی لامل ګرځی چی انسان « امانت له سیمی» ووځي او دخیانت په واټ او ناوړ توب کی پل کیږ دي :

۱- المعجم الاوسط حدیث ٦٢٩

٤- **دفکر روح آرام او سکون له مینځه تلل:** کله چې په یوه تولنه یا کورنی کې امانت و اکمن شـی هلته آرام دفکر او روح راځي ځکه دخیانت دشـونتیا په مهال ټول له ټولو وحشت لري او تل خواشینی وي چې هسی نه کوم خیانت ددوی په اړه وشي . اویایی مال ځان ناموس یا مقام خطرکې ولویږي او یقینا د داسی ژوند وګړي یو بل نه و ډارشي ، بی خونده او درددونکی دی د الاڅه چې ډیر ځلي دفریمانه رواني ، جسمي رنځونو موجب ګرځي.

٥- **د الله ﷻ د محبت نه پا تیدل:** « کله هم چې دیوی ډلی نه د خیانت نښـو سر ګندیدو سره ډارو لری (چی خپله ژمنه به ماته کړي او په بی خبری به یرغل وکړي) نوپه عادلانه ډول ورته اعلان وکړه چې : تړون یی لغوه شـوی دی ځکه الله ﷻ خائنانه نه خوښـوي «انفال: ٥٨ پورتني آیت ته په کتو خیانت د الهي محبت نه محرومیت او پاتیدو موجب دی:

٦- **دانسـان رسـوایی او شرم:** او دهغو نه چی ځان سره یی خیانت کړی دفاع مه کوه ځکه الله ﷻ ګنهار خیانت کوونکی نه خوښـوی هغو ی خپله بدي له خلکو نه پټوي او دالله ﷻ نه یی نه پټوي اوکله یی چی دشـپی نا سـتو کی خدای ته نا خوښـی خبری کول نو الله ﷻ ورسره ؤ و اللهﷻ په هغه څه چی ترسره کولي یی احاطه لري» « نسـاء١٠٨/١٠٧ » پورتنی آیت خاینان درټنی لاندی راولي وایي : هغوی شر میږي چې داعمالو باطن باندی یی خلک خبر

شي خو دالله ﷻ نه شرم نلري هغه الله چې هرځای کې دهغوی سره دی او په کړنویی احاطه لری.

په دنیا او اخرت کې د تقلب کوونکی عقوبت:

پدی پوه شــو چی دنور و حق اخســتل نه ورکول ســتره گناه ده او هغه په معنا دی دحق پرته دخلکو مالونه خوړل دي یعنی هغه پلیت کســـب چی دنفس په حقارت دلیل دی، او حرام مال دی چی که په صدقه کی ورکول شي قبول ندی اوکه توخته شي پایله یی جهنم دی. او الله ﷻ ددی کار کوونکي ته وعده ورکړی چې ســخت او دردونکی عذاب به په دنیا او آخرت کې ورته ورکول شي چې مونږ یي دلته دوه بیلگی بیانوو.

د د نیا عذاب: الله ﷻ خپل نعمتونه د داسی شخص نه اخلی او هغه په قحطی ، ظلم ، تیري دپاچا اخته کوي لکه چې د عبدالله بن عمر نه روایت شـــوی چی رســول الله وفرمایل: ای دمها جر ینو ډلی ! کچیری په پنځو کار ونو اخته شــوی الله ته ترینه پناه وړم لومړی: په قوم کی زنانه خپریږی مگر هله چی خپله یی ښــکاره کړي نو پدوی کې به طاعون او داســی رنځونه خپاره شي چې دد وی نه پرته څوک پری اخته شوی نه وی.

دوهم : په پیمانه کولو او تللو کی کمښـــت نه کوی داچی په وچ کا لی او پاچاله لوری په ظلم او تیری اخته کیږي .[1]

۲- دغه شــان خلک د الله د تنفر او عذاب وړګرځي : همغه شــان چی الله ﷻ د شعیب قوم سره و کړل کله چی الله ج شعیب ﷺ دهغوی په لوري واستاوه دهغو په مینځ کې په معامله کی تقلب ډیر دود ؤ نو شـــعیب ﷺ هغوی دیو الله عبادت او دغه ناوړه عمل پرریښتود دوته را بلل لکه چی په قرآنکریم راغلي دي :

«وَيَا قَوْمِ أَوْفُواْ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تَبْخَسُواْ النَّاسَ أَشْيَاءهُمْ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرضي الله تعالى عنه مُفْسِدِينَ»[2]

ترجمه: ای ځماقویه! پیمانه اوتله په انصـــاف او پوره ورکړئ او دخلکو څیزونه مه کموئ او په څمکه کی فســـاد مه خپروئ. بیایی وفرما یل :« **فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُواْ فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ** »[3] ژباړه: نوهغه یی دروغجن و ګاڼه په پای کی زلزلی و نیول او په خپلو خونو او ځالو کي له منیځه لاړلی.

۱- شعیب الایمان، للبیهقی حدیث: ۳۰٤۲.

۲- د هود سورت ۸۵ آیت.

۳- د الأعراف سورت ۷۸ آیت.

د آخرت عذاب: همغه شان چې په دنیا کې داسې خلکو ته څه عذابونه په نظر کې نیول شوي په اخرت کې هم دهغوی لپاره څه عذابونه شته لکه:

۱ – الله تعالی د مطففین ســورت په پیل کې د اعذاب یاد کړی فرمایي:« **وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ**» ویل یعنی: ډیر درد دونکی عذاب اوویل شــوي چې یوی تنگی کندی ته وایی چي د جهنم په بیخ کی ده او دد وز خیانو وینو او خیر و ټولنځای دی او ځینو مفسر ینو ویلی دي چې : د جهنم یوی لاری ته ویل کیږي چې : کچیری د دنیاټول غرونه پری تیر شي دهغه ځای دتودوخی لامله به ټول ویلی شـــی نعوذ بالله منه.

۲ – دغه عذاب عبدالله بن مســعود یاد کړی چی وی ویل : چاچی دالله ﷻ په لارکی جهاد کړی دی نوورته و به ویل شی: امانت دی ورکړه! هغه وایی پالونکیه! څنگه یی ورکړم دنیا خو پای ته رسیدلی ده ؟

و به ویل شــی هغه اورغو رځیدو څنډی ته بوځئ، هغه به بو تلل شي او امانت به په هغه بڼه چی ورته ورکول شــوی ورته راوړل شــی کله چی هغه ســړی امانت په اورکی گوری پیژنی یی نو اورته ننوځی او امانت په اوږ وکړی چې داورنه یی را وباســـی خو کله چی داورنه راووځی گوری چی په اوږ ویی نشـــته او هغه کمان داوه چی امانت یی له اوره بهر کړی دی ، بیا ځلی اورته دننه کیږي چی را وی

باسي بیاهم همغه کاڼه کیږي، نود غه انســان به ترابده همدغه کارکوي بیا ابن مسعود وویل : لمونځ امانت دی ، او دس امانت دی ، تله امانت ده پیمانه امانت ده او څونور شــیان یی یاد کړل چی ډیرســخت یی هغه څه دي چې په امانت ورکول کیږي ، بیا راوي چی دغه حدیث دابن مســعود نه روایت کړی وویل: براء عاذب ته ورغلم ورته ومی ویل: آیا لیدلی دی ندي چې ابن مســعود څه ویلي دي؟ و ی ویل دا او هغه ی وویل، براء وویل: رښتیا یی ویلی دی آیا اوریدلی دی ندی چې الله تعالی فرمایل دی:

«**إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا** ».[1] الله تعالی تا ســوته امر کوی چی امانتونه دهغو څښتنانو ته ورکړئ.

د خیانت سرګندیدو لاملونه او زمینې: فریمانه لاملو نه دخیانت دسر ګندید و لپاره شتون لري چی دلته یې څولاملونو ته اشاره کوو:

۱- دایمان او عقیدی کمزورتیا: همغه شــان چی ایمان د ډیرو ارزښــتونو لکه امانت پاللو غوښتن ځای دی ، دعقیدی اوایمان کمزوری یا نه شتون د خیانت د

۱- د النساء سورت ۵۸ آیت.

سرگند يد و لامل دی دهمدی لامله رســـول الله و فرمايلی:« **آية المنافق ثلاث اذا حدث كذب و اذا وعد أخلف و اذا اؤتمن خان**».[1]

د منافق نښـــی دری دی کله چی خبری کوي دروغ وايي او کله چي وعده کوي دهغی خلاف کوي او کله چی امين وگنل شی خيانت کوي.

۲- د دنيا پالنی او هوا هوس غلبه او برلاســـی: کله چې انســـان باندی هوا، هوس او دنيا پالنه برلاسی کيږي او يوازی ژرتيريدو نکی گټی په نظر کې نيـسي نو د خيانت ډگر په هغه کی پيداگيږي ځکه دغه ډله خلک د خيانت په عوا قبول کی فکرنه کوی او دقرآن په فرموده د هوی او هوس په غلبی دهغوی په ســترگو، غوږونو او عقل پردی غورځول شـــوی چی پدی نه پوهيږی او څه کړي الله تعالی فرمايي :« **أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ وَأَضَـــلَّهُ اللَّهُ عَلَى عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَى سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَى بَصَرِهِ غِشَاوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِن بَعْدِ اللَّهِ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ**».[2]

آيا هغه ســړی دی و کا تو چی خپل معبود يي د خپل نفس هوا گر ځولی او الله ﷻ هغه د پو هی سره(پدی چی د هدايت وړندی) گمراه کړی او په غوږ اوزړه

۱- صحيح البخاري، حديث: ۳۳

۲- د الجاثيه سورت ۲۳ آيت.

یی مهر لږولی او په ستر گویی پردی اچولی؟ ددی حال سره څوک گولای نشي د الله نه بغیر هغه ته هدایت وکړي آیا پند نه اخلئ»؟

۳- انسان باندې د حرص او طمی و اکمنیدل: حریص انسان هم خیانت کوی هم د نوروپه مالونو کی خیانت کوی او هم د هغه بسـت په بو ختیاکی چی وړلي ندی حرص کوی، دهمدی لامله ددی په ځاي چی هڅه وکړي په هوی، هوس، حرص، او طمعی باندی برلاسي شـــی موخی ته د رســـید و لپاره د خیانت لار په مخه کوی.

٤- مال او اولادی پوری زړه تړل: قال الله تعالی : « **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَخُونُواْ اللّهَ وَالرَّسُـــولَ وَتَخُونُواْ أَمَانَاتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلاَدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ اللّهَ عِنـدَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ** ».[1] ای ایمانو والاو ! د الله او پیغمبر سره خیا نت مه کوئ او همداشـــان په خپلو امانتو نوکی خیانت مه کوی او پدی پوهیږی چی (داکار سرته رسول گناه ده) او پوه شئ چی ستاسو مالونه او اولادونه دارزښت وسیله ده او دالله تعالی سره (دهغه جا لپاره چی دژمنی دازمښـــت نه بریالی ووځی) لوی ثواب شته.

---

۱ - د الأنفال سورت ۲۷-۲۸ آیتونه.

دخیانت د مخنیوی لاری: دټولنی دافراد و لخوا دخیانت د پیښیدو مخنیوي لپاره باید لاندی کارونو ته توجه ورکړی:

۱- د ایمان ستنی ځوا کمنول: دایمان ستنی د الله پیژندنی، هغه باندی باور اعتماد او تخلف نه منوونکو وعدو باندی ډاډ له لاری تقویه کیږي چې په پای کې د مشروعی لاری دژوند مواهبوته رسیدل را مینځته کیږي.

۲- دمعقولو او مشروعو اړتیا و پوره کول: یو لامل چې انسان خیانت ته را کاږي اړتیاده کچیری مشران او مسولین دخپل لاس لاندی خلکو مشروعواو معقولو اړتیاؤ ته پاملرنه وکړي او لری کړي په افرادوکې د خیانت زمینه له مینځه ځي.

۳- په دنیا و آخرت کی د خیانت سپیره عوا قبوته نه پاملرنه: کوم انسان چې پدی پوه شی چی خیانت په دنیا کې درسوایي د خلکو خالق په وړاندی دسر ټیټی او اخته کیدل په محرو میتونو چی رسوایی او سرټیټي لامله راځي او په پای کې په فقر اخته کیږي هیڅکله به پری بوخت نشي همدارنگ انسان چې پدی پوه شي چې په آخرت کې به په الهي عذاب اخته کیږی نود خیانت نه په و تښتی . رسول الله فرمایي : څلور څیزونه دي چې که یو یی هم یو کورته

ننووځي وران به شي او هیچکله به یی الهي برکت ودان نکړی : خیانت ، غلا ، شراب، خوړل اوزنا.

٤- **اجتماعي ا صلاحات:** ټولنی ته پاملرنه ، منا سبو ډګرونو برابر ول او دخیانت جوړولو عوامل له مینځه وړل په ټولنه کی هم کولای شي دخیانت په مخنیوی کې ډیر اغیزو لري.

٥- **دفکر او فرهنګی جوړ ښــتو نو پیاوړتیا:** اســاســاً په ټولنه کې د فرهنګی کارونو خپر اوی د ټولنی دوګړو دفکری ښــټونو کلکو الی کولای شي د اجتماعي مقیاس کې د خیانت کولو خپراوی له مینځه یوسی دا دندی دټولنی د مسئولینو او جارو اکو په غاړه ده .

پایله:

په پای کی ای د الله بندګانو! دالله دین دانســان ژوند ته شــامل دی پدی لړی کی : عقیده شریعت احلاق، معاملات یادو لای شــو . نو اســلام یعنی: په زړه کی عقیده ، مســجدکې عبادت ، په شــاراوبازارکی معامله، او دژوند ټولو اړخونوکی او همدا اســـلام دی چی الله تعالی هغه د خپل خوږ پیغمبر په مټ مونږ ته را

رســـولای قرآنکریم فرمایی: «**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّـــلْمِ كَآفَّةً وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ** »[1]

یعنی: ای ایمانوالو! په پوره ډول اسلام ته ننوځئ او دشیطان په پلونو ځی یقینا هغه ستا سو سرګند دښمن دی.

۱- د البقری سورت ۲۰۸ آیت.

٦٠

بډې او اداري فساد

الحمد لله الذي جعل لنا فی الحلال غنية عن الحرام و نشــهد أن لآ اله الا الله وحده لاشــريک له، وعد من اتقاه أن يجعل له مخرجا ويرزقه من حيث لايحتســب فله الحمد يهدي الی الرشــد ويعد بالرزق و يفيض النعم و نشــهد أن محمدا عبده ورســوله. الذي حث علی طلب الرزق الحلال وحذر من الكسب الحرام و مما يضرالانسان نصحا للأمة وشفقة عليها، صلوات الله وسلامه عليه وعلی آله و أصحابه و من سارعلی نهجه وتمسک بسنته الی يوم الدين.

محترمو حاضرينو او درنو اوريدونکو! زمونږ دنن ورځې عنوان اووعظ اســتراتيژی د بډو اخيستلومذمت په اړه دی.

انســان يو اجتماعي موجود دی او دژوند لپاره خپلوهمنوعو سره تعامل ته ضرورت لري او تعامل يې قانون ته اړتيالري اودقانون پلی کول د اجرائيه قوی واک لاندی ده، داچي د رشــوت ســتونزه د قانون تطبيق په لارکې عام مانع دی اودحکومت اوعدالت معناله مينځه وړي يوه ډيره بده اوزيان لرونکی ســتونزه ده، نوبايد پايلې اوزيانونه يې په هراړخيز ډول يوبل ته ورساوو ترڅو خلک ترينه ډډه اوځان وساتی.

د رشوت مفاهیم:

یعنې هغه څه چې چاته ورکړی ترڅودخپلې دندې خلاف کوم کاروکړی یادچاحق ضایع اوباطل کړی یادحق اوعدالت په خلاف کوم حکم ورکړي، رشوت هغه پیسی اوجنس دی چې حاکم، قاضـــی، ددولت مامور یاهرچاته چی یو کارکولای شي ورکړشي ترڅوفیصـــله د پیســـی والاپه ګټه او یا د مقابل لوری په زیان وکړي یادیو ســـړي کاروکړي او دبل کار وروســـته کړي، داســـی حال کې کوم تګلوری اولاری وټاکوچي د کار ډګرونه او اجرااتوجریان د رشوت مفسدی څخه شنډ او پاک کړي، د رشـــوت زیانونو او آفتونو څه ډول شرح ددې د خلاصـــیدولپاره اغیزمن کیدای شي؟

په حکومت اوټولنې باندې دبډو ناوړه پایلې به څه وی؟

محترمو مسلمانانو!

د بډو فســاد اوقباحت ژوروالي باندی لدې ځایه ښــه پوهیدای شــوچې: رشــوت د عدا لت په وړا ندې کلک مزاحم دی پداســـې حال کې چې عدا لت پلی کول دآســـمانی کتابونو د راتلو او انبیاء علیهم الســـلام د مبعوثیدو موخه ده قرآن کریم فرمایي : (**لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ**) [1]

---

۱ - د الحدید سورت ۲۵ آیت.

ژباړه: مونږخپل پیغمبران د کلکودلایلواو سرګندو معجزوسره(خلکوته)راولیږل او هغوته موآســمانی کتابونه اوقوانین او موازین(دحق اوعدالت و پیژندل)راکوزکړل ترڅوخلک په خپل مینځ کې د هغه په وړاندې په انصاف چلندوکړي.

اوسنی اجتماعي وضعیت ددې سرګندوی دی چې خلک خپله دقانون اودهغه د موادونه شــکایت نلری بلکې دقانون نه پلې کیدونه ګیله او اســتغاثه لري، منل شــوی خبره ده چې د بډو په عامیدوسره عدالت له مینځه ځي اونیوکي زیاتیږي که په رښــتیاعدالت پلی او امانت مراعات شي هیڅ ګیله اوچیغه به وانه وریدل شی

هان در زمانه رسید مژده آمان گرسالکی بعهد امانت وفاکند

ساقی به جام عدل بده باده تاگدا غیرت نیاورد که جهان پربلاکند

(حافظ شیرازی)

هغه مهال د ډاډ زیری رارسی چی کوم سالک د امانت په ژمنه وفاوکړي ساقی د عدل په جام کې شراب راکړه چې گدا داغیرت ونکړی چی نړی له بلا ډکه کړي.

داچی په هیواد کي گڼې ستونزې لیدل کیږي او تریوې اندازی کارهم اهل دکار ته ندی سپارل شوی، د کار شتون هم د کارپه ډگر خورا لږدی، اوله بلی خوا د حقونود ورکولو سیستم اومعا شاتو تنظیم هم عادلانه نده دغه عوامل لامل شوی چې بډی دود شي.

په باطل ډول د مال خوړل:

الله ﷻ په باطله لار دمال خوړلو نه منع کړی فرمايي : (**وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُواْ بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُواْ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ**) [1]

ژباړه: خپل مالونه په باطل او د ناحق لکه بډی، سود، غصب، اوغلا... په خپل مينځ کې مه خورئ اوهغه اميرانو اوقاضيانو ته مه وړاندې کوئ چې دگناه له مخی د خلکو ځينې مالونه وخوری اوتاسې پرې خبرياست (اوپوه شی چې تاسوظالم ته مرسته ورکړی اوگناه موکړی ده).

د(تدلو) کلمه د افعال باب(ادلا) مضارع ده او ادلاء په ځاه کې دبوکې زړندولو په معناده ترڅو اوبه پرې راوايستل شي اودغه کلمه د کنايی په توگه چارواکوته د بډو ورکولو په عنوان استعماليږی ترڅوحکام د انسان خوښې سره سم رأيه ورکړی اودا باريکه کنايه ده چې دا راښيي چې د پډو ورکونکی په ځير چې غواړی د حاکم فيصله په خپل گټه راواړوي اوپه مادياتو باندې دهغه عقل او وجدان غلا کړی د هغه چاپه ځيرچې بوکې سره دځاه نه اوبه راوباسي.

بډی او آيتونو پلورل د الله«ﷻ» سره ژمنه ماتول دی:

قرانکريم فرمايلی دي: « **وَلاَ تَشْتَرُواْ بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ**)[2]

---

١ - د البقره سورت ١٨٨ آيت.

٢ - د المائده سورت ٤٤ آيت.

ترجمه: او ځما آیتونه په نا څیزه بها د دنیا،لکه رشوت،منزلت او مقام مه پلوری او پوه شـــئ چه هر څوک په هغه څیز حکم ونکړي چی الله نازل کړی (**او الهي احکامو ته د سپکاوي قصد ولري**)هغه او د هغه په څیر کسان د شک پرته کافر دی.

ددی آیت په تشرـیح کي راغلي دي د قرآنکریم په بل ځای کی یی فرمایلی: (**وَلاَ تَشْـــتَرُواْ بِآيَاتِي] اي لا تســـتبدلوا بآياتي التي فيها بان تخرجوها منها أو تترکوا العمل بها و تأخذوا لأنفسکم (ثمنا قليلا) من الرشوة والجاه وسائر الحظوظ الدنيوية.**[1]

یعنی: ځما په آیتونو مه رانیســی یعنی:هغه څه چه پکی دی مه بدلوئ او داســی مه کوئ چې مفهوم یې ترې وباسي یا عمل پری پریږدې او په دغه صـــورت کي لږه بها د رشوت یا مقام نوری دنیوي ګټې او خوندونه تر لاسه کړئ.

د قرآن کریم په بل ځای کي فرمایلي دی: (**ولا تشتروا بعهد الله ثمنا قليلا**). [2]

ترجمه: د الله ﷻ تړون په لږ بها مه پلورئ (او د مادي نا څیزو ګټو لپاره ژمنی مه ماتوئ) (**ثمنا قليلا**) لږ قیمت او ناڅیزه بیه مقصـــد دا دی چې: هر ډول قیمت اوکالی حتی که ټوله دنیا هم وي د تړون ماتولو په وړاندی لږ دی.

ابن عطیه وایي : (**هذا النهي عن الرشـــا و أخذ ألاموال علی ترک ما يجب علی الآخذ فعله أو فعل ما يجب عليه تركه**).[3]

---

١ - تفسير أبي سعود، ج ٣، ص ٤٢، المكتبة الشاملة.

٢ - د المائده سورت ٤٤ آیت.

٣ - تفسير البحر المحيط، ج ٣، ص ٥١٦، او تفسير روح المعاني، ج ١٤، ص ٢٢٤، المكتبة الشاملة.

ترجمه: دغه معنا د رشـوت او د مالونو اخیسـتنی په هکله دی چې کومه کړنه پر اخیستونکي لازم وی او د هغي په بدل کي څه څیز واخلي او یا کوم کړنه چی په ده باندی پریښـودلی پری لازم وي د هغی په عوض څه څیز واخلي دا رشـوت یا بډه یادیږی.

دلته هدف دبډونه منع ده یعنی: د مال اخسـتل ددی لپاره چې : یو کارونه شي چی کول یی داخسـتونکی په غاړه وی یا دداسـی کارکول چی د حق او عدالت پرا ساس باید اجراء نشي . مراد دکم قیمت نه هغه منافع دي چی په شمیر کی څومره زیات وي آخرت په مقابل کي ټوله دنیا اوټولی خزانی یی کمی دي چاچی د آخرت په عوض دنیا واخیسته هغه په معامله کي دزیان سره مخامخ دی چی د جبران وړندی ځکه ټولونه سرنعمت او لازوال ثروت یی دفانی اوبی ارزښته څیزپه بدل کي پلوری چی هیڅ کم عقل انسان یی هم نشي منلای.

ابن عطیه فرمایلي دي : کوم کار چی پوره کول یی دچاپه غاړه واجب دی هغه د الله دژمنی مسئول دی په پوره کولو یي دچانه عوص اخستل یاد عوض اخستلو پرته نه کول یي دالله دعهد ماتول دی، همداشـان کوم کار چی ترسره کول یی په جا واجب ندی. ترسره کول یی دمعاوضـی په اخسـتلو سره هم دالله د عهد ماتول دي. دد ینه معلومیږی چي ټول دود شـوی بډي ډولونه حرام دی لکه د دولت چارواکی چی: وظیفی تر سره کولو لپاره د دولت نه حقوق اخلي نوهغه د الله سره عهد کړی چی د حقوقو په عوض خپله دنده ترسره کووم نو کچیر په تر سره کول کی یی دچانه معاوضه واخلی او دمعاوضی پرته هغه نن په حبا کوی او

یوی ورځی نه یی بلی ورځی ته غورځوي دالله عهد یی مات کړی، همداشـــان هغه کار چی د دولت لخوا دهغه په واک کې ورکول شــوی نه وي رشــوت اخلي اوهغه کار کوي داهم د الله د عهد ماتونه ده .

بډی اخستل دیهودو صفت دی:

محترمو مسلمانانو: بډی دومره بداونارو دی چی قرآنکریم هغه دیهود وپه صفاتو کې شمیرلی «**سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ** »[1]

ترجمه: هغوی ډیر دروغ اوری اومنی او ډیر حرام مال خوري . د علامه الو سی په وینا پدی ځای کي مراد دوست نه په حکم کې رشوت دی.

محترمو اوعزتمنو مسلمانانو!

وگورئ چې بډی اخستنه څومره یو عام او خطری آفت دی او هغه له لاری لاسته راغلی پیسی د ډیره و حرامو او خبیثو پیسو په کتار کی واقع شوی او ډیرخبیت ډیر رسوا او ډیری سپکی یی همه غه بډی گڼل شوي دي باید دیوریښتني مومن وجدان، ایمان او افکار ددغه ناوړه او ناسم کارنه ډیر لری او تیښته کي وي، ځکه د بړو پیسی چی ډیری سپکی او خبیثی پیسی دی همدغه انسان هم سپک او ذلیل کیږ ی مولانا جلال الدین بلخی څومره ښه ویلي دي:

بازاگر باشد سپید و بی نظیر

چون که صیدش موش گشت گردد حقیر.

---

۱ - د المائدې سورت ٤٢ آیت.

وربود چغدی ومیل او به شاه

او سرباز است منگر در کلاه.

ترجمه: باز کچیر سپین او بی سیاله وي خو چی د موږک ښکار وکړي سپک شي او کچیر وروســـتی وي او مینه یي دپاچا سره وي هغه سرتیری دی خولی ته مه گوره.

سحت د سپینو لو په معنی او هم د سختی لوړی په معنا ده سحت هر نامشروع عمل خصوصا رشوت ته ویلي شو ځکه دغه شان مالونه انساني ټولنی نه صفا طراوت او برکت له مینځه وړي همغه شـــان چی دونی پوټکی شـــکول دونی دوچیدو او مړاوی کیدو لامل گرځي.

دســحت لفظي معنا دیو څیز ریښــه ویســتلو او باد ورکولو ده ددی معنا په هکله قرآنکریم دطه سورت په آیت کي فرمایلي دي : «**فیسحتکم بعذاب**».[1]

یعنی کچیری تاسی دخپل ناوره خوز ښت نه پشانشی نوریښی به مو وباسی د الله ﷻ مراد له سحت څخه په قران کی رشوت دی. حضرت علی ابراهیم نخعی حسن بصری مجاهد قتاده ضحاک اونور د تفسیر اما مان هغه په رشوت تفسیر کړی دی ، رشـــوت اخســـته ته ځکه ســـحت ویل کیږي چي نه یوازی رشـــوت اخســـتونکی او رشـــوت ورکونکی تباه کوی بلکی عمومي د امنیت ملت او ملک اســـاس او بنســـټ هم برباد وی ځکه په کوم هیواد کی چی بډی خوړل دود وي

۱ - د الطه سورت ٦١ آیت.

قانون نشي پلی کیدای، په پای کې دملت اوملک امنیت چې دقانون په اساس دی نه راځی او کله چې دامنیت قانون د عمل پړاوته لاړنشي نود خلکو ځان مال حیثیت او پت نشي ساتل کیدای. همدا علت دی چی په اسلامي شریعت کي سحت ورته ویل شوی او حرام دی.

آمرینوته ډالی ورکول رشوت دی:

پدی ځاي کي باید یو بل بحث هم زیات کړی او هغه داچی د رشوتونو اخستل بد او ناوړه دی ځینی و ختونه دغه چي دغو لونکي عبارات وینو لکه: ډالی تحفه سوغات تعارف حق او حساب حق الزحمه قلمانه انعام او شیریني په ترځ کي بي رشوت ترسره کیږي. خو جوته ده چی دنو مونو بدلون هیڅکله په ماهیت کی بدلون نشي را وستی او په هر صورت کی کومه پیسه چې د بډ و له لاری را شی هر نوم چی پری کیښودل شي بیاهم رشوت دی ، ځمونږ خلک باید پوه شي چی تحفه ډالی سوغات د آمرینو لپاره د رشوت په حکم کې دی پدی زمانوکی دود دادی چی ډالی ځینی ډریورانو خانه سامانونو یا دسیستمونو داخل اشخاصو او شا و خوا خلکو ته یی و رکوي او هغه یو عادی او روا څیز ګڼي پداسی حال کی دپورتنیو دلایلو په استناد په زغرده ویلی شو چی: هیڅ ډول نوم ایښودل ماهیت ته بدلون نشي ورکولای او هرڅه چی دشورت له لاری راشي رشوت دی.

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي : (**من استعملناه على عمل فرزقناه رزقا فما أخذ بعد ذلک فهوغلول**).[1]

---

١ - صحیح ابن خزیمه، حدیث : ٢٣٦٩ .

ترجمه: څوک چې مونږ په کوم کار و ګمارو او څه حقوق هم په مقابل کې ورکړو هرڅه چې د خپلو حقوقونه اضافه واخلي د غاړي طوق به يې شي.

(من شفع لأحد شفاعةً فأهدي له هدية عليها فقبلها فقد أتى بابا عظيما من أبواب الربا).[1]

ترجمه: څوک چې دبل چا لپاره سپارښت وکړي (واسطه شي) او دهغه په مټ ورته هديه ورکول شي په رښتيا چې هغه د سود لوي دروازې ته ننوت.

عبدالله بن مسعود وايي : کيچيرې څوک نوروته کار وکړي او دهغه په واسطه ډالۍ ورته وړاندې شي هغه حرام دی . د مسروق نه روايت دی چې هغه د ابن زياد سره په يوه قضيه ردوکړ او دقضيې دڅښتن له لوري يو غلام ورته ډالۍ شو مسروق هغه ونه مانه او وی ويل:

اوريدلی مې دي چې ابن مسعود به ويل: څوک چې د مسلمانانو کوم ظلم لرې کړی او دظلم څښتن هغه ته کوم څيز ډالۍ کړي لږ وي که ډير هغه حرام دی .[2]

کله چې عمربن عبدالعزيز خليفه ؤ يوه ډالۍ يې ورته راوړه خو هغه قبوله نکړه ورته وويل شول پيغمبر ﷺ هديه قولوله عمر وويل: پيغمبر ﷺ ته ډالۍ وه خو مونږ لپاره رشوت دی.[3]

امام غزالی فرمايي : کله چې اسلام تردی کچې د رشوت په اړه سختی کوي نو پرقاضی او هغو کسانو چې دقاضی په مرتبه کې دی لازم دی چې خپل ځان خپل پلار او موړ فرض کړی يوازی هغه څيزونه چې د قاضی کيدو ويا حاکم کيدو

---

١ - مسند امام احمد ،حديث: ٢٢٢٥٠.

٢ - الحلال والحرام للدکتور قرضاوي، ص ٤٠٢.

٣ - صحيح البخاري، حديث: ٢٥٩٥.

وړاندی اوپه خپل کور کی ناســت ول او د هدیه په توگه ورته راوړل کیده اجازه لري چې د قضـاوت یا حکومت په وخت کي هم واخلي. او دهغو څیزونو اخسـتل چې پوهیږي د مقـام پـه خـاطر ورتـه ورکول کیږي حرام دي خو کوم چې نـه پوهیږي دوســتان یی د دوســتی په خاطر یا ددوی د مقام په خاطر ورته راوړي داشبه ده او باید ورنه ډډه وکړي.[1]

محترمو مسلمانو حاضرینو !

د هغو نورانی ارشاداتو اورواياتو په بنسټ چی په خپلو دیني سرچینو کي یې لرو هرڅوک چی آمرینوته تحفه او ډالی ورکوی چی بسـت او منصـب پکی اغیزولري سرگنده ده چی رشوت دی پداسی حال کي چې ډیری خلک دغه څیز ډیر ساده گڼي سره لدی چی داکار صریح رشــوت دی ټول مســلمانان دی دي کارنه ډ ډه وکړي او نوروته دی هم و روښـیی چې ندی تحفه ورکوي اوندی اخلي همداشـان هغه تحفه چی درشوت په چوگات کی راځی دهغی تحفي سره چې رشوت پکی نفوذ نلری خلکوته بیان شي ترڅو مطلق تحفه رشوت ونشمیرل شي.

د بډو اخستونکی او ورکونکی د لعنت وړدی:

د اسلام نجات بښونکی دین دغه کار مسلمانانو لپاره حرام کړی چې د یوکار تر سره کولو په خاطر د رشـوت لارغوره کړي او همداشـان مسـؤلینو او چاراکو لپاره یی منل حرام کړی دی او رشوت ورکونکی او اخستونکی یی ملعون معرفی کړي دي.

---

١ - الحلال والحرام للدكتور قرضاوي، ص ٤٠٢.

عن عبدالله بن عمر رضي الله عنه قال: (لعن رسول الله الراشي والمرتشي).[1]
ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر نه روايت دی چې رسول الله رشوت ورکونکی او اخستونکی باندی لعنت ویلی دی .
(و عن ثوبان قال لعن رسول الله الراشي والمرتشي والرائش يعني الذي يمشي بينهما).[2]
ژباړه : د حضرت ثوبان نه روايت دی چی رسول الله ﷺرشوت ورکونکي او اخستونکي او هغه څوک چې دواړو ترمنځ واسطه کيږي باندی لعنت کړی
له رشوته ترنقمته :
د رشوت ورکونکو او اخستونکو مجازات د دوزخ اور دی رسول الله فرمايلي دي:
(الراشي والمرتشي فی النار). [3]
ترجمه: رشوت ورکونکی او رشوت اخستونکی په اور کی دی.
محترمو مسلمانو:

ښه پوه شئ چې کوم قوانين د بی و سوپرګنو د ګټو ساتونکی دی د ځواکمنو خلکو په ګټه څرخيږی .

اوهغه زورواکي چې رشوت ورکولای شی لاره پيدا کړی ترڅو قانون او اجراييه قوه او عمومې هويت د خلکو باندی لوبی وکړي او د نورو په حقونو باندی بی دريغه ظلم تيری ته دوام ورکړي او وضعيت تل په خپل واک کي ولري.

---

١ - مشكوة المصابيح باب الاقضية والشهادات.
٢ - الترغيب والترهيب للمنذری.
٣ - الترغيب والترهيب للمنذری.

دی گمان ته په کتو ډیره مهمه او حاده مســـئله چی باید ډیره زیاته توجه ورته وشــی داده چې داسي پرلپســی تنویري بروگرا مونه او تبلیغاتو او نصـیحتونو سره ذهنیتونه او ظرفیتونه تیار کړو چی ټول خلک د رشوت په ضد هراړخیز او دومدار مبارزی کمپاین کې سره یوموټی او تنظیم شي او رشوت ورکونکی اخستونکی او دریم واســطه شــخص چې راســش ورته ویل کیږي د کار له صــفحاتو نه ورک او وشړل شي.

٦١

د نیشه یی توکو حرمت

الحمد لله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی سید الأنبیآء والمرسلین وعلی آله و صحبه و من دعا بدعوته الی یوم الدین.

د نیشه یی توکو سپیره ستونزه د ټولنی د ټولو پرګنو جسمي روحي صحت او روغتیایي خطر سره مخامخ کړی ده او تمه یی د الله عبادت نه چی د خلقت اساسی هدف ئی منعه کړی دی او ټولنی په مختلفو اړخونو د ژوند کي پرمختګه او ودی لپاره دخپل اغیز پوره کولو نه وروسته کوی ځوانان د نیشه یی توګو لومړنی درجه قرباني او زیان منونکی قشرـدی په ټولنه کې په نیشه یی توکو باندی روږدیدلو خپراوی په ځوانانو کی دیو مهلک او ساری رنځ د خپراوی معنا دي په چی د خلکو فردي او اجتماعي ژوند تهدیدوي او هیواد. حکومت په صحي فرهنګي اخلاقي اجتماعي اقتصادي امنیتي او سیاسي څانګه کې د ستونزو او بیلا بیلو خنډونو سره مخامخ کوي د اسلام له نظره د نیشه یی توکو کښت، صناعت، تجارت، قاچاق، وړل راوړل پیرل پلورل سپمول آن عاملینو ته یی مشوره ورکول او په هغه پیسو اخستل شوو خوړو جامو نه ګټه اخستل باطل حرام

او ستره گناه شمیرل کیږي الله جل جلا له روږدي، عاملین د نیشه یی توکو سود خورو، شراب خورو په څیر خپل لعنت وړگرځولي دي.

د اسلام علماء عقیده لري چې ټول نیشه یي توکي په بیلا بیلو ډولونوکې مسکر او نیشه کوونکي دي او د شرابو یو ډول گنل کیږي نو ټول هغه احکام چې د شرابی په اړه پلی کیدای شي هغه د نیشه توکو د کاروونکو لپاره هم لازم الاجراؤ دي ځکه چې د خرمت په علت کي چی هغه سکران دی سره یو دی حضرت ابن عمر(رض) د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چي هغوی وفرمایل: (**و کل مسکر خمر و کل مسکر حرام وفی روایة کل مسکر خمر و کل خمر حرام**).[1]

هر ستودنکی شراب دی او هر مستوونکی حرام دی او په بل روایت کی راغلی دی: هر ستوونکی حرام دی او په بل روایت که راغلي دي : هر مست کوونکی شراب او هر شراب حرام دی.

د مخدره توکو لغوی مفهوم:

خدر په زور او ورسره وی د غړی ستیدو په معنا ده، کسالت، خوبوړی، لا س پښی اندامونو سستیدل، بی حسی، ضعف او بی وسی د بدن د اندامونو، لکه چې:

---

۱ - سنن ابن ماجه، حدیث: ۳۳۹۰.

دغه حالت باندی د شرابو د خوړلو او د سکرات نه وړاندی او د نشی نه وروسته د ځښونکی غړی پری اخته کیږی.

د نیشه یی توکو ډولونه او جسمي او روانی اغیزیی:

روږدی هغه څوک دی چې د دارو خوړلو عادت لري او د خوړلو په پای کې چي د هغه جسمی او روانی اړتیا ده عمومي اخلاق خپله سوکالي او د خپلی کورنی او ټولنی سوکالي یه خطر لاهو کوي یا په بل عبارت کولای شو اعتیاد تلپاتی مسمومیت و ګڼو چې فرد دهغه کورنی او ټولنی ته زیان رسوونکی دی.

د مجاز نیشه یی توکو ضررونه:

ځینی خوب راوستونکي او آرامونکی دارو چې د ډاکتر انو لخوا تجویز کیږي کچیری زیات و خوړل شی د جسمی او روانی تعادل د له مینځه تللو لامل کرځی چای او کاوه هغه خوړونکي توکي دي چي اعتیاد راولي او څوک یی چي منظم ډول خورې د کتنی وړ اغیزی پکي راولي کافئین هم بل محرک دی چی د ټولو ویتا مینونو په څیر انسان روږدی کوي.

دا ډول دارو انسان د جسمانی درد نه کراروی خو اجتماعي درد برسیره د اعتیاد عارضی نه نور عوارض هم را ولاړوي.

مثلاً څوک چی زیاته کاوه کاروی به بی خوبی او عصـــبی گدودی باندی اخته کیږی او د دغو اغیزو د لری کولو لپاره نورو روانی عوارض لری دارو گانوته مخه کوي بوگنونکی شمیری د مجاز و نیشه یی توکو په اړه د خطر زنگ په گړنگاراولی شمیری ښیي چی په صنعتي او غیر صنعتي ټولنو کې هر کال د دی ډول توکو د خوړونکو شـــمیر زیاتیږی کچچیری د غه تولنی د دعو ټو کو د علتونو د پیژندلو او درمان په فکر کی نشي چی د اقتصادي، اجتماعي او د ثروت او قدرت د ویش ډول او شرایطو پوری تړلی دی، نو داســـی ورځ به راشي چې ډیری انســـانان به پدی توکو روږدي او ټولنه به د حد نه زیات جرم او جنایت کولونه برخمنه او ژوند به د ستونزو سره مل شی په امریکا کی د روږدو ډیری خلک هغه کسان دی چی نژادی لږه کی په تیره بیا تور پوســـتي دی چې زیات اقتصـــادي او اجتماعي محرومیت لري.

ځوانان او اعتیاد:

ځوانان د مخدره توکو اصـــلی قربانیان دی ډیری هیوادونه پدی اړه یو شـــان وضـــعیت لری ځوانان د ځوانی ځانگړتیاو په خاطر ډیر زیان منونکي دي ځکه پلټونکی او ځغلیدونکي دي هر ځای ته سر دننه کوي ځیړونکي د هر شي پســی ځی مخی ته یی چی هر لار پرانستل شی ډگر ته ننوځیُ لکه چی په کومه لارکي چې خوند او بی خبری شـــتون په بیړه هغوی را کاږي ځوانان هر کارته تیار دی

حتی هغه صـالح او عاقل ځوانان چی په نعقل سره هر کار ته لاس اچوی کیدای شي د څیړنی په موخه دغو لارو ته سر دننه کړی په همدغه شـــان حالاتو کی د کوړوالي او فساد ډګر ځوانانو ته برابره شی او هغوی د کندی څندی او پري پیل ته ورسوي هغه عمرونه چې ځوانان پکی انحراف ته زیات چمتوالی لری د بحرانی عمرونو په نوم یادیږی د ژوند دی پړاو څیړنه د اروا پوهنی ځانګړو مباحثو څخه ده په ۱۷ کلنی کی ځوانان د ښونځی په وروستیو کلونو کی وی او په کلی نه بره کلونو کي د منځنی زده کړی نه خلاص د کار یا د تحصـیل دوام په انتظار کی د ځوانی ځوږ ترڅنګ او بی خبری سره یو ډول ګډوډی او شـاته تګ د راتلونکی په اړه هم به اکثرو ځوانانو کی شتون لری. او پدی کلونو کي د کورنی نه د خلاصون او آزادی اړیتا احســاس هم وجود لری په ټولو کی دا شـــان حالات ایجابوي چي ځوانان د ناپیژانده او نویو مسئلو پسی وي.

ځوانان د دوستانو ترڅنګ او په ټوله کي زیات زړه و تیا او چمتوالی لري چي غیر عادي او احتمالا انحرافی کارونو ته لاس واچوي دغه حالت هماغه بهراني حالت دی چی ځوانانو لپاره فوق العاده خطر لری په تیره بیا د اعتیاد له نظره. پدی پړاو کی د ځوانانود وزګارتیا وختونه ډیره مهمه او حســاســه مســئله ده. د کوڅی مدرسی او کور لاره هم د ځوانو زده کوونکو لپاره خطر جوړونکی او خطری کیداي

شـــی پدی هکله اصـــلی مســـئله چې ځوانانو لپاره په کوڅه خصـــوصـــا د کور او مدرسی په لارکې شته هغه د سرګندی ځارنی نه شتون دی.

د ځوانانو لخوا د لومړی ځل لپاره د ســـیګار خوړل په همدی لا راو کوڅه کی ترسره شوی تنکی ځوانان د غټیدو زړورتیا او جرات او حساسیت په همدی لارکی آزمایی لازمه ده چی دی نکتی ته ا شاره و شی چی ټولو روږدو د روږدیدو وړاندی سیګار کارول او پری روږدي ول او تاکید کیږي چې ۹۵ سلنه افراد چې سیګاری دول او مدرســـی ته تلل لومړی ځل لپاره د کور مدرســـی یا کوڅی په لارکی د سیګار سره آشنا شوی یا یی کارولي پاتی یی دسیګاري مور او پلار دی او لومړنی خوړل یی په کور کی دی وروســته بیا د کوره بهر خصـوصـا په یاده شـوی لار کې پوره سینګاری شوي ځینی عقیده لرې چي سیګار د روږدیده زینه ده پدی معنا چی د ســـیګار لومړنی پانی خوړل د یو مړی پر مخ لومړي لاره د اعتیاد شـــکل کیږی په ځوانانو کی شته انحرافات او فسادونه هغه ډالی ده چی د ښوونځي په لارکی ورته ورکول شـوی او زده کړی وړاندی او نور د پلتیو بوره کوونکی ګرځی د اعتیاد راتلل په ځوانانو کې او دهغه اجتماعی، اقتصـادی، سـیاســی او فرهنګی پایلی داســی موضــوع نده چې په ســادګی تری واوړو. دا کار یو ســتر خطر دی هری ټولنی ته د ځوانانو را ټوکیدلی بی خیالی او سستی، د ټولنی په رګونو کې مســـتی جاری کوې. په ځوانانو کې د اعتیاد خپراوی واقعا یو خطری زنګ دی

ټولو جوامعو ته دا سی څیز دی چې ټول ترینه زیان منلای شی نو خطر باید دیو ډیر ستر او اوچتی ستونزی په توګه د پام وړوګرځی او په مبارزه کی یې باید هیڅ ډول ناغیړی ونشی

د مخدره توکو نه تر لاسه شوی کلی اغیزی:

د ډیری مخدره توکو د خوړو نه را توکیدلی اغیزی نژدی یو بل ته ورته دی د وجدان رټنه. پټه رسـوایي، د بی شرمی نه ډار، دخطر احســاس، اضــطراب، د حا لت بدلون د دغو اغیزو برخی دی بی کچی خوش بینی لومړنی حا لت دی چی د نیشـه یی توکو ټولو خوړونکو کې پیدا کیږی دغه حالت په په بدبینی لری والی او ملګرو نه د نفرت لامل ګرځي روږدی خپل ځان د نورو نه پوه او په حق بولی او ټولو نه غوښـتونکی او هیله مندوي دده کارونو او هیلو نه تر سره کیدو په صورت کی ټول ناغیړ ګڼی نه ځان. ددی بدلونونه ډیر مهم د روږدی په شخصیت کی کوږوالی دی چی هغه یو سـپک او خوار موجود ته اړدی. ضـعف او ډار پری راځي او په کلی ډول اپوټه کیږی زور او زیاتی منی خو هغه زیاتی نه ګڼی فوق العاده حســاس شي په همدی خاطر هیله مندوي چې د پاملرنی او ترحم وړوګرځی، ځان مظلوم ښـیی او پدی اړه درواغ جوړوی چی ټول ده د کمزوری لامله دی د جنســی نظره پڅ او کمزوری کیږي ډیره وینا د روږدو بله ځانګړتیا ده تقریبا ټول روږدي تل خبری او لافی کوي زیاته وینا، درواغ ویل د هغو په ویناو

کی په آســـانی جوت دی د نیشـــه یی توکو په ټولو ډولو نو باندی روږدی په دوامداره وچوالی باندی اخته کیږی او ترو وخوړونه په کلکه تښـــتي او خوږو سره کلکه مینه لري د خوړو توکو ته بی اشـــتها یي او بی میلي او تریاک او هیروینو ته یی علاقه لیدل کیږی چای سره کلکه مینه لری ســـیگار یی تل په شـــونډو وی او دی ښی یا کیڼ لاس په دوو گوتو کی ددوی هغه فشار چی په سیگار یی راوستی او احتمالی ســـوزیدا کتل کیږی د ســـیگار د بوی بر ســـیره ډیر تریخ بوی تری راووځی د کوم څیز نه خوند نه اخلی پرته له سیگاره چای او هغه مادی چی پری روږدی دی ساړه یی فوق العاده بد راځی او تودوخه یی خوښـیږي روږدي خلک لا ابالی دی او نظافت په هیڅ ځای آن خوړوکی نه مراعاتوي مثلاً د خپل ســیگار ایره لاندی یا د فرش په سر تویوی او یا یی په قاب کی تویوی او چای په همغه قاب کې تشوي. آو څښکی ییی معتادین هڅه کوي جلا ظاهر ولری او تل خپله ږیره خیریی تر څو تازه قیافه ولری او کله شي هم براقی کلو په پښـــو کوي، که خپلې جامی بهرته راووی کمیس نه لاندی جامی یی پلیتی تخرږونه ببر جرابی مرداری لیدل کیږی ډیر وروسته حمام ته ځی په همدی خاطر عموما د بدو خولو بوی ورکوی معمولا یي په جیبونو کی دستمال نه لیدل کیږی سهار په سختی له خوبه پاڅی تل خوبوړی دی، د ویښـــیدو په مهال د همار والی په خاطر تر یو، غصـــه، نا رامه او بیریدلی ښـــکاری او دکارنه وړاندی ټوکی خوری او په ظاهری

خمار کې د پوزی نه اوبه تویيږی پرلپســی او نا پوره هوســیلي کوي د صــورت او بدن پوستکی یی دانی دانی شی د سترگو نینک یې غټی وی ډیر خولی کیږی د بدن خارښت د بدن خوزښت خصوصاً لاسونو، د ودریدو بی وسی، د فشار او تودوخی احســاس د ســتونی خارښــت د گډوډی او گرځیدا حالت، د زړه درد د هډوکو او عضلاتو درد د رگونو سخت درد د زکام په ځیر حالات نس نا ستی سره هم مهاله وجود لري.

په کلیو کې د اعتیاد بدی اغیزی:

د مخدره توکو اعتیاد سپیری اغیزی په هره برخه او ځانگه کي سخت او وژونکی دی خصوصاً په بانډو کې چی د اعتیاد کومه صدمه کښت او داخلی اقتصاد د مونږ ته رســوی د دغو ټولو ډیر بد دی پخوا به ډیر کم په بانډو کی روږدي لیدل کیدل بلکی په گتو شمار عمر خوړلي کسان به په ځینو بانډو کی یواځی تریاک خوړل لکن اوســنی حالت کی کلیوال د ښــاریانو په شــان په اعتیاد اخته دی د هیواد په ټولو ځایونو لری کلیو او ښارونو ځانگو کې هر ډول مخدره توکي ترلاسه کیدای شي.

دا چې کلي د تگ راتگ، هســتو گڼو نژدی معاشرت یو دبل سره او هم پرانســتی او غیر محدد چاایریال لامله غوره زمینه او شرایط د کلیوالی ځوانانو د ککړتیا

لپاره برابر وی اوس که په هره لاره مخدر توکی او اعتیاد یو کلی ته لار بیا مومی دیته په کتو چې روږدی مینه لری نور خلک خپلی لاری ته راوړی او اکثر د غرض پرته دا خوښوی چې د معتا دینو او مخدره توکو خوړونکی ډیر شی تر څو یو څه امنیت د ځان لپاره موجود کړی نو په ډیری چالاکی اعتیاد د وګړو په مینځ کې په چټکتیا د ځوانانو او سپین ږیرو په مینځ کې لیدل کیږي په هر حال په کلیو کې اعتیاد داسی خطر دی چی د کلیو فعال او ژوندی خوزښت په سستی او بطالت بدلولای شي.

مخدره توکو باندی د اعتیاد لاملونه:

مخدره توکو باندی روږدیدو اساسي عوامل په لاندی ډول دي:

لومړی: ټولنیز عوامل:

الف : کورنی : کورنی د یو جوروڼکي بنسټ په توګه مهم اغیز لري په تولنه کي او د ټولنیز جوربښت سمبالوونکی دی د خپلو اولادونو د حقونو نه د مور او پلار نا خبرتیا،د مور او پلار ریښه لرونکي او ژوره بی سوادي پدی هیواد کی چي په خوا شینی سره د علت نه زیات شوی او د اعتیاد د خپراوی اروند یو مهم عامل او غلت شمیرل کیږی.

ب: د ښې مدرسې، ښوونې او روزنې نشتوالی:

د زده کوونکو تحصـــیلي آفت چې بیا هم په خواشـــینی سره د زده کړو ډګر کمښت،د آزمیل شوو او زړه روزونکو او ښونکو نه شتون خصوصا په نا امن منطقو کی ددی لامل شوی چی تنکي ځوانان خپل ځان د تحصیل له کړی وباسي او درواغجنو بوختیاوته مخه کړي،یا قاچاق ته مخه کړي او ډیر شـــمیر د اعتیاد دام کې ولویږي،د زړه سواندو روزونکو او مشاورینو شتون او زده کونکو ته پوهه ورکول د مخدره توکو د اضرارو په اړه کیدای شي ګټور وي.

ج: د سم وزګارتیا وختونه او سالم تفریحاتو نشتوالی:

په ولایاتو کي د ورزشی، تفریحی امکاناتو کمښت یا نشتون او کتابتون نشتون په ولایت کی تر څو ځوانان خپل وزګار وختونه په کې تیر کړي دا هم اعتیاد ته د ځوانانو د تمایل یو لامل دی،ځکه د وخت تیرولو لپاره د ځوانانو د فراغت په مهال دوستانه مجلسونه او محفلونه هم د اعتیاد د شروع کیدو یو لامل دی،ځکه څیرنو جوته کری چه: په ســـلو کی زیاتو مهتاینو کی د اعتیاد علت یا بیوزلی په اعتیاد راتلل د فســـادو او ناوره دوســـتانو سره د معاشرت په ســـبب دی،اروند متخصـــصـــین د اعتیاد پریښـــودو اروند خبیث مثلث د وجود متعقدی پری شرح چي:دری سره ولری د «معتاد»«قاچاقی»او«مخدره توکی» په نوم:

د نظر خاوندان ځرگندوی چی:

۱- د مثال په دول کچیری فرض کړو داســـی شرایط برابر شي چي ددی خبیث مثلث یو سر یعنی ټول روږدی د ټولنی نه فزیکی حذف شـــی ددی په پام کی نیولو سره چی دوه نور سرونه«قاچاق- مخدره توکي» به وجود ولری نو طبعیی ده چی د دوه پاتی سرونو په شـــتون کې به نوی معتادان ټولنه کي را پیدا شي او د دینه زیات کار نشوکولی.

۲- په دوم صـورت کي که فرضـا ټول قاچاقیان د ټولنی نه راټول او ورک شـی بیا هم ستونزه هغه شان پاتی ده ځکه د پاتی دوه سرونو«معتاد-مخدره توکی»شتون به ددی لامل شی چی د مادی جاذبیت په اثر نوی قاچاقیان صحی ته راشی او په اجتماعی شرایطو کی کوم بدلون رانشی.

۳- په دریم حالت کي ددا چه دریم سر یعنی:مخدر توکی په تولنه کي موجود نه وي په دي صورت کی دوه سره پاتی دی « معتاد-او قاچاقی» د مخدره توکو د نه شتون په صورت کی به بی اغیزی وی پداسی حالت کي د قطعی بریا امکان او خبیثه مثلث شریدل آسانه کیږي دغه مسئله ددی واقعت ځرگندوی کوي چی د مخدره توکو شتون د اعتیاد د عمده او اساسی غلتونو ځخه دی چی نریواله ټولنه یی یو بل سره په همغږی او مرستی باید په یوه طریقه دغه شیطانی توکی

د نړیوالو تولنو له صحنی نه حذف کړي.

دوهم: فرهنگي عوامل:

الف: بی سوادی،کم سوادی او د ټولنی د پوهی سطحی ټیټوالی.

ب:اجتماعي مســـئلونه نا خبري،او مخدره توکو د ضررونو بی خبری او هغه د یو تسکین راوړونکی درملو په ټوکه پیژندل چې جسمی او رواني او عصبي نارامتیاو لپاره گټور دي.

دریم اقتصادی عوامل:

الف: مادی فقر او د لاسته راوړنی ټیټه کچه:

دیته په پام چې په هیواد کي د بوختیا کچه کمه ده او اوبونه مطلوبه استفاده نه کیږی چی د کرکیلی بنسټ دی په همدی دلیل ډیری بزگران کم حاصل لاسته راوړی او په ښــارونو او فقیر میشــتو محلوکي د اعتیاد او نورو جرمونو ســلنه زیاته لیدل کیږی.

ب: وزگارتیا:

دا چې مخدره توکو او اعتیاد ته د اوښتو ستر لامل مخدره توکی دی،اکثرا ځوانان په ټیټو عمرونو کی واده کوی او کورنی جوروی او دا چی د تکفل کچه په هیواد

کی اوچته ده او هر ځوان باید د شخصی مصرفونه تر څنک د څو کورنیو د ژوند مصرفونو هم برابر کړی،ډیری ځوانان د اقتصادی د باو او بیکاری لامله اجبار او اضطرار حالت ته ورځی او د ژوند تیرولو لپاره د قاچاق او مرینی سوداگرو بین اللملی باندونوته کش کیږي او په دیر لږ حق د توپکوال ، لارښود، لار پاکونکي، مستری، آشپز.....خپل ځان په ناروا غیر انسانی او خطری لارو کی له لاسه ورکوی دیری کورونه په دی ډول بی سر پرسته پاتیږی او قهرا ډیری خلک دی مړینی او نابودی بازار ته ورتلو ته تیاریږی متاسفانه دغه د معیوب کیدو لاره دا چه اساسی لاره د هغوی لپاره ولتول شي همغه شان دوام لري.

څلورم: سیاسي لاملونه:

ا ستعماري دولتونه د خپلو بدو نیتونو له کبله نشه ای توکو څخه د یوي سیاسي وسیلې په طور گټه پورته کوي په اوسنی عصر کې یوه بله توطئه په لاره اچول شوی ده چې د سترو استعمارکونکو او شتمنو له لوري پلان شوی دی چې د خپلي گټو په پام کی نیولو سره هوډ لري ترڅو ځوان نسلونه د هیواد په ځانگړي ډول د سرحدونو اوسیدونکو ځوانان تری تم کړي د هیواد استراتیژیک موقعیت ته په پام د ښمن کو ښښ کوی ترڅو د خپل نفوذ لاندی سرحدې سیمو غیرتمن هیوادوال چې په طول د تاریخ کې د خپل هیواد ساتونکي وه د نیشه یی توکو په روبدي کولو او یا د فرهنگی تهاجم له لار د دوی ملي، مذهبي او وطن پالني

هویت یی مخدوش کړي او خپلو شـومو اهدافو ته ورسـیږی بناء په مونږ لازم دی چې په قادر خدای پاک توکل سره د د ښمن توطئې شنډې کړو او د خپل عزت، ناموس، مال او لوړوالي څخه په علم او پوهي سره د قاچاقو او نیشـــه یي توکو روبدی کولو څخه دفاع وکړو.

٦٢

د ګاونډیو حقونه مراعات کول

الحمد لله الذي أوحى بالاحسان إلى الجار و نشهد أن لآ إله الا الله وحده لا شريک له و نشهد أن سيدنا محمدا عبده و رسوله. أللهم صل و سلم و بارک عليه وعلى آله و أصحابه أجمعين.

أما بعد: أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تبارک و تعالى: (وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا).[1]

قال رسول الله ﷺ: **(ما زال جبريل يوصيني بالجار حتى ظننت أنه سيورثه)**[2].

قال رسول الله ﷺ: **(و الله لا يؤمن والله لا يؤمن والله لا يؤمن. قيل من يا رسول الله؟ قال: الذي لا يأمن جاره بوائقهٔ).**[3]

متدینو لمونځ کونکو او عزتمنو حاضرینو! کومه موضوع چی نن ستاسو مشرانو

---

١ - د النساء سورت ٣٦ آیت.

٢ - سنن ابن ماجه، حدیث: ٣٦٧٣.

٣ - صحیح البخاري ، حدیث: ٦٠١٦.

خدمت کی وړاندی کوو د ګاونډي د حقونو مراعات دی.

د مسـلمانانو په توګه باید پوه شـو چې : د ټولنی نیکمرغی او خپلمنځی اړیکی ددوی؛ د ټولنی د افرادو ترمنځ د محبت راوسـتل ددغو حقونو او نورو حقونو چه په اسـلام کي راغلي دي د ادا کولو پرته ناشـونی دی؛ یقینا ډیر خلک د ګاونډیو په اړه بی تفاوته دي تر دی چي د خپل دیوال په دیوال ګاوندي د نوم نه بی خبره دي او ګاوندی د ګاوندی حقوق ترپخو لاندي کوي نو پدی بحث کي ددی پوختنو پـه اړه خبري کیګی. دا چي:ګـاونـدي څوک دی؟ مسـلمان د خپلو ګاوندیانو په اره خه مسئـولیت لری؟ ولی اسـلام د ګاوندی حقونو مراعات د تاکید ور ګرځولی دي؟

پیغمبر ﷺ ګاونډی ته د نیکی په اړه ابوذر ته خطاب کوي فرمایي:«**یا أباذر إذا طبخت مرقة فأکثر ماءها و تعاهد جیرانک**».[1]

« ای ابوزره! کله دی چی خوروا پخه کره اوبه یی زیاتي کره او ګاونډی دی یاد کره» نو د سـولی،صـفا،وحدت او پیوسـتون صـداقت او ریختیا ویل یی په ټولو کارونو کي لازم ګنلی او یو د بل نه حمایت،کمک،لاس نیونی او فردي،اجتماعی حسنه اړیکی درلودلو باندی توصیه کوي تر څو هیڅوک د ایمان قوت په درلودلو سره د خپل حدنه پخه وانه ړوي او د ګاونډی حقوق نقض نکړی.د اسـلام دین د ګاونډیانو لپاره څه حقونه تاکلي دي د ګاونډي حق او شـمیریی تاکلی او ټول هغه کسان چه د مسلمان سري د کور ښي،کین،بره او ښکته طرف تر څلویښت

---

۱ - رواه صحیح مسلم، حدیث: ٢٦٢٥.

کورونو پوری چی دی د هغه ګاوندی بلل کیګی او د هغوی حق ادا کول واجب دي. په اسلامی شریعت کی د ګاونډی حقونه څه ډول معرفي شوی دي؟

په اسلامي شریعت کې د ګاونډی حقونه:

۱: مساعدت:

د ګاونډیو په وړاندی یو مهم مسئـــولیت دادی چي: کله فقیر او اړوی د وس په اندازه خواړه،پوخاک او ا ستوګنځی ورته تیار شي او د دا سی مسئولیت ادا کول د ضروري ستونزو حل او اړتیاؤ لری کولو په لار کی شرعی واجب دی او هغوی سره د همدردی ښــه احســاس شــمیرل کیګي د الله«ج»رســول فرمایلي دي: « **لیس المؤمن من یشبع و جاره جائع الی جنبه**».[۱]

څوک چی موږ په بالخت سر کیګدي او پوه شي چی ګاونډی یي وګی وی مومن ندی په بل حدیث کی راغلی دي:«**و عن عبدالله بن عمر رضـــي الله عنهما قال: قال رســول الله ﷺ: خیر الأصــحاب عندالله تعالی خیرهم لصــاحبه و خیر الجیران عندالله تعالی خیرهم لجاره**».[۲]

د عبدالله بن عمر«رضي الله عنهما» روایت دی چې رسول الله وفرمایل: د الله په وړاندی ډیر ښه خلک هغه دی چه د خپل یار سره دیر ښه وی او ډیر ښه ګاوندي د الله په وراندی هغه دی چي خپل ګاونډي سره ډیر ښه وی.

---

۱ - شعب الایمان للبیهقي، حدیث: ۳۳۸۹.

۲ - سنن الترمذي، حدیث: ۱۹٤٤.

۲: امانت پالنه:

کله کله ګاونډیان د ســطل،تیشـــی،دیګی،لوخی،مالګه او نورو په څیر توکو او شــیانو ته ارتیا پیدا کوی چه لازمه ده ګاونډي په پوره ورین تندي دغه شــیان د ګاوندي په واک کی ورکړي او په هیڅ توګه کنجوسی او تمه ونکري. د شک پرته کوم کســان چه قرآنی فکر او اندیښــنه لري د ګاونډیتوب حق په واقعی معنا سره رعایت کوي د ګاوندي مصــایب او ســتونزي خپل مصــائب او ســتونزي ګڼي او د لری کولو لپاره یي ژر او عملي اقدام کوي چې پدی توګه به ګاوندي هیڅ ډول نارامی او پریشانی د تل لپاره نلري.

۳: عفو او تسامع :

مســلمان باید د ګاوندي په خطا ګانو ښــویدنو باندی ســترګی پتی کړی،بدی او غلطی ته یي د تیریدنی او بردباری په سترګه وګوری،یقینا کوم مسلمان چی دده ګاونډي دده په حق کی خیانت او نا پوهی کري د هغه نه تیریګی بدی یي کری هغه سره شــیګنه کوی ظلم یی کړی ورته ښــنه کوی نوي د داخلاقي مراتبو په لور پور کی دی او په دنیا او آخرت کي د ســعادت او نیکمرغی په دیرو اوچتو پوړونو کې ځای لړی،دا پدی معنا ده چي: د مرستی او همکاری نه امتناع وکری او د اړتیا وړ شیانو نه ورکول ګاونډي ته ډیر ناوړه کار دی او کوونکی یي د آخروي مجازات مستحق دی.

٤: ګاونډیو ته ډالی ورکول:

ډالی د الفت پیدا کولو یو ستر لامل دی ځکه داسی کار د ګاونډیانو د تفاهم روحیه تقویه کوي رسول الله«ص»پدی هکله فرمایلي دی:«**عن عائشة (رضي الله تعالى عنها) : قلت يا رسول الله ان لي جارين فإلى أيهما أهدي؟ قال إلى أقربها منك بابا**».[1]

د حضرت عایشه«رض»نه روایت شوی وویل: یا رسول الله دوه ګاونډیان لرم کوم یو ته یی دالی واستوم؟ وی فرمایل: د کوم یو چی دروازه یی تاته نزدی ده.

همدا شان د ګاونډي په واسطه د بل ګاونډي توهین او سپکاوی په اسلامی دین کی کوم ځای نه لری او مسلمانان یي د ناوړه کارونو او وینا ونه چی د ګاونډي د ناراحتی او آزار سبب ګرځي منع کري ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: « **يآ نساء المسلمات لا تحقرن جأرة لجارتها ولو فرسن شاة**».[2]

ای مسلمانو ښځو هیڅکله د خپل ګاوندي سپکاوی مه کوئ حتی د پسونو د سم هم سپکاوی مه کوئ.

٥: د ګاونډي له آزار او زورولو نه ځان ساتل لازم او مطلوب کار دی:

د خلکو زورول حرام کار دی. مسلمان هیڅکله ځان ته اجازه نه ورکوي چې نورو خصوصا-ګاوندیانو ته زیان ورسوي او وی زوروي ځکه د نورو زورول د کینی او

---

١ - صحيح البخاري، حديث: ٢٢٥٩.

٢ - صحيح البخاري، حديث: ٢٥٦٦ ، او صحيح مسلم،حديث: ١٠٣٠.

دښـــمنی لار هواروي او غالبا انســـان غچ اخســـتنی ته اړ باسي اوکله هم زیاتی ستونزی ټولنیزو اړیکو لپاره راوړي.

یوه ورځ یو ســـړي دځان لپاره یو لوی کورچې ډیر ښـــکلی ؤ واخیســـت چې لویه حویلی او د میوو ونی یې درلودی، په ګاونډکې یې یو زوړ کور ؤ چې حســـود څښـــتن یې درلود او تل یې هڅه کوله چې د خپل ګاونډي وختونه ترخه کړي او د خپل کور کثافات یې دهغه د کور څنګ ته غورځولو سره هغه زوراوه، صـــالح ګاونډی یوه ورځ سهار خوشحاله له خوبه پاڅیده اوکله هم چې د خپل باغ انګړته لاړګوري چې د چټلیو ډک ســـطل هلته شـــته، په لمړی قدم کې یې هغه ســـطل پاک کړ بیایی هغه د خپل باغ د تازه او پخو میوونه ډک کړ چې ګاونډي ته یې یوسي کله چې ګاونډي د دده د دروازی وهلو غږ واوریده نو خوشحاله شو او ځان سره یې فکر وکړه شاید داځل ګاونډی یې ددعوالپاره راغلی وي.

کله یې چې ورپرانســـت ســـړي هغه ته د تازه او پخو میوونه ډک ســـطل ورکړ، وی ویل: هرڅوک هغه څیز نوروباندې ویشي چې زیات ولري...،ګڼ حدیثونه ګاونډي ته د ضرر رســـولو د حرمت په اړه راغلی دی د بیلګی په توګه لاندې حدیث ته پام وکړئ: (**وعن أبي هريرة رضـــي الله عنه آن النبي قال: والله لايؤمن، والله لايؤمن، والله لايؤمن، قيل من يا رسول الله؟ قال الذي لايامن جاره بوائقه**).[1]

١ - صحيح البخاري ، حديث: ٦٠١٦.

قسم په الله ﷻ ایمان نلري، ایمان نلري، ایمان نلري، وویل شول: څوک یا رسول الله! وی فرمایل: هغه څوک چې ګاونډی د هغه د ازار، زورولو اوشرنه په امان نه وي.

مسلمانه کورنی په پوره ډول د ګاونډیانو حقونو ته ژمن وي هغه شان چې دالله پیغمبربیان فرمایلی دی:

(أتدرون ماحق الجار؟ اِن استعان بک أعنته و ان اِستنصرک نصرته، و اِن اِستقرضک أقرضته وان اِفتقرعدت علیه و اِن مرض عدته و ان مات اِتبعت جنازته و ان أصابه خیر هناته وان أصابته مصیبة عزیته ولاتستطل علیه بالبناء فتحجب عنه الریح الا باذنه واذا اِشتریت فاکهة فاهد له، فان لم تفعل فادخله سرا، ولایخرج بها ولدک لیغیظ بها ولده ولا تؤذه بقتار قدرک (رائحة طعامک) الا ان تغرف له منه ثم قال: أتدرون ماحق الجار: والذي نفسي بیده لا یبلغ حق الجار الامن رحمه الله).[1]

پوهیږی چې د ګاونډي حق څه دی؟ کله چې ستانه مرسته وغواړي نو مرسته وروروسوه، که پورې وغوښت پور ورته ورکړه کله چې لاس یې تش شوهغه سره مرسته وکړی، کله چې رنځور شو نو پوښتنې ته یې ورشي که کومه خوشحالی یې په برخه شوه مبارکي ورته ووایه، کله چې کوم مصیبت ووینې نو ډاډینه ورته ورکړی چې مړشو جنازی سره یې لاړشه خپل کور دهغه په سر مه اوچتوه چې باد پرې ودروي، مګردهغه په اجازه هغه دخپلو خوړو په بوی ازارنکړي مګرداچې څه برخه هغه ته هم ورسوي، که میوه دې رانیوله هغه ته یې هم ډالی کړه اوکه داسې

---

١ - شعب الایمان للبیهقی، حدیث: ٩٥٦٠، جامع الاحادیث للسیوطی، حدیث:٤١٠، او ٣٩٩٣٣

دی نه کول نه هغه په پټه کورته یو سه او زوی دی د میوې سره بهر ونه وځي ترڅو دهغه زوی غصـــه نکړی اوپه خپلو خوړو سره هغه ونه زوروي مګرهله چې هغه ته هم یو لوښـــی وروړی بیایی وفرمایل: څه پوهیږي چې د ګاونډی حق څه دی؟ قسم په هغه ذات چې ځماځان دهغه په لاس کې دی څوک د ګاونډی حق نشی په ځان کولای مګرهغه چې الله پرې رحم وکړي.

ګاونډی په خپلوګاونډیانو باندې داحق لري چې په سـختیو کې هغه سره مرسـته وکړي او په خو ښیوکې یې ګډون وکړی، کله چې دتیري لاندې راشي، مرستې ته یې ورشي، کله هم چې کومې اشـــتباه او انحراف سره مخ شي هغه ته لارښـــوونه وکړي او صحیح لارورته په ګوته کړی کله چې کومه بریا ترلاسه کړی مبارکی ورته ووایي اوکله چې کوم مصـیبت ورپیښ شـی هغه ته ډاډینه ورکړی او د رنځورتیا په مهال یې پوښـــتنه وکړي اود مشـــکلاتو بارېي کم کړی، ددغو حقوقو مراعاتول د ګاونډیانو ترمینځ دګډون او ایماني اوعملي همغږی سرګندونه ده.

دګاونډ پالنې اهمیت:

قرآن کریم دغه الهي تل پاتې او همیشنی کتاب د الهي پرستش، مور او پلار سره د احســـان او خپلوخپلوانو سره د احســـان کولو ترڅنګ د ګاونډي په حق کې دنیکی اواحسان توصیه هم کوي لکه چې فرمایی:(**وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْـرِكُواْ بِهِ شَـيْئًا**

وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَـــانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَـــاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ) [1]

او خدای وپالئ اوهیڅ څیز دهغه ســیال مه ګڼئ اودمور اوپلار، خپلو یتیمان اومسکینانو او نږدې ګاونډي، لیرې ګاونډی او ملګري اوغریبانو اومسافرسره نیکی وکړئ، د بنده ګي او دالدینو سره نیکی په څنګ د ګاونډي حق مراعاتولو مسـئله یوځای کول ددې نښه ده چې ګاونډی د قرآن له نظره ډیراهمیت لري.

هسی نه چې ګاونډی دی وږی بیده شي :

نه ښـــایی مومن د خپل ګاونډی نه بغیر موړشي(او ګاونډی وږی وي)پیغمبرﷺ وفرمایل: (**ما آمن بي من بات جاره جائعا الی جنبه وهویعلم**).

[2]ایمان نه دی راوړي هغه څوک چی موړ بیده شي او ګاونډی یې څنګ کې وږی وی اودی پوه هم وي، اوهم یې وفرمایل: دکوم کلي خلک ماړه ویده شي پداســې حال کې چې په دوی کې یو وږی ویده وي الله ﷻ هغوی ته دقیامت په ورځ د رحمت نظرنه کوي.

مسـلمانه وروره: د ګاونډي حقونومراعاتولو او دهغه ازار او زورولونه د ډډه کولو په اړه د اسـلام مقدس دین لارښـونو او ارشـاداتو ته په پام لازمه ده په صـادق ایمان، ښـه اخلاقو، مهربان زړه دخپلو ګاونډیو په وړاندې مسـکاوکړو، دهغوی مرسـتې ته

---

١ - د النساء سورت ٣٦ آیت.

٢ - جامع الأحادیث، حدیث: ٢٥٦٥٧.

ودانګوآبروی وساتو، اشتباه ګانی یې پټې کړو په رنځونوکې یې وپوښتوپه اړتیاوکې یې مرســـتې ته وروزغلوپه مصـــیبتونکی یې ګډون وکړو اوپه ټولو کارونو کې یې څنګ کې واوســـو هیڅ زور ورنکړو دځان لخوا ډاډ ورکړو اوخپله کورنی او اولادهم په همدې خدای خوښـــي تګلارې وروزو ترڅووکولای شـــو د مینې، محبت، وروری نه ډک چاپیریال ولرو اوپه آرامه زړه اوذهن دیو بل په څنګ کې ژوند خپل لاخوږ او ښکلی کړو او خپل پالونکی له ځانه راضی کړو.

(سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ)

٦٣

تند لاري او سختي کول

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبيآء والمرسلين و على آله و أصحابه أجمعين.

هغه رنځ چې ډيرى دين پال او دعوت کوونکي پرى اخته او کيداى شي نورهم د خپل ستونزه جوړونکى طوفان لاندى راولي هغه (تند لاري) او سخت نيونه ده په ديني مسئلو کې ددى لپاره چې د تندلاري او سخت نيونى په معنا ښه پوه شو هغه راڅيړو:

لومړى: دغلو او افراط ماهيت:

په عربي ژبه کې (غلو) د اوچت، افراط او اضـــافه تگ او سرحد ماتونه په معنا ده کله چې وويل شي په دين کې يې غلو وکړه يعنى: د هغو حدودو او ســيمو نه يې چې دين ټاکلي دي پښــى اړولى دي او د (اوســپنه په گل وهي) په اصــطلاح او عملا په د ين کې اســانتيا کول نه را سرگندوي او هغه ته ښــه مخ نه ښــيي، الله

تعالی فرمايی: (**لاتغلو فی دینکم**).[1] په خپل دين کې زياتی او سيمی مه ماتوئ او د اعتدال واټ او افراط تر مينځ مينځلاری نه مه اوړئ.

(غلو او افراط کول) د اسلامي پوهانو او متفکرينو تر منځ رائجی اصطلاح کې عبارت ده له: (د وينا اوتګلاری د ټاکلو شو سيمونه د حدنه زيات تيريدنه او پلټنه) په بل عبارت: په ويناؤ او کړنو باندی د حد نه زيات او افراطي ډول د ځينو مفاهيو تپل دي. قرآن او دالله د رسول سنت او دهغه يارانو او د دين راويانو ټولو په مسئلو کې د سختی او تند لاری په اړه اخطار ورکړی او هغه يې غندلی دی الله تعالی فرمايي: (**يا أهل الكتاب لاتغلوا في دينكم ولاتقولوا على الله الا الحق**). [2]

يعنی ای اهل کتابو! په خپل دين کې زياتی مه کوی او سختی مه کوی او د خدای په اړه يوازی حق وايئ او فرمايی: (**يا أهل الكتاب لاَ تَغْلُواْ فِي دِينِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلاَ تَتَّبِعُواْ أَهْوَاء قَوْمٍ قَدْ ضَلُّواْ مِن قَبْلُ وَأَضَلُّواْ كَثِيرًا وَضَلُّواْ عَن سَوَاء السَّبِيلِ**).[3]

ای کتاب والاؤ! په خپل دين کې زياتی مه کوئ او د الله لخوا د حق او رښتيا نه بغير بل څه مه وايئ او د هغي ډلی هوا پالنی پسی مه ځئ چې پخوا ګمراه شوی او ډير خلک يې د نيغی لاری نه اړولي دي.

---

۱ - د النساء سورت ۱۷۰ آيت.

۲- د النساء سورت ۱۷۰ آيت.

۳ - د المائده سورت ۷۷ آيت.

د اسلام خوږ پیغمبر ﷺ پرلپسی دری ځلی وفرمایل: (سختی کوونکي او تندلاري ماتی خوري او نابودی په لور ځي) . [1]

ابن مسعود وايي: (قسم په هغه الله چې د هغه نه پرته کوم معبود او مستعان نشته، هیڅوک مې نه لیدل چې د رسول الله او ابو بکر او عمر (رض) په اندازه د سختی کوونکو او افراطیانو په اړه اندیښمن او د هغوی د کار له پایلو څخه په ډارکې وي.

بیا وايي: ددی وړاندی چې پوهه له تاسو نه کډه وکړي هغه زده کړی او نوروته یې وښیئ، د علم کډه کول د علماؤ مړینه ده نو علم او پوهی ته ارزښت ورکړئ ځکه تاسی نه پوهیږی چې څه وخت به هغه ته اړتیا پیدا کوی، تاسو کې به یوه ډله ښکاره شي چې په خپل گمان به تاسی د الله کتاب ته رابولي خو خپله به یې څنگ ته غورځوي، پوهه واخلئ او د دین جوړولو نه ډډه وکړئ او د الله په دین کې (او سپنه په گل مه وهئ) او افراط او سختي مه کوئ او دخالص دین د روح ساتنی لپاره هڅه وکړئ.[2]

مسروق وايي: (د ابی بن کعب سره د یو ځای نه تیریدو یو ځوان راغی پوښتنه یې وکړه د فلانی او فلانی موضوع په هکله ستاسو نظر څه دی؟ ابی بن کعب

---

١ - سنن الدارمي ص ٤.

٢ - د سنن الدارمي، مقدمه، ص ٤.

وويلي: د کومو څيزونو په هکله چې پوښـــتنه کوی تر اوســه پيښ شــوي؟ ځوان وويل: نه أبی وويل: صـبر وکړه چې پيښ شي هلته به هم سـتا د پوښـتنی ځواب درکړو.[1]

حماد بن يزيد المقرئ وايي: (پلار مې کيسه کوله چې يوه ورځ يو سړی ابن عمر (رض)ته راغی او د يوڅه په اړه يې پوښتنه وکړه چې په يادمې نده ابن عمر (رض) ورته وويلی: د هغه څه په اړه پوښتنه مه کوه چې پيښ شوی ندی، ما دخپل پلار نه څو ځلي اوريدلي هغو کسـانو باندی يي لعنت او نفرت ويلی چې: د خيالی او فرضي څيزونو په اړه يې پوښتنی کولی.[2]

دوهم: د سختی کولو او افراطيت نښې:

د سختی کولو او تند لاری نښی فريمانه دي خود څو په اړه يې اشاره کوو.

۱- د فرضي او غير واقعي مسئلو پسی کيدل او دهغو کارونو په اړه پوښتنی چې تر اوسه ندی پيښ شوی او الله ﷻ يې په هکله څه ندي فرمايلي:

---

۱ - همغه مرجع ص ٤.

۲ - د سنن الدارمي، مقدمه، ص ٤.

(يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَسْـأَلُواْ عَنْ أَشْـيَاء إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُـؤْكُمْ وَإِن تَسْـأَلُواْ عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ تُبْدَ لَكُمْ عَفَا اللّهُ عَنْهَا وَاللّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ، قَدْ سَـأَلَهَا قَوْمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْـبَحُواْ بِهَا كَافِرِينَ) .[1]

ای ایمانوالو! د هغو څیزونو په اړه پوښتنه مه کوئ چې کچیری درته سرګند شي تا سی خفه کوي او کچیری د قرآن د نزول په مهال پوښتنه تری وکړی تا سوته به بیان او سرګند شي الله ﷻ ددی مسئلو تیر شوی الله بښونکی او حلیم دی یوه ډله پخوانیو د دا سی کارونو چې تا سی تری پوښتنی، پوښتنی کولی بیا د هغه وروسته د هغو سره یې مخالفت وکړ او تری منکر شول.

۲- مستحبوکارونو په کولو کې زیاتی کول پداسی توګه چې کوم وخت د مهمو مسئولیتونو تر سره کولو لپاره نه پریږدی او کوم واجب پکی نشی ترسره کولای، د بېلګی په توګه څوک خپل د شپی لمونځ اوږد کړي یا یې ډیر وخت ادا کړي چې د بیده کیدو باعث شي او د سهار د لمانځه د قضا کیدو یا جماعت ته دنه رسیدو لامل شي.

۳- کارته ځانګړی شوی وخت نه استفاده نه کوی مثلا: یو وخت یو څوک د اوبو نه شتون یا اوبو ته د اړتیا لپاره چې وی څښې کولای شي تیمم وکړی خو ټینګار

۱ - د المائده سورت ۱۰۱-۱۰۲.

کوی چې اوبه پیدا کړي یا هغه کمی اوبه اســتعمالوي او کېدای شي وروســته د تندی او نارامیو سره مخ شي.

٤- فرعي او حاشــیه یې مســئلو ته د حد نه زیات اهتمام او اصــلي اموروته لږه توجه، د اختلاف وړ کارونو باندی بوختیدل او د اتفاق وړ شــیونو په اړه اهمال مثلا: دا سی کسان شته چې ټول غم اوهم یې مسواک گیری، د لباس ډول وي مگر دا چې د الله تعالی دین او شریعت معطل شوی، ډیر خلک ځوانان په تعلیم تربیی او توجیه کې د کمزوری لامله په فکري او اخلاقي رنځونو اخته شــوی دي، د دین دښـمنان د اوسـینو فراخه امکاناتو نه په اسـتفادی غواړي د مسـلمانانو په مینځ کې بیلتون راولي.

دا حالت د هغه د پاملرنی وړندی او دمقابلی لپاره یې څه کول پکار دی؟

٥- د وړی یا ســتری گناه په کولو سره د کفر حکم صــادرول آن کافر ویل یو چاته چې د نظر وړ کافر هغه نه تکفیر وي او اصــل په شــیانو کې حرام او پرهیز گڼي پداسی حال کې چې: اصل په شیانو او کارونو کې مباح والی دي، مگر هله چې صریح دلیل یې پرخلاف پېدا شي.

٦- د هغو موضــوعاتو په اړه د بحث او مجادلی ژوندي کول چې د یو خاص وخت او زمان او مکان پوری ارتباط ولري.

مثلا: د الله د صـــفاتو، خلق قرآن او صـــحابه و ترمینځ اختلاف په اړه بحث او مجادله او داسی نور .

درېیم: په دین کې د سختی او افراط عوامل او اسباب:

ډیر زیات اسباب او عوامل شته چې په دین کې د غلو او زیاتی کولو لامل کیږي چې یو شمیر ته یې اشاره کوو:

۱-چاپیریال:

کله کله یو انسان په یو محیط، دوستانو او خپلوانو کې مینځته راځي او شخصیت یې وده کوي او په هغوی کې د سختی کولو او افراطیت روحیه واکمنه وي او دی هم دی ته په پاملرنی چې د هغوی د مقابلی کافی قوت او مصـــئونیت نلري د هغوي نه اغیزمن کیږی او دهغوی د تگلاری او اخلاقو تاثیر لاندی راځي او په اصـــطلاح د ډلی په رنگ کیږي او د افراطیت او ســـختی کولو مرض باندی اخته کیږی.

۲-فکري او روانې روزنه:

په ځینی وختونو کې د فکري او اخلاقي روزنی ځانگړی تگلاره پدی رنځ باندی د اخته کیدو اصـــلی لامل شـــوی ده، د مثال په ډول: څوک چې دده د روزنی دنده په غاړه لري هغه په خپله د کافی مناســـبی تگلاری او حکمت او دور اندیشي ـ نه

برخمن نه وي ددی په ځای چې د هغه فکر او پوهی ته فراختیا ورکړي، ډیر زیات د فرعي، شـــکلي او ظاهري مســـئلونه خبری کوي او دهغه ذهن، فکر د اسلام او مسلمانو محوري او حساسو مسئلو ته نه را اړوي او په حقیقت کې یې خپل زده کوونکی د ژوند شپو په تیارو کې د ډیوی پرته خوشی کړی.

۳-د بصیرت نه بی برخی ذکاوت:

الله ﷻ ځینی انسانانو ته ځانګړی ذکاوت او استعداد ورکړی دی، خو متاسفانه په یوه ډول خلل تشوالي، د ښی ډلی او انسانانو سره نه ارتباط کې ژوند کوي د خپل ذکاوت او وړتیا په ګټه اخستنه ځینی کارونه په ښه ډول ترسره کوي خو هغه کارونه چې نورو کارونو په پرتله هیڅ لومړیتوب نه لري او اســاسي مشــکل نه حل کوي او په ډیرو حالاتو کی د خپل فریمانه قوت، رحم، غیرت په ســـبب په تاوان، تند لاری او ســختي کولو اخته کیږي او عمر، اســتعداد یي د بی ځایه، بی موقع لویدلو او کله هم خطری کارونو کې مصرفیږي.

٤-د علم او معرفت ترلاســـه کولو کې د مجرب ښـــوونکي او روزونکي نه محرومیت:

ځینی انسانان د علم او معرفت زده کولو فریمانه علاقه او استعداد لري او په خپل ذکاوت او زحمت ګاللو باندی په اعتماد د فضـیلت، پوهی او علم ترلاســه کولو په لار کې قدم ږدي. خود کافي تجربی او بی پروګرامه کیدو د مطالعو او څیړنو نه در لودلو لامله د صـحیح مطالعاتي مسـیر نه متابعت نه کوي او ډیر کرته داســی

کتابونه مطالعه کوي چې د هغه د تحصـــيلي، فکري او اخلاقي شرايطو سره مناســـب نه وي او کله هم د اســـی کتابونه مطالعه کړي چې د اړينې تجربې ندرلودو په ســـبب دين کی د ســـختی کولو او افراطيت په مرض اخته شي، ځکه کتابونه پټ اوغلي نظرونه اولرليدونه دي، چې کله کله د راپيښ شـــوو پوښـــتنو ځوابوونکي ندی يا لږ ترلږه د بشري ژوند واقعيتونو باندی په تطبيق کولو سره يې انسان په غلطی مبتلا کيږي.

کله چې د پوهی تحصيل او فضيلت ترلاسه کول د مجرب، ښايسته مربي او معلم سره وي نو دهغه شـبهاتو او سـوالونو ته ځواب ورکوي او د تحصـيل او تحقيق هر پړاو لپاره ورته مناســـب کتابونه تاکي او د هغه تګلاره او اغيز په ژوند کې ورته معلوموي.

٥- د نا اهل اشخاصو نه د پوهی زده کړه:

ځينو حالاتو کې انســـان داســـی د علم زده کړی سره مينه لري چې ديته پام نه کوی چې د چانه يې زده کړي، ډير داسی پيښيږي چې داسی چانه زده کړی ته کښـــيني چې په خپله په خطری رنځونو او آفتونو لکه ســـختی کول، او تند لاري باندی اخته وي، پدی صـورت کې د شـاګردانو اخته کيدل پدی رنځ هم طبيعی وي.

دغه موضـــوع هغه څه دي چې: د الله ﷻ رســـول يې فرمايي : (**ان الله لا يقبض العلم انتزاعا ينتزعه من العباد و لكن يقبض العلم بقبض العلماء حتى اذا لم يبق عالما (يبق عالم) اتخذ الناس رؤوسا (رؤساء)، جهالا فسئلوا فأفتوا بغير علم فضلوا و أضلوا**).[1]

الله ﷻ د پوهانو نه پوهه نه اوچتوي بلکي د هغوی په مړينی سره پوهه پورته کوي کله کله دګڼ شـــمير علماوو عمر پای ته رسي او علم د ضـــعف او رکود سره مخامخ کيږی او په خلکو کې ناپوهه مغزونه پاتيږي او په ناپوهی او جهالت سره فتوی صادر وي. چې د ځان او نورو د ګمراه کولو لامل ګرځي.

بايد توضـــيح شي چې دلته مقصـــد د جهل نه مطلق جهل ندی ځکه دغه شـــان جهل او ناپوهی انســـان اړباســـی چې کار پريږدي او ســـختی کولو او افراط کولو ســـبب نه کيږی بلکی هدف د جهل نه دلته د اجتهاد د شرايطو ته نه خبرتيا ده چې ډيری وخت د سختي کولو او تندلاری لامل کيږي.

٦-د پوهانو، متفکرينو او احتياطي شخصيتونو کمښت:

ځينی شرائطو کې د ډيرو ســتونزو خصــوصــا د افراط ،تفريط زيان، ســختی کولو علت د دا سی شخصيتونو کمښت يانه شتون دی چې په خپلی پوهی، تجربی، صــداقت او حکمت سره د نورو انســانانو فکر، اخلاق او اعمالو ته ســمون ورکړي، کاږه کارونه اصـــلاح کړي په تيره بيا هغه مهال چې په ځوانانو کې د مينی

[1] - صحيح البخاري، حديث: ١٠٠.

حماســه، غيرت د ايمان قوت، د کار روحيه او الهي شريعت واکمنلو لپاره هڅه او هاند ډير زيات وي.

د داسی انسانانو د شتون اړتيا احساسيږي، په خواشينی چې د اسلامي ويښتيا نهضـــت اړوند ځينی ځوانان چې د فکري اخلاقي، علمی، اجتماعي، فرهنگي مبارزی په ډگر کې د ځينی علماؤ کمزوری او شـاته تگ گوري او مشـاهده کوي چې ځنگه ډوډی د ورځی په بيه خوري او ټول هم او غم يې د مال او مقام ترلاسه کول او خپله روغتيا ســاتنه ده هغه هم چې په هره بيه ورته ممکن وي، خپله د لومړی توب جنډه په لاس کې نيسيــ او خپلی پوهی او زده کړی باندی په باور کولو د احکامو اجتهاد او اســتنباط ته لاس اچوي په ډيرو مســئلو کې اگرکه صــادقانه او دلســوزانه وي د اجتهاد د لازمو شرايطونه شــتون لامله وړی او غټی خطاگانی کوي په تيره بيا په دين کی د سختي کولو او تند لاری خطا گاني.

۷-د الله ﷻ شريعت ځنگ ته کيدل:

کله کله د الله شريعت شــاته کول او ناوړه پايلي يې لکه: د شر او فســاد خپراوی تند لاری او سختی کولو لاره هواروي، دغه ستونزه يو طبيعی عکس العمل دی د هغې نا مطلوبې وضــعې په مقابل کې او دغه شــان حالتونه د اســلامي ويښــتيا ځينی بچيانو ته ورپيښ شوي چې د الله ﷻ د شريعت معطل پاتيدو او د مختلفو مشــکلاتو او شر او تباهی لمنی خپراوی او د الله ﷻ د رضــايت راماتولو په موخه حب او علاقمندی د دين سره خپله په يوازی سر تند لاری او ســختی کولو ته

میلان پیدا کوي او د بېلابېلو مشـکلاتو سرګندیدو لامل ګرځی او متاسـفانه هیڅ څیز هم بدل شوی ندی.

۸-د ظهور او مطرح کیدو مینه:

ځینی حالات داسې هم شته چې شهرت او مطرح کیدو سره مینه د سختی کولو او آګانه یا نا آګاهانه تندلاری اســاسي انګیزه ده، او ددی لپاره چې نوم یې د ژبو په سر وی او ټول د هغه په هکله خبری وکړی، د بشري ژوند د واقعیتونو نه پردی عجیبو او غریبو مسـئلو او افکارو پســی وي او په هرځای او هری ډلی کې مطرح کوي او د نورو د عکس العمل او غالبا تعریف او توصـیف په انتظار وي. او کله هم د پردی شاته نور لاسونه شته او هغه په خو ښه یا بی خو ښی د نورو لپاره بړیڅي ګرځي او کله هم د مال او مقام په تمه دغو مسئلو مطرح کولو ته اقدام کوي.

۹-د الله ﷻ د لازیات رضایت جلبولو رغبت:

ځینی وختونه د الله ﷻ د زیات نه زیات رضایت ترلاسه کولو زیات شوق او علاقه، په عین حال کې غفلت د هغه چوکاټ او تګلورونه چې پدی لار کې باید پلی شي د تند لاری او سختی کولو پیدا کېدو لامل دی، د رسول الله ﷺ د ځینی یارانونه نقل شـوی: (**جاء ثلاثة رهط الى بيوت أزواج النبي يســألون عن عبادة النبي فلما أخبروا كأنهم تقالوها فقالوا و أين نحن من النبي قد غفرله ماتقدم من ذنبه وما تأخر قال أحدهم: أما أنا فاني أصـلي الليل أبدا و قال آخر: أنا أصـوم الدهر ولا أفطر و قال آخر: أنا أعتزل النساء فلا أتزوج أبدا فجاء رسول الله اليهم فقال: أنتم الذين قلتم كذا و كذا أما والله اني**

لأخشاكم لله و أتقاكم له لكني أصوم و أفطر و أصلي وأرقد و أتزوج النساء فمن رغب عن سنتي فليس مني). [1]

دری ډلی مســـافر د پیغمبر ﷺ د ښـــځو کورونو ته راغلل او په کورکې د هغه د عبادت په اړه یې وپوښـــتل د هغه نه د خبریدو وروســـته یې په خپل مینځ کې وویل: مونږ چرته او د الله رســـول چرته دا پدی حال کې ده چې د هغه ګناهونه ښښل شوی دي یو یې وویل: زه ټوله شپه لمونځ کووم او بل وویل: زه هم ټول کال روژه نیســـم، دریم وویل: زه هم د ښـــځو څنګ ته کیږم او هیڅکله واده نه کوم، رســـول الله د هغوی د هوډ نه د خبریدو وروســـته هغوی ته ورغی او وی ویل: دا تا سی وی چې څه او څه مو ویلي دی؟ وی ویل: هو مونږ ؤو رسول الله وفرمایل: په الله قسم زه د تا سی ټولونه زیات د الله نه ډاریږم او تا سو ټولو نه زیات او ډیره تقوا لرم او په عین حال کې ځینی ورځو کې روژه نیســـم او نوری ورځی روژه ننیسم، لمونځ کووم او آرام هم کووم او د ښځو سره واده هم کووم، هر څوک زما د لاری او رسم نه مخ واړه وي نو زما ندی.

۱۰- په دنیا دوکه کېدل:

کله کله په مادیاتو، مقام ټولنیز موقعیت باندې دوکه کېدل د ســـختی کولو او تندی لاری لاره هوار وي خصـوصـا هغه کسـان چې د داشـان غولونکو شـیانو د

---

۱ - صحيح البخاري، حديث: ٥٠٦٣.

مقابلې لپاره کافي فکري او اخلاقي رشدونه لري استاد عمر تلمسانی د (اخوان المسلمین نهضت) پخوانی لارښود وایی په اسلامي هیوادونو کې ځینی حکومتونه د سختي کوونکو او تندلارو ډلو د ځینی غړو تر مینځ د بیلتون او شتون لاره هواره کړی، او دهغوی د ذهن په کرونده کې په هوښیاری سره د خپلی خوښی تخم کري. ترڅو په پای کې د خپلی خوښی میوه ترلاسه کړي او میوه یې د سختي کولو او تندلاری نه بغیر بل څه نشته دغه حکومتونه په خپلی دی طرحی دوه موخې لټوي:

لومړی: د اسلام او مسلمانانو ترینګلی او جنجالي ځیره خلکوته ښودل.

دوهم: ددغو ډلو او اشخاصو اچول د اصیلو نهضتونو او مینځلارو او د سماحت او اسانی کولو بیرغ والو په وړاندی ترڅو هغوی ضعیفه کړی او لاره یې ډب کړي.

۱۱- دوستی جامه کې د اسلام دښمني:

کله کله سختی کونکی او تندلاری ډلی او اشخاص هم د اسلام دسیسه کوونکي او شیطاني دښمنان دي چې د دین پالنی او زړه سواندی تظاهر سره د اسلام او مسلمانانو په جوړ ښت باندی ډیر بد ګذارونه کوي، لکه د حضرت علی (رض) په اړه د عبدالله بن سبأ یهودي د نظر سرګندونه چې ویل یې: هغه په الله کې حلول کړی الله ندی خود الله نه کم هم ندی، مړ ندی بلکی د حضرت عیسی په څیر اسمانونو ته بوول شوی، رعد د همغه غږ دی او برق د هغه د توری ځلا ده، او نور

داسـی خرافات چې مسـلمانانو کي د اختلاف پیدا کولو او شـیطاني اهدافو ته د رسیدو په خاطر سره یې کول او ویل.

۱۲- د دباو او ربړولو لاندې راتلل:

د افراط او تند لاری پیدا کیدلو یو ډیر مهم او اسـاسـی لامل، دباو تاوتریخوالی، ربړولو او زورولوته لاس اچول دي چې د حکومتونو له لوري مخالفینو ته ورکول کیږي او د دعوت او ا سلامي ویښتیا په ډګر کې دغه موضوع اوس یوه مسلمه او منل شوی موضوع ده د زرګونو بیلګونه یوه بیلګه : د ا سلامي ویښتیا ګن شمیر بچیان یوازي د اسـلام غوښـتنی په خاطر ډیر بد او ډیر وحشـی مدرن او متمدن کړاو لاندی راځي تردی چې د پولیسـو روزل شـوي سـپی ډیر زړه سـواندي ول د ربړوونکو جلادانو نه هغوی د ډیر سخت رواني او جسمي فشار لاندی نه یوازی د هغو حکومتونو د کفر حکم ورکړ چې دوی سره یې دغه شان وحشیانه چلند کاوه بلکی د هغو خلکو د کفر حکم یې هم ورکاوه چې د داسـی حکومتونو د سـیوري لاندی ژوند کولو ته حاضر دي او دغه سـپیره او سـوزونکی سـتونزه د ځینی حکومتونو د ځناور توب او د ځینی کسـانو د صـبر کمزوري لاسـته راوړنه ده چې غالبا په لومړیوکې د مسلمانو خلکو او د نړی نورو مظلومو ملتونو استقلال، ازادی او سرلوړی د خدمت نه بغیر بل کوم هدف نه لري.

۱۳- سرګند او پټ یرغل:

د مسـلمان ملت مقدسـات په ټولو اسـلامي سـیمو کې د هر اړخیز ښـکاره او پټ یرغل لاندی راغلي او راځي، پدی جګړه (نوي احزاب) کې ټول غیر دیني او ضـد

انســاني ځواکونو د یهودو، صـلیبیانو، کمونســتانو، بت پالو او دهغوی غولیدلو له مینځه په مســـلمانانو کې ګډون لري. د هغو کســـانو لپاره چې په الله مړینی وروســته ژوند او اســلامي وروروولي ایمان لري او د ښــو انســانانو او ملتونو سره په ارتباط لرلو ویاړي او پوهیږي چې مســـلمان که څه هم بېلابېل رنګونه توکمونه ژبی لري خو د ملت امت جوړوي او هر یو د نورو په وړاندی باید د مســـئولیت احســاس وکړي او د بدخواهانو په مقابل چې هرځای کې د مســلمانانو ســتونزی ګوري، او دا هم مشاهده کوي چې د مصرف نه ډکو پروګرامونو او فراخه امکاناتو د اســـلامي دین نه دلری کولو او ځان، مال، معنویت، کرامت ورکولو په لارکې او جاهلیت ته را اړولو لپاره هر اړخیزه هڅی ترسره کیږي، نه ښـــایی بی تفاوته په کورنی کې په خپل عیش و نوش او چکرونو کې بوخت شــو او باید د خپل وس په اندازه په ځان، مال، ژبی، قلم ، قدرت، فکر او خپلو امکاناتو سره د هغه مقابله وکړو. او کله یې چې د مبارزی په ډګر کې نارینه قدم کیښود او د وس په اندازه د مســـئولیت اداء کولو یې ناغیږي ونه کړي نو د دښـــمنانو د هر اړخیز فکري، فرهنګي، اخلاقي، ســـیاسي او اقتصـــادي یرغل هغوی ناهیلي کولای شي او په تندلاري او سختی کولو باندی نه اخته کیږي.

١٤- بیړنی فتوی:

ځینی وختونه نابېره فتوا ورکول او اجتهاد کول او دکافي شرایطو او تجربی ترلاسه کولو وړاندوی خصـــوصـــا د ژوند واقعیتو او اجتماعی روابطو نه دقیق معرفت او د جزئیاتو او کلیاتو ترمینځ د ارتباط پېدا کولو پرته او د متشابهاتو اړول محکماتو ته

اوظنیات د قطعیاتو لاندی راوستل او نا همغږو او متضادو کارونو په اړه د ترجیح ځواک او د نصوصو په ظاهر حکم نکول مگر وروسته ددی چې د صحیح او غلط معنا کې تحقیق او دقت وکړی او اهدافو نه یې ځان خبر کړي دغه ټول کارونه د افراطیت او تندلاری فتوا گانو لار هواروي.

۱۵- د تند لاري د زیانه ډکو پایلو هیرول:

په دین کې د افراطیت او تندلاری د زیانه ډکو پایلو هیرول په خپله ددغه رنځ په دام کې د نښتلو یو لامل دی ځکه همغه شان چې پخوا مو وویلی په هغه صورت کې چې انسان د یو کار د پایلو په اړه غفلت وکړي او هغه هیر کړي نو د هغه د کولو زړورتیا ځان کې پېدا کوي الله تعالی فرمایي :(**ولقد عهدنا الی آدم من قبل فنسي ولم نجد له عزما**) .[1]

په پیل کې مو آدم ته فرمان ورکړ چې د منع شوی ونی میوی نه مه خوره! خو هغه هیره کړه او د هغه نه موقوي اراده ونه لیدله.

۱ - د طه سورت ۱۱۵ آیت.

څلورم: په دين کې د افراط پايلې:

الف: د دين پالو او دعوت کوونکو په اړه:

۱- د خلکو غصه:

سختی کوونکی او تندلاری انسان او دهغه نظر چې د عمل او جدي او جوړونکی هڅی ډګر کې د راتلو په ځای ځنګ ته کيږي او زيات شـــعار ورکوي او که کوم کارهم کوي يا به ســـتونزه پيدا کوونکی يا به بی هدف او بی پايلی وي. دده دغه وضعيت ددی باعث کيږي چې نور لږ لږ تری واټن واخلي او دده د مشکل جوړولو په اندازه تری نفرت کوي او د هغه د زغملو وس ونلري رسول الله ﷺد ابن مسعود لخوا نقل شوي حديث کې همدی موضوع ته اشاره فرمايي : ابن مسعود وايي (يو ســـړي پيغمبر ﷺ ته وويل: يا رســـول الله زه ددی لپاره چې فلانی لمانځه کې وړاندی شي خپل قرائت او لمونځ اوږدوي خپل لمونځ وروســـته اداء کووم ابن مسعود وايي: هيڅکله مې رسول الله پدی کچه د موعظی په مهال قهر جن نه ؤ ليدلی، بيا رسول الله وفرمايل: تا سو کې دا سی کسان شته چي عجولانه خوی لري، ځينی رنځوران دي او ځينی هم زاړه دي او کيدای شي ځينی بيړنی کار ولري ستاسو هر يو چې لمانځه کې وړاندی شو هغه دی زيات نه اوږدوي.[1]

---

۱ - صحيح البخاري، کتاب علوم .

عمر (رض) فرمايي: داسی کار مه کوئ چې خلک د خدای، دين سره کينه وکړی او نارامه شي کله چې لمانځه ته وړاندی شــوی د لمانځه قرائت مه اوږدوئ ددی نه بغير د خلکو د ناخوښی لامل گرځی.

۲- سستي او پريکوڼ:

داچې د تند لاري او افراط کولو ســتونزه ډير عمر نلري، او انســان لپاره دوام ورکول آســانه کار ندی ځکه چې وس او طاقت يې محدود دی نو ډير ژر ژر د ســتړ يا او خنډ سره مخامخ کيږی او د هيلو آس يې د گاړرو او کړليچونو په تورتمونو کې لويږي او کچېری څه ساه ورته پاتی وي هغه يوازی د ځان څنگ ته کولو لپاره کار وي، د پخوانی لاری نه په پوره توپير نوی لارغوره کوي يا په بل عبارت د افراط تفريط او تند لاری نه پځلاری ته مخه کوي. همدا علت دی چې رســول الله فرمايي: داســی کارونه وکړئ چې وس يې ولری الله ﷻ ســتاســو په سختی زغملو او بی و سی خفه کيږی، الله تعالی ته خورا غوره کار هغه دوامداره کار دی که کم هم وي.[1]

---

۱ - صحيح ابن حبان، حديث: ۱۵۷۸.

۳- د عمر اووس هدر کېدل:

ځکه د تند لاري او افراطي انســان وخت، وړتیا، انرژي په کم ارزښــتو کارونو او څوومی مرتبی کارونو کې لږیږي او د اســاسي کارونو او برخلیک ټاکنو کارونو نه غافل پاتی کیږي او په پای کې کومه لاسته راوړنه نه لري. الله تعالی فرمایی: (**قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا**) .[۱]

ای پیغمبره! ووایه! آیا تاســو د ډیر زیان کوونکو انســانانو نه خبرنکړم هغه کســان دي چې هڅی او هلی ځلی یې د دنیا په ژوند کې ورک کیږي او خپله گمان کوي په ډیره غوره طریقه ښه کار کوي.

حافظ ابن کثیر ددی آیت د تفسیر په ارتباط پخوانیو ځینی خبروته ا شاره کوي او وایي: بخاري نقل کوي: مصــعب د خپل پلار ســعد بن ابی وقاص نه (**قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا**) آیت په هکله پوښتنه وکړه چې هغوی ژمنه ماتونکي دي سعد وویل: نه هغوی یهود او نصاری دي، یهود د حضرت محمد ﷺد رسالت د تکذیب لامله او نصــاری د جنت د نعمتونو د انکار په دلیل مگر د حضرــت علي ابن ابی طالب او ضحاک په نظر هغوی ترون ماتوونکي دي.

---

۱ - د الکهف سورت ۱۰۳-۱۰٤ آیتونه.

ابن کثير بيا خپل نظر سرګندوي او وايي: (دحضرـت علي د رأی معنا دا ده چې دا آيت د حروريه ؤ په څير چي تړون ماتوونکی دي ته شـــامليږی همداشـــان د يهودو او نصـاراو او نورو حال ته هم شـامليږی نه دا چې يوازی د هغوی په هکله نازل شـــوی او صـــدق کوي بلکی عموميت لري ځکه دغه آيت په مکه کی نازل شوی دی. او د يهود او نصاری مخاطب کېدو وړاندی راغلی دی، طبعا د خوارجو پوری هم خاص ندی بلکی ټولو هغو کسانو ته چې په ناسمه طريقه د الله عبادت او خپل ځان هم په نيغه لاربولي شامليږی.

۱- د نورو حقونو په هکله تقصير:

د افراطي انسـان کار او هڅه په يوه معينه دايره کې څر خيږی او ډيرو حالاتو کې د نورو د حقونو په هکله تقصـــير کوي، او خپل مســـئوليت د هغو په اړه نه ترسره کوي په همدي خاطر رسول الله خپل يو يار ته چې اوريدلی يې ؤو د حد نه زيات عبادت باندی بوختيږی او کله خپله دنده د کورنی، خپلوانو او يارانو په وړاندی نه هيره وي وفرمايل: آيا ښـه داده چې د ورځی روژه ونيســـی او دشـــپی لخوا لمونځ وکړئ؟ وی ويل: هو يا رسول الله، رسول الله د نصيحت په مقام کې ورته وفرمايل:

(دا کار مه کوه! ځینی ورځی روژه شــه! او نوری ورځی هم روژه مه نیســه؟ لمونځ کوه خو په څنګ کې یې ارام هم کوه ځکه ســتا ســترګی، ښــځه او ملیمانه په تا حق او څه حقوق لري.

۲- روحی ګډوډي او پریشاني:

دا چې تندلاری او افراطي انســـان تل د یار پیدا کولو په لټه کي دی او غواړی هغوی د ځان سره په یو فکر کړي او په مقابل کې د نورو لخوا اوریدو لږ غوږونه ویني او کوم لبیک نه اوري په همدی خاطر د زړه په پریښـــانی او نورو سره په د ښمنی اخته کیږي پخواني او اوسني حالتونه ددی ادعا خورا ښه شاهد دی، ګورو چې: افراطیان او تندلاري ډیر بی صــبره ډیر پریښــان، ډیر تنګ نظري او ډیر ژر خفه کیدونکي انســانان دي او کله هم د وســلی په زور او تهدید غواړي نور له ځان سره ملګري کړي.

ب: اسلامي ویښتیا په اړه:

۱- بیلتون او سره شړیدل:

څوک چې د افراط او تند لاري په سـکروټو پل ږدي غالبا د لند فکری او کمزوری نظر څخه رنځ وړي او هیڅکله په یوی خاصــی نظر یې اتفاق نشي۔ پیدا کولای او نور هم د دوی نظر نه وی په همدی دلیل په ورتباه کوونکي او هر اړخیزی بلا اخته کیږي، دا هماغه څه دي چې ابن عباس ورته اشـــاره کوي او وایي: عمر

(رض) یوه ورځ په یو ځای کې د مسـلمانانو په مینځ کې د اختلاف عواملو او اسـبابو په اړه په اندیښـنه او فکر کې ډوب شـو او د ځان سره یې وویل: د تعجب ځای دی چې: یو ملت پداسـی حال کې چې خدای او پېغمبر یې یو دی په بیلابیلو ډلو ویشل شوی دی؟ وروسته یې یو سړی د ابن عباس پسی واستاوه وی ویل: (سـتا په اند ولی ددی سره سره چې د خلکو خدای، قبله، پیغمبر او قرآن شریک دی په اختلاف اخته دي؟ ابن عباس وویل: ای أمیر المؤمنینه! قرآن پر مونږ نازل شوی او هغه لولو او پدی پوهیږو چې: کومو مسئلو په هکله نازل شوی دی، خو زمونږ نه وروسـته داسـی خلک راځي چې هغه لولي او نه پوهیږی چې فلان آیت کومی موضـوع په هکله نازل شـوی دی او دهغه په اړه هر یو نظر پېدا کوي او په پای کې په اختلاف اخته کیږي. عمر(رض) د عباس (رض) خبرو کي فکر کولو نه وروسته هغه سنجول شوی بیاموندی او عالمانه یې وبللی. [1]

۲- د لاری اوږدیدا او د مسئولیتونو درندیدا:

د افراطیت او تندلاری ستونزه یوه سپیره او شومه ستونزه ده او د اسلام په کمین کی ناستو دښمنانو لپاره مناسب فرصتونه برابروي ترڅو دعوت کوونکو د ټکولو او پرځولو لپاره کار وکړي او د تند لاری او تاوتریخوالي په پلمه د اسـلامي ویښـتیا لپاره زیاتی ستونزی راولاړی کړي او په همدی علت دعوت کوونکو لپاره څو برابره کار سختیږي او کومه لار چې باید خلاصه یې کړی نوره هم اوږ دیږي.

---

۱ - الاعتصام للامام الشاطبي، ج ۲، ص ۱۸۳.

۳- د خپلو لارويانو زياتوالي مخنيوی:

د افراط او تندلاري يو اثر او لازم د عمل ســختي او تاوتريخوالی دی او همدغه تندلاری او سـخت عمل ددی باعث کيږی چې: نور ددی پرځای چې پری رامات او مرستندوی شي د هغوی څخه تنفر پيدا کوي او د مرستی لاس ورته نه اوږدوي او د انســان خوی دا دی چې آرام او نيکان خلک خوښــوي او د بد اخلاقو او تند خويه خلکو نه نفرت کوي. الله تعالی فرمايی: (**فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ**).[1]

د الله رحمت دی چې ته د هغوی سره نرمښت کوی او کچېری بدخوی او سخت زړی وای نو دوی به درنه خپاره شوی ول. او خوږ پيغمبر فرمايي: (**ان الرفق لايكون فی شيء الا زانه ولا ينزع عن شيء الا شانه**). [2]

په کوم کار کې چې تســامح او ځوانمردي وي هغه ښــايســته وي او کوم څه کې چې نرمښت او تسام نه وي هغه بدرنگه وي.

پنځم: د افراط او تندلاری درمل: په دين کې د تند لاري او افراط د پيدايښت عواملو او اسبابو ته په کتو ښه ده چې دهغه د علاج لاری چاری هم وپيژنو!

---

۱ - د آل عمران سورت ۱۵۹.

۲ - صحيح مسلم، حديث: ۲۵۹٤.

۱-د اسـلام تربیتي، اجتماعي، سـیاسي او ولسي- ډګرونو کې د نظر خاوندانو او جامع د شرایطو مجتهدانو او د انسانانو د مصلحو او د دین په اهدافو پوه خلکو د آراؤ په بنســـټ او ژوند اړوند بیلابیلو کارونو او اجتماعي روابطو واقع بینا نه او صحیح پیژندلو په اساس او همدارنګ زماني اومکاني شرایطو ته په کتلو کله چې دغه انتظار همغه شان چې دین پالنی او دعوت کولو پوری نښتی ده ترسره شي ټولی ګډوډی فکري وي او که ډله ئیزی او هغه پلمې چې د افراطیت او تندلاری لپاره لارهواروی له مینځه ځي او خشـــونت او افراطیت په لور تمایل خپل ځای تعاون، مرسته او متقابل محبت ته پریږدی اوله بلی خوا د الله دین حاکمیت پیدا کول په خپله د بی عدالتی، ظلم، فساد او شر شومی او سپیری ستونزی د ټولنی نه لری کوي او دین پالنی الفت تعاون او د عدالت لا زیات خپراوی لپاره انګیزه پیدا کوي. الله تعالی فرمایي: (**فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَةَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ**).[1]

خپل مخ په خالص ډول د الله ﷻ مناسـب او جوړوونکي قانون په لور کړه دا هغه خلقت دی چی الله ﷻ خلک پری پیدا کړی دی باید الله پیدایښـــت ته بدلون ورنکړ شي دا ثابت دی خو ډیری خلک پدی نه پوهیږي.

۲-د رښتینو علماء او هاند کوونکو دعوتګرانو هڅونه ترڅو د اسلام او مسلمانانو په وړاندی خپل مسـئولیتونه ترسره کړي په ځانګړی ډول د تند لارو او افراطي خلکو

---

۱ - د الروم سورت ۳۰ آیت.

د زړونو په لاس راوړل او هغوی ته نصیحت کول او متوجه کول د حکومتونو چې د شکنجې او زورولو په ځای د خبرو اترو او بحث لار ورته پرانیزی او د نظر سرګندولو آزادی ورنه وانخلي، هغه نظر سرګندونه او دعوت او تبلیغ چی یو خدایی امانت دی او هیڅوک په خپل زور سره نشي ــ کولای دهغه نه ځان خلاص کړي، کتل کیږي چې دغه لار د تندلاري او افراطیت د مخنیوی لپاره ډیره غوره او بریالی لار ده.

۳- د فقه دعوت او بندگی فرهنگ او دنظر څرگندولو په فرهنگ باندی پوهیدل او په کارونو او مسـئلو کې د لومړیتوبونو مراعات او د شریعت د کلیاتو پیژندل او د نصو صو فهم او یو دبل سره پرتله کولو نه په استفاده دی، د احکامو مراتبو او درجو ته توجه او تعارض په وخت د هغو د اثبات تګلارو او روابطو ته یې توجه او د دینی احکامو او فرمانونو پړاوونو او د مسئولیت درجو، د ژوند شرائطو او دخلکو معذوریتونو نه خبرتیا شریعت او نړی باندی د الهی سـنتو حاکمیت ته توجه مخصـوصـا په قانون د بریا او ماتی باندی... دا شـان فکر کولای شي په آسـانی سره د تند لاری او افراطیت سـپیری سـتونزی باندی برلاسـی شي. الله تعالی فرمایي:(**أدع الى سبيل ربک بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي أحسن**). [۱]

۱ - د النحل سورت ۱۲۵ آیت.

په حکمت او ښــه پند سره نور خلک د خپل پالونکي په لور راوبله او په خورا ښــه تګلاره مجادله ورسره وکړه.

٤-د بشرـ په عمومي تاریخ خصـوصـا د اسـلام تاریخ کې مطالعه او څېړنه ځکه د پیښــو ډکو پاڼو د تاریخ کې ډېری زیاتی بېلګې د تندلارو او افراطیونو شــته دي همدا شان د هغو سره د عکس العمل بیلابیلو تګلارو باندی هم خبرېږو.

٥- د تند لارو او افراطي خلکو سره د دوســتی او پلارنی تګلاره کارول او د هغوی سره د مهربانی عطوفت او زړه سوی هرفرصت نه ګټه واخستل شي، ددی لپاره چې د دوی د اهدافو اسـبابو او لاملونو نه ښــه خبر شــو اړینه ده د هغو سره صادقانه معاشرت وشي، ترڅو د نظر سرګندولو په مهال او دقضاوت کولو په وخت چې د هغوی په اړه یی کوو هغوی ټول یو د بل په شان ونه ګڼو او په اصطلاح ټول په یو لرګی ونه وهو، او په عادلانه او پوهی په رڼا کې هغوی وڅېړو او د یو یا دوه نفرو کړنه په نورو باندی د فیصـلی ملاک ونه ګرځو او ټول تصـمیمونه او فکرونه د دوی په نظر کې ونیســو او اندازه د نیک او بدیې د شریعت په تله کې ســنجش لاندی راولو الله تعالی فرمایي: (**فمن ثقلت موازینه فأولئک هم المفلحون**)[1]

د چا چې د نیکی تله درنده وي هغه بریالی او بریمن دي. همدا شــان د دوی ناســمو نظریو او شریعت خلاف کارونو په اړه مبالغه ونکړو په عین حال کې د دوستانو او ملګرو ناغیړیو باندی سترګی پټی کړو ځکه دا کار خپله یو ډول افراط

١ - د المؤمنون سورت ١٠٢ آیت.

او تفریط دی د هغوی لپاره دا مکان ترحده آزاده فضـــا چي وکولای شي خپل نظرونه وړاندی کړي او دنورو وینا او نظرونه دنیوکو لاندی راولي او خپله هم د صادقانه او عالمانه نیوکو لاندی راشي.

د نصـیحت ویلو او نصـیحت منلو روحیه را پېداکړو او دعمر(رض) په شـان ووایو: ای وروره! نصیحت کوه! د تا څخه ډیر منندوی یم په هر وخت، شپه او ورځ ځما غږ تاته او غوږ می سـتا نصـیحتونو اوریدو ته چمتو دی، د الله ﷻ رحمت دی په هغو کسانو وي چې ما په خپلو عیبونو او کمییو خبر کړي) باید د هغه په شان او سو چې یوه ورځ یو سړي ورته وویل: (ای أمیر المؤمنینه! د الله ﷻ نه وډار شه! او ځینی ناسـت خلک پدی وینا خفه شـول مگر عمر (رض) هغوی ته په وینا کې وویلی: هغه مه ریټئ کچېری تاســـی ټول دده په شـــان نه اوســـی ډیر بی خبره یاست او کچېری مونږ یې ونه منو مونږ هم د خیرنه بی برخی یو.

د تندلاری او افراطیت فکر له مینځه وړلو لپاره قدرت، تاوتریخوالی او د سیسو ته لاس اچولو نه باید ډډه وشي ځکه په تاوتریخوالي او ټکولو دغه تگلاره او تفکر له مینځه نه ځي بلکې ځان پټوي او د اور په څیرد ایرو لاندی د مناسـب فرصـت په لټه خپل ژوند ته دوام ورکوي.

٦-د تندلاری او افراطیت پایلوته دقت او توجه چې د دین پالو او دعوت کوونکو گریوان یې نیولی دی او کوم کسان چې د اسلامي ویښتیا لپاره ستونزه جوړوي شاید پدی تگلاری سره ددغو زیانونو نه خلاص او دبیا راتلو لاره یې ډب شي.

۷-خپل عمر او وختونه د پروگرام سره سم د گټور او سموونکو کارونو لپاره وکاروي لکه: زده کول زده کړو ورکول، مطالعه، ځیړنه، ذکر او عبادت، تفریح او دوستانو او قومونو سره کتل، په زړه پوری او شرعی بوختیا او کار ځکه په زړه پوری او سالمه بوختیا د انسان له جوړښت سره سمون لري او د انسان ځواک او انرژي د خپلو او نورو دنیا او عقبا خیر او مصلحت لپاره کاروي او تند لاری او افراطیت لپاره کوم ځای نه پاتیږي!

٦٤

کوډې او کوډ ګري

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على اشرف الأنبيآء والمرسلين محمد و على آله و أصحابه أجمعين.

انسان د ځمکې پر سر ډېر ښه مخلوق دی الله ﷻ داسې وس ورکړی چې انسان وپیژني او آسمان، ځمکه، او موجودات یې دده لپاره تابع او مسخر (ایل) کړي دي خو کله کله ځینې انسانان خپل ځای هیر کړي او په آسانۍ سره د شیطان او شیطان صفتو د ګمانونو خرافاتو او وسلو سلو د اغیز لاندې راشي، داسې شیطانان چې تل په کمین کې دي ترڅو په بېلابېلو چلونو او دسیسو سره انسانان د ایمان او حق او حقیقت تګلوري نه کاږه کړي او د ګناه او معصیت په کنده کې یې وغورځوي، د حق عقیدې او ایمان نه انسانانو د اړولو یوه حیله او مکر کوډې او سحردې، لکه چې ګورو ځینې مسلمانان د کود ګرو او دوکه بازانو دوکه خوري او پدې ګمان چې هغوی په غیب پوهېږي. د خپلو ځینې اړتیاؤ پوره کولو لپاره هغوی ته ورځي او هر څه چې دغه مکاران وایي هغوی یې قبلوي او په همدې باور خپل دین او ایمان په خطر کې غورځوي.

نو اړینه ګڼو چې ددی ستونزی په هکله د قرآن او سنت په رڼا کې څه مطالب د با ایمان او متدینو خلکو لپاره بیان کړو ترڅو د ســحر او کوډو په واقعي ماهیت پوه شي او ځان د هغه له دیني او دنیوي ضررونو نه وساتي.

د سحر معنا:

اصـفهاني راغب په مفردات کې چې د قرآن کلماتو لپاره مخصـوص دی د سـحر دری معنا ګانو ته اشاره کړی ده.

۱-فریب او د حقیقت او واقعیت نه لری ګمانونه لکه: چلبازي، دوکه، علماء فرمایي: د فرعون کودګرو سحر د همدی ډلي ؤو الله تعالی فرمایي: (**قَالَ بَلْ أَلْقُوا فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَى**).[۱]

(موســـی) وویل: لومړی تاســـی پېل وکړئ او څه چې لری را مخی ته یې کړئ (هغوی خپل تنابونه او امســاوی وغور ځولي، د هغوی د ســحر په خاطر نا څاپه د هغوی رســی او امســاوی ماران شــوي دي او ښــوریږی او ځغلي او فرمایي: (**فَلَمَّا أَلْقَوْاْ سَحَرُواْ أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ**).[۲]

کله یې چې د خپل سحر توکي وغورځول د خلکو سترګی یې وتړلی او هغوی یې وبېرول.

---

۱ - د طه سورت ٦٦ آیت.

۲ - د الأعراف سورت ١١٦ آیت.

۲- په مخصوص تګلارې یې د شیطاناو جلبول او د هغوی نه مرسته اخستل: الله تعالی فرمایي: (**هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَى مَن تَنَزَّلُ الشَّـــيَاطِينُ تَنَزَّلُ عَلَى كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ يُلْقُونَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَاذِبُونَ**).[1]

آیا تا سو ته خبر در کړم چې شیطانان پرچا نازلېږي او د (وسوسی القاء کوي) پر هغه چا نازلېږی چې دروغجن او خورا ګنهکار دي (ځکه چې کاهنان او غیب ویونکي دروغجن او پلیت دي، شیطانانو ته غوږ ږدي او ډیری دروغجن دی او (د خپل ځان نه څیزونه تړي).

۳- کېدای شي چه کوډو سره د اشـــخاصـــو او موجوداتو ماهیت او بڼه بدله شي مثلا انســـان د هغه په وســـیله د حیوان په بڼه واړوي، خو دا نوع یوازی ګمان او خیال دی او واقعیت نه لري په لسان العرب کې راغلي دي: سحر عبارت دی له: هغه څه نه چې ماخذ، منشا او عوامل یې ظریف مرموز او نالیدی او پټ وي.

او د سحر ا صطلاحی معنا په هکله په لسان العرب کې راغلې دي: سحر دا سی عمل دی چې: په ترسره کولو سره یې کودګر شـــیطان ته نزدی کېږي (**الســـحر عمل یتقرب به الی الشیطن**).

په عمده القاري کې د سـحر اصـطلاحی تعریف کې داسـی راغلي دي: (**فهو أمر خارق العادة صادرعن نفس شریرة لا تتعذر معارضة**).

---

۱ - د الشعراء سورت ۲۲۱-۲۲۳ آیتونه.

سحر یو خارق العاده کار دی چې شریر انسان یې کوي او مقابله یې ستونز منه نه وي.

د سحر ډولونه:

اما فخر الدین رازي په تفسیر کبیر کې د سحر لپاره اته تکلاری بیان کړی دي:

۱- هغه کوډی چې پخوا وختونو کې د بابل خلکو کې دود ؤ بابلبان ستوري پالونکي ول او ګمان یې کاوه چې ستوري د ځمکی او خلکو اغیز من او سمبالونکي دي او ټول خیر، ښه والی، نیکمرغي، بد مرغي سپېرتوب او نازولتوب د ستورو لخوا دي. د هغه وخت کود ګرو د ستورو د خوزښت، منزلونو، برجونو په بنسټ د غیب ویلو دعوا کوله او د راتلونکی خبرتیا او وړاندوینه یي کوله.

۲- هغه کوډې چې د ارادی په قوت او ځواک ترسره کېږي: پدی طریقه کې انسان په اوږدو ریا ضتونو سره خپل فکر او اراده تقویه کوي بیا د خپلی ارادی په قوت سره د شاو خوا په چاپېریال باندی اغیز شیندی او خارق العاده څیزونه د کتونکو سترګو ته انځوره وي.

۳- د ځمکیو ارواحونه مرسته غوښتل: کوډګر په خپلو کوډوکې د شیطان او پیری نه کمک غواړي

٤- هغه ســحر چې د ګمانونو او تخیلاتو په غورځولو سره ترسره کېږي: پدی ډول کوډوکې ساحر د تخنیکي قوت نه کار اخلی، او سترګو تړلو او ژر عمل کولو سره د انسان په خیالي قوه کې تصرف کوي

٥- هغه حیرانوونکی کارونه او اعمال چې د توکو او وســایلو په ترکیب سره ترسره کیږي: پدی ډول سحر کې کودګر هغه عجیب او نا اشنا کارونه کوي چې نشته.

٦-د اجسامو نا پیژندو فیزیکی او شیمیایي خاصیتونو نه استفاده: ساحر په دی ســحر کې د اجســامو شــیمیایي خواصــونه اســتفاده کوي چې عام خلک ددی خواصونه کومه اطلاع نه لري.

مثلاً: ډیری پېژنو چې په ځینې شــیمي اجســاموکې وزن د هوا نه ســپک دی او کچېری جسم کې د ننه شي نو کېدای شي هغه جسم وخوزېږي او څوک تعجب نه کوي حتی په پخواکې د ماشومانو د لوبو توکي یو ډول سحر ګڼل کیدل.

٧-د زړه تعلق: پدی سحر کې معاصر دا دعوا کوي چې په اسم اعظم پوهېږي او د هغو په تاثیر جن دده تابع دي او دکارونو ترسره کولو کې د هغه پیروي کوي خلک د ځان معتقد کوي او قلب او عقل د هغوی ښکارکوي.

٨-نمیمه او سخن چینی: پدی ډول سحر کې ساحر په مبهمو او ګډوو ډو خبرو او خاص چالاکی سره د خلکو په منځ کې اختلاف، تشــتت، بغض، کدورت ایجادوي، همداشان هغه کارونه چې د مقناطیســی، هیپنوتیزم، ماني تیزم او تله

پاتې (دلیري ... د افکارو انتقال) خوب نه په استفادی ترسره کېږي، که څه هم چې دغه علوم د هغو علومو له ډلی دي چې صحیح استفاده هم تری کېدای شي خو ساحران او ځینی دوکه ماران د خلکو دوکه کولو او غافل کولو لپاره ناوړه استفاده کوي چې ناوړه استفاده نو موړو علومونه هغوی په سحر کې داخلوي، ددا سی سحر نه یواځی هغه کسان اغیزمن کېږي چې ددی ساحرانو د تلقین او مهارت د قوت څخه کومه اطلاع ونلري.

آیا سحر حقیقت لري؟

داچی سحر بېلابېلی معناوی لري او سحر کول په ګڼو بڼو ترسره کېږي نو علماء د سحر په حقیقت کې اختلاف لري:

علامه ابن حجر په فتح الباري کې فرمايي: معتزله پدی عقیده دي چې سحر حقیقت او واقعیت نه لري همداشان ابن حزم ظاهري او دشوافعو ابو اسحق ا ستر آبادی او د احنافو ابوبکر رازی هم په همدی عقیده دي چې سحر حقیقت نه لري او هغه چې ساحريي کوي هغه ګمان، خیال اچونه ده او دخپلې نظریې د اثبات لپاره په لاندي آیتونو او امثالوبې استدلال کوي: الله تعالی فرمايي: (**قَالَ بَلْ أَلْقُوا فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَى**).[1]

---

١ - د طه سورت ٦٦ آیت.

داســی فکر یې وکړ چې د هغوی د جادو په اثر امســاوی او رســی د دوی (ماران شوي او خوزېږي او ځغلي) او فرمايي: (**فَلَمَّا أَلْقَوْاْ سَحَرُواْ أَعْيُنَ النَّاسِ**).[1]

کله چې کوډګرو (د خپل جادو و سایل) وغورځول د خلکو سترګې یې وتړلی خو د جمهورو علماؤ نظر دادی: چې سحر واقعیت لري.

علامه ابن قدامه فرمايي: ســحر حقیقت لري، دمړینی باعث ګرځي، انســان مریضــوي، د کور والي قدرت له منځه وړي، د خاوند او ښــځی تر منځ بېلتون راولي او د ټولنی افرادو په منځ کې تشتت او اختلاف پیداکوي.

جمهور اهل سنت وايي: جادو واقعیت لري او یوازی تخیل نه دی.

د سحر واقعیت دلیلونه: او فرمايي: (**يعلمون الناس السحر**). [2]

شیطانان خلکو ته سحر وربښیې تعلیم او تعلم په حقیقی کارونوکې امکان لري او ترسره کېږي. فرمايي (**قَالَ أَلْقُوْاْ فَلَمَّا أَلْقَوْاْ سَــحَرُواْ أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْــتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ**).[3].

کله چي جادوګرانو (د جادوګری خپل وســایل) وغورځول د خلکو ســترګی یې وتړلی او ســترجادویې وښــوده. الله ﷻ د ســحر لپاره عظیم صــفت ذکر کړی او داسی صفت د داسی څیز لپاره نه وي چې واقعیت نه لري.

---

١ - د الأعراف سورت ١١٦ آیت.

٢ - د البقری سورت ١٠٢ آیت.

٣ - د الأعراف سورت ١١٦ آیت.

نو د عظیم صفت پدی دلالت کوي چې سحر واقعیت لري.

و ایضا فرمایي: (**قَالَ مُوسَى مَا جِئْتُم بِهِ السِّحْرُ إِنَّ اللّهَ سَيُبْطِلُهُ**).[1]

موسی وویلي: څه چې تا سو و ښوول په رښتیا جادو دی، هرو مرو به یې الله ﷻ تش او نابود وي.

ددی آیتونو نه معلومېږي چې: ســحر واقعیت لري او اغیزیې ثابت دی چې: الله ﷻ یې باطلوي او هغه څه باطلوي چې حتمایي شــتون وي نه دا چې ګمان او وهم وي.

په یو حدیث کې د صــحیح بخاری نه منقول دی: چې لبیدین الاصــم یهودي د بنی زریق له قبیلی نه په پیغمبر ﷺ باندی ســحر وکړ، د هغه ســحر لامله پیغمبر ﷺ مریض شــو داســی چې: کوم کار به یې نه ؤ کړی تصــور به یې کاوه چې کړی یې دی،د پیغمبر ﷺ د سحر له منځه وړلو لپاره معوذ تین (**فلق او الناس**) سورتونه نازل شــول او الله ﷻ شــفا ورکړه، نو څرګنده شــوه چې ســحر واقعیت لري. البته هغه علما چې د ســحر په واقعیت عقیده لري، موخه یې دانده چې: ســاحر د هرڅه دعوی وکړي هغه به کولای شي.

هیڅ کوډګر نشي- کولای چې د موجوداتو ماهیت او بڼه بدله کړیي مثلا: انســان یا حیوان د انســان په بڼه واړوي، د جمهورو علماؤ د اجماع سره ســم د انبیاو

---

۱ - د یونس سورت ۸۱ آیت.

معجزات لکه: د ملخ کوزیدل د سـیند بېلېدل، په اژدهار بدلیدل د امسـاؤ د مړو ژوندي کول، د حیواناتو خبری کول او ... داســـی حقیقتونه ول چې د انبیاؤ په واســـطه را څرګند شـــوي او ســـاحران هیڅکله نه شي کولای چې خارق العاده کارونه وکړي چې د انبیاء د معجزاتو په څیروي.

البته دا کار خپل ځای لري چې خارق العاده کارونه چې د بشرــ د قدرت لاندی دي د ساحر په لاس ښکار شي.

مثلا: په جادو کولو سره څوک بېمارکړي، یا د میړه او ښځی تر منځ بېلتون راولي یا د چا عقل زایل کړي یا د چا اندام کوږ کړي خو په هر حال باید غافل نشو چې حقیقي مؤثر یوازی الله ﷻ دی.

الله تعالی فرمایي: (**وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ بِإِذْنِ اللّهِ**).[1]

پدا سی حال کې (خپل) دی جادو سره نشي کولای چاته کوم زیان ورسوي مګر داچی د الله ﷻ په اجازه او غوښتنه وي.

د سحر پرانستل :

د نورو بیماریو په څېر ســـحر هم یو ډول مرض او بلا ده چې انســـان پری اخته کیږي او نښـــی یې د جســـمی مرضـــونو نه ډیری دي آن چې کله کله د انســـان د هلاکت باعث ګرځي نو هغه شان چې د نورو مرضونو تداوي جائز ده همداشان د

---

۱ - د البقری سورت ۱۰۲ آیت.

سحر تداوی هم صحی او روا ده او پېغمبر ﷺ فرمایلي دي : (**ان الله عزوجل حيث خلق الداء وخلق الدواء فتداوو**).[1]

سحر لری کول سخت کار دی ډیر لږ خلک یې تر سره کولای شی، او داسی کسان هم شته چې ددی کار وړتیا نه لري خو په چل، مکر، دوکې حرام مال را ټولوي او په پای کې ځان هلاکوي ځوک چې سحر لری کوي باید لاندی صفات ولري:

١- قولا او عملا موحدوي

٢- د محرماتو او ګناهونو نه لری وي

٣- د مستحباتو ژمن وي

٤- ددی کار وړتیا، پوهه او علم ولري

٥- متقی او پرهیزکار افراد وي

٦- زړورتیا او شهامت ولري

٧- خاکسار، امین او متاهل وي

٨- هدف یې د الله ﷻ رضا او خوښی وي

٩- موخه یې د ضعیف الایمان افرادونه د مال ټولول نه وي.

١٠- پدی قادر وي چې ځان د سحر له ضرر نه وساتي.

---

١ - مسند الامام احمد، حدیث: ١٢٥٩٦.

د سحر باطلولو دلیلونه:

ځینی علماء د سحر لری کول حرام ګڼی او د سنن ابی داود په حدیث استدلال کوي: (**سئل رسول الله ﷺ عن النشرة فقال هو من عمل الشيطان**).[1]

د سحر لری کولو په اړه د رسول الله ﷺنه پوښتنه وشوه پېغمبر علیه اسلام ځواب ورکړ: د سحر لری کول د شیطان کار دی. د حدیث په توضیح کې ابن حجر فرمایي: د سحر لری کول د پرانستونکی د نیت پوری تړلی ده که نیت یې خیروي نو پرانستل یې ښه او صحیح دی او که نیت یې شروي نو ښه نه ده.

علماء د سحر لری کول چې د ساحرانو لخوا په باطلولو کې یې د شریعت خلاف کارونه کېږي نارواګڼي ځکه دغه کسان د څاروي په وژلو او د شیطانانو او پیریانو نه په استمداد او کبیره ګناهونو په کولو سره د خلکو دبی لاری کولو او د حقیقتونو په بدلولو او ساده ګانو د عقایدو متزلزل کولو باعث ګرځي.

د سحر علاجول په قرآنی آیتونو او مباحو دعاګانو او دداسی چا لخوا چې صحیح عقیده ولري او شرعی احکاموته ژمن وي پروا نه لري. ځکه کله چې لبید بن الاصم په پیغمبر ﷺ باندی کوډی وکړي جبریل ﷺ د سحر پر ځایونو باندی پیغمبر ﷺ خبر کړ، پیغمبر ﷺ حضرت علی او طلحه رضي الله عنها ته امر وکړ چې کوډی د ذروان له څاه نه را وباسي، او معوذتین سورتونه یې پرغوټو ولوستل

---

١ - سنن أبي داود، حديث: ٣٨٦٨.

او غوټې پرانستل شوی او سحر باطل او پیغمبر ﷺ د کراری او هوساینی احساس وکړ.

په صحیح مسلم کې راغلي دي چې پیغمبر ﷺ و فرمایل: (**لابأس بالرقي مالم یکن فیه شرک**).[1]

د کوډګرو په وړاندی د اسلام دریز:

دا چی سحر یو ناوړه او بد کاردی، یو آسماني دین هم د هغه جواز ندی ورکړی ځکه هغه څوک دا کار کولای شي چې د خپل ایمان نه ځان خلاص کړي، او سترګي او غوږونه تړلي د شیطان او جنیاتو تابع وي او د بدو کارونو په کولو سره همیشه شیطان له ځانه خوښ او راضي وساتي.

ساحر د دینه وړاندی چې بل ته ضرر ورسوي خپله زیانمېږي.

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ و فرمایل: (**اجتنبوا السبع الموبقات قالوا یا رسول الله ما هي؟ قال: الشرک بالله، والسحر، و قتل النفس التي حرم الله الا بالحق و أکل الربوا و أکل مال الیتیم والتولي یوم الزحف و قذف المحصنات المؤمنات الغافلات**). [2]

د اوو تباه کوونکو څیزونو نه ځان وساتئ یارانو وویل: ای د الله ﷻ رسوله! هغه کوم دي؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: ۱- الله ﷻ سره شرک کول ۲- کوډی کول ۳-

---

۱ - صحیح مسلم، حدیث: ۲۲۰۰.

۲ - صحیح البخاري، حدیث: ۱۲۳۲.

د هغه انسان وژل چې: الله تعالی یې وژل حرام کړي مګر په حق ٤- سود خوړل ٥- د یتیم مال خوړل ٦- کفارو سره د جګړی په ورځ د ډګر نه تښتېدل ٧- تور لګول په پاکو بی خبرو، مومنو ښځو باندی. دا چی کودګر ایمان په الله ﷻ پر ایښی دی او د جنیاتو استمداد غواړي هومره الله ﷻ ته منفور او مبغوض دی چې حتی که څوک هغه ته مخه کوي او ورځي د هغه لمونځ هم نه قبلیږي.

پیغمبر علیه ا سلام و فرمایل: (**من أتى عرافا فسأله عن شيء لم تقبل له صلوة أربعين ليلة**).[1]

څوک چې ستور پېژندونکي او فال نیوونکی ته ورشي او د کوم څیز په هکله پوښتنه تری وکړي تر څلوېښت شپو او ورځو یې لمونځ نه قبلېږي.

څوک چې د ساحرانو تصدیق کوي او په ویناو او کړنویې ایمان لري، جنت ته به نه ځي. ابو موسی (رضی الله عنه) د پیغمبر ﷺ نه روایت کړی چې : (**ثلاث لايدخلون الجنة، مدمن الخمر ولا قاطع الرحم و مصدق بالسحر**).[2]

په شرابو روږدی او د ساحر تصدیقونکی او خپلولي رابطی شلوونکی جنت ته نشي ننوتلی.

په بل حدیث کې راغلي دي چې: څوک سحر وکړي یا ساحر ته لاړشي او د ساحر نه وغواړي چې سحر ورته وکړي د پیغمبر ﷺ له امت نه ووځي. عمران بن

---

١ - صحیح مسلم، حدیث: ١٢٥.

٢ - مسند الامام احمد، حدیث: ١٩٥٦٩.

حصـــين د پيغمبر ﷺ نه روايت کوي چې: وی فرمايل : (**ليس منا من تطير ولا من تطير له أو تكهن أو تكهن له أو سحر أو سحر له**).[1]

د مونږ نه دی هغه څوک چې ناوړه فال ونيسي يا فال نيوونکي ته ورشي يا د فال نيونی غوښـــتنه وکړي يا دا چې وړاند وينه وکړي يا د وړاند وينی غوښـــتنه وکړي چې کوډی وکړي يا د کوډو کولو لپاره کوډ ګرته ورشي او په حديث کې راغلي دي: (**من عقد عقدة ثم نفت فيها فقد سحر ومن سحر فقد أشرک**).[2]

چا چې يوه غوټه و تړله بيايې پری پوه کړل نو جادويې وکړ او چا چې جادو وکړ يقينا شرک يې وکړ.

په يو حديث کې پيغمبر ﷺ و فرمايل: (**ثلاث من لم يكن فيه غفر له ما ســـوى ذلک لمن يشاء من مات لا يشرک بالله شيئاولم يكن يتبع السحرة ولم يحقد على أخيه**).[3]

چاکې چې ددی دری څيزونو نه يو هم نه وي نو کچېرې الله تعالی وغواړي نوری ګناهګانی يې وربښي:

۱- د الله سره يې کوم څيز سيال کړی نه وي
۲- کوډګرو ته نه وی ورغلی
۳- خپل ورور سره يې کينه نه وي کړی

---

۱ - مسند البزار، حديث: ۳۵۷۸، الترغيب والترهيب:۳۰٤۱.
۲ - جامع معمربن راشد، حديث: ۱۹۷۷۲.
۳ - الأدب المفرد، حديث: ٤۱۳.

د کوډ ګړو د سزا په هکله د علماؤ او ائمه ؤ ویناوې:

دا چې کوډګر په بېلابېلو طریقو جادوکوي، سـزایې هم د سـحر د ډول پوری ارتباط لري، علامه قرطبي په خپل تفسیر کې لیکلې دي: کچېری ساحر دعوی وکړي چې زه د انسـانانو بڼه او صـورت بد لووم، او د حیوان په بڼه یې راولم یا کولای شم په یو شپه کې دیوی میاشتی مزل وکړم، او کولای شم چې د (وسیلی پرته) والوزم، او پدی ترڅ کې خلکو ته هم و وایي چې: زه په حق یم نو د غه کوډګر کافردی. ځکه د پیغمبرانو په څیر معجزاتو دعوا کوي، خو کچېری و وایي چې سحر چل دوکه او خیال خپرول او تزویر دی نو نه کافر کېږي او سزای وژل ندی بلکه ګنهکار دی.

نو څلور واړو امامانو په څیر نور علماء چې وایي: ساحر کافر دی، باید ووژل شي، موخه یې داده چې ساحر په دا سی خبرو سحر کړی چې د کفر موجب دي، که دغه شان خبری نه وي نو نه وژل کېږي بلکه ګنهکار دی. اما شافعي رحمت الله علیه فرمایي: ساحر دی نه وژل کېږي مګر هله چې په خپل سحر سره یې څوک وژلی وي او اقرار وکړي چې قصدا یې قتل کړي دی.

د امام ابوحنیفه، امام مالک او امام احمد په اند (کچېری کوم مسـلمان جادو وکړي نو مرتد شو او توبه یې نه قبلېږي او وژل یې واجب دي).

او د امام شافعي او دیو روایت مطابق د احمد په اند: ساحر باید توبې ویستلو ته اړ ویســـتل شي او وژني دی نه ځکه چې ګناه یې د شرک نه لوړه نده، مشرــک هڅول کېږي توبې ته نو ســاحر دی هم مجبور کړای توبی ته او که ســاحر کافرؤ نو توبه یې قبلېږي همغه شـان چې د فرعون د دربار ســاحرانو توبه وکړه او ایمان یې راووړ او الله ﷻ یې توبه قبوله کړه نو توبه د دغه مرتد (هغه څوک چې د سحر په جرم مرتد ګڼل شوی) توبه هم قبلېږي.

د سحر د زده کړې حکم:

جمهور علماء فرمایې: د ســحر زده کړه چې په هر هدف وي حرام دی، ځکه قرآن کریم د ســـحر زده کړه بده ګڼلی اورټلی یې ده او فرمایلي دي: چې په زده کړه کې یې هیڅ ډول ګټه نشته ده (**وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلاَ يَنفَعُهُمْ**).[1]

او هغوی هغه برخی زده کوله چې دویته (د دنیا او آخرت په لحاظ) زیان درلوده او کومه ګټه یې ورته نه درلوده.

ابن قدامه فرمایي: (پدی کې د علماؤ تر مینځ هیڅ اختلاف نشــته چې د ســحر تعلیم او تعلم حرام دی).

امام نووي فرمایي: د ســحر زده کړه حرامه او کبیره ګناه ده او پېغمبر ﷺ ســحر په اوو هلا کوونکو کې شـــمیرل دی، او ځینی کوډی د کفر موجب ګرځي او ځینی

---

۱ - د البقری سورت ۱۰۲ آیت.

نوريې کبيره ګناه وي دي عبدالرزاق د صفوان بن سلم نه روايت کړي: (**قال: قال: رسول الله من تعلم شيئا من السحر قليلا أو كثيرا كان آخر عهده من الله**).[1]

(چاچې د سحر کم يا زيات تعليم وکړ هغه تړون يې چې د الله ﷻ سره کړی پای ته ورسيده).

البته ځينی وايي: ددی لپاره چې سـحر باطل کړای شـو زده کړه يې رواده خو استدلال يې منطقي ندی ځکه د سحر باطلول او له منځه وړل خپله د سحر زده کړي او تعليم ته اړتيا نه لري ځکه د سـحر له منځه وړل صـحيح او سـمه طريقه لري چې پيغمبر ﷺ د سحر په ابطال کې په خپله کارولی ده نه دا چی سحر يې ياد کړ.

د معجزی او سحر فرق:

معجزه د پيغمبرانو د ادعاؤ د تصـديق لپاره د الله ﷻ لخوا ورکول کېږي معجزی خارق العاده او حقيقت لرونکي کارونه دي چې باطن او ظاهريې سره تړلی وي.

او طبيعي اسـباب په هغو کې هيڅ ډول نقش او دخالت نه لري ، او که د ځمکی د سر ټول خلک هڅه او هاند وکړي چې د معجزاتو بېلګی را وړي عجز او بی وسي يې پدی ډګر کې لا څرګندېږي او څومره چې پکې زيرشي هومره يې د صحت يقين زياتېږي.

---

١ - مصنف عبدالرزاق، حديث: ١٨٧٥٣.

اما سحر او کوډی د هغه چا لخوا ترسره کېږي چې د ګناه او معصیت په کولو او اسلامی مقدساتو ته په توهین او د ایمان او نظافت نه په لری والي، شیطانان خوښ او د ځان لپاره یې مطیع او فرمان وړونکي جوړوي. او جادویې له بنسټه هیڅ حقیقت نلري او د نړی د طبیعی قانون ماتولو وس نلري، بلکه سحر یې یو ډول خیالات، ځان ښودنه، دروغ، او باریکه حیلی دي، او هر هڅه کوونکی سړی یې ترسره کولای شي او جادو ګر شي آن کولای شي د جادوګرانو ساحران راسی، فتنه اجوونکي، ماجراجوی فاسق او فاجر کسان دي چې د ټولنی د وګړو ترمنځ، جګړي، تر بګني، دښمني پیداکوي او ستونزی زېږوي.

خو کچېری د متقی او په نبوی سنت باند منګل لکوونکي سړي نه خارق العاده کار صادر شي د هغه پرهیزکار سړی کرامت بلل کیږي او د کرامت خاوند هغه څوک دی چې تل الله تعالی ته متوجه وي او نیت یې ښه وي او کله چې کرامت تری څرګند شي د الله شکر باسي او خپل کرامت پټ ساتي او په بیان او وضاحت سره یې د غوره والي او بزرګي اظهار نه کوي او تقوی او تواضح یې زیاتېږي.

آیا ساحران په غیب پوهېږي؟

عالم الغیب هغه ذات دی چې د ټولو څیزونو نه خبر وي او په هر وخت او هر ځای کې حاضر او ناظر وي او هغه یوازی د الله ﷻ پاک ذات دی، اما غیر د الله

ﷻ هغه څوک چې وجود يې د زمان او مکان پورې محدود دی طبعا نشي کولای د هرڅيز نه خبروي الله تعالی فرمايي: (**إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ**).[1]

د قيامت ورځی د راتلو معلومات يوازی الله تعالی ته دي او هغه ذات دی چې باران راووروي، او همدی خبر دی چې رحمونو کې څه دي، او هيڅوک نه پوهېږی چې سهار ته څه کوي او هيڅوک نه پوهېږي چې په کومه ځمکه مري، الله ﷻ پوه او خبردار دی.

او فرمايي: (**وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا وَلاَ حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْضِ وَلاَ رَطْبٍ وَلاَ يَابِسٍ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ**).[2]

د غيب خزانه او کلياني د الله ج په لاس کې دي او د هغه پرته هيڅوک ترې خبرندي، او الله ﷻ په هغه څه چې په وچه او سيندکې دي خبر دی، او هيڅ پانه نه را غورځيږي مګر دا چې هغه پرې خبر دی (الله ﷻ پرې خبر او په علم کې يې پيدا دی او) په محفوظ لوح کې ثبت او ضبط دی.

يقينا هغه غيب چې هيڅ څوک ترې کومه اطلاع نلري مطلق غيب دی چې الله ﷻ هغه د ځان لپاره خاص کړی دی او هغه ته د رسيدو لپاره هڅه باطله او

---

١ - د لقمان سورت ٣٤ آيت.

٢ - د لقمان سورت ٥٩ آيت.

ناشـــنونی ده او د هغه د پوهیدو مدعي کافر دی. پیغمبر ﷺ چې د ځمکی د سر غوره او بهتر مخلوق دی او د الله په نزد ټولو نه محبوب شـــخص دی په هغه خبر ندی.

الله ﷻ پیغمبر ته امر وکړ چې هغو کســـانو ته چې انتظار یې درلود پیغمبر هغوی.

د ټولو راتلونکو او تیرو رازونو نه خبر کړي او آن ورته ووایي په راتلونکي کې د هغوی په ژوندکې څه ډول پیښـــی را منځته کیږي ترڅو د ضرر پورته کولو او منفعت را جلبولو لپاره هڅه وکړي ووایي: الله متعال فرمایي: (**قُل لاَّ أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلاَ ضَرًّا إِلاَّ مَا شَاء اللّهُ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لاَسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَاْ إِلاَّ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ**).[1]

ووایه! زه د کومې ګټې او زیان څښـتن نه یم د ځان لپاره مګر هومره چې الله یې وغواړي او (د لطف له مخی ما د نفع په را جلبولو باد ضرر دفع کولو څښـــتن او ځواکمن وګرځوي) کچیری په غیب پوهیدای نو ډیری ګټې به ما د خپل ځان لپاره په برخه کړی وای (ځکه چې د سـببونو سره به یې آشـنا ووم) او هیڅکله به شر او بلاماته نه را رســـیدله، (ځکه چي د موجباتو نه یې خبرؤم، اوس چې د آفتونو او مضرـاتو له موجباتو او د خیراتو او برکاتو له اسـبابو خبر نه یم څنګه به د

---

١ - د الأعراف سورت ١٨٨ آیت.

قیامت د را پیښـــیدونه خبرؤم) زه د مومنانو بیرونکی او زیری ورکوونکی پرته بل څه نه یم.

او فرمایي: (**قُل لاَّ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ اللّهِ وَلا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلاَّ مَا يُوحَى إِلَيَّ**).[1]

ای پېغمبر! کافرانوته ووایه: زه نه وایم خزانی (د نړی روزی او رازونه) د الله ﷻ ځما په تصرف کې دي او زه نه وایم چې په غیب پوهیږم (ځکه هغه څوک د نړی له غیبو خبر دی چې په تولو وختونو اوځایونو کې حاضر او ناظروي او هغه فقط الله دی) او تاسـوته نه وایم چي زه فرښـته یم زه پرته د هغه چې ماته وحی کیږي د بل څه تابعیت نه کووم.

البته کچېری الله ﷻ وغواړي یوازی ځینی پېغمبران د رسالت په ترسره کولو کې د ضرورت له مخی د ځینو غیبی کارونونه خبره وي هغه هم په داســـی فرښـــتی چې د نورو فرښتو لخوایي ساتنه کیږي لکه چې الله تعالی فرمایي: (**إِلَّا مَنِ ارْتَضَى مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا**).[2]

په غیب پوه الله تعالی دی او هیڅوک په غیب نه پوه کوي مگر هغه پېغمبر چې الله ورته خوښ وي (الله ﷻ ددغه اندازه غیب ســـاتنی لپاره چې هغه پری خبره وي د فرښتو له منځه) ساتونکي او محافظان مخکی او وروسته ترینه روانه وي. نو

---

۱ - د الأنعام سورت ۵۰ آیت.

۲ - د الجن سورت ۲۷ آیت.

هغه کســان چې دعوا کوي چې جادوګران شــیطانان پیریان او نور انســانان په غیبو پوهیږي کله اشــتباه کې پریوتي دي قرآن د جنیاتو له خولی وایي (**وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ فَمَن يَسْتَمِعِ الْآنَ يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَّصَدًا**).[1]

مونږ (ددی نه وړاندی) د آسمان په کونجونو کې د ا ستراق سمع لپاره کېنا ستو (او خیرو ترلاســه کولو) مګر اوس هر څوک وغواړي چې غوږ کېږدي په خپل کمین کې به تیار شهاب بیامومي چې دی په نښه کوي، مونږ ته پوهېږو چې آیا د ځمکی اوســیدونکو لپاره شر او بلا په نظر کې نیول شــوی او یا دا چې پروردګاریې د دوی خیر او هدایت غوښتی دی.

دا د آســمان د خبرونو په هکله ؤ اما د ځمکی خبرونه چې د دوی تر مخی دي او ورته نژدی دي د هغو نه هم کومه اطلاع نه لري، کله چې حضرت سلیمان ﷺ مړ شو د هغه له مړینی نه خبر نه شول او اوږده موده یې خدمت وکړ ترڅو چې وینو د سلیمان ﷺ امسا ووهله او هغه په ځمکه ولویده بیا د هغه مرګ ته موجه شول، او فرمایي: (**فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَى مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ**).[2]

کله چې پر ســلیمان (چې د قدرت او عظمت نښــه وه) باندی مونږ مړینه مقرره کړه جنیان یي د هغه د مړینی خبر نه کړل مګر هغه وینی چې دده امســایې

---

۱ - د الجن سورت ۹ آیت.

۲ - د سبأ سورت ١٤ آیت.

خوړله کله چې سلیمان ﷺ لاندی ولویده پوه شول چې کچېری په غیبو پوه وای په سپکوونکي عذاب کې به پاتی نه ؤ.

پدی څرګندو آیتونو سره خلکو ته د پیریانو وضعیت ښکاره شو چې هغوی د غیب رازونو نه خبر ندی او ځینو خلکو بی معنا داسی عقیده د هغوی په هکله درلودله او ټولو ته جوته شوه چې د جن ډله د غیب نه خبره نده او ناپوهو انسانانو چې د هغو نه پوښتنی کولی په سخته اشتباه او خطا کې ول.

که څوک ووایي چې: جنیان او شیطانان که د راتلونکو اخبارونو په اړه نه پوهیږي د تیرو کارونو په هکله کیدای شی صحیح او مثبت ځواب و وایي؟ باید وویل شي په هر صــورت کې د کاهنانو، جادوګرو نه پوښــتل او ورتلل ناروا او ښــه کارندی، ځکه کاهنان هغه کســـان دي چې د ایمان، تقوی او کرامت نه لری دي او د جنیاتو تســخیر د کبیره ګناهونو له کولو پرته او ایمان نه د لری والی پرته شــونی ندی.

پیریان چې طبیعت یې د فســق، فجور، ګناه او معصــیت سره اغږل شــوي دي او کوم راپورونه چې کاهنان او کودګر یې ورکوي په ټوله کې هغه څه دي چې شیاطین یې استراق سمع کړي او غلا کړي دي او پیریان سل ګونه دروغ ورسره زیاتوي او کاهنانو ته یې القاء کوي او کاهنان ســـلګونه نور دروغ ورسره یوځای کوي او خلکو ته یې بیانوي.

په پای کې یوه رښتیا خبره په خروار دروغ، پوچو او باطلو خبرو کې قرار لري.
نو خبری یې مشروعیت نه لري او تصدیق یې جائز ندی.
اما دا چې کاهنان کله کله دغلو په پیزندلو یا د اشـخاصـونو مونو په پوهیدلوکې بریالي وي نو هرو مرو کوم فریب پکې وي یا بل چا دغه معلومات ورسره شریک کړي دی یا د شیطانانو او پیریانو لخوا وي ځکه د پیریانو او شیطانانو علم په هغو حوادثوکې چې واقع شـوي او ترسره شـوي دي محال نه دی او همغه شـان چې کېدای شي ځینی انسانان غل د غلا په مهال وکوري پیریان د همدې ځمکې پر مخ د خلکو سره ژوند کوي د هغوی په هکله هم دغه احتمال وجود لري خو په هر حال الله تعالی فرمايي: (**وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى**).[1]
کوډګر چې چرته لاړشي نه بریالی کېږی.

آیا دوکه بازانو ته ورځی؟

ځینی خلک چې مریضان شي یا یې حال خرابېږي د خپل علاج لپاره کوډګرو ته ورځي او د هغوی نه د عا او تعو یذ اخلي په تیرو زمانو کې د علم او پوهی د کمښـــت لامله دغو مکارانو ډېر مراجعه کوونکي در لودل او ډېر خلک د دوی په جالو کې اخته ول، خو اوس چې د خلکو علم او پوهه او خبرتیا زیاته شـــوی او ماهر طبیبان د بیمارانو د علاج لپاره وجود لري نو ددی پاګلانو بازار چندان

۱ - د طه سورت ٦٩ آیت.

خوندور ندی، خو د ایمان د کمزوري او په الله ﷻ باندی د توکل ضـعف له کبله اوس هم ځینی کسان د مشکلاتو د رفع کولو لپاره دغه مکارانو ته ورځي او دغه چپاولګران ددی فن د پوښـښ لاندی د خلکو د عقیدي، مالونو په چورولو او غلا کولو لاس پوری کوي. او د وینو پـه ځیر چې لرګی لـه داخـل څخـه خوري د شیطانانو او پیریانو په مرسته ټولنه له منځه ورانوي او د حرام مال د تغذیی لامله همیشـه په فقر او تنګلاسـی کې ژوند تیره وي، که چېری په خپل دعوا کي قادر وای نو د ټولو نه وړاندی به یې خپل ځان بې پروا کړی وای.

او د ځمکی خزانی با یې را ویسـتلی وی او د پاچایانو تختو نه به یې چپه کړي ول، او د قدرت په ګدی به ناست ول، او د جاهلو، ناپوهو او ضعیف العقیده خلکو د مالونو له چورولو څخه یي لاس ویسـته البته ددی سـاحرانو او مکارانو فرق له شرعي دعا لیکونکو سره بایدوشي.

شرعي دعا لیکونکو نښی:

۱- په خپل عمل باندی اجر او مزدوري نه غواړي.

۲- دعا لیکل خپله بوختیا او حرفه نه ګرځوي

۳- دغه افراد په ایمان، تقوی او نیکو اعمالو کې مشهور دي.

٤- په دعاګانو کې یې طلسم او نا مفهومه جملات نه وي.

٥- داسی دعاګانی استعمالوي چې د رسول الله، صحابه ؤ او اسلافونه ثاتبې وي.

٦- د بی پردی او نامحرمو ښځو له منلو نه انکار کوي او لری اوسي

٧- پردیو ښځو سره خلوت نه کوي او بدن باندی یې لاس نه وهي

د دوکه مارو او کوډګرو خصوصیات:

١- شیطان ته ځان سپاري

٢- لجوج افراد دي چې د خپلی شیطاني عقیدی نه یوه ذره نه شاته کېږي.

٣- بی ضمیره، بی احسا سه او په زړه مړه خلک دي چی هیڅ خیر، ګټه پکې نشته

٤- د شیطان په استمداد او یاري اصرار کوي

٥- د شیطان او اعوانو په قدرت پوره عقیده لري

٦- د ګناه، معصیت او اخلاقي رذایلو ډګر پکې پوره تیار دی

٧- سپک، لویدلي، بی ارزښته او بی همته خلک دي

په پای کې هیله مندیو چې د الله عزوجل معرفت او پیژندنه هرڅه زیاته ز مونږ په زړه کې ځای کړي او مونږ د باطلو عقیدو او خرا فاتو د پلیتی او د حاسدانو د حسد او ماکرینو د مکر او ټولو بدیو څخه وساتي.

(آمین یا رب العالمین)

٦٥

ټاکنې

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدنا محمد و على آله و صحابته و من اهتدى بهديه الى يوم القيامة أما بعد:

اوسني دور ناوړه سیاست د (رای) او (انتخابات) کلمی داسی بدنامی کړي چې په اوریدو سره یې د دروغو، بډو، دوکې، چل او فریب مفاهیم په ذهنونو کې راځي، په همدی خاطر ډیری محترم او با شخصیته خلک د انتخاباتو گرداو ته د ننوتلو نه ځان ساتي ستره اشتباه داده چې ځینی گمان کوي چې د رای ورکولو، انتخاباتو سیاست د دین سره هیڅ ارتباط نه لري او دغه تصور او خیال ځمونږ په ټولنه کې د ناوړه رائجو تفاهماتو منشا ده چې پدی ضرورت کې بیان او تشویق پریښودو د هغوی د نظر وړگرځیدلی.

رای ورکول شرعا واجب دي:

لومړنی سوء تفاهم چې په وگړوکې پیداکیږي د ساده سوچ زیږنده ده چې دوی کې شته، چې د پیدایښت جرړه یې د پایلو په اندازه یې بده ده او پیدایښت علت یې دغه باور او تصور ده چې ننی سیاست په توطئه، دوکه، خیانت تبدیل شوی همدا لامل دی چې عزتمن انسانان. ۱ـ- سیاست ته رانشی.

- ټاکنو کې نوماند نشي.

- انتخاباتی نوماندانو ته رای ور نکړي.

دغه تفکر که څه هم د پاک نیت نه سرچینه اخلي، خو په هر حال اشـــتباه او د ملت او هیواد مصالحو په ضرر تمامېږي د شک پرته کله کله منفعت غوښتونکي خلک د هېوادونو په سـیاسي ډګرونو را څرګند شـوي دي، ترڅو چې رښـتیني او صالح افراد د هېوادو نو سیاسي صحنی د اصلاح لپاره اقدام ونه کړي، وضعیت یي روځ تر ورځي خرابېږی، بالآخره دغه پلیتي د خلکو کورونو ته سرایت کوي او دا کار د هوښـیاری نه دی چې دلری ددی سـیاسـت د ناخوالو او بدیو شـاهد واو سو، بلکه د عقل او پوهی غو ښتنه داده چې د سیا ست ډګر د هغو کسانو له واکه را وباسو چې هغه یې پلیت کړی دی.

ابوبکر صـدیق رضـی الله عنه د پیغمبر ﷺ قدر من فرمایش نقلوي: (**ان الناس اذا رأوا الظالم فلم یاخذوا علی یدیه أوشک أن یعمهم الله بعقاب**).[1]

ژباړه: کله چې خلک کوم ظالم ګوري او له ظلم نه یې را تم نکړي نو نژدی دی چې الله ﷻ ټول په سخت عذاب اخته کړي.

کله چې تاسی په خپلو سترګو ګوری چې ظلم کېږي او د اوس لری چې په ټاکنو کې په خپل ګدون سره څه اندازه د ظلم او سـختوالی را کم کړی، نو د پورتني

---

١ - سنن الترمذي، حدیث: ٢١٦٨.

حدیث په اســـاس په تاســـو لازمه ده چې د کرار ناســـتي په ځای د ظالم مخه ونیسئ او د ظلم او تیري نه یې منع کړی ځینی متدین انسانان پدی عقیده دي چې ځمونږ رای ورکول د وضعیت په ښه والي کې هیڅ اغیز نه لري، او هیڅ ډول کومه فایده نه لري، خو ښه فکر و کړئ چې د ا سلام خوږ پیغمبر ﷺ څه فرمایي: د احمد مسند کتاب د حضرت سهل بن حنیف رضي الله عنه روایت نقلوي چې رسـول الله ﷺ و فرمایل: (**و من أذل عنده مؤمن فلم ینصـره وهو یقدر علی أن ینصـره أذله الله علی رؤوس الخلائق یوم القیامة**).[1]

ژباړه: که د چا په مخ کې د کوم مومن ســپکاوی کیږي پداســی حال کې چې د منع کولو وس یې لری خو یوازی ورته ګوري الله ﷻ به یې د قیامت په ورځ د خلکو په وړاندی رسوا کړي.

رای نه ورکول حرام دی: د شریعت له مخی رای ورکول د شـــهادت او ګواهی په څېر دی.

لکه څنګه چې د دروغو ګواهي حرام او نارواده د رښـــتیا ګواهی پټول هم حرام دي قرآن مجید فرمایي:(**وَلاَ تَكْتُمُواْ الشَّهَادَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ**).[2]

ژباړه: شاهدي مه پټوئ هر څوک یې چې پټوي یقینا زړه یې ګنهکار دی.

---

۱ - مسند الامام احمد، حدیث:۱۵۹۸۵، او:۱٦۰۸۱.

۲ - د البقری سورت ۲۸۳ آیت.

حضرت ابو موسی اشعری رضي الله عنه وايي: چې رسول الله ﷺ و فرمايل: (**من كتم شهادة اذا دعي اليها كان كمن شهد بالزور**).[1]

ترجمه: څوک چې شاهدي پټه کړي کله چې د شاهدی اداء کولو لپاره را وغوښتل شي د هغه چا په څېر دی چې د دروغو شاهدی يې ورکړی وي.

د شهادت اداء کولو په اړه اسلام دا ښه ګڼلی چې انسان مخکی لدی چې د شهادت غوښتنه ور څخه وشي هغه خپله دنده وګني او اداء يي کړي او د چا تشويق مطالبی، او بلنی منتظر ونه اوسي.

حضرت خالد رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ و فرمايل: (**ألآ أخبركم بخير الشهداء الذي يأتي بشهادته قبل أن يسألها**).[2]

معنا: آيا تا سوته د غوره ګواهانو په اړه خبر در نکړم؟ هغه څوک دی چې د شهادت غوښتنی نه وړاندی يې اجراء کوي، نو د ګواهی او رای ورکولو نه ځان ساتل د ديانت سره اړخ نه لګوي ټولو نه مهمه دا چې ښو خلکو ته رای ورکول د هر مسلمان دنده ده باید پوه شو چې د متدينو شريفو او منځ لارو خلکو د انتخاباتی صحنو نه لری والی ددی موجب ګرځي چې په انتخاباتو کې د سيالی ډګر بی دينه او وتنه اچوونکو خلقو ته پاتی کيږي او بيا دا هيله مه کوئی چې حکومت د خير غوښتونکو او خدمت کوونکو خلکو لاس ته ورشي کچېری متدين

---

١ - مسند الشاميين، حديث: ١٩٤٢.

٢ - سنن الترمذي، حديث:٢٢٩٥.

خلک د سیاست له ډګره لرې شي نو په هېوادونو کې د اخلاقي فساد ګمراهي او ضلالت بو کتوونکی خپراوي او انتشار نه ګله او شکایت یو ناسم او بیځایه کاردی. ځکه په خپله همدوی ددغه انحرافاتو او بی بندو باری مسؤول دي او هریو په خپله برخه د حکومتي مسئولینو په عذاب یا ثواب کې شریک دي.

د پام وړ خبره داده چې راتلونکي نسلونه په هیڅ توګه ددغه شر او فساد نه په امن پاتی کېدای نه شي ځکه د ظلم سیلاب کرار کرار ټول ځای نیسي او د اصلاح ټولی لاری تړمی او پدی ترتیب سره راتلونکی نسل به د ظلم په څپو کې غوپی وهي.

ټاکنې یوازی یو دنیوي کار نه دی:

د پیل نه ډیر بد سوء تفاهم د انتخاباتو په هکله دادی چې خلک دین یوازی د روژي، لمونځ پوری تړي او سیاست او سیاسي او اقتصادی فعالیتونه ددین نه جلا کارونه ګڼي او پدی باور دي چې ټول یاد شوي کارونه د دین نه جدا دي لکه چې ډیری خلک لیدل شوي چې په شخصي ژوند کې د عبادت، ذکر، لمونځ او روژي پا بند وي. خو دسودا ګری را کړه ورکړه کې د حرام او حلال په فکر کې نه دي، او د نکاح، طلاق او قومي او کورني ارتباطاتو په هکله د دین او شریعت فرامینو ته اصلا کوم پام نه لري.

ځینی خلک په عملی ډول ټاکنې دینی امورو پوری خاص بولي او ګڼې ناخوالې پکې قبلوي او ددینه غافل دي چې څومره لویه ګناه یې کړی ده، لکه چې: ډیر خلک د ښو نظریاتو او اسلامي عقیدی در لودو سره سره د شخصي او کورني تړاو په اساس غیر اصلح فرد ته رای ورکوي، پداسی حال کې چې ښه خبر دي چې دغه سړی صلاحیت نه لري او د رای مستحق ندی، بلکه سیال یې اصلح دی، خو د خپلوالی ارتباطاتو په بنسټ او... غیر اصلح ته رای ورکوي او هیڅ فکر نه کوي چې ددین او شرع له نظره یې څومره لویه ګناه کړی ده.

رای شهادت ده او قرآنکریم د شهادت په هکله فرمایي: (**وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُواْ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى**).[1]

ژباړه: کله مو چې خبری کولی (یعنی شاهدي کوي او یا حکم کوي) انصاف کوی، اګر که محکوم علیه ستاسو د خپلوانو څخه وي. کله چې د چا ضمیر او وجدان یا شریعت تشخیص کړي چې کوم چاته چې رای ورکول کېږي صلاحیت د رای نه لري، یایي مقابل لوری ډیر ښه دي، نو پدی صورت کې د شخصي روابطو په اساس رای ورکول د دروغو شاهدي ګڼل کېږي او دروغجنه شاهدي، قرانکریم د بت پرستی سره تشبیه کړی ده، الله جلت عظمت فرمایي:

(**فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ**).[2]

---

۱ - د الأنعام سورت ۱۵۲ آیت.

۲ - د الحج سورت ۳۰ آیت.

معنی: ځان وســاتئ له پلیتی د بوتانو او ځان وســاتئ د دروغ وینا نه (یعنی د دروغو شاهدی).

په گنو ځایونو کې رســول الله ﷺ دروغجنه شــاهدي د اکبر الکبائر (لویه گناه) شـمیرلی ده او سـخت وعیدونه یې فرمایلي دي: د حضرـت ابوبکر صـدیق رضي الله عنه نه روایت دی چې رســول الله ﷺ و فرمایل: (**ألا أنبئكم بأكبر الكبائر؟ قالوا: بلى يا رسول الله قال: الاشراک بالله عزوجل و عقوق الوالدين قال: و جلس و كان متكئا، فقال: ألا وقول الزور و شهادة الزور فمازال يقولها حتى قلنا ليته سكت**).[1]

(آیا د ســترو گناهونونه تاســی خبر نگړم؟ الله سره ســیال، د مور او پلار نه منل (بنه پام وکړئ) د دروغو شاهدي! دروغ وینا! ابوبکر صدیق رضی الله عنه وایي: حضرــت رســول الله ﷺ ډډه وهلی وه، کله چې د دروغو شــاهدي خبره راغله نو سمدستي نیغ کیناست. او د دروغ کلمه یې څو ځلې و ویله او مونږ په زړونو کې هیله وکړه چې کاشــکې آنحضرــت ﷺ غلی شي. دغه رټنی فقط د رایې ناســم اســتعمال په صــورت کې تحقق پیداکوي، هغه ســړی چې د کورني روابطو په خاطر رایه ورکړي یا د ثروت او پیســو را ټولولو په خاطر غیر اصــلح نوماند ته رای ورکړي د دروغجنی شــاهدی برســیره د بډو گناه یې هم وکړه، نو د انتخاباتو

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث: ۱۲۰۲.

صـندقونو ته رای اچونه یوازی یو د نیوي کار مه ګڼئ او دا تصـور مه کوئ چې دا مسئله ددین پوری هیڅ تړاو نه لري.

غیر اصلح ته رای ورکول ډیره سخته ګناه ده:

ځینی وایي: کچېری نا هل ته رایه ورکول ګناه ده کومه مسـئله نده ځکه د خپلو ګناهونو نوم لړکې یوه ګناه زیاتوو، باید پوه ګرد شـــو چې دا د شـــیطان او نفس دوکه ده، کچېری څوک د ګناه کولو په ترڅ کې دغســـی فکر ولري نو هیڅکله به د ګناه کولو نه خلاص نشي، مثلاً: د چا بدن ته لږ نجاست او پلیتی ورسېږي باید د پاکولو په فکر کې شي نه دا چې د دغه لږ نجاســت لپاره خپل ځان د پلیتیو او فساد په ګداو کې وغور ځوي.

ګناوې په خپل منځ کې ډیر تو پیر لري، هغه ګناوې چې بدی اغیزی یې ټول ملت نیسي، ضرر یې د شخصي ګنا هونو په پرتله ډیر سخت دی، دیو وکړي ګناه که څه هم په خپل ذات بده، ناوړه وي خو ناوړه پایلی یې دری او څلورو تنو ته تجاوز کوي او اخوا تیری نه کوي، د همدی لامله عموماً تلافی کول یې ممکن او د جبران وړ ده او توبه ورنه کول هم آســانه ده،او د ښښـنی احتمال هم پکې شـته ده، هغه ګناه چې سپیره پایله یې ټول ملت، هېواد را نغاړي د هغی تلافي ممکن نده او که څوک غواړي چې راتلونکي کې تری توبه وباسي خو هغه ګناه چې پدی تړاو شـــوی ده، په کامل ډول نه تبرئه کېږي او د عذاب څخه د خلاصـــون

هیلی یې ډیری کمی دي، نو دغه گناه دغلا شـــوکو زنا او نورو ټولو گناهونو نه ډیره سخته ده او دغه (دروغجنه گواهی) په نورو گناهونو قیاسولای نه شو، کاملاً صحیح دی چې مونږ څلوریشتو ساعتونو په اوږدوکې گنهی گناوی کوو، خو ټولی دغه گناوی د هغی ډلی څخه دي چې کچېری الله ﷻ د توبی کولو توفیق ورکړي، بښـــل کېږي، او تلافي یې شـــونی ده، خو معنای دانه ده چې مونږ هغو گناهونو په وړاندی سر ټیټ کړو چې تلافي یې شونی نده او بشنه یې ستونز من کار وي. ځینی تصور کوي چې د سلگونو زرو رایو په وړاندی د یو سړي رایه کوم رنځ دوا کولای شي؟ او که یوه رایه ناوړه ســـړي ته ورکول شي د هیواد او ملت په راتلونکي باندی په څه اغیز ولري؟ لومړی: باید یوه شئ کچېری ټول افراد د ملت دا شان فکر ولري ښکاره ده چې په تول ښار کې به پوه رایه هم په صحیح ځای کې ونه کارول شي.

دوهمه: د رایو شـمېر نه چې اوس رواج او متداوله ده داســی ده چې دیو پاگل او جاهل شـــخص رایه هم د اهمیت وړ ده او په ټولو راؤ کې د هېواد او ملت په گټه یا زیان د بدلون لامل گرځي. کېدای شي یوه رایه هم د بیکاره، بی دین، نوماند په گټه په صندوق کې واچول شي او یوازی همغه یوه رایه په انتخاباتو کې د هغه د بریا او په هېواد او ملت باندی د واکمنېدو باعث گرځي. او ډیر وخت دیو عادي ښاري غفلت او تقصیر ټول هېواد هلاکت ته رسوي. ځکه په اوسني نظام کې د

هر وګړي رایه ډیره ګتوره او ارزښـــتمنه وي او دا د هر شـــخص ملي، اخلاقي او شرعي دنده ده چې په ځانګړي اهمیت سره خپلی رایی ته توجه وکړي او هغه هغه چاته ورکړي چې اصلح او په رښتیا مستحق وي.

د انتخاباتي مبارزاتو او تبلیغاتو دوران لس ناوړه کارونه:

د ټاکنو غوغا داسی لوی طوفان راولي چې تیاری او قباحت یې ټوله ټولنه نیسي باید اجازه ورنکړو چې په دی دوران کې شریعت، اخلاقو، مروت او نارینتوب ته صدمه ورسېږي.

۱ـ هغه ګناهونه او منکرات چې ځمونږ په ټولنه کې د انتخاباتو اړوند شته، د ټولو ریښه د اقتدار هوس او پوست او مقام ته د رسیدلو تمه ده چې اقتدار غوښتونکي د جواز لاری پیداکولو لپاره کله کله انتخاباتي ګناوي د خپل ځان او ملت په خیر تعبیروی. پداســی حال کې چې د قرآن ســنت لارښــونی د اقتدار او حکومت په هکله دادي چې دا د ویاړ جام او مډال نه دی چې د ترلاســه کولو لپاره یې عجولانه اقدام وشي، بلکه ډیر دنیوي او اخروی مســئولیتونه دي چې ژمنه کولو سره یې د انســان په اندامونو لرزه راځي او د ضرورت او لزوم پرته باید ځان په ارزښت ې ونه غورځوو.

په همدی خاطر کله چې د سیدنا فاروق اعظم رضـی الله عنه نه غوښـتنه وشـوه چې عبدالله بن عمر رضی الله عنه د خلافت لپاره نوماند کړي په ځواب کې یې

و فرمایل: (د خلافت مسئولیت د خطاب کورنی یو فرد ته بس دی، نه غوارم دغه دروند بار د خپل ځوی په اوږو کېږدم).

که رښتیا د چا په زړه کې واقعي احساس د مسئولیت ددغه دروند بار وي...

بی شکه اقتدار، پوست او مقام ته رسیدل په صحیح روش او تگلاری سره صحیح او روا او د هېواد او ملت ترقي لامل گرځي او د هغه دهری وینا، کردار او گمان نه یې خیر غوښتنه ښکاري چې په نتیجه کې یې هغه خرابیانی او مفاسد چې د بی قانوني او گناه نه موجود یږي ددی سرې د واکمنی په مهال هیڅکله نه پیداکېږي هغه خرابیانی چې د هېوادونو او سنی سیاسي فضایې زهر جنه کړی ده پدی خاطر دی چې اقتدار او حکومت یو منفعت لرونکی، خوندور او د مادي مفاد جلبولو موجب گڼل کېږي، او هغه ته رسیدلو لپاره د هیڅ ډول کوښښ د مصرفولو څخه ډډه نه گېږي، همدا د اقتدار غوښتنی حرص دی چې د بریا او خیر توقع باید تری ونشي، او لازمي نتیجه یې داده چی د ځان غوښتنی، استبداد، ځان مني، بی قانوني تری را منځته کېږي او چط په تولنه کې بدی، فساد خپریږي.

۲ ځینی دغه بدي او فساد ځمونږ انتخاباتی مبارزی پوری تړلی دي، یو بل باندی تور لگول، بده ویناي یوه برخه ده مصیبت دلته ده چې انتخاباتي سیالان

هر ډول وینا او کردار د مور شیدو په شان مباح او حلال ګڼي، د ځان بریا او نورو ماتی لپاره ناوړه او تشو تورونو نه ځان نه ساتي.

بلکه هغه د تبلیغاتي جګړی یوه برخه ګڼي چی ددینه پرته د سیاسي بریا محال ګڼی.

د اسلام تعالیم او امر دا دی چې که څوک څومره بد هم وي ناروا تور ور پوري کول تر هغه مهال چې تور ثابت شوی نه وي په هیڅ ډول جائز ندی، هغه ویناوی چې په کنفرانسونو او تبلیغاتي ناستو کې کوي، دغه شان تورونو نه چې فقهاء کرام یې بهتان بولي او کبیره ګناه ده دی خالی نه وي. ډیر ځلي په تورونو کې داسی بدی خبری په ژبو راوړل کېږي چي د تور ګناه پرته د ښکنځلو ګناه هم ځان سره لري.

د رسول الله ﷺ په حدیث کې د مسلمان د ځان، مال او عزت حرمت د کعبی څخه ډیر مقدس شمیرل شوی. [1]

مفهوم یې دا دی چې د مسلمان په پت، مال ځان باندی تیري جرم حتی (معاذ الله) د کعبی د ورانولو نه هم سخته ګناه ده، لکن په انتخاباتی تبلیغاتو کې د حریف پت په کوڅه، بازار کې تویږي او په تشو تورونو د هغه شخصیت توریږي،

---

۱ - سنن الترمذي، حدیث: ۲۰۳۲.

ټولی ورځپاني، انتخاباتي ناستی آن د ښار په ور او دیوال د تورنولو، او محاشي یو بل ته کیسی کوي او د انفجار په درشل کې دي.

۳ـ د انتخاباتو په وخت د نوماندانو حقیقی هویت بیانول لازم دی، ترڅو خلک د هغوی د دسیو او ضررونو نه نجات پیداکړي اما ددی هدف لپاره باید د نوماند واقعي او صاف بیان شي او همداشان د دوه کارونو مراعاتول ضروري دي:

اول- هیڅ خبره د تحقیق پرته و نه ویل شي او باید په هر حال کې انصاف له لاسه ورنکړو.

دوهم- دغه ناخوښی کار (د نوماندانو رازونو لتول) فقط د ضرورت په اندازه ترسر شي او د مجلسونو ښکلا او محفلونو نقل نشيـ. ځکه که تور نه وي نو حتما د غیبت کبیره گناه کې داخل ده چې قرآن کریم هغه د انسان د مړه ورور غوښی خوړلو سره مرادف گرځولی.

د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه په مجلس کې یو سړي د حجاج بن یوسف سقفی بدیانی بیان کړی د حجاج ظلم او تیری د خلکو په منځ کې مشهور ؤ خو پدی خاطر چې داسی مجلس د هغه د بدیانو بیانولو ځای نه ؤ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنها هغه سړي ته مخ واړاوه وی ویل: دا غیبت دی اگر که حجاج په خلکو زیات ظلم کړی خو دا د هغه د غیبت کولو د جواز دلیل نشي کېدای، پوه شه! چې الله ﷻ د ټولو بی گناه وینو تویو لوغچ د حجاج

نه اخلي نو که غیبت یې وشي د الله په نزد عقاب نلري سره لدی چې د مظلوم نه د ظلم دفع کولو لپاره د ظالم غیبت د ظالم په ژوند کې جواز لري.

٤ ـ په ټاکنوکې د بریا لپاره په نورو باندی د تور لګولو برسیره، ناروا نسبت ورکول، ځان ستاینه او د خدمتونو ترسره کولو ادعا، د هر نوماند د تبلیغاتو اصلی پروګرام دی پام کوئ چې ځان ستاینه او تظاهر په هر مذهب او اخلاقی تفکر کې لږ تر لږه ګناه ده.

٥ـــــ نوماندان د خلکو د هڅولو لپاره چې په ټاکنو کې ګدون وکړي بی فکر او تدبره رای ورکولو لپاره په وعدو او د مقصـــود په مزایدی څرنګه د عمل جامه ور واغوندي بلکه پدی ټینګار کوي چې، په ډیرو وعدوکولو او مزایده کولو سره یې پرنورو برلاسی شي.

مثلاً: وایي: کله چې مونږ وټاکل شـو د مسـتحقینو حالات به ټول بدلوو، د ښـار محروم مناطق به د پاریس په شان و دانوو، مونږ فقر او بیسوادي له جړړو با سو، دغســی او چتی ادعاګانی او خبری ویناوی او بیانیی د ښـار غوږونه ډک او کاڼه کړی دي، په دغو تشـــو ادعاګانو او درغجنو وعدو هڅه کوي ســـاده خلک دوکه کړي.

٦ــ د پوستر خپرول، جلسات کول او حمایوي لاریونو نه د انتخاباتی مبارزو اړینه برخه ده که لاریون د نزاکت او اخلاقو په حد کې وي ناروا ندی.

۷ ـ زیاتي ناستی او لاریونو نه د ښار په اصلي واټونو کې ترسره کوي چې دعا دی خلکو د ټګ راتک لپاره ستونزی جوړوي. د خلکو ګڼه ګونه ستر ترافیک پیداکوي چې لارویان په ســـتونزو او سرګردانی اخته کوي، کېدای شي بی وس او بیمار خلک د دغو ترافیکی موانعو په خاطر د خپل علاج نه پاتی شي او ډیری کارګران چی خوار دي و نه کړای شي په خپل وخت د خپل کار ځای ته ورسېږي. د تړ لو لارو او موانعو په پیداکولو د ښـــار په اصـــلی واټونو کې ډیر کار ګران بیکاره کېږي او د ټولنی زیان منونکو قشرونو ته نه جبرانېدونکي زیانونه رسیږي.

۸ـــ انتخاباتي شعارونو لیکل او پوسترونو نښلول د ښار بڼی په بد رنګولو کې ډیر اغیز لري او د انتخاباتي تبلیغاتو نه بېلېدونکی برخه شـمیرل کېږي او ددغو ګډو وډو شـــعارونو داغونه تر مودو مودو په دولتی او غیر دولتی ودانیو په څهرو ځان ښودنه کوي.

دی کې هیڅوک هم فکر نه کوي چې د نورو د ودانیو بد رنګه کول د هغوی د خوښی پرته د غصب او لاندی کولو په معنی ده.

دیوالونه، ودانی هرو مرو څښتن لری چې د هغه د اجازی پرته ګټه اخستل ترینه حرامه ده نو دا غول او بد رنګه کول یې د ګتي اخســـتنی نه ډیر بد دی، څوک چې د بیسوادی او فقر لری کولو دعوی کوي د شک پرته دا غضب او غارت کوی،

که چیری کوم متدین او زړه سواندی سړی چې ددی کار مخه ونیسي په وهلو او ټکولو یې سبق ورکوي.

۹ــ د رای پلورل او پیرودل او د هغو کسانو سره معامله کول چې زیاتی رایې لري او د هغوی نا مشروعو کارونو ترسره کولو وعدی بیله گناه حسابیږي، چې د ډیرو د خدای نه بی خبر او قیامت نه غافل نوماندانو په منځ کې دود او متداول دی. او همدی دی چې ټولنه تباهی او فساد ته وړي.

۱۰ــــ ښــکاره ده چې د انتخاباتي مبارزو لپاره ملیونونه افغانی پانگه پکار ده او معمولاً ددی پانگی ترلاســه کولو لپاره ســترو قدرتونو ته د لاس اوږدالو جوړښــت منځته ته راځي چې د پردیو پور ورکوونکو شرطونو منل د هېواد گوډ او مات اقتصاد لاورانوي. څوک چې د نوموړي لاری نه دغه پانگه ترلاسه نکړای شی نو د خپلو مالی اړتیاو دلری کولو لپاره د هېواد د شــتمنو نه پور اخلی چې کله کله دغه پیســی د بډو حکم اخلي پدی معنی چط د پیســو اخســتلو په مهال دا شرط ږدي چې هرکله حکومت ته ورســیدی پوړ ورکوونکو ته ځانگړی امتیاز ورکوي که هغوی د پیسو ورکولو نه انکار وکړي په گنو لارو زورول کېږي.

هرگوند چی ځواکمن وي او د بریا امکانات یې د نورو گوندونو نه زیات وي مالی غوښــتنی یې ډیری موثری واقع کېږي او د ضرورت وړ پیســو را ټولو لو چانس

ډیروي. دغه کبیره ګناوی یوازی د بېلګی په توکه یادی شـــوی که ژور فکر وکړو څرګنده به شي چې هر ګناه ګڼی ګناوی تری لندی دي.

ددی نیوکو او را پورونو وړاندی کولو غرض دا نه ده چې په خلکو کې ناهیلی او نا امیدی خپره شي او هم انتقاد لپاره نده، بلکه غرض دادی چې مســلمانان خپلی اجتماعي بیماریانی وپیژني، ترڅو په خپل وس او طاقت سره ددغو ګناهونو له ګرده او وساتي یا هغه مسلمانان چې په ناپوهی سره به دی ګناهونو اخته کېږي د هغو له قباحته خبر شي وژغورل په تولنه باندی څه تاثیر لري؟ ځواب یې دا سی دی چې: په ټولنه کې دیو سړی د همت او ارادی نه انقلاب منځته راځي او یوه پوه انســان نړی نه بدلون ورکوي او په حقیقت کې هر ســړی د ټولنی د بر خلیک ســتوری دی چې خپلی رڼا سره کولای شي یوه ټولنه او ملت د تباهی له کندی نه وژغوري او د نیکمرغی او سعادت څنډو ته یې وباسي.

٦٥

ټاکنې

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدنا محمد و على آله و صحابته و من اهتدى بهديه الى يوم القيامة أما بعد:

اوسني دور ناوړه سیاست د (رای) او (انتخابات) کلمی داسی بدنامی کړي چې په اوریدو سره یې د دروغو، بډو، دوکې، چل او فریب مفاهیم په ذهنونو کې راځي، په همدی خاطر ډیری محترم او با شخصیته خلک د انتخاباتو گرداو ته د ننوتلو نه ځان ساتي ستره اشتباه داده چې ځینی گمان کوي چې د رای ورکولو، انتخاباتو سیاست د دین سره هیڅ ارتباط نه لري او دغه تصور او خیال ځمونږ په ټولنه کې د ناوړه رائجو تفاهماتو منشا ده چې پدی ضرورت کې بیان او تشویق پریښودو د هغوی د نظر وړگرځیدلی.

رای ورکول شرعا واجب دي:

لومړنی سوء تفاهم چې په وگړوکې پیداکیږي د ساده سوچ زیږنده ده چې دوی کې شته، چې د پیدایښت جرړه یې د پایلو په اندازه یې بده ده او پیدایښت علت یې دغه باور او تصور ده چې ننی سیاست په توطئه، دوکه، خیانت تبدیل شوی همدا لامل دی چې عزتمن انسانان. ۱ـ- سیاست ته رانشی.

- ټاکنو کې نوماند نشي.

- انتخاباتی نوماندانو ته رای ور نکړي.

دغه تفکر که څه هم د پاک نیت نه سرچینه اخلي، خو په هر حال اشـــتباه او د ملت او هیواد مصالحو په ضرر تمامېږي د شک پرته کله کله منفعت غوښتونکي خلک د هېوادونو په سـیاسي ډګرونو را څرګند شـوي دي، ترڅو چې رښـتیني او صالح افراد د هېوادو نو سیاسي صحنی د اصلاح لپاره اقدام ونه کړي، وضعیت یي روځ تر ورځي خرابېږی، بالآخره دغه پلیتي د خلکو کورونو ته سرایت کوي او دا کار د هوښـیاری نه دی چې دلری ددی سـیاسـت د ناخوالو او بدیو شـاهد واو سو، بلکه د عقل او پوهی غو ښتنه داده چې د سیا ست ډګر د هغو کسانو له واکه را وباسو چې هغه یې پلیت کړی دی.

ابوبکر صـدیق رضـی الله عنه د پیغمبر ﷺ قدر من فرمایش نقلوي: (**ان الناس اذا رأوا الظالم فلم یاخذوا علی یدیه أوشک أن یعمهم الله بعقاب**).[1]

ژباړه: کله چې خلک کوم ظالم ګوري او له ظلم نه یې را تم نکړي نو نژدی دی چې الله ﷻ ټول په سخت عذاب اخته کړي.

کله چې تاسی په خپلو سترګو ګوری چې ظلم کېږي او د اوس لری چې په ټاکنو کې په خپل ګدون سره څه اندازه د ظلم او سـختوالی را کم کړی، نو د پورتني

---

١ - سنن الترمذي، حدیث: ٢١٦٨.

حدیث په اســـاس په تاســـو لازمه ده چې د کرار ناســـتي په ځای د ظالم مخه ونیسئ او د ظلم او تیري نه یې منع کړی ځینی متدین انسانان پدی عقیده دي چې ځمونږ رای ورکول د وضعیت په ښه والي کې هیڅ اغیز نه لري، او هیڅ ډول کومه فایده نه لري، خو ښه فکر و کړئ چې د ا سلام خوږ پیغمبر ﷺ څه فرمایي: د احمد مسند کتاب د حضرت سهل بن حنیف رضي الله عنه روایت نقلوي چې رسـول الله ﷺ و فرمایل: (**و من أذل عنده مؤمن فلم ینصـره وهو یقدر علی أن ینصـره أذله الله علی رؤوس الخلائق یوم القیامة**).[1]

ژباړه: که د چا په مخ کې د کوم مومن ســپکاوی کیږي پداســی حال کې چې د منع کولو وس یې لری خو یوازی ورته ګوري الله ﷻ به یې د قیامت په ورځ د خلکو په وړاندی رسوا کړي.

رای نه ورکول حرام دی: د شریعت له مخی رای ورکول د شـــهادت او ګواهی په څېر دی.

لکه څنګه چې د دروغو ګواهي حرام او نارواده د رښـــتیا ګواهی پټول هم حرام دي قرآن مجید فرمایي:(**وَلاَ تَكْتُمُواْ الشَّهَادَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ**).[2]

ژباړه: شاهدي مه پټوئ هر څوک یې چې پټوي یقینا زړه یې ګنهکار دی.

---

۱ - مسند الامام احمد، حدیث:۱۵۹۸۵، او:۱٦۰۸۱.

۲ - د البقری سورت ۲۸۳ آیت.

حضرت ابو موسی اشعری رضي الله عنه وايي: چې رسول الله ﷺ و فرمايل: (**من كتم شهادة اذا دعي اليها كان كمن شهد بالزور**).[1]

ترجمه: څوک چې شاهدي پټه کړي کله چې د شاهدی اداء کولو لپاره را وغوښتل شي د هغه چا په څېر دی چې د دروغو شاهدی يې ورکړی وي.

د شهادت اداء کولو په اړه اسلام دا ښه ګڼلی چې انسان مخکی لدی چې د شهادت غوښتنه ور څخه وشي هغه خپله دنده وګني او اداء يي کړي او د چا تشويق مطالبی، او بلنی منتظر ونه اوسي.

حضرت خالد رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ و فرمايل: (**ألآ أخبركم بخير الشهداء الذي يأتي بشهادته قبل أن يسألها**).[2]

معنا: آيا تا سوته د غوره ګواهانو په اړه خبر در نکړم؟ هغه څوک دی چې د شهادت غوښتنی نه وړاندی يې اجراء کوي، نو د ګواهی او رای ورکولو نه ځان ساتل د ديانت سره اړخ نه لګوي ټولو نه مهمه دا چې ښو خلکو ته رای ورکول د هر مسلمان دنده ده باید پوه شو چې د متدينو شريفو او منځ لارو خلکو د انتخاباتی صحنو نه لری والی ددی موجب ګرځي چې په انتخاباتو کې د سيالی ډګر بی دينه او وتنه اچوونکو خلقو ته پاتی کيږي او بيا دا هيله مه کوئی چې حکومت د خير غوښتونکو او خدمت کوونکو خلکو لاس ته ورشي کچېری متدين

---

١ - مسند الشاميين، حديث: ١٩٤٢.

٢ - سنن الترمذي، حديث:٢٢٩٥.

خلک د سیاست له ډګره لرې شي نو په هېوادونو کې د اخلاقي فساد ګمراهي او ضلالت بو کتوونکی خپراوي او انتشار نه ګله او شکایت یو ناسم او بیځایه کاردی. ځکه په خپله همدوی ددغه انحرافاتو او بی بندو باری مسؤول دي او هریو په خپله برخه د حکومتي مسئولینو په عذاب یا ثواب کې شریک دي.

د پام وړ خبره داده چې راتلونکي نسلونه په هیڅ توګه ددغه شر او فساد نه په امن پاتی کېدای نه شي ځکه د ظلم سیلاب کرار کرار ټول ځای نیسي او د اصلاح ټولی لاری تړمی او پدی ترتیب سره راتلونکی نسل به د ظلم په څپو کې غوپی وهي.

ټاکنې یوازی یو دنیوي کار نه دی:

د پیل نه ډیر بد سوء تفاهم د انتخاباتو په هکله دادی چې خلک دین یوازی د روژي، لمونځ پوری تړي او سیاست او سیاسي او اقتصادی فعالیتونه ددین نه جلا کارونه ګڼي او پدی باور دي چې ټول یاد شوي کارونه د دین نه جدا دي لکه چې ډیری خلک لیدل شوي چې په شخصي ژوند کې د عبادت، ذکر، لمونځ او روژي پا بند وي. خو دسودا ګری را کړه ورکړه کې د حرام او حلال په فکر کې نه دي، او د نکاح، طلاق او قومي او کورني ارتباطاتو په هکله د دین او شریعت فرامینو ته اصلا کوم پام نه لري.

ځینی خلک په عملی ډول ټاکنې دینی امورو پوری خاص بولي او ګڼې ناخوالې پکې قبلوي او ددینه غافل دي چې څومره لویه ګناه یې کړی ده، لکه چې: ډیر خلک د ښو نظریاتو او اسلامي عقیدی در لودو سره سره د شخصي او کورني تړاو په اساس غیر اصلح فرد ته رای ورکوي، پداسی حال کې چې ښه خبر دي چې دغه سړی صلاحیت نه لري او د رای مستحق ندی، بلکه سیال یې اصلح دی، خو د خپلوالی ارتباطاتو په بنسټ او... غیر اصلح ته رای ورکوي او هیڅ فکر نه کوي چې ددین او شرع له نظره یې څومره لویه ګناه کړی ده.

رای شهادت ده او قرآنکریم د شهادت په هکله فرمایي: (**وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُواْ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى**).[1]

ژباړه: کله مو چې خبری کولی (یعنی شاهدي کوي او یا حکم کوي) انصاف کوی، اګر که محکوم علیه ستاسو د خپلوانو څخه وي. کله چې د چا ضمیر او وجدان یا شریعت تشخیص کړي چې کوم چاته چې رای ورکول کېږي صلاحیت د رای نه لري، یایي مقابل لوری ډیر ښه دي، نو پدی صورت کې د شخصي روابطو په اساس رای ورکول د دروغو شاهدي ګڼل کېږي او دروغجنه شاهدي، قرانکریم د بت پرستی سره تشبیه کړی ده، الله جلت عظمت فرمایي:

(**فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ**).[2]

---

۱ - د الأنعام سورت ۱۵۲ آیت.

۲ - د الحج سورت ۳۰ آیت.

معنی: ځان وســاتئ له پلیتی د بوتانو او ځان وســاتئ د دروغ وینا نه (یعنی د دروغو شاهدی).

په گنو ځایونو کې رســول الله ﷺ دروغجنه شــاهدي د اکبر الکبائر (لویه گناه) شـمیرلی ده او سـخت وعیدونه یې فرمایلي دي: د حضرـت ابوبکر صـدیق رضي الله عنه نه روایت دی چې رســول الله ﷺ و فرمایل: (**ألا أنبئكم بأكبر الكبائر؟ قالوا: بلى يا رسول الله قال: الاشراک بالله عزوجل و عقوق الوالدين قال: و جلس و كان متكئا، فقال: ألا وقول الزور و شهادة الزور فمازال يقولها حتى قلنا ليته سكت**).[1]

(آیا د ســترو گناهونونه تاســی خبر نگړم؟ الله سره ســیال، د مور او پلار نه منل (بنه پام وکړئ) د دروغو شاهدي! دروغ وینا! ابوبکر صدیق رضی الله عنه وایي: حضرــت رســول الله ﷺ ډډه وهلی وه، کله چې د دروغو شــاهدي خبره راغله نو سمدستي نیغ کیناست. او د دروغ کلمه یې څو ځلې و ویله او مونږ په زړونو کې هیله وکړه چې کاشــکې آنحضرــت ﷺ غلی شي. دغه رټنی فقط د رایې ناســم اســتعمال په صــورت کې تحقق پیداکوي، هغه ســړی چې د کورني روابطو په خاطر رایه ورکړي یا د ثروت او پیســو را ټولولو په خاطر غیر اصــلح نوماند ته رای ورکړي د دروغجنی شــاهدی برســیره د بډو گناه یې هم وکړه، نو د انتخاباتو

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث: ۱۲۰۲.

صـندقونو ته رای اچونه یوازی یو د نیوي کار مه ګڼئ او دا تصـور مه کوئ چې دا مسئله ددین پوری هیڅ تړاو نه لري.

غیر اصلح ته رای ورکول ډیره سخته ګناه ده:

ځینی وایي: کچېری نا هل ته رایه ورکول ګناه ده کومه مسـئله نده ځکه د خپلو ګناهونو نوم لړکې یوه ګناه زیاتوو، باید پوه ګرد شـــو چې دا د شـــیطان او نفس دوکه ده، کچېری څوک د ګناه کولو په ترڅ کې دغســـی فکر ولري نو هیڅکله به د ګناه کولو نه خلاص نشي، مثلاً: د چا بدن ته لږ نجاست او پلیتی ورسېږي باید د پاکولو په فکر کې شي نه دا چې د دغه لږ نجاســت لپاره خپل ځان د پلیتیو او فساد په ګداو کې وغور ځوي.

ګناوې په خپل منځ کې ډیر تو پیر لري، هغه ګناوې چې بدی اغیزی یې ټول ملت نیسي، ضرر یې د شخصي ګنا هونو په پرتله ډیر سخت دی، دیو وکړي ګناه که څه هم په خپل ذات بده، ناوړه وي خو ناوړه پایلی یې دری او څلورو تنو ته تجاوز کوي او اخوا تیری نه کوي، د همدی لامله عموماً تلافی کول یې ممکن او د جبران وړ ده او توبه ورنه کول هم آســانه ده،او د ښښـنی احتمال هم پکې شـته ده، هغه ګناه چې سپیره پایله یې ټول ملت، هېواد را نغاړي د هغی تلافي ممکن نده او که څوک غواړي چې راتلونکي کې تری توبه وباسي خو هغه ګناه چې پدی تړاو شـــوی ده، په کامل ډول نه تبرئه کېږي او د عذاب څخه د خلاصـــون

هیلی یې ډیری کمی دي، نو دغه گناه دغلا شـــوکو زنا او نورو ټولو گناهونو نه ډیره سخته ده او دغه (دروغجنه گواهی) په نورو گناهونو قیاسولای نه شو، کاملاً صحیح دی چې مونږ څلوریشتو ساعتونو په اوږدوکې گنهی گناوی کوو، خو ټولی دغه گناوی د هغی ډلی څخه دي چې کچېری الله ﷻ د توبی کولو توفیق ورکړي، بښـــل کېږي، او تلافي یې شـــونی ده، خو معنای دانه ده چې مونږ هغو گناهونو په وړاندی سر ټیټ کړو چې تلافي یې شونی نده او بشنه یې ستونز من کار وي. ځینی تصور کوي چې د سلگونو زرو رایو په وړاندی د یو سړي رایه کوم رنځ دوا کولای شي؟ او که یوه رایه ناوړه ســـړي ته ورکول شي د هیواد او ملت په راتلونکي باندی په څه اغیز ولري؟ لومړی: باید یوه شئ کچېری ټول افراد د ملت دا شان فکر ولري ښکاره ده چې په تول ښار کې به پوه رایه هم په صحیح ځای کې ونه کارول شي.

دوهمه: د رایو شـمېر نه چې اوس رواج او متداوله ده داســی ده چې دیو پاگل او جاهل شـــخص رایه هم د اهمیت وړ ده او په ټولو راؤ کې د هېواد او ملت په گټه یا زیان د بدلون لامل گرځي. کېدای شي یوه رایه هم د بیکاره، بی دین، نوماند په گټه په صندوق کې واچول شي او یوازی همغه یوه رایه په انتخاباتو کې د هغه د بریا او په هېواد او ملت باندی د واکمنېدو باعث گرځي. او ډیر وخت دیو عادي ښاري غفلت او تقصیر ټول هېواد هلاکت ته رسوي. ځکه په اوسني نظام کې د

هر وګړي رایه ډیره ګتوره او ارزښـــتمنه وي او دا د هر شـــخص ملي، اخلاقي او شرعي دنده ده چې په ځانګړي اهمیت سره خپلی رایی ته توجه وکړي او هغه هغه چاته ورکړي چې اصلح او په رښتیا مستحق وي.

د انتخاباتي مبارزاتو او تبلیغاتو دوران لس ناوړه کارونه:

د ټاکنو غوغا داسی لوی طوفان راولي چې تیاری او قباحت یې ټوله ټولنه نیسي باید اجازه ورنکړو چې په دی دوران کې شریعت، اخلاقو، مروت او نارینتوب ته صدمه ورسېږي.

۱ـ هغه ګناهونه او منکرات چې ځمونږ په ټولنه کې د انتخاباتو اړوند شته، د ټولو ریښه د اقتدار هوس او پوست او مقام ته د رسیدلو تمه ده چې اقتدار غوښتونکي د جواز لاری پیداکولو لپاره کله کله انتخاباتي ګناوي د خپل ځان او ملت په خیر تعبیروی. پداســی حال کې چې د قرآن ســنت لارښــونی د اقتدار او حکومت په هکله دادي چې دا د ویاړ جام او مډال نه دی چې د ترلاســه کولو لپاره یې عجولانه اقدام وشي، بلکه ډیر دنیوي او اخروی مســئولیتونه دي چې ژمنه کولو سره یې د انســان په اندامونو لرزه راځي او د ضرورت او لزوم پرته باید ځان په ارزښت ې ونه غورځوو.

په همدی خاطر کله چې د سیدنا فاروق اعظم رضـی الله عنه نه غوښـتنه وشـوه چې عبدالله بن عمر رضی الله عنه د خلافت لپاره نوماند کړي په ځواب کې یې

و فرمایل: (د خلافت مسئولیت د خطاب کورنی یو فرد ته بس دی، نه غوارم دغه دروند بار د خپل ځوی په اوږو کېږدم).

که رښتیا د چا په زړه کې واقعي احساس د مسئولیت ددغه دروند بار وي...

بی شکه اقتدار، پوست او مقام ته رسیدل په صحیح روش او تگلاری سره صحیح او روا او د هېواد او ملت ترقي لامل گرځي او د هغه دهری وینا، کردار او گمان نه یې خیر غوښتنه ښکاري چې په نتیجه کې یې هغه خرابیانی او مفاسد چې د بی قانوني او گناه نه موجود یږي ددی سرې د واکمنی په مهال هیڅکله نه پیداکېږي هغه خرابیانی چې د هېوادونو او سنی سیاسي فضایې زهر جنه کړی ده پدی خاطر دی چې اقتدار او حکومت یو منفعت لرونکی، خوندور او د مادي مفاد جلبولو موجب گڼل کېږي، او هغه ته رسیدلو لپاره د هیڅ ډول کوښښ د مصرفولو څخه ډډه نه گېږي، همدا د اقتدار غوښتنی حرص دی چې د بریا او خیر توقع باید تری ونشي، او لازمي نتیجه یې داده چی د ځان غوښتنی، استبداد، ځان مني، بی قانوني تری را منځته کېږي او چط په تولنه کې بدی، فساد خپریږي.

۲ ځینی دغه بدي او فساد ځمونږ انتخاباتی مبارزی پوری تړلی دي، یو بل باندی تور لگول، بده ویناي یوه برخه ده مصیبت دلته ده چې انتخاباتي سیالان

هر ډول وینا او کردار د مور شیدو په شان مباح او حلال ګڼي، د ځان بریا او نورو ماتی لپاره ناوړه او تشو تورونو نه ځان نه ساتي.

بلکه هغه د تبلیغاتي جګړی یوه برخه ګڼي چی ددینه پرته د سیاسي بریا محال ګڼی.

د اسلام تعالیم او امر دا دی چې که څوک څومره بد هم وي ناروا تور ور پوري کول تر هغه مهال چې تور ثابت شوی نه وي په هیڅ ډول جائز ندی، هغه ویناوی چې په کنفرانسونو او تبلیغاتي ناستو کې کوي، دغه شان تورونو نه چې فقهاء کرام یې بهتان بولي او کبیره ګناه ده دی خالی نه وي. ډیر ځلي په تورونو کې داسی بدی خبری په ژبو راوړل کېږي چي د تور ګناه پرته د ښکنځلو ګناه هم ځان سره لري.

د رسول الله ﷺ په حدیث کې د مسلمان د ځان، مال او عزت حرمت د کعبی څخه ډیر مقدس شمیرل شوی. [1]

مفهوم یې دا دی چې د مسلمان په پت، مال ځان باندی تیري جرم حتی (معاذ الله) د کعبی د ورانولو نه هم سخته ګناه ده، لکن په انتخاباتی تبلیغاتو کې د حریف پت په کوڅه، بازار کې تویږي او په تشو تورونو د هغه شخصیت توریږي،

---

۱ - سنن الترمذي، حدیث: ۲۰۳۲.

ټولی ورځپاني، انتخاباتي ناستی آن د ښار په ور او دیوال د تورنولو، او محاشي یو بل ته کیسی کوي او د انفجار په درشل کې دي.

۳ـ د انتخاباتو په وخت د نوماندانو حقیقی هویت بیانول لازم دی، ترڅو خلک د هغوی د دسیو او ضررونو نه نجات پیداکړي اما ددی هدف لپاره باید د نوماند واقعي او صاف بیان شي او همداشان د دوه کارونو مراعاتول ضروري دي:

اول- هیڅ خبره د تحقیق پرته و نه ویل شي او باید په هر حال کې انصاف له لاسه ورنکړو.

دوهم- دغه ناخوښی کار (د نوماندانو رازونو لتول) فقط د ضرورت په اندازه ترسر شي او د مجلسونو ښکلا او محفلونو نقل نشيـ. ځکه که تور نه وي نو حتما د غیبت کبیره گناه کې داخل ده چې قرآن کریم هغه د انسان د مړه ورور غوښی خوړلو سره مرادف گرځولی.

د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه په مجلس کې یو سړي د حجاج بن یوسف سقفی بدیانی بیان کړی د حجاج ظلم او تیری د خلکو په منځ کې مشهور ؤ خو پدی خاطر چې داسی مجلس د هغه د بدیانو بیانولو ځای نه ؤ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنها هغه سړي ته مخ واړاوه وی ویل: دا غیبت دی اگر که حجاج په خلکو زیات ظلم کړی خو دا د هغه د غیبت کولو د جواز دلیل نشي کېدای، پوه شه! چې الله ﷻ د ټولو بی گناه وینو تویو لوغچ د حجاج

نه اخلي نو که غیبت یې وشي د الله په نزد عقاب نلري سره لدی چې د مظلوم نه د ظلم دفع کولو لپاره د ظالم غیبت د ظالم په ژوند کې جواز لري.

٤ ـ په ټاکنوکې د بریا لپاره په نورو باندی د تور لګولو برسیره، ناروا نسبت ورکول، ځان ستاینه او د خدمتونو ترسره کولو ادعا، د هر نوماند د تبلیغاتو اصلی پروګرام دی پام کوئ چې ځان ستاینه او تظاهر په هر مذهب او اخلاقی تفکر کې لږ تر لږه ګناه ده.

٥ـــــ نوماندان د خلکو د هڅولو لپاره چې په ټاکنو کې ګدون وکړي بی فکر او تدبره رای ورکولو لپاره په وعدو او د مقصـــود په مزایدی څرنګه د عمل جامه ور واغوندي بلکه پدی ټینګار کوي چې، په ډیرو وعدوکولو او مزایده کولو سره یې پرنورو برلاسی شي.

مثلاً: وایي: کله چې مونږ وټاکل شـو د مسـتحقینو حالات به ټول بدلوو، د ښـار محروم مناطق به د پاریس په شان و دانوو، مونږ فقر او بیسوادي له جړړو با سو، دغســی او چتی ادعاګانی او خبری ویناوی او بیانیی د ښـار غوږونه ډک او کاڼه کړی دي، په دغو تشـــو ادعاګانو او درغجنو وعدو هڅه کوي ســـاده خلک دوکه کړي.

٦ــ د پوستر خپرول، جلسات کول او حمایوي لاریونو نه د انتخاباتی مبارزو اړینه برخه ده که لاریون د نزاکت او اخلاقو په حد کې وي ناروا ندی.

۷ ـ زیاتي ناستی او لاریونو نه د ښار په اصلي واټونو کې ترسره کوي چې دعا دی خلکو د ټګ راتک لپاره ستونزی جوړوي. د خلکو ګڼه ګونه ستر ترافیک پیداکوي چې لارویان په ســـتونزو او سرګردانی اخته کوي، کېدای شي بی وس او بیمار خلک د دغو ترافیکی موانعو په خاطر د خپل علاج نه پاتی شي او ډیری کارګران چی خوار دي و نه کړای شي په خپل وخت د خپل کار ځای ته ورسېږي. د تړ لو لارو او موانعو په پیداکولو د ښـــار په اصـــلی واټونو کې ډیر کار ګران بیکاره کېږي او د ټولنی زیان منونکو قشرونو ته نه جبرانېدونکي زیانونه رسیږي.

۸ـــ انتخاباتي شعارونو لیکل او پوسترونو نښلول د ښار بڼی په بد رنګولو کې ډیر اغیز لري او د انتخاباتي تبلیغاتو نه بېلېدونکی برخه شـمیرل کېږي او ددغو ګډو وډو شـــعارونو داغونه تر مودو مودو په دولتی او غیر دولتی ودانیو په څهرو ځان ښودنه کوي.

دی کې هیڅوک هم فکر نه کوي چې د نورو د ودانیو بد رنګه کول د هغوی د خوښی پرته د غصب او لاندی کولو په معنی ده.

دیوالونه، ودانی هرو مرو څښتن لری چې د هغه د اجازی پرته ګټه اخستل ترینه حرامه ده نو دا غول او بد رنګه کول یې د ګتي اخســـتنی نه ډیر بد دی، څوک چې د بیسوادی او فقر لری کولو دعوی کوي د شک پرته دا غضب او غارت کوی،

که چیری کوم متدین او زړه سواندی سړی چې ددی کار مخه ونیسي په وهلو او ټکولو یې سبق ورکوي.

۹ــ د رای پلورل او پیرودل او د هغو کسانو سره معامله کول چې زیاتی رایې لري او د هغوی نا مشروعو کارونو ترسره کولو وعدی بیله گناه حسابیږي، چې د ډیرو د خدای نه بی خبر او قیامت نه غافل نوماندانو په منځ کې دود او متداول دی. او همدی دی چې ټولنه تباهی او فساد ته وړي.

۱۰ــــ ښــکاره ده چې د انتخاباتي مبارزو لپاره ملیونونه افغانی پانگه پکار ده او معمولاً ددی پانگی ترلاســه کولو لپاره ســترو قدرتونو ته د لاس اوږدالو جوړښــت منځته ته راځي چې د پردیو پور ورکوونکو شرطونو منل د هېواد گوډ او مات اقتصاد لاورانوي. څوک چې د نوموړي لاری نه دغه پانگه ترلاسه نکړای شی نو د خپلو مالی اړتیاو دلری کولو لپاره د هېواد د شــتمنو نه پور اخلی چې کله کله دغه پیســی د بډو حکم اخلي پدی معنی چط د پیســو اخســتلو په مهال دا شرط ږدي چې هرکله حکومت ته ورســیدی پوړ ورکوونکو ته ځانگړی امتیاز ورکوي که هغوی د پیسو ورکولو نه انکار وکړي په گنو لارو زورول کېږي.

هرگوند چی ځواکمن وي او د بریا امکانات یې د نورو گوندونو نه زیات وي مالی غوښــتنی یې ډیری موثری واقع کېږي او د ضرورت وړ پیســو را ټولو لو چانس

ډیروي. دغه کبیره ګناوی یوازی د بېلګی په توکه یادی شـــوی که ژور فکر وکړو څرګنده به شي چې هر ګناه ګڼی ګناوی تری لندی دي.

ددی نیوکو او را پورونو وړاندی کولو غرض دا نه ده چې په خلکو کې ناهیلی او نا امیدی خپره شي او هم انتقاد لپاره نده، بلکه غرض دادی چې مســلمانان خپلی اجتماعي بیماریانی وپیژني، ترڅو په خپل وس او طاقت سره ددغو ګناهونو له ګرده او وساتي یا هغه مسلمانان چې په ناپوهی سره به دی ګناهونو اخته کېږي د هغو له قباحته خبر شي وژغورل په تولنه باندی څه تاثیر لري؟ ځواب یې دا سی دی چې: په ټولنه کې دیو سړی د همت او ارادی نه انقلاب منځته راځي او یوه پوه انســان نړی نه بدلون ورکوي او په حقیقت کې هر ســړی د ټولنی د بر خلیک ســتوری دی چې خپلی رڼا سره کولای شي یوه ټولنه او ملت د تباهی له کندی نه وژغوري او د نیکمرغی او سعادت څنډو ته یې وباسي.

٦٦

د اسلام له نظره د امنیت ضرورت

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی خیر خلقه و أمین وحیه محمد صلی الله علیه و علی آله و أصحابه أجمعین.

قال الله الحکیم فی قرآنه العظیم: (وَضَـــرَبَ اللّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللّهِ فَأَذَاقَهَا اللّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُواْ يَصْنَعُونَ).[1]

قال الرسول صلی الله علیه وسلم : (**کل المسلم علی المسلم حرام دمه و ماله عرضه**).[2]

با رعایت صلح کن وزخصم ایمن نشین　　زانکه شاهنشاه عادل را رعیت لشکر است

کاشکی قیمت انفاس بدانندی خلق　　تا دمی چند که مانده است غنیمت شمری

(سعدی)

ځمونږ هېوادوالو د دری لســـیزونه زیاتو کلونو جګړو ، ورانیو ، وژنو ، بی امنیو په ترڅ کې ډېر رواني ، روحي ، ځاني ، مالي ناخوالی او زیانونه لیدلي دی ، اوس هم په بېلا بېلو دلیلونو د تاوتریخوالی او نأ امني قرباني کېږي ، دامنیت خبره د

---

۱ - د النحل سورت ۱۱۲ آیت.

۲ - صحیح مسلم، حدیث: ۳۲.

هېواد یو ډېر اړین ضرورت د دې هېواد ګڼل کېږي د همدی لامله لازمه ګڼم چې خپله ننی خطبه د امنیت ضرورت په اســلام کې د امنیت مرتبه اود نا امنی ضررونه او اغیزوته وقف کړم.

کله چې دیني امتونو او اســلامي احکامو او مقرراتو ته وګورو دا بســنه کوي چې مونږ په ټولو ډګرونو کې دامنیت اهمیت د اســلام له نظره او هغه حل لاری چې په اسلامي ټولنه کې د امنیت تحقق په هکله دي وپوهېږو:

اســلام د یو جامع حقوقي نظام په توګه چې د فردي ، اجتماعي اړتیاؤ ځواب ورکوونکی دی په هر وخت او هر ځي کې نشــی کیدای چې د دی قاعدی نه مستثنی وي. ځکه د بشریوه اساسي غوښتنه امنیت دی ، او د تاریخ په اوږدوکې د امنیت برابرول د حکومتونو ډیرو مهمو دندو څخه ده ، اســاســاً د حکومتونو د جوړوني فلسفه د انسانانو د ژوند ټولو ډګرونو کې د امنیت برابرول دی . امنیت دومره مهم دي چې هیڅ مکتب او حقوقی نظام شی کولای چې د امنیت مسئلی اړوند ځان وزګار او بی طرف وګڼي . ځکه امنیت نه یواځی فی نفســه د ټولنی یو ډیر اســاســی ضرورت دی بلکه په خپله د فرهنګي ، علمي اقتصادي او سیاسي رشد مهم لامل دی.

أصلي پوښتنی:

د امنیت نشــتوالی کې په هېواد کې د کومو زیانونو او ضررونو سره مخامخ کېږو؟ آیا اســلامي دین د امنیت په اړه خاصــی نظریي لري؟ د الله ﷻ د وروســتي اســتازي په توګه د پېغمبر ﷺ اســتراتیژی به اســلامي حکومت کې څنګه وه؟

په اوســـنیو شرایطو کې څه تګلاری کولای شي چې د امنیت برابرولو ، ثبات ، سولی په راوستلو کي ګټور ثابت شي؟

د دې بحث اســاسي کلمې: امنیت ، ایمان، مصــنونیت ، صــلح ، تهدید ، ترور، وحشت:

مفاهیم او تعریفونه:

امنیت :

د (امن) نه اخســتل شــوی ، په لغت کې د امان او هوســاینه کې اوســیدو ، مصــنونیت له خطر ، بیره او زړه کراری دی. او امن په لغت کې یعنی : بی زیان ، او هوســاینه. امنیت هم یعنی : بی زیان او بی خطر یا هغه حالت چې زیان ، خطر تاوان پکی نشــته او هوســاینه پکی شــته . دواړه د امن او امنیت کلمی ، په اصــطلاح کې : د فراغت حالت د هرډول یرغل یا هر ډول یرغل او تهدید سره له مخامخ کیدونه فارغ وي.

ایمان:

د ایمان کلمه د (د ا م ن) ریښــه لري په معنا د هوســاینه ، دزړه آرامتیا او ډاډ او د بیری نشــتوالی دی . ثلاثي فعل یې: آمن یومن ده کچېری متعدي په (باء) وي د اهل لغت په اتفاق سره د تصــدیق کولو په معنا ده او که خپله متعدي وي نو د اطمینان پیداکولو په معنی ده چې د بیریدلو او بیرولو په مقابل کي ده او پدی صــورت کې معنا د ثلاثي مجرد په شــان ده په اصــطلاح کې د دیني قلبي

باور په معنا ده د الهی ادیانو کانونی مفاهیمو په تیره بیا اســلامي کي په قرآن کریم کې د ایمان ا ساسي محور الله ﷻ دی قرآن د ټولو انسانانو غو ښتني چې په الله ایمان روړی ، خو په ډیرو آیتونو کې په پیغمبرانو ، رســولانو الله لخوا رالیږل شوو کتابونو ،فرښتو او آخرت او نورو باندی د ایمان راوړلو ضرورت (په الله باندی په ایمان لرلو) سره زیات شوی دی. د ایمان کلمه چې د امن نه مشتق ده (۱۱۸) ځل د مشتفاتو سره په قرآن کې بیان شوی ده چي دا دامنیت د اهمیت څرګندونه ده.

وحشت:

وحشــت په لغت کې ، ډار، بیره ، هول ، دهشــت او لویدل ، وړل ، خوړل منل ، ورکول ، لری کول ، ویستل له لفظ به سره دصرف شي. او په ا صطلاح کې: کوم څیز چې انسان تهدیدوي د هغه څرګندیدونه انسان د ډار احساس وکړي.

مصؤنیت:

مصؤنیت په لغت کې مصؤن پاتېدل ، ساتل شوی ،ساتل کېدل ، مأمون کیدل ، په ا صطلاح کې : د نورو د تیري نه ساتل شوی . لکه: د پارلمان د وکیلانو ساتل کېدل له ق ضایي تعقیب او تعرض نه مګر هله چې مجلس م صئونیت ورنه واخلي او سیاسي م صؤنیت ، م صؤن والی د دیپلو ماسي کورنی د غړي ده په بل هېواد کې د ځینو کورنیو مقرراتو نه او دهغه هېواد د قضایي مجازاتو او تعقیب نه.

تهدید:

تهدید په لغت کې : ډارول ، رټل ، وعید ورکول د پسونو یو دبل پسی کیدلو ته وایي. په اصطلاح کې : هغه وضعیت ته وایي چې: د خطر احتمال موجود وي . لکه په یو هېواد کې اضطراري حالت چې د ګاونډیانو لخوا امنیتي تهدید شوی وي.

صلح:

صلح په لغت کي: پخلاینه، جوړښت او جګړی نه لاس اخستلو ته وایي او په ا صطلاح کې: خپل چاپیریال او خلک په امن کې راوستل دي او د جګړی ضد په معنا هم کارول کېږي او په معنا د جوړښت ، د فساد ضد او نفرت له منځه وړلو ده .

ترور:

ترور کلمه د لاتیني کلمې (Terror) نه اخستل شوی او په معنا (د اطراب لامل) اخستل شوی ده ترور په لغت کې: (ډارول) او تروریزم د (دارعاب او تهدید) د بیری پېداکولو او خلکو کې وحشت په معنی) او تروریست د (ترهګر)(Terrorist) د ارعاب او تهدید او دزو حکومت) د طرفدار په معنی راغلی ده ، همداشان دغه کلمه د بیرحمی قساوت او بیری په معنی هم ترجمه شوی ده ، همدارنګه د (بریتانیکا) لغت پاني هم تروریزم د سیتماتیک ارعاب، بی مخینی تاوتریخوالي چی د حکومتونو ، انسانانو په ضد کارول کېږي او هدف یې یو سیاسي هدف

ترلاسـه کول دي . او (لیتره) لوی فرهنگ بیا دغه کلمه د ارعاب او وحشـت واک راوستلو په معنی گڼلی ده.

امنیت په قرآن کې:

د پخوانیو مطرحو شـــوو پوښـــتنو ځوابولو لپاره اړینه ده چې لومړی په قرآن کې امنیت ولټوو او وگورو چې د کلام الله مجید په آیتونو کې (أمنیت) څه اهمیت او مرتبه لری:

۱- قرآن: د الله د حاکمیت برقرارولو او نیکانو د خلیفه گرځولو یو هدف او د ژوند کلي طرح د امنیت تحقق را معرفي کړی دی . الله ﷻ فرمایي:

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ.[۱]

الله ﷻ ستاسو کسانو ته چې ایمان یې راوړی او ښه کارونه یې کړي دي ، وعده ورکړی چې : هر ومرو هغوی په ځمکه کې خپل ځای ناستي گرځوو. همغه شان چی د دوی نه پخوایي ځای نا ستي کرل او کوم دین یې چې د دوی لپاره خوښ کړی د دوی په گټه ټینگ کړي او بیره یې په ډاډ بدل کړ ترڅو ځما عبادت وکړي

۱ - د النور سورت ۵۵ آیت.

او ځما سره سیال پیدا نکړی.

۲ – او بل ځای کې الله ﷻ فرمایی: (**وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَـٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا وَٱرْزُقْ أَهْلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنْ ءَامَنَ مِنْهُم بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ۖ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ**.[1]

یعنی: یاد کړئ هغه وخت چی ابراهیم وویل: پالونکیه! دغه ځمکه ډاډمن ښـــار وګرځوه ! او اوســیدونکو او هغو کســانو لپاره چی په الله ، وروســتی ورځی باندی یې ایمان راوړی ، د هر ډول میوو او محصلاتو روزی ورکړه! وی فرمایل : همداسی به وکړم او هرڅوک چې کفر وکړی لږه ګټه به ورته ورســـوم ، بیا به یې داور په عذاب اخته کړم چې ډیر بد ځای دورګرځیدو دي) حضرــت ابراهیم ﷺ کله کعبه جرړه کړه دی فطری اړتیا ته یي پام شـــو او دالله ﷻ نه یې وغوښـــتل چې دغه ځمکه د (امنیت) له نعمت څخه برخمنه کړی. الله ﷻ د دی آیت په اســـاس فرمایي:(**وَإِذْ جَعَلْنَا ٱلْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا**).[2]

ژباړه: او مونږه وګرزولو بیت الله د خلکو لپاره ځای د رجوع او د امن، همداشـــان د الهی حرم او مکی ځمکه په امن تعبیره وي: (**أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَكْفُرُونَ**).[3]

---

۱ - د البقری سورت ۱۲٦ آیت.

۲ - د البقری سورت ۱۲۵ آیت.

۳ - د العنکبوت سورت ٦۷ آیت.

همداشـــان امنیت یوه الهی پیرزوینه ده چې دپرورګار چی څوک پدی ســپڅلي حرم کې داخل شي ورته ورکول کیږي : (**و من دخله کان آمنا**).[1]

۳ – په قران کریم کې هغه ښـــار چی امنیت ولري د آرماني ، مثالي ځمکی په توګه معرفي شـــوی ده او ددی آیت: (**وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ ءَامِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلْجُوعِ وَٱلْخَوْفِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ**).[2]

په بنســټ: الله ﷻ د کفران نعمت او طغیان د عاقبت لپآره یو مثال راوړی : هغه ټولنه چې سوکاله، آرامه وه د دښمن او پېښو څخه ، روزي یې د هر لوري فریمانه رارسیده بیایي د الله ﷻ د نعمتونو نا شکري وکړه ، الله ﷻ هم دهغوی دکړنو په سـزا کې هغوی ته د بیرې او لوږې جامې ورواغوسـتی اوخوندیې ورو وځاکه؛ الله ﷻ د بېلګی په توګه د داسی کلي مثال بیانوي چې: آرامه ، هوسا او ډاډمن ؤ او تل یې روزي د هر لوري پریمانه راغلی ده.

۴ – امنیت ډیره ښه مزدوري ده: چی د باطل نه د حق د بیلتون په نښه کې اهل حق ته ورکول کیږی قرانکریم فرمایي:(**وَكَيْفَ أَخَافُ مَا أَشْـــرَكْتُمْ وَلاَ تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم بِاللّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالأَمْنِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ**).[3]

---

۱ - د آل عمران سورت ۹۷ آیت.

۲ - د النحل سورت ۱۱۲ آیت.

۳ - د الأنعام سورت ۸۱ آیت.

او څنګه زه دهغه څه نه چې تاسو د الله سره سیال کړي دي وبیریږم پداسی حال کې چې تاسی هغه څه چې الله ﷻ هیڅ کوم دلیل د هغه په اړه تاسوته ندی نازل کړی د الله سره شریکوی نه بیریږی؟ نو دی دواړو ډلو کې کومه ډله (موحدین که مشرکین) د امن ډیروړدي؟ نه پوهېږی؟

موحدین ځانونه د بی ګټی او زیان جماداتو لخوا به امن کې ګڼي ، او مشرکین د ټولو ګټواو ز یانونو د ما لک لخوا یعنی : د غو دوو ډلو کې کو مه یوه د امنیت مستحق او ورسره ښه ښکاري؟

د قرآن په ګڼو آیتونو کې د امنیت د اهمیت په هکله خبری شوی دي آن چې امنیت یې د ټولو آسماني برکتونو د نزول او د نعمتونو د پریمانی باعث ګڼی.

امنیت د روایتونو له نظره:

یو روایت وجود لري چې:(**الأ من والعافية نعمتان مغبون فيهما كثير من الناس**) امنیت او روغتیا دوه نعمتو نه دي چې ډیر خ لک پکې مغبنون دي .هغه حضرت د مسلمان ځاني امنیت ضروري ګڼي حتی د هغو کسانو ځانونه هم په امن کې دي چې د مسلمانانو سره یي تړون کړی د هغه په حکم د تړون په موده کې په امان کې وي هغه د کور امنیت مراعتول حتی د هغی مور په هکله چې د خپل ځوی پرته بل پالونکی نه لري لازم ګڼلی او هغه څوک چې ګاونډی د هغه د آزار او زیان څخه په امان نه وي مؤمن نه ګڼی.

دحدیث د سترو راویانو په ویناؤ کې: فریمانه مطالب د امنیت ضرورت او اهمیت په هکله شته. لکه: پیغمبر ﷺ فرمایي: (**من أصبح معافي في بدنه آمنا في سربه عنده قوت یومه، فکانما حیزت له الدنیا بحذا فیرها**).[1]

د چا چې بدن روغ وي او په خپله ډ له کې ډاډمن وی او دخپلی ورځی قوت ولري ټوله نړی د هغه شتمنی ده .

او فرمایلي دې : (**کل المسلم علی المسلم حرام دمه و ماله وعرضه**).[2] د هر مسلمان پر مسلمان حرامه ده وینه ، مال او عزت یې . او هغه ته یې د امن حریم گرځولی دی ، او بدگمان کول یې په مسلمان باندی حرام گڼلي او د مرغیو (الوتکو) امنیت نه یِ هم غفلت ندی کړي (ترڅو چې مرغی په خپله ځاله کې وی څوک حق نلري هغه ښکار کړي). او د مومن د حریم په ساتنه یې تاکید کړی د عزت ، مال او ځان له مخی او لازم یې بللی چې مومن له هراړخه محترم وی . حضور ﷺ د مدینی منوری اطرافو ځینو غیر مسلمو قبیلو سره تړون وکړ ترڅو د اسلام د مرکز امنیت وساتل شي.

او ازمویل شوي سرښندونکي جگړیز ځواک په جوړښت سره یې پدی هکله هڅه وکړه هغه د هجرت لومړی کال په پای کې په لږ ځواک او محدودو جنگي توکو د اسلام لښکر لومړنی هسته جوړه کړه.

---

۱ - صحیح ابن حبان، حدیث: ٦٧١

۲ - صحیح مسلم، حدیث: ۳۲.

د تبوک په جګړه کې چې د بهرني دښمن په وړاندی د رسول الله ﷺ مهم غزا وه، د مدینی حالات ډیر حســـاس ول ، د مدینی د ننه د منافقانو د خوزښـــت نو د مدینی د اطرافو دښمنانو د کیدونکی یرغل په وړاندی د مقابلی لپاره یې حضرت علی یې خپل ځای ناســـتی وټاکه که ترڅو دهغه په نه شـــتون کې یو ځواکمن سړی د نوي جوړشوي اسلامي مرکز اداره وکړي او د هر ډول د سیسی مخنیوی وشي.

هغه حضرت د اطلاعاتی فعالیتونو نه هم استفاده کړی د امنیت راوستلو لپاره ، د بېلګی په توګه: خپل تره ته یې د نده ورکړه چې خپله مســـلماني پټه کړي او د مشرکانو راپورونه ورته راورسوي او ځینو ته یې دنده ورکړه چې کمین واخلي او د دښمن اخبار ورته ورسوي هغه د بدر کبری د غزوی نه وړاندی جاسوس واستاوه ترڅو د قریشو د کاروان په هکله خبر ترلاسه کړي د شپی څو کیداري او ساتنه د خلکو د ساتنی لپاره د نورواړتیا ولری کول او پناه کېدل خلکوته الهي د ندوترسره کول بی له دی چې د خلکو د ملامتولونه وډارشو.

د حرامونه لری والی ، ســترګو ســاتل درجب د میاشــتنی کارونه د غصــی او قهر خوړل ترسره کیږي ، ډیر حدیثونه شـــته چې د ځانی ، مالي ،عرضـــی ، پت او ناموس امنیت اهمیت یې محترم ګنلی او د پوره کولو لپاره یې ډیر تاکیدات کړي دي چې پدی لیکنه کې یې ګنجایش نشته . (**وفی الصحیحین عن أبي هریرة رضي الله عنه عن النبي قال: أمرت أن أقاتل الناس حتی یقولوا لآ اله الا الله فمن قال: لآ اله**

الا الله عصم مني ماله و نفسه الا بحقه وحسابه على الله عزوجل و في رواية لمسلم حتى يشهدوا أن لآ اله الا الله و يؤمنوا بي).[1]

د امنیت په هکله په مدینه کې عمومي تړون:

مدینی ته د پیغمبر ﷺ د راتلو په پیل کې د مسلمانانو او یهودیانو ترمنځ نسبي تفاهم موجود ؤ ځکه دواړه الله پالونکي اوبوت ماتوونکي ول او یهودو تصور کاوه چې د اسلام په تقویت سره به دروم مسیحیانو له یرغل نه په امان کې شي همدغه مهال د اوسیانو او خزر جیانو ترمنځ پیوستون او اوزاړه تړونونو هم وجود درلود په همدی خاطر پیغمبر ﷺ د مهاجرو او انصارو د یووالي قرار داد ولیکه او دمدینی یهودو (اوس او خزرج) هم هغه امضاؤ کړ ، پیغمبر ﷺ د هغوی قانون او ثروت د شرایطو په ترځ کې محترم ګڼه چې پوره متن یې سیرت لیکونکو ضبط کړی دا چې دغه قرار داد یو تاریخي ژوندی سند دی آو حاکی دی چې پیغمبر ﷺ څرنګه د هغوی احترام کاوه او پدی تړون سره یې وکولای شول یوه متحده جبهه د دښمنانو په وړاندی موجوده کړی لږ د دی سند حساسی نکتی ذکر کوو البته د قرار داد په مفاد کی ښکاره قید شوی چې مسلمانان یو امت د نورو خلکونه جدا دی (**انهم أمة واحدة من دون الناس**).[2] او دکافرانو او مسلمانانو ترمنځ ارتباط نشته او باید د مسلمانانو په منځ کی لری والی نه وي.

---

۱ - صحيح البخاري، حديث: ۱۹ ، او صحيح مسلم، حديث: ۳۲.

۲ - السيرة النبوية لابن هشام باب هجرة الرسول صلى الله عليه وسلم ج ۳، ص ۳۲، المكتبة الشاملة.

۱ – هیڅ څوک حق نه لري چې د محمد ﷺ د اجازې پرته د دې اتحادیې نه ووځي.

۲ – د هر ټپي وینه (مقتول خوپریږده) د دې خلکو محترمه ده او هرڅوک چې د چاوینه توي کړي قصـــاص کیږي به او په پای کې به ځان او کورنۍ خپله هلاکوي مګر هله چې قاتل ربړیدلی وي.

۳ – په هغو جګړو کې چې یهود او مســلمانان اوږه په اوږه جګړه کوي مصرـف د هرچا به دهغه په غاړه وي. او هرڅوک چې د دې تړون له متحدانو سره جګړه وکړي باید متحدا ورسره جګړه وشي.

۴ – د تړون کوونکو منا سبات به د نیکۍ او ښیګڼې په ا ساس وي او باید د بدۍ نه لرې اوسي.

۵ ۰ هیڅوک با ید دخپل تړون والا سره ظلم ونکړي پدې صـــورت کې با ید دربړیدلی سره مرسته وشي

٦ – یثرب کې د دې تړون امضا کوونکو لپاره د حرم منطقه اعلامیږي.

۷ – د هغو کسانو د ګاونډ یانو ځانونه ځمونږ د ځانونو په شان دي چې پناه ورته ورکړ شوی ده باید زیان ورته ونه رسول شي.

۸ – مســلمانان او یهودیان یو ملت دي او د یو ملت په څیر په مدینه کې ژوندي کوي او هره ډله خپل دین لري.

د حدیبی صلح تړون:

۱ – قریش او مسلمانان ژمنه کوي چې په لسوکلونو کې یو بل سره جګړه ونکړي او یو پر بل به یرغل نه کوي.

۲ – کله چې د قریشو له منځه څوک راوتښتي او مسلمانانو ته پناه راوړی محمد ﷺ به هغه بیرته قریشوته شړي خو کچېری کوم مسلمان د قریشو په لورو تښتېده هغوی به یې ته راشړي.

۳ – قریش او مسلمانان کولای شي د هری قبیلی سره یې چی خوښه وي هغی سره تړون وکړي

۴ – محمد او پلویان یې باید سږ کال بیرته مدینی ته ولاړ شي او په راتلونکي او ورپسی کلونو کې کولای شي د کعبی د زیارت لپاره مکی ته راشي پدی شرط چې دری ورځونه زیات په مکه کې پاتی نه شي او په تیکو کې تورو نه پرته بله وسله ورسره نه وي.

۵ – هغه مسلمانان چې په مکه کې دي ددی تړون سره رسم په خپلو مذهبي تکالیفو او اعتقاداتو په ترسره کولو کې آزاد دي او څوک حق نه لري چې زیان وروسوي یایي سپکاوی وکړی یایی د اسلام پریښودوته اړکړي ، همداشان د قریشو بت پالونکي کولای شی خپل مذهبی عبادت په مدینه کې آزادانه ترسره کړي هغوی باندی څوک د تیری حق نه لري.

٦ – قریش او مسلمانان تړون کوي چې یو دبل مالونه په رسمیت وپیژني.

۷ – هغه مسلمانان چې د مدینی نه مکی ته راځي ځان او مال یې محترم دی او هیڅوک په هغوی باندی دتعرض حق نه لري.

یادو شوو تړونونو مفادته په کتو دی نتیجی ته رسو چې پېغمبر ﷺ د ملي او دیني گډو احساساتو پېداکولو لپاره خورا ډیری هلی ځلی کړی دي. او د تاریخ په شهادت د پام وړ موفقیتونه یې هم درلودلي چې د هغه عصر د اسلامي امت د یووالي د تحقق او سرتاسري امنیت پوره کولو لپاره یوه اساسي لاره وه او مطرح هم وه، او نن هم د دغه الهي پیغام او نبوي سیرت باندی په منگل لگولو سره کولای شو موجود مشکلات د دغه ستر اسوه د تگلارو او میکانیزم له لاری حل کړو او ملی وحدت او تړون پېداکړو او د یوزړه توب او وروری د سیوري لاندی د صلح او امنیت د نعمت نه برخمن شو.

د سلام فلسفه د امنیت غوښتنه ده:

د اسلام یو غوره ادب سلام اچول دي چې د هغه په اړه ډیر تاکیدات شوی دی:

سلام څه څیزدی؟ سلام د هرډول کمښت ، عیب او فنا نه سلامتیا ده ، دا چې الله ﷻ فناه نه منونکی. او دعیب او نقص نه منزه دی ، یو نوم یې سلام دی.

د مخامخ کېدو په پېل کې هر ډول مینه څرگندول (تحیه) ده نو په اصل کې سلام هماغه تحیه ده د حیات له مادی نه او د نورو د ژوند او سلامتیا لپاره دعا کولو په معنا ده؛ دغه دعا د (السلام علیکم) په بڼه وي او که (السلام علینا) یا (حیاک الله) نو ډیر واضح مصداق د تحیه او دروغتیا هیله سلام اچول دي.

څرګنده ده چې هر ملت یو بل سره د مخامخ کیدو او مینی ښــکاره کولو لپاره یو ډول تحیه لري چې کله عملي بڼه لري او د مینی او احترام نښـــه ده ، او کله لفظي هم وي . په اسلام کې سلام اچول د لفظی تحیی نښه ده د ځینو ایتونو او روایتونو په وینا د جنتیانو تحیه هم سلام دی: (**أُوْلَئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَامًا**).[1]

دوي همغه کسان دي چې د صبر درلودو له کبله د جنت خونی په مزدوری کې مومي او هلته په درود او ســـلام نازل کېږي . همداشـــان الله ﷻ په یونس (ع) سورت کې دی نکتې ته اشاره کړی هلته چې فرمایي: د جنتیانو تحیه سلام دی . (**دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُـــبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَـــلَامٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ**).[2]

او د ابراهیم (ع) ســـورت کې الله ﷻ فرمایي: (**وَأُدْخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ ۖ تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَٰمٌ**).[3]

---

۱ - د الفرقان سورت ۷۵ آیت.

۲ - د یونس سورت ۱۰ آیت.

۳ - د ابراهیم سورت ۲۳ آیت.

او د هود ســـورت کې الله ﷻ فرمايي: (**وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُواْ سَلَٰمًاۖ قَالَ سَلَٰمٌۖ**).[1] په تحقيق سره ځمونږ اســتازي د زيري سره ابراهيم ته ورغلل او وی ويل: سلام هغه وويل : سلام.

د مريم سورت کې هم دی مضمون ته اشاره شوی: (**وَسَلَامٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا**).[2]

د سلام کولو د اهميت په هکله ډير حديثونه راغلي دي ، د هغی جملې څخه:

د الله رســول فرمايي: (**والذي نفســي بيده لا تدخلوا الجنة حتى تؤمنوا ولا تؤمنوا حتى تحابوا أولا أدلكم على شيء اذا فعلتموه تحاببتم؟ أفشوا السلام بينكم**). [3]

ژباړه: په هغه ذات مى قســم دى چى زما روح او ســاه د هغي په لاس کى دى ترهغو به جنت ته داخل نشيـ ترڅو ايمان راوړې او تر هغو ايمان نشــى راوړلى! ترڅو خپل منځ کى مينه راوړي، آيا زه ستاسو ته يو شي لارښوونه ونکړم چى کله هغه وکړي نو په مينځ کى به مو مينه پيدا شي؟ ســلام په خپل منځ کى خپور کړى.

---

١ - د هود سورت ٦٩ آيت.

٢ - د مريم سورت ١٥ آيت.

٣ - سنن أبي داود، حديث: ٥١٩٥.

دسلام مرتبه او پېغام یې:

۱ – ســـلام د الله په نومونو کې یو نوم او عیب نه ســـلامتیا او دفنا څخه په امان کېدو به معنی.

۲ – سلام د مینی او قلبي احترام نښه ده مقابل لوري ته.

۳ – په پخوانیو ملتونو کې د سلام کولو سنت موجود ؤ.

۴ – ســـلام یعنی : د امت ، انبیاؤ او ټولو موجوداتو لپاره د امنیت او ســـلامتیا غوښتنه ده.

۵ – الله ﷻ په خپلو غوره بندګانو باندی سلام کوي.

٦ – فرښتی جنتیانو باندی سلام کوي.

۷ – د سلام کولو اجر او ثواب ډېر زیات دی.

۸ – د سـلام ځواب و جواب حتی د لمانځه په حال د اسـلام د اهتمام نښـه ده د امنیت اهمیت ته .

۹ – د خبرو پېل کول په سلام باندی.

۱۰ – د سلام کوونکي ثواب د سلام ځوابونکي نه ډېر دی.

۱۱ – ما شومانو ته سلام اچول د توا ضع خوی تقویه کولو سبب گرځي په سلام کوونکي کې او په ماشـــوم کې د شـــخصـــیت پېداکولو او په ځان باور کول پېداکېږي.

۱۲ – سپیڅلی شارع د سلام کلمه یوازینی کلمه گڼي چې خاص احکام له ځان سره لري زیات فقها وایي: حتی په لمانځه کې هم د سلام ځواب فرض دی.

د امنیت ډولونه:

کولای شو چې امنیت په دنیوي او أخروي باندی وویشو،اما دنیوي:

۱ – **فردي امنیت**: هغه حالت دی چې په هغه کې وگړی د خپل ځان ، مال او آبرو ته د زیان رسیدلو بیری نه فارغ او د هغو د لاسه ورکولو نه فارغ ژوند وکړي.

۲ – **کورنی امنیت**: هغه مهال چې کورنی او غړي یې د سـوکالی ، هوسـاینی او امنیت لپاره یي په هرډول مشکل او خطر فکر وکړي او ډیر ژریې لری کړي.

۳ – **ټولنیز امنیت:** له تهدید څخه د ټولو د فراغت حالت دی چې د دولت یا فردي یا ډله ایز غیر قانوني کړنی په ټولنی یا ځینی ټولنی کې ښـکاره شي او په اوسني حقوقي نظام کې فیصله په دی ده چې قانون د آزادیو په تعریف او د فرد حقوقو، او سزا د هغو کسانو چې دی حدودونه اوړي ، د فردي او اجتماعي امنیت ساتنه کوي.

۴ - **فرهنگي امنیت:** فرهنگي امنیت د ملی امنیت یو مهم بعد ده ، پدی مفهموم چې له یوی خوا د ټولنی فرهنگ د عقلاني ، واقع بینانه ، جوړونکی ، عادلانه ، پوهی او د علمی مطلبو معیارونو موافق جوړښتونو تشکیل شوي وي او له بلخوا د ټولنی فرهنگ او فرهنگي تولیدات هم د تهدیدونو د خطر نه په امان کیدلو ترڅنگ د زیا تېدونکي رشـــد نه برخمن وي د اســـلام له نظره فرهنگی امنیت د ټولنی د افرادو تر منځ موجود ټولوتو پیرونو او ډولونو له مینځه وړلو په معنا ده او یو ډول کول یې ندی ، البته لازمه ده چې په هر سیاسي نظام مواظبت وشی ترڅو توپیرونه په ژورو د رزونو تبدیل نشي، او دغه درزونه تل باید د ژور توب اوســطحی توب له پلوه د دولت لخوا کنترول شي ترڅو ټولنه گډه وډه نشيــ، له بلخوا د فرهنگي امنیت په تضـــمین کې د فرهنگي یرغل په وړاندی ودریدل ډیر مهم دي ، چې دری بڼی لري: فرهنگي تپل ، فرهنگي ورانی ، فرهنگي تهدید.

۵ - **ســـیاسي امنیت:** ســـیاسي امنیت د یو هېواد د حاکمیت لخوا د آرامتیا ، لازمه طمانینه برابرولو په معنا ده چې دخپل هېواد ښاریانو لپاره د بېلابېلو بهرنیو تهدیداتو د مقابلی له لاری او همدارنگ د هغوی د ســـیاسي حقونو تضـــمین په مشـــارکت سره چې په ټاکلو د ســـیاسي او اجتماعي برخلیک دهغو سره وي ، ســـیاسي نظام د برخلیک په ټاکنه کې د خلکو د شراکت او دخالت لپاره لاره هوارولو په ترڅ کې باید دهغوی امنیت او آزادانه او یوشـــان حضـــور برابر کړي او هیڅوک باید اړنکړی چې یو خاص سیاسي باور ولري او بندی کوي دی نه.

٦ - **اقتصـــادي امنیت**: د ۱۹۴۵ میلادی کال را پدیخوا د اقتصـــادی امنیت نظریي د ســـیاسي نظامونو په کړنلاری کې او چت ځای موندلی دی ، او ټول هڅه کوي چې خپلو خلکو لپاره اقتصـــادی امنیت برابر کړي. د رابرت ماندل په آند: اقتصـــادي امنیت عبارت دی له د یوي ټولنی د خلکو د ســـاتنی د کچی او ژوند د تګلاری د ارتقاء څخه چې د خدمتونو ترسره کولو له لاری وي. هم د کورنی کړنی له لاری او هم په بین المللی بازارونو کې د حضور له لاری.

۷ - **د چاپیر یال ســـاتنی امنیت**: د امنیت نویو اړخونو په ډ له کې یو هم د اوسیدو اړخ او د هر هېواد اقلیمی شرایط دي.

اوسیدو چاپیریال د دی ترڅنګ چې کولای شي د هېواد د اقتصادی بنسټونو او جســـمي او رواني روغتیا د ځواکمنیدو لاملونه برابر کړي د ملی امنیت په تقویه کولو کې هم مهم عامل ګرځیدای شي. د محیط زیســـت امنیت پدی معنی چې د داســـی شرائطو موجودیت چې نســـبي مطلوب امنیت د خطرونو ، تهدیدونو د ځمکی د ځنګلو د فعل او انفعالونو ، جوی ســـتونزو ، خاوری ککړتیا ، او بو او هوا ککړتیا، صـــوتي ککړتیا،د بیماریو خپراوی د ســـالم ژوند د دوام لپاره ، د انســـان څارویو ، ګیاه ګانو د سالم ژوند لپاره ، او په توله کې د ټولو ژوندیو موجوداتو لپاره او جامداتو د ورانید د مخنیوی لپاره پېدا کړي.

سیاسي نظامونه به دخپل هېواد د محیط زیست خصوصیاتو په دقیقی مطالعی او پدی اړه علمي پروګرامونو پلي کولو او دمحیط زیســـت ســـاتنی اســـتاندردونو

مراعاتولو سره د ملي امنیت او منطقه یي امنیت د تقویه کولو موجبات برابر ولای شي.[1]

۸ – **عمومي امنیت:** داســـی حالت دی چې یو ملت د هرډول تهدیدنه ډاډه وي د مال ، ځان خاوری د لاســـه ورکولو نه ډاډه ژوند وکړي . نن لږ یاډیر په ټولو هېوادونو کې یو ډول سـیاسي یا امنیتی پولیس شـته چی موخه یې فرض ډول د ورانوونکو او خوزنده عواملو ، هیواد ته د جاســـوس د نفوذ مخنیوی هېواد ته ، ټکول د هغو کسانو چې د غیر قانونی لارو د موجوده سیاسي نظام لپاره خنډونه جوړوي ، څومره چې یو نظام راټول وي هومره د ســـیاسي اولس قدرت ، اغیز من توب په هغه نظام کې زیات وي . دغه ډول ســـیاسي نظامونه چې د علنی او غیر قانوني مخالفتونو لپاره کوم ځای نه پریږدي. خپل مخالفان یا دښـــمنان همیش د ملی امنیت د دښمنانو په نوم یا نورو نومونو ټکوي او له منځه یې وړي.

۹ – **بین المللي امنیت:** هغه حالت دی چې په هغه کې قدرتونه د تعادل په حالت کې او پرته لدی چې یو دبل په حدودو کې لاســـوهنه وکړي ژوند وکړی او موجوده وضعیت په خطر کې واقع نشي ، کله هم چې یو قدرت د خپلو حدودونه تیری وکړي د قدرت په لحاظ یا مخالف قدرتونه تیری وکړي نو بین المللی امنیت په خطر کې پریوتی دی.

۱۰ – **أخروي امنیت:** په ځینو آیتونو کې د اخروي امنیت حکایت کوي:

---

۱ - د (اخوان کاظمي، بهرام، امنیت در نظام سیاسی اسلام) کتاب څخه.

۱ – هغه کسان چې پوره ایمان لري د انعام سورت کی الله ﷻ فرمايي: کومه یوه ډله بوت پالونکي او که الله پالونکي ډیره وړده د ډاډمنتیا؟ (**فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالأَمْنِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ**).[۱]

په همدی ډول سره د انعام ســورت کې د مؤمنانو او اهل باطل په پرتله کې فرمايي: (**الَّذِينَ آمَنُواْ وَلَمْ يَلْبِسُواْ إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُوْلَئِكَ لَهُمُ الأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ**). [۲]

هغه کســان چي ایمان یې راوړی او خپل ایمان یې د شرک او ظلم سره پلیت کړی نه وي امن یوازی د همدوی دی او یوازی همدوی لار میندونکي دي.

۲ – هغه چې د الهي هدایتی پروګرامونو نه متابعت کوي: (**فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ**).[۳]

کله چې کوم هدایت ځمالخوا تاســو ته درغی ، څوک چې د هغه متابعت وکړي نه به بیره پری وي او نه به غمجن وي.

۳ – هغه کسان چې په الله او دقیامت په ورځ ایمان لري او ښه کارونه کوي.

(**إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَالَّذِينَ هَادُواْ وَالنَّصَارَى وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ**).[٤]

---

۱ - د الأنعام سورت ۸۱ آیت.

۲ - د الأنعام سورت ۸۲ آیت.

۳ - د البقری سورت ۳۸ آیت.

٤ - د البقری سورت ٦٢ آیت.

هغه کســان چې ایمان یې راوړی او د یهودو قانون ته ژمن شــوي او نصــاری او صــائبان کله چې په الله او دقیامت په ورځ ایمان راوړي او ښــه کار وکړیي ثواب یې د پالونکي سره منل شوی او هیڅ ډول بیره او غم پر هغوی نشته.

۴ – الله تعالی ته تسلیم شوی او نیکان:

(**بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِندَ رَبِّهِ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ**).[۱]

هو څوک چې خپل مخ الله تعالی ته تسلیم کړی او ښه کوونکی وي ثواب یې د پالونکی سره ثابت دی او دغه شان کسان نه ډارلري اونه غمنجن کیږي.

۵ – هغه انفاق کوونکي چې احسان نه کوي: (**الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ ثُمَّ لاَ يُتْبِعُونَ مَا أَنفَقُواْ مَنًّا وَلاَ أَذًى لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ**).[۲]

هغه کســان چې خپل مالونه د الله په لارکې مصرفوي بیا د انفاق کولو وروســته منتونه نه کوي او زورول نه کوي ، ثواب یې د پالونکي سره شته ، نه ډار لری او نه غمجن کیږي.

٦ – دالله ﷻ دوستانو امنیت : (**أَلا إِنَّ أَوْلِيَاء اللّهِ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ**).[۳]

(خبر اوسئ) د الله ﷻ دوستان نه بیره لري او نه غمجن کیږي.

---

۱ - د البقری سورت ۱۱۲ آیت.

۲ - د البقری سورت ۲٦۲ آیت.

۳ - د یونس سورت ٦۲ آیت.

(إِلَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُوْلَئِكَ لَهُمْ جَزَاء الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ).[1]

د هغو کســـانو پرته چې ایمان راوړلي او کوم صـــالح کارو کړي ، د هغوی لپاره مضـاعف ثواب د هغو کارونو په بدل کې شـته چې ترسره کړي دي او هغوی به د خونو دننه امنیت کې وي.

د نا امني عوامل:

۱ – د سیاسي او اجتماعي نخبه ګانو ترمنځ داخلی جنجالونه.

۲ – په هېواد کې میشتو قومونو او میلتونو ترمنځ د ویووالی او انسجام نه شتون.

۳ – قومي توپیر او قبیلوي عصبیتونو فشارونه.

۴ –د سیاسي حاکمانو په اړه د قدرت نه بهر قومونو د اطمنان نشتون.

۵ – قومي ، قبیلوي ، اجتماعي ، اقتصادي ، فرهنګی او سیاسي توپیرونه.

٦ – د بهرنیو هېوادونو لاسوهونکی نفوذ.

۷ – پر بین المللي ډګر کې د دولتونو او قدرتونو د قدرت مانور زیاتوالی.

دامنیت ګټې:

۱ – **عمومي ګټې**: ا صولاً منافع تلپاتی او عام اهداف دي چې ملت یې د تحقق په لار کې فعالیت کوي . هره ټولنه باید د یو کل او مسؤلیت لرونکی ګډو ستونزو

۱ - د سبأ سورت ۳۷ آیت.

په درلودلو په څیر د ټولو ښـــاریانو لپآره په نظر کې ونیول شي. هرڅه چې د ټولنی نیکمرغی، سعادت او په ګټه وي هغه د جامعې منفعت دی.

۲ – د ټولنی نیکمرغي: د وچې او لمدی موجودات، د ټولو الهي انبیاؤ رالیږل د بشر د نیکمرغی لپاره خلق شوی دي ترڅو د الله ﷻ عبادت وکړي:

(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ).[۱]

(أَفَحَسِـــبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ) .[۲]

۳ – امنیت د انسان د روحي او رواني سلامتیا باعث دی :

او انســان د ځمکی پر مخ د الله ﷻ خلیفه دی : **(وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُواْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاء...).**[۳]

۴ – ټول الهي برکتونه د امنیت تر ســیوري لاندی تر لاســه کېدای شي :
(وَضَرَبَ اللّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللّهِ فَأَذَاقَهَا اللّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُواْ يَصْنَعُونَ).[٤]

---

۱ - د الذاریات سورت ٥٦ آیت.

۲ - د المؤمنون سورت ۱۱۵-۱۱٦ آیتونه.

۳ - د البقری سورت ۳۰ آیت.

٤ - د النحل سورت

او زرګونه نوری ګټې شـــته چې د ټولو یادول پدی لنډه وینا کې نه ځاییږي او پدی څو الهی آیتونو بسنه کوو.

۵ – د روح او روان سـلامتیا د امنیت پوری تړلی دی : په اسـلام کې همغه شـان چې ځینی ځایونه د امن ځایونه حسـابیږي ، ځینی میاشـتی ، زمانی هم د امن زمانی شـــمیرل کیږي د (رجب ، ذوالقعده ، ذوالحجة او محرم) څلور ګونی میاشـــتی چې اســـلام یې پر حرمت باندی جدي تاکید لري ، دا دلیل دی چی اسلام امنیت ته څومره اهمیت ورکوي ترڅو انسان په امان کې وي.

٦ – د امن او هوســـاینی ژوند او د ویری او خطر نه خالی ژوند نه ګټه اخستل:

(إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ادْخُلُوهَا بِسَـلاَمٍ آمِنِينَ وَنَزَعْنَا مَا فِي صُـدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَانًا عَلَى سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ لاَ يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُم مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ).[١]

٧ – فردي آزادي د امنیت د ســیوري لاندی میسرـ دی: چي انســان د خپل ضایع شوو حقونو نه دفاع وکړي او د خوف او خطر پرته آزادانه تګ راتګ وکړي.

د نا امنی ضررونه (زیانونه):

١ – د انسانانو له منځه تلل، د بی ښاره ښتریانو ټپی کیدل او معلولیدل .
٢ ـ د کورنیو بی سرپرسته کیدل، یتیم کیدل د بی ګناه ماشومانو او د دوی محروم کید ل د والدینو له نعمت نه .

١ - د الحجر سورت ٤٥-٤٨ آیتونه.

۳ – د هیواد اقتصادي تأسیساتو او ودانیو ورانیدل .

۴ – د هیواد اکوسیستم، اوسیدنی چاپیریال او ملي منابعو ته نه منونکی زیانونه رسیدل .

۵ – د پرګنو او قومونو په منځ کې د ملي باور له منځه وړل .

٦ – د تاریخي او فرهنګي آثارو له منځه تلل چې د هیواد ویاړونه دي .

۷ – د بی رحمی، قساوت، چور او چپاول، او انسان وژنی فرهنګ خپراوی.

۸ – د پردیو هیوادونو د تیریو په وړاندې د هیواد کمزورتیا او بی وسي .

۹ – د ټولنیزو ګد وډیو او ناخوالو زیاتوالی لکه : بی سرپوښي، اداري فساد، اخلاقي فساد، غلا، او په مخدره توکو روږدي کیدل او .....

۱۰ – د ځوانانو زیات تښتیدل چې د ټولنې اصلي پانګه ده .

۱۱- د هیواد د حدودو څخه د علمي شخصیتونو تښتیدل.

۱۲- د نقدي پانګو او ملي سوداګرو ویستل له هیواد.

۱۳- په بین المللي ډګر کې سیاسي، اقتصادي او فرهنګي کمزورتیا .

۱۴- د مختلفو بیماریو خپریدل او کنترول نه کیدل یې.

۱۵ – په ټولنه کې د عصبي او رواني مرضونو خپراوی.

۱٦ – د فقر، بیکاری او تنګسیا شتون .

۱۷ – د هیواد په د ننه او بهر کې د کورنیو بیځایه کیدل او تحمیلي مهاجرتونه .

۱۸ - د ملت سپکاوی او توهین د قبلوونکو هیوادونو لخوا.

۱۹ - د امنیت او روغتیا نه پاتیدل چې د الله ﷻ سترونعمتونو څخه دي .

د امنیت د ټینګښت لارې چارې:

۱- منګولی لګول لږ ول په قرآن او ســـنت او درســـول الله ﷺ تګلاری باندی دخپل منځي کړنو او تعاملاتو تګلوروکې.

۲- په ټولنه کې د میشتو ملیتونو او قومونو ترمنځ د ملي تړون او یووالي روحیه قوي کول.

۳- د ســـیاسي او قومي مشرـــانو ترمنځ د تحمل ، یو بل منلو او روغې جوړې فضا راوستل.

٤- ملي سترو مسئلوته مخه کول پرته لدی چې قومي ، مذهبي او منطقه یې اړخ غوره شي.

٥- د هېواد په کچه د ټولنیز عدالت مراعاتول په سیاسي ، اداري ، اقتصادي او فرهنګي جوړښتونو کې.

٦- اجرا او تعمیم د عدالت او قانون په یو شـــان او په ټولنه کې د هر ډول تبعیض نفی کول.

۷- په ټول هېواد کی د ملی پخلاینی اعلان او وســـله ایښـــودل پرځمکه ، او اســـاسي قانون ته ورتلل چې د هېواد یوه ملي پانګه او د ځواک او امنیت ښکارندوی دی .

۸- زمینه او ډګر جوړونه د خلکو د مادي او معنوي ژوند لپاره.

۹- دښـــاریانو حقوق برابرول او د غیر مســـلمو ډاډمنتیا او مادي ژوند د دوی برابرول.

۱۰- امنیت راوستل او پوره حق ورکول خلکوته په تیره بیا مظلومان ته .

۱۱- د اقتصادی نظام اکمال ته رسول د ټولنی د صحیح او قوي اداری لپآره.

پایله او نتیجه:

پورتنیو مطالبو او اسـلام ماهیت ته په کتو د بشرـی تمدن په جوړونه او پرمختګ کې دین نقش او اغیز د ډیرو تاریخ لیکونکو او ادیانو ټولنپیژندونکو په اند انکارنه منوونکی دی.

الهي پیغمبران د اخروي سـعادت ترڅنګ د خلکو لپاره د دنیوی نیکمرغیو پیغام راوړونکي دي او د الله ﷻ وروستي پیغمبر ﷺ د بشر د نیکمرغي او سعادت لپاره خورا ډیر کړ او ګاللی او ډیر مناسبی لاری یې په دی هکله رابښودلی دي، امنیت د تاریخ په اوږدوکې د بشرــ د ژوند یو ډیر مهم جوړښـــت ؤ حتی د انبیاؤ را لیږلو فلسفه هم داده چی بشر د دغی لانه وژغوري ، ترڅو په ملکوتي غږ سره انسان د جهل ، ناپوهي ، خشـونت او بدمرغی له ګرد او څخه را وباسي نن ځمونږ د خلکو ګډه غوښتنه او تاوده بحث موضوع امنیت ده نږدی څلویښت کاله روز په ورځ د ناامنی کچه زیاته شوی ، د هېواد امنیت لږ شوی ، مونږ ملي امنیت ستونزه لر، د قرآن کریم په آیتونو ، او پیغمبر ﷺ نوراني جملاتو او نه جبران کیدونکو ضررونو بیان ته اشاره شوی ده ، پدی خطبه کې هڅه شوی تر څو د قرآن کریم او پیغمبر ﷺ روایاتو باندی په اســـتدلال سره د امنیت مرتبه او اهمیت یې د ټولنی په سلامتیا کې بیان کړو او د امنیت اقسام ، امنیت ته د رسیدو لاری معرفی کړو د هغی ورځی په هیله چې ځمونږ په ګران هېواد اسلامي افغانستان کي سرتاسري سوله او امنیت حاکم شي.

٦٧

ژمنی (عهد) ته وفا

ان الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور أنفسنا و من سيات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له، و من يضلله فلا هادی له و نشهد أن لآ اله الاالله وحده لا شريک له، و نشهد أن محمدا عبده ورسوله. وبعد قال الله تبارک و تعالی أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسيم الله الرحمن الرحيم:

(**يآ أيها الذين آمنوا أوفوا بالعقود**)[١] ای مومنانو! په ژمنو وفا وکړئ) او فرمايی: (**و أوفوا بعهدي أوف بعهدكم**)[٢] هغه تړون ته وفا وکړئ چی زما سره موکړی ترڅو زه هم ستا سو تړون ته وفا وکړم. (**وأوفوا بالعهد ان العهد كان مسؤلا**) [٣] په ژمنه وفاوکړئ چې د ژمنی پوشتنه کېږي. او فرمايي: (**وأوفوا بعهدالله اذا عاهدتم**)[٤] د الله په ژمنی وفاوکړئ کله مو چې ژمنه وکړه. قال رسول الله ﷺ : (**لا ايمان لمن لا أمانة له ولا دين لمن عهد له**).[٥]

---

١ - د المايده سورت ١ آيت.

٢ - د البقری سورت ٤٠ آيت.

٣ - د الاسراء سورت ٣٤ آيت.

٤ - د النحل سورت ٩١ آيت.

٥ - مسند الامام احمد، حديث: ١٢٤٠٦.

هغه څوک ایمان نه لري چې امانت نه ساتي او هغه څوک دین نه لري چې ژمنه او تړون نه لري).

محترمو مومنو او مسلمانو لمونځ کوونکو:

د الله ﷻ نه مننه کووم چې مونږ او تاسـو ته یې فرصـت راکړ چې یو ځل بیا د الهي فریضی ادا کولو لپاره چی د جمعی لمونځ دی دی مبارک ځای کې راټول شو او وعظ او تبلیغ او الهي پیغام ته غوږ یو. ځمونږ د نن ورځي د بحث مو ضوع یو مهم مطلب دی چې زمونږ په ورځني ټولنیز ژوند کې ډیر زیات او جوړوونکی نقش لري چې عبارت ده له (ژمنی ته وفا)

محترمو دوستانو او مؤمنو لمونځ کوونکو:

دعمر بن الخطاب رضـی الله عنه خلافت په زمانه کې دری کسـان چې یو ځوان یې نیولی ؤ عمر رض ته راغلل او وی ویل : ای امیر المومنین! غواړو چې دغه ځوان قصاص کړی چې زمونږ پلار یې وژلی دی ، عمر بن الخطاب وویل: د دوی پلار دی ولی وژلی؟ وی ویل زه د اوښـانو شـپون یم یو اوښ د دوی د پلار دونی پاڼی وخوړلی ، د دوی پلار ځما اوښ په ډبره وویشـت او زما اوښ مړ شـو، ما هغه ډبره واخسته او د دوی پلار می وویشت هغه هم مړ شو. عمر بن الخطاب رضی الله عنه وویلی: پدی صـورت کې حدپرتا پلې کووم. قاتل وویلی: دری ورځی فرصـت راته راکړه او څه ذخیره چې ما او زما وړوکی ورورته ترکه پریښـی ده ، کچېری ما ووژنی هغه ذخیره او وړوکی ورور زما له منځه ځي، عمر بن الخطاب وفرمایل: آیا څوک سـتا ضـمانت کوي؟ قاتل خلکوته وکتل وی ویل: د دی سـړی

ضـمانت کوي؟ عمر بن خطاب وویل: ای ابوذر! آیا ددی سـړي ضـمانت کوي؟ ابوذر رضـی الله عنه وویل: ای امیرالمؤمنین! زه د ده ضـمانت کووم ، عمر وویل: ای ابوذر ته هغه پیژنی؟ کچېری وتښـتیده قصـاص په تا پلې کووم. ابوذر رضـی الله عنه وویل: منم، قاتل لاړ لومړی او دوهمه ورځ تیره شوه ټول اندیښمن شول چې : قاتل وتښـتید او قصـاص په ابوذر پلی کیږي ، دریمه ورځ قاتل سـتړي ، سـتومانه راغی او دخلیفه مخی ته ودرید او وی ویل: ذخیره او وړوکی ورور می خپلو ماماگانوته و سپاره اوس قصاص را باندی پلی کړه! عمر بن الخطاب حیران شو وی ویل: کوم څیز ته اړکړی چې بیرته راغلی سره لدی چې تښتیدای شول؟ قاتل وویل: ویریدم چې زما نه وروسـته به ویل کېده چې : ژمنی ته وفا له خلکو تللی ده. عمبر بن خطاب رضـی الله عنه د ابوذر نه پوښـتنه وکړه ولی او څنگه دی د ده ضـمانت وکړ؟ ابوذر وویل: وبیریدم چې خلک به ووایي: خیر او ښـېگڼه له خلکو او چته شوی ده .د مقتول اولاد هم ددی حالت نه اغیز من شول او قاتل یې وباښـه او عفوه یي ورته وکړه.عمر بن الخطاب وویل: ولی دی وباښـه؟ د مقتول ځامنو وویل: له دی وبیریدو چې وویل شي چې: ښـنه کول د خلکو له منځه کډه کړی. (په الطریق الی الله سـایت کې لیکل شـوی: قصـه عمر بن الخطاب والاعرابی.)

محترمو حاضرینو! دا پخپله ژمنی ته د وفا اهمیت بیانوي چې په خلکو کې پېداوی نو باید پوه شـو ژمنی ته وفا یعنی څه؟ څه گټی پکی شـته او د نه موجودیت په وخت یې څه بدی پایلی فرد او جامعی لپاره لري؟

د وعدې(ژمنه او تړون) تعریف :

وعده او عهد یعنی : تړون ، معاهده ، شرط او قرار داد . ژمنی او تړون ته وفا د اجتماعي ژوند ډیر اساسي شرط دی . او ددینه پرته هیڅډول اجتماعي مرسته نشي کېدای او انسان د اجتماعی ژوند له لاسه ورکولو سره مثبتی اغیزی یې هم له لاسه ورکوی پّ همدی خاطر په ا سلامي منابعو لکه قرآن او حدیث کی د دی موضوع (ژمنی او تړون ته وفا) په هکله زیات تاکید شوی دی . او ځوک چې ژمنی او تړون ته ژمن ندی ډیر رټل شوی دی . الله متعال فرمایي:

(**یآ أیها الذین آمنوا أوفوا بالعقود**)[1] ای مؤمنانو! ټولو ژمنو باندی وفا وکړئ. په بل ځایی کې فرمایی: (**وأفوا بالعهد ان العهد کان مسؤلا**) [2] په خپلو ژمنو وفا وکړئ، بی شکه

(هرڅوک) د خپلی ژمنی په هکله پوښتل کېږي.

د تړون ماتونی او وعده خلاقي او نقض عهد په هکله فرمایي: (**فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أَوْفَى بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا**).[3] هرڅوک چې تړون مات کړی په خپل زیان یې تړون مات کړی او ځوک چې هغی ژمنی ته وفا ولري چې د الله ﷻ سره یې کړی ډیر ژربه الله ﷻ ورته ستر ثواب ورکړي).

---

۱ - د المایده سورت ۱ آیت.

۲ - د الاسراء سورت ۳٤ آیت.

۳ - د الفتح سورت ۱۰ آیت.

د منافقینو هغی ډلی په اړه چې (الله ﷻ سره یې تړون او ژمنه کړی وه او پیغمبر ﷺ ته یې وعده ورکړی وه چې دښمن ته به شاه نه اړه وي او د اسلام او رسول الله ﷺ نه به دفاع کوي بیا یې وعده ماته کړه داسی فرمایي: (**وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ الْأَدْبَارَ وَكَانَ عَهْدُ اللَّهِ مَسْؤُولًا**).[1]

بی شکه هغوی پخوا د الله ﷻ سره ژمنه کړی وه چې د ښمن ته به شانه اړه وي او دالله ژمنه پوښتل کېږي. د همدی ځایه ویل شوي دي چې : د صداقت دیر مهم عنصرـ وعدی باندې وفا او یو ډیر ښه صفت دی چې باید هر انسان ځان پری ښکلی کړی ځکه چې د پانګی اساسي عامل باور په ژوند کې دی او اوس د متمدنو انسانانو یو ډیر با ارزښته صفاتو په توګه شمېرل کېږي ، او پر مختللی ټولنه په کلکه ځان مکلف بولي چې دا مراعات کړي په همدی خاطر قرآن کریم خلک د دغه ښایسته صفت په مراعاتولو مأمور کړي او عزتمن پېغمبر ا سماعیل ذبیح (ع) وعدی ته په وفا کولو د تمجید او ستاینی ور ګرځوي او فرمایي: (**وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا**).[2]

په آسماني کتاب قرآن کې اسماعیل یاد کړه هغه څوک چې په خپلو وعدو کې ډیر ریښتنی ؤ.

---

١ - د الأحزاب سورت ١٥ آیت.

٢ - د مریم سورت ٥٤ آیت.

د وعدو ډولونه:

انســـان په ژوند کې ګنی ژمنی لري دغو ژمنو باندی وفا د اجتماعي ژوند د ضرورتونو نه ده ، او دی ژمنو باندی د وفا نه پرته ژوند خوندور مخی ته نه ځي.

ستر تړون او ژمنه د الله تعالی او بندګانو په منځ کې:

الله تعالی فرمايي: (**وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْـــهَدَهُمْ عَلَى أَنفُسِهِمْ أَلَسْتَ بِرَبِّكُمْ قَالُواْ بَلَى شَهِدْنَا أَن تَقُولُواْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ**).[1]

او یاد کړه هغه وخت چې ســـتا رب د آدم د بچیانو د شـــاګانو نه دهغوی زوزات راواخســـت او هغوی یې په خپل ځان شـــاهدان وګرځول او وی فرمایل: ایا زه ستاسـو رب نه یم؟ وی ویلی: ولی نه! (الله تعالی همداسـی وکړل هسـی نه) د قیامت په ورځ ووايي: مونږ لدینه خبر نه ؤ (د فطري تړون نه ناخبره ؤ) پورتني آیتونه د هغی ژمنی او تړون خبره کوي چې سر پټی د آدم ﷺ له اولادو ته اخستل شوی دی ، ځکه کله چې آدم ﷺ پیدا شو راتلونکي اولادونه یې د بشر د وروستی فرد پوری د هغه له پشـــته د ذرو په بڼه راووتل ، هغوی د کافي عقل او شـــعور خاوندان شـــول چې د اوریدو او خبرو کولو قابل ول په همدی مهال د الله ﷻ لخوا ورته خطاب و شو(آیا ستا سو پالونکی نه یم) ټولو په ځواب کې وویل: (**بلی شـــهدنا**) هو ټول پدی حقیقت شـــاهد یو) دا یو ســـتر تړون دی چې د الله ﷻ او بندګانو ترمنځ ترسره شوی ، بی شکه الله ﷻ انسان په خپل قدرت سره پیدا کړ

---

١ - د الأعراف سورت ١٧٢ آیت.

او په بی پایه نعمتونو سره یې پاللی او تری غواړي چې دغه حقیقت باندی پوه شي او اعتراف پری وکړي او اجازه ورنکړي چې گمراهی گانی او د دنیا محبت سبب شي چې دغه ستر او مهم تړون هیر کړي.

الله تعالی فرمایي: (**أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ وَأَنْ اعْبُدُونِي هَذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ**).[1]

ای د آدم اولاده! آیا ما تاسوته سپارښ نه ؤ کړی او امر می نه ؤ کړی چې د شیطان پرستش مه کوئ؟ ځکه چې هغه ستاسو ښکاره دښمن دی، او آیا تاسوته مې امر نه ؤ کړی چې یوازی زما عبادت کوئ چې سیده لار همداده اوبس. اساس د دنیوی کرامت او د انسان د آخرت سعادت دی ژمنی او تړون ته په وفا کې دی.

په معاملاتو کي په وعده وفا:

د اسلام مبین دین سپارښتنه کوي چې خلک خپل مالي او غیر مالي قرار دادونه محترم وگڼي او کوم شرطونه چې پکي راغلي دی پلي کړي او وفا پری وکړی.

په یو حدیث کې راغلي دي (**المسلمون علی شروطهم**)[2] مسلمانان هغه شرطونه ته چي تړلی دی وفا لري.) او خپل شرطونه ساتي او په مقتصایې عمل کوي ، یقینا د سوداگری او نورو اقتصادی معاملو کې د اعتماد خپراوی تړونونو ته د وفا واجب

---

١ - د یس سورت ٦٠-٦١ آیتونه.

٢ - صحیح البخاري، حدیث: ٢٢٧٣.

والي پراســـاس ده او دهمدی لاری اعتماد موجود يږي ، البته کوم شرطونه چي وفا پری واجب ده بايد د شرعی چوکات مطابق وي کنه نو مســـلمانان د هغو په وفا باندی مکلف ندي.

په دغه تړون وفا چې میړونه يې د خپلو ښځو سره کوي:

داســـلام مقدس دين د میړونو تړونونوته ډير زيات اهميت ورکړی او خاصـــه توجه يې ورکړی رسول الله ﷺ فرمايي: (**ان أحق ما وفيتم من الشروط أن توفوا ما استحللتم به الفروج**).[1] يقيناً ډير وړ شرطونه چې دتاســـو لخوا وفا کول پری واجب دی هغه دی چې د واده په مهال يې ږدی او په هغو سره نامحرمی ښـــځی د ځان لپاره حلالوي.

نوښـــځه چې کوم ســـړي سره واده کوي حق نلري حتی يو درهم د هغه له حق نه سترگی پټی کړي او خيانت پکي وکړي ، او شرعي شرطونه چي د واده نه وړاندی د میړه سره يې ژمنه کوي بايد دواده نه وروسته يې په پوره ډول پلي کړی او دکولو وفايي وکړي.

اداري او کاري تړون ته وفا:

انسان د پلار ، مور ، خور، ورور، دوستانو ، اشنايانو ، استاذانو، روزونکو او مسؤلينو په وړاندی ژمنی لري او بايد په دی ژمنو عمل وکړي او عمل نه کول ورباندی گناه لري او سزا لري ، يوه ژمنه چې مونږ يې لرو او په ژوند کې هم ستر اغيز لري

---

١ - صحيح البخاري، حديث: ٥١٥١.

هغه اداري اوکاري ژمنه ده تاســو په یوه اداره کې ګمارل کېږي اواړوند ټولی فورمی امضا کوي ، پدی لاسلیک سره ژمنه کوي چې په دغی اداری یا موسسی کې کار وکړي دا یو تړون دی د ستا سو او د اداری د مسؤل ترمنځ او په حقیقت کې یو تړون دی د ســتاســو او د هېواد اجتماعی نظام ترمنځ . دغه تړون ته وفا ضروري ده او عمل پری نه کول د تړون خلاف ده چي یقینا ګناه شــمیرل کېږی او باید دا کار ونکړو.

د ابو جهل سره د حذیفه رضي الله عنه دوعدی کیسه:

حضرت حذیفه بن یمان مشهور صحابي او د رسول الله ﷺ رازساتونکی ، پلار یې یمان (رضــی الله عنه) په اسـلام باندی د مشرف کېدو وروسـته د رسـول الله ﷺ سره د ملاقات په موخه د مدینی منوری په لوري وخوځیده په لار کې د ابو جهل او لښکر سره یې مخامخ شو هغوی حضرت حذیفه او پلار یې ونیول او پو ښتنی تری شروع کړی چې چیرته ځي؟ دواړو ځواب ورکړ مونږ د رســول الله ﷺ سره د ملاقات لپاره مدینی منوری ته ځو، ابو جهل وویل: نو تا سی نه خو شی کوو ځکه تاسی مدینی ته د رسیدو وروسته د اسلام لښکر سره یو ځای کیږي او زمونږ سره جګړه کوي ، هغوی څرګنده کړه چې نه ځمونږ موخه یوازی د رســول الله ﷺ سره ملاقات دی ، مونږ په جګړه کې ګډون نه کوو، ابو جهل وویل: هغوی خوشــی کړئ، الهی فیصــله داوه چې کله رســول الله ﷺ د یارانو سره د مدینی نه بدرته روان شــوي ول، حضرــت حذیفه او پلار یي لاری ته راغلل او ملاقات په لاره کې وشــو د حق او باطل ترمنځ لومړنی جګړه پېل شــوه ، دا هغه نښــته ده چې قران

کریم د (یوم الفرقان) په نوم یاده کړی ده ګډون پکی د سترو ویاړونو نه شمیرل کېږي،رســـول الله ﷺ ته یي جریان وویلی بیایې څرګنده کړه چې ای د الله ج رسوله! تاسو بدر ته تشریف وړی، هیله لرو چی ستاسو په کاروان کې پدی جګړه کې ګډون وکړو ، هغوی چې زمونږ نه کومه وعده اخســـتی هغه د توری په زور وه که وعده مونه وای کړی مونږ یې نه خوشـــی کولو ، هیله کوو مونږته په دی جګړه کې د ګډون اجازه راکړئ تر څو دهغی د نیکمرغی او فضـــیلت نه برخمن شـــو حضرت رسول اکرم ﷺ وفرمایل: دا چې وعده مو ورکړی وفا پری وکړئ نو دا هغه ځایونه دي چې د انســـان د کړنی امتحان اخســـتل کېږی دهغی وعدی په هکله چې ورکړی یې ده. چې څومره هغه مراعاتوي کچېری څوک ځمونږ په څیر وای نو زر توجیه او تاویل به یی کاوه او ویل به یې: ځمونږ وعده د زړه له تله نه وه ، اړشـــو چی وعده ورکړو ، صـــحیح ده چی وعده مو ورکړی خو اوس د جګړی او دکفارو په وړاندی د جهاد او بحرانی شرایطو لامله د حضرت رسول الله په کاروان کې د وعدی له وفانه معذور یو ، ځکه چې د مسـلمانانو د شـمېر د کمښـت لامله هرڅوک چې د اسلام په لښکر ورزیات شي ډیر ارزښت لري.

د تړون ماتونی او وعده خلافي ضررونه:

وعده خلاقي یا تړون ماتونه یو ډول دروغ دي او دا ناوړه صـــفت د یو چا د شـــخصـــیت د نقص نښـــه ده ، چې په وعده خلافي سره د موجودی دوســـتی او محبت چی په افرادو کی شته اساس متزلزل کوي . او خورا ډیر ضررونه پیداکوي ، دخلکو وختونه ضایع کوي او په دروغو سره نور هیله من کوي او په پای کې یې

وعده خلافي د منافقینو ﷺلالهنده کوي ، په همدی دلیل دی چې رسـول الله په نښـو کی راولي فرمايي: (**آية المنافق ثلاث، اذا حدث کـذب و اذا وعد أخلف و اذا اؤتمن خان**).[1] د منافق نښـی دری دي د خبرو کولو په مهال دروغ وايي، کله چې وعده وکړي مخالفت کوی او که امین وګرځول شي خیانت کوي) د انسانانو د ژوند انکارنه منونکی ضرورت وعده ورکول قرار داد کول، تړون کول ، وفا په وعده باندی او قرار داد دی چې ډیری اقتصـادي او اجتماعي روابط د همدی وعدی په محور چورلیږي ، کله چی کوم تزلزل پکی راشي او داعتماد پانګه له منځه لاړه شي یوه وحشـتناکه ګډوډی به په تولنی واکمنه شي ځکه ډیره مهمه پانګه د ټولنی د اجتماع د افرادو خپل منځي متقابل اعتماد دی ، په حقیقت کې هغه څه چې ټولنه د تیت او پرک والي نه را باسي او د ځنځیر په څیریی سره ننبلوي همدغه د متقابل اعتماد اصـل دی ، خو کله چې ژمنی او تړونو نه مات شي بیانو کومه نښه د دغی ستری پانګی او عمومي اعتماد نه پاتېګي. او ښکار یو والی د ټولنی به شـلیږي . په څواشـینی سره چې نن په اسـلامي ټولنه کې د دغی سپېری ستونزی شاهدان یو ، ډیری خلک وعده کوي او عمل پری نه کوي ، دغه ډله کله یې چې د وعدی پوره کولو نه تخلف وکړ او خپل پت یې دله منځه تلو په حالت کې ولیده دروغجن عذرونه جوړوي او زیاتی بوختیا وی بهانه کوي او عذرونه کوي ترڅو خپل تخلف توجیه کړی پداسـی حال کي چي داسـی ډیر عـذرونـه مـوجـه نـه وي.

نو مومن انسان باید په خپلو وعدو وفا کوونکی او ملتزم وي . ځینی خلک یو فکره

---

۱ - صحیح البخاري، حدیث: ۳۳.

کوي او هغه لپاره وعده کوي او د وفا په وخت د خپلو وعدو خلاف کوي او د نورو د خفګان لامل ګرځي.

شاعر ثومره ښه وايي:

حسن قبل نعم قولک لا و قبيح قول لا بعدنعم

ان لا بعد نعم فاحشة فبلا فأبدا اذا خفت الندم

د دی وړاندی چې انســان چاته (هو) ووايي ښــه داده چی (نه) ځواب ووايي ، ځکه د (نه) ويل د (هو) ويلونه وروســته بد او ناوړه ده نو د عقل شرط داده چې کوم کار سرته نشي رسولای منفی ځواب دی ورکړي ترڅو په خجالت او شرم کې رانشي.

هغه مومنان چې وعدو، تړونونوته اهميت ورکوي د الله ﷻ د تمجيد سره مخامخ دي الله ﷻ په خپل منزل کتاب کې فرمايي: (**مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَـدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا**).[1]

مومنانو کی داســی کســان دي چې دالله سره کړي ترون باندی يې رښــتيانی عمل وکړ ځينی يې شــهيدان شــول او ځينی يې په انتظار کې دي او کوم تغير يې په کړي تړون کی رانه وړ.

قرآن کريم مســلمانانو ته خطاب کوي فرمايي: (**يآ أيها الذين آمنوا أوفوا بالعقود**)[2]

---

۱ - د الأحزاب سورت ۲۳ آيت.

۲ - د المايده سورت ۱ آيت.

ای مومنانو! تړونونو باندی وفا وکړئ. الله ﷻ د هغو کســانو په هکله چې دخپلو ویناؤ او وعدو خلاف عمل کوي فرمايي:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ).[1]

ای ایمان والاؤ! ولی داســـی خبری کوی چی عمل پری نه کوي؟ الله تعالی په نزدېره بده ده چې کومه خبره وکړی چې عمل پری نه کوی.

ژبه د زړه ترجمانه ده ، کچېری د دی دواړو لاری بېلی شي، د نفاق نښـــه ده ، او جوته ده چې منافق انسان د روح ، فکر له روغتیا نه محروم دی.

ډیره بده بلا داده چې پریوی ټولنی واکمنیدای شي هغه د اعتماد او اطمینان فقدان دی. او اصلی عامل یې د وینا بېلوالی دی له کړنی نه او وعده خلافي ده، کوم ملت چی وايي او عمل نه کوي او یا دهغه خلاف کوي هیڅکله نشي- کولای چې یو پر بل باوړ وکړي او د ستونزو او گډوډیو په وړاندی همغږي شی. هیڅکله به وروري او صمیمت د دوی په منځ کې واکمن نه شي. او هیڅ ارزښت او قیمت به نه لري او هیڅ دښمن به پروا پری نه کوي ، یو روښان ضمیری شاعر د داسی خلکو حال داسی انځوروي:

---

۱ - د الصف سورت ۲-۳ آیتونه.

دوش میگفت بلبلی با باز کزچه حال تو خوش تر است از من

توکه زشتی وبد عبوس و مهیت توکه لالی و گنگ و بسته دهن

مست و آزاد روی دست شهان با دوصد ناز می کنی مسکن

من بدین ناطقی و خوش خوانی با خوش اندامی و ظریفی تن

قفسم مسکن است و روزم، شب بهره ام غصه است و رنج و محن

باز گفتا که راست می گویی لیک سرش بود بسی روشن

دأب تو گفتن است و ناکردن خوی من کردن است و ناگفتن

٦٨

د شرابو حرمت

الحمد لله الذي أنعم على عباده بما أخرج لهم من الطيبات و أحل لهم ما تقوم به أبدانهم و حرم عليهم ما يسبب ضررا في أبدانهم و عقولهم و نشهد أن لا اله الا الله و حده لا شريک له الملک وله الحمد و نشهد أن محمدا عبده و رسوله البشير النذير صلى الله عليه و على آله و ڤصحابه و من تبعهم باحسان الى يوم الدين.

الله تعالى فرمايي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)[1]

اى مومنانو! شراب څښل قمار کول او بتان (هغه ډبره چې څنګ کې يې قربانى کوى) غشي- او هغه ډبرې او پاڼې د بخت ازميلو او غيب ويلو لپاره کارول کيږي. په ټوله کې د معنا په لحاظ پليت دي او د شيطان لخوا ښايسته شوى او تلقين شوى کړنه ده نو ددى پليتو کارونو نه لرى او سئ تر څو بريالي شى. رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (**الخمر أم الخبائث**)[2] (شراب د پليتيو مور ده) انسان د ورځنى فعاليت او هڅو سره چې ترسره کوي يې او پر لټه کې بوخت دى زيات ستړى

---

١ - د المايده سورت ٩٠ آيت.

٢ - المعجم الاوسط، للطبراني، حديث: ٣٦٦٧.

کېږی او د قوت نوي کولو ته اړتیا پېداکوي خو د دی په ځای چې خپل قوت د ښــولارو له لاری نوی کړی د شــیطاني او فریبونو ښــکار شي او په دروغجنه او منحرفه لار ځي او پدی گومان چې وکولای شي قوت نوی کړي د قید او شرط پرته د نفس غوښتنی مني او شرابو او نیشه یې توکو ته مخه کوي، ترڅو فوري او ژر تیریدونکی نشـاط تر لاسـه کړي او د بلخوا یو عمر پښـېمانه وي، او ټوله پانگه عزت، شرافت، ویاړ، ښــه نوم، ناموس عقل او دین یو ځای له لاســه ورکوي او دندامت، حسرـت گوته په غاښ ږدي په دی مطلب کې هڅه کېږي چې د شرابو څښکل د قرآن، سنت، شرع، عقل، منطق او طب له نظره وڅېړل شي او ضررونه یې بیان او وخیم عواقب یې یادشي.

په هر دین او قانون کې د پنځو څیزونو مراعات وي او محترم گڼل کېږي او په بل تعبیر د پوره مصــئونیت نه برخمن دي: ۱- دین ۲- عقل ۳- نفس ٤- مال ٥- ناموس

د اسلامي شریعت هر حکم کې هڅه شوی چې دغه پنځه څیزونه سپک نشي د بېلگی په توگه: ارتداد د دین ســاتنی لپاره حرام شــوی دی، شراب د عقل دین، نفس مال او پت ســاتنی په خاطر حرام شــوی دی، د غلا حد د مال ســاتنی په خاطر تجویز شوی دی، او زنا او فحشاء د ناموس ساتنی په خاطر حرام شوی ده. او رجم هم د همدی لپاره مشروع گرځیدلی.

خو شراب ددی باعث کیږي چې دغه پنځه څیزونه د انســان لاړشي او تش لاس او فقیرپاتی شي او د نورو او ماشومانو مسخره شي، او د خپل ښایسته محور توب نه په ټولنه کې سـقوط وکړي، خو هغه کسـان چې په انحرافي ډول د خپل ځان په بوختولو پســې وي نو شرابوته مخه کوي او د الله ﷻ اکید او قطعي فرمان هیروي او د شـیطان د وسـوسـو ښـکار کیږي، د دنیا او آخرت زیان په خپله برخه کوي.

پداســی حال کې چې الله ﷻ شراب پلیت ګڼلی او نزدی کېدل ورته یې منع کړی ترڅو پری پلیت نشي، او رسول الله ﷺ په هغه ځای او دستر خوان باندی د ناســتی نه په کلکه سره منع کړی چې شراب پکې وي، خو خلک هغه د مقوي، اشتها برابرونکي بوختوونکي په توګه یادوي. او په خپله خوښه دومره ستری ګناه او معصیت او خطري پایلو والاته غاړه ږدي.

شراب شیطاني وسیله:

له پخوانه عربو او نورو قومونو د شراب خوړلو عادت درلود کله چې د اسلام رسالت ظهور وکړ اړینه وه چې دغه شـیطاني وسـیله له منځه ولاړه شي نو اسـلام په څو پړاوونو کې په تدریجی ډول د شراب په تحریم کې مخکې لاړ او حکمت هم ددی غوښتنه در لوده چې عاقل او هوښیار کسان په لومړنیو پړاوونوکې د شرابو زیانونه درک کړي او هم داسی یو فرصت ترلاسه شي چې قطعي تحریم لامل وشي.

کوم کسـان چې د شرابو په تجارت کې بوخت ول په آسـانی سره ورته د منلو نه ؤ چې د تجارت نه یې لاس واخلي، د همدی لامله په ډیر حکیمانه ډول ددی کار تدبیر ونیول شو.

لومړی: الله ﷻ فرمايي: (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَقْرَبُواْ الصَّلاَةَ وَأَنتُمْ سُكَارَى حَتَّىَ تَعْلَمُواْ مَا تَقُولُونَ**).[1]

ژباړه: ای مؤمنانو لمانځه ته مه وړاندی کیږې چی تاسـو مسـت یاسـتئ ترهغه پوری چی تاسو پدې پوهیږئ چې څه وایئ.

دوهم: فرمايي: (**يَسْـأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِـرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا**).[2]

د قمار او شرابو په هکله تانه پو ښتنه کوي، و وایه: په هغو کې ستری گناوی دي او څه گټې د خلکو لپاره پکی شته خو گناه یې د نفعې نه ډیره ده.

دریم: فرمايي: (**إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّـيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَـاء فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِـرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللّهِ وَعَنِ الصَّلاَةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ**).[3]

شیطان غواړی چې د شراب خوړلو او قمار وهلو له لاری ستاسو تر منځ د ښمني او کینه کول پیداکړي او تا سی د الله ﷻ له یاد او لمونځ کولو نه منع کړي نو آیا

---

۱ - د النساء سورت ٤٣ آیت.

۲ - د البقری سورت ۲۱۹ آیت.

۳ - د المائده سورت ۹۱ آیت.

د دغو کارونو نه چې: پلیت دي او دښمنی او کینه خپره وي او بندگان د الله ﷻ له یاده غافلوي او د ټولو عبادتونو خصوصاً د لمانځه نه چې په ټولو کې ډیر مهم دی منع کوي لاس اخلی او بس کوي یې؟

څلورم: او فرمایي: (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**).[1]

ای مومنانو! شراب خوړل، قمار وهل او بتان هغه ډبره چې څنگ ته یې قرباني کوی) او غشـــی (او ډبری او هغه پانی چې د بخت ازمیلو او غیبت ویلو لپاره یې کاروي ټوله کې د معنا په لحاظ) پلیت دي او د شـــیطان لخوا ښــکلي شـــوي او تلقین شوی عمل دی نو ددغه د پلیتو کارونونه) لری اوسی ترڅو بریالي شی.

امام فخر رازي د شرابو او زنا ترمنځ عجیبه مقایســـه کړی ده چې په زنا کې د انســان طبیعت دا دی چې کله یې یو ځل وکړي بیا په هغه کې کومه علاقه د بیا زنا کولو لپاره نه پاتیږي او ترینه متنفر او منزجر کیږي خو په شراب کې بالعکس دی، هر ځل یې چې وڅښی علاقه او میل یې ورته نوی کیږي.

---

۱ - د المائده سورت ۹۰ آیت.

ترڅو چې اوږدی شي او په کې غرق شي هغوی داسی لیکي:

ددی معصیت (شراب خوړلو) یو خصوصیت دا دی چې څومره زیات انسان پری بوخت شي هومره هغه ته میل زیاتیږي او د نفس انگیزه قوي کیږي د نورو گناؤ په خلاف.

مثلاً: کچیری زاني یو ځل زنا وکړي، رغبت او علاقه یې نوره سستیږي څومره چې تکرار شي د زنا نه نفرت او انزجار کامل کیږي. خو شراب چې څومره لاس رسی ورته زیاته شي، نو علاقه یې ډیره شي دغه معصیت ته تردی چې انسان داسی پړاوته رسیږي چی په جسماني لذاتو کې غرقیدو سره د قیامت ورځی او آخرت د یاد څخه غافلیږي او د الله ﷻ نه د غافلانو او نا خبرو له ډلی سره یو ځای کیږي او الله ﷻ هم دی له یاده باسي په نتیجه کې: شراب عقل له منځه وړي، کله چې عقل زوال مومي نو ټولی بدیانی را تولیږي همدا ده معنا د وینا د رسول الله ﷺ چې فرمایلی دي: (**الخمر أم الخبائث**) [1] شراب د پلیتیو بنسټ (مور) ده.

آیا شرابو څخه ډېر بد څیز شتون لري؟

هو! شراب د الکولونه ډک دی، او الکول زیانمن اثرات لري په انسان باندی خصوصا د انسان د مستیدو باعث گرځي، او په عین مستی کې د حقیقت پلټنه له لاسه ورکوي او په باطلو افکارو مبتلا کیږي.

---

١ - المعجم الاوسط، للطبراني، حديث: ٣٦٦٧.

شراب او د عقل زوال:

الکول د عقل په زائلولو سره انســـان ته کوم قدر او منزلت نه پرېږدي په مســـتی سره ټول روحي او اجتماعي مفاســـد څرګندېږي او ټول اخلاقي موانع ماتېږي ځکه چې د نفس واګی له لاسه ووتی او هغه څه چې انسان یې منع کاوه او صبر کولو ته یې هڅاوه له منځه ځي، او کوم عقل نشـــته چی انســـان و بیروي او منع یې کړی چې دا کار وکړه او هغه کار مه کوه دا خبره وکړه او هغه بله وینا مه کوه.

د شرابو د ګټو او زیانونو پرتله (مقایسه):

پـه کلي ډول کلـه چې د شرابو او د حرمـت بحـث یې کیږي د ټولنی ځینی منحرفان اســـتدلال کوي چې شراب ګټی لري د هغوی په ځواب کې وایو: دی کې ستاسو اعتراف ته اړتیا نه وه، ځکه هغه قرآن مجید بیان کړي دی خو د دینه غافل یې چې یوازی منفعت ته مو ســـترګي اړولي دي، او د شرابو د لږ منفعت او ډیرو زیانونو او ضررونو نه مو سترګی تړلي دي، وګورئی الله ﷻ په قرآن کریم کې فرمایي: (**قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا**).[1]

ووایه: په شراب او قمار کې لویه ګناه او څه ګټی خلکو ته شته او ددی دواړو ګناه د نفع نه ډیره لویه ده مسلمه خبره داده چې دوی د ګټی او زیان تر منځ مقایسه هیره کړي ده، نفع اوســـنی او یا یوازی مالي ده خو زیان او ضرر دائمی، کلي،

---

۱ - د البقری سورت ۲۱۹ آیت.

مالي او غير مالي، دينی او دنيوی دي د بېلگي په ډول د شرابو يوه لويه گناه د انسان د عقل درک او شعور سرمايي له منځه وړل دي. امام فخر رازي ليکي: گوا کی د انسان عقل د هغه ډير شريف صفت دی، او شراب د عقل د ښمن دی، او دښمن چی څومره شريف وي هومره سپک وي، د عقل وجه تسميه پدی ډول ده، د اوښ د عقال (زنگون تړونگی) په څېر عمل کوي او هغه د تيښتی او غلطی نه منع کوي.

عقل انسان هم د بدو کارونو نه منع کوي ځکه کله چې د انسان طبع هغه هڅوي چې بد کار وکړي عقل د هغه ترسره کولو نه منع کوي، کله چې شراب وخوري نو بی لاری او سرکښه شي او کوم عق

ل نه وي چې د بد کار نه يي منع کړي، د عقل زوال همغه او بدو کارونو او گناه ته نزديوالی هم همغسی!

د شراب خوړلو زيانونه:

د شرابی کېدو خوراگې زيانونه دي ډير مهم پکی د ايمان له لاسه ورکول دي د شرابي او الکولي انسان په هکله حضرت عثمان رضی الله عنه فرمايلي دي: يقيناً قسم په الله ج چې: ايمان او روږدي کيدل په شرابو نه يو ځای کېږي مگر دا چې يو يې بل لوري ته لاړشي او دغه مطلب په الاستيعاب کتاب کې هم راغلی دی.

۱- مالی زیان:

شراب د انسان پانګه او زیرمه فناکوي، پدی معنی چې خپله ټوله شتمني لږ لږ او کرار کرار په شرابخوری او بوختیاؤ کې مصرفوي یا دا چې په مستی کې یې سیزي یا تری تښتول کېږي.

۲- ټولنیز زیان:

د شرابخوری یو بل زیان دا دی چې د شرابخورو تر منځ جګړی، نښتی، خوا بدي بغض، عداوت، کینه کول وي، همداشان د شرابخورو او هغو کسانو تر منځ چې ژوند ورسره کوي هم په نا څه بهانه جګړی کېږي.

۳- رواني او روحي زیان:

شراب خوړل راز رسواکوي چې داکار د کورني، ټولنی او اجتماعی روابطو لپاره خورا ډیر خطرونه لري.

٤- دیني زیان:

مست انسان ښه عبادت نشي کولای خصوصا د اسلام ستن لمونځ پریږدي په همدی هکله قرآن کریم فرمایلي دي: (**وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللّهِ وَعَنِ الصَّلاَةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ**).[1]

(کله چې شراب وخوری نو تاسی د الله ﷻ له یاد او لمانځه څخه منع کوي).

---

۱ - د المائده سورت ۹۱ آیت.

۵- روغتیایي زیان:

علامه احمد مصطفی مراغی په خپل تفسیر کې د شرابو ګڼ شمیر زیانونه را ټول کړي چې په لاندی ډول دي:

د معدی فاســـدول، د خوړو خوند له مینځه وړي ســـترګې نیغېږي د خیټی پلیتیدل د بدن او صـــورت رنګ الوتل، د زړه او ځګر بیماري د زړه غټېدل، د زره ســـختیدل، د کلمو بېماریانی ســـل او نور دغه بیماریانی، د ســـختو روغتیایي تدابیرو سره سره په اروپا کې د اروپا شـــیانو د ځانونو لپاره بلا ګرځیدي دي لکه چې د الکول نو شابو د ترویج نه ورو سته په مصریانو کې پیدا شو، سره لدی چې فضـــایي مذهبي اســـاس درلود او د الکولي نوشـــابه د ترویج لپاره آماده نه وی او شرابخور ژر زړېږي. د وینی د ګرځېدو را ګرځېدلو مخنیوی، د زړه نا څاپې و دریدو په نتیجه کې د شرایین او حنجری ســـفت او تصـــلب کیدل غږ بندیدل، ټوخی زیاتیدل.

د شرابو خوړلو یو بل زیان، د نســـل او جنسي ـــ غریزی انقطاع او اخته کیدل د ماشـــومانو په کمزورتیا باندی څیړنو جوته کړي ده چې: د الکولیانو اولاد کمزوری او لمسیان یې د ولادونه ډیر کمزوري وی په عقل، فهم او ادراک کې او دغه لړی د هغوی د اولادونو په نور طبقاتو کې یو د بل پســـی دوام پیداکوي او ضـــعیف اولا

ضعیفه کېږی تر دی چې نسل یې قطع شي خصوصاً کله چې اولادونه یې هم د خپلو پلرونو په لار لاړشي او اغلب همداسی کیږي.

د همدی ځایه د رسول الله ﷺ د دی حدیث ارزښت څرګندیږي چې فرمایي: (**ما أسکر کثیره فقلیله حرام**).[1]

هغه څه چی زیات مصرف یې نیشه راوړي نو لږ خوړل یې هم حرام دي.

نو دغه تبلیغات چې وایي: شراب هغه وخت بدې اغیزې کوي چې په خوړلوکې یې زیاتی وشي او لږ یې ضرر نه لري، بی اساسه او ناسم دي.

د بشري ټولنې تهدیدونکې بلاګانې:

مشهوره ده چې څلور بلاګانې ټولنه تهدید وي:

١- سفلیس ٢- سرطان ٣- سل ٤- الکول

خو الکول د ټولونه زیات بد ده، ځکه په دری نورو باندی اخته کســـان د اخته کیدو په پړاو کې کار او ژوند کولای شي خو الکولي د خپلی بېماری په همغه لومړیو کې له پښو غورځیږي او بی وهوښه کیږي څومره کورنی شته چې جوړښت یې د شرابو لامله خراب شوی او یتیمان ، او کونډی یې تولنی ته وړاندی کړي او د ټولنی باریې ګرځولي دي . د شرابو مســتي او زنا دوه قیچیانی دي چې ملتونه

١ - سنن الترمذي، حدیث: ١٨٦٥، و مسند الامام احمد، حدیث: ٥٦٤٨.

پری کوي . مثل دی چي: (کچېرې ټولنه الکول ونه وژني نو الکول به ټولنه ووژني).

د شرابو یا الکولو نه استفاده د قلبي، عروقی عوارضو په څیر بیماریو ، او په ترشحي ، هاضمه، تنفسي ، عصبي سیستمونو او جوړښتنو کې د اختلال سبب ګرځي.

الکول او پنځه ګوني حواس:

لکه چې یادونه یې وشوه د بدن داسی برخه نشته چی الکول خپله بده اغیزه پری ونلري ، نو د انسان پنځه حواسه خصوصا بینایي هم د دی ناوړه اغیز نه بی برخې پاتی ندی.

ډاکتر صفدر صانعي لیکي: (د الکولو ضایعات د ټولو نه زیات د لیدو په حس کې دي د هغو شمیرو په بنسټ چې د برلین د روغتونو نو ته تر لاسه شوي نو ۵۲٪ شراب خوړونکي چې د غو روغتونونو ته ورځي د بصري عصب او د سترګو او پوزی ته نزدی جال ضایعاتو لرونکی دي، همداشان د سترګو فلجونه چې د سترګو د مرکزی اعصابو هستو دیوه ځای د خونریزی لامله وی).

٦- د شرم او حیا پردی څیرول:

د شرم او حیا پردی څیرل د شرابو یو بل ضرر دی ، چی انســان گناه او پلیتی ته راکاږي ، او په بې باکې جنایت کوي ، او مشروب داسی خطري عامل دی چې د حیاء پرده څیري او دشرم احساس د زړه له پاڼي لری کوي او انسان هومره زړور او بی باکه کوي چې د هیچا او هیڅ وخت کې نه منفعل کیږي او هر ډول جرم کوي ، کله چې شرم او حیا له منځه لاړشي نو د بدو او ناوړه کارونو کول مســتو خلکو لپاره آسانه وي ځکه چې د قیامت درک کولو قوت پکی ضایع شوی دی. د شراب خوړو وروسته ، جنسي جنایت ، انسان وژنه ، وهل ټکول ، ټپي کول ، غلا ، بیځایه گرځېدل او نورو ناوړه کارونه ترسره کېږي.

الکول شرم او حیا له منځه وړي، د عفت پرده شــلوي ، او انســان د اجتماعي ، مذهبی او اخلاقي قیودو او رسومونه آزادوي ، د وجدان غږ غلی کوي او فرښته په شیطان بدلوي.

لومړنی پل چې د عفاف له واټه بهر ایښودل کېږي اغلباً په عین مستی کې وي. ځکه کله چې مســتی راغله عقل او وجدان کډه کوي ، او د عقل او وجدان په غیاب کې عفت کومه معنانه لري.

کله چې قیس بن عاصـم منقري شراب وخوړل مسـت شـو د خپلې لور ګیډې ته یې لاس ورووړ او مور او پلار ته یې ناوړه خبرې وکړې او خپله ډیره شـــتمنې یې شراب پلورونکي ته ورکړه ، کله چې په هوښ شو نو د کیسې نه خبر کړای شو نو داسې وویل:

فلا و الله لا أشربها صحيحا و لا أشفي بها أبدا سقيما

فان الخمر تفضح شاربيها و تجنبهم بها الأمر العظيما

ژباړه: قســم په الله، اوس یې نه خورم ، او نه کوم رنځورته پرې شــفا ورکووم او نه یې ورته تجویز کوم ځکه شراب ، شرابي رســوا کوي او خطري کارونو ترسره کولو ته یې اړباسي.

۷- شرابي د نورو د خندا:

شرابي د شراب خوړلو لامله د نورو مســخره او دخندا ګرځي او په خپلو ادرارو او فضولاتو لوبې کوي او په خپل بدن یې سولوي ، او ډیر الکولي افراد لیدل شوي چې خپل فاضله یې پر خپل بدن سولولي دي او دعایې کوله چې: (**أللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين**).

ای الله! ما د توبې ایستونکو او پاکانو څخه وګرزوه.

پدی باید پوه شــو چې اســلام د بندګانو د مصــلت لپاره راغلی دی . امام عز بن عبدالسلام فرمايي: (**ان الشريعة كلها مصالح اما در ء مفاسد و اما جلب مصالح**).

شریعت ټول مصلحتونه ، د فساد دفع او دمصالحو جذبول ده.

او علامه ابن قیم لیکی: د شریعت اساس او مبنا پر حکمت او په اخروی ژوند کې د بندګانو مصالحو په مراعاتولو ولاړ دی ، او شریعت ټول عدل ، رحمت مصالح او حکمت دی.

شراب او د رنځونو درملنه:

ځینی خلک وايي شراب د رنځونو د درملنی لپاره توصیه کېږي نو د همدی لامله ځینی خلک شرابو ته مخه کوي خو په تیرو تفصیلونو سره چې د قران ، سنت او د روغتیایی او ازمښتي نظرونو په رنا کې جوته شوه چې شراب یو مهم او اغیز من عامل دی د رنځونو په پیداکولو کې . او دا څرګنده ده چې د رنځونو پیداکوونکی عامل هیڅکله د رنځ درمل کیدای نشي. . په همدی خاطر رســول الله ﷺ د یوې پوښــتنې په ځواب کې فرمایلي دی : (**أنه ليس بدواء ولكنه داء**). شراب دواء نده خو مرض ده.

علامه محمد تقي عثماني رحمة الله عليه ليكي: (**انه ليس بدواء ولكنه داء هذا يدل على تحريم التداوي بالخمر و هو مذهب أكثر الفقهاء**) .

دغه حدیث دلالت کوي چې د شرابو په مټ درملنه حرام ده او د اکثرو فقهاؤ مذهب همدا دی.

د شرابو تحریم:

نو ددغو ســببونو ، علتونو او ناوړه پایلو لامله الله ﷻ شراب حرام کړي او هغه یې د (**رجس من عمل الشیطان**) پلیتي او د شیطان عمل دی په توګه یاد کړی دی . او پیغمبر ﷺ د پلیتو مور (بنسټ) په نوم یاد کړی دی .

د پیغمبر ﷺ په وخت کې کله چې شراب حرام شــول ، ټولو خلکو د شرابو چاټی ګانی ماتی کړی حتی په کومو جامونو کې یې چې شراب خوړل په هغو کی یې اوبه نه څښلی.

د شراب خوړلو په هکله د اسلام حکم:

د پلیتونه د ټولنی پاکولو او منکراتو د مخنیوي او د پخوانیو پنځه ګونو ضروریاتو د تحقق لپاره اسلام په شراب خورو باندی ۸۰ درو وهل تجویز کړی دی.

علامه ابن تیمیه رحمه الله تعالی لیکي: د شراب خوړلو حد د رســول الله ﷺ د ســنتو او اجماع د مســلمانانو نه ثابت دی . ځکه چې رســول الله ﷺ په شرابیانو باند حد جاري کړی دی. باید پوه شــو چې د اســلام دنیوي قوانین د آخرت خوندور ژوند پوره کولو لپاره دي ، او د هوا ، هوس له مخی حسن او قبح او عقلی

ندي وضع شوي ، او مونږ باید د اسلام احکام د تقابل په مهال د شیطاني هوا ، او هوس متابعت ونکړو . ځکه الله تعالی فرمایی: (**فَأَمَّا مَن طَغَى وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَى وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى**).[1]

نو هغه څوک چې سروغړوي او د دنیا ژوند غوره کړي جهنم یې ځای دی ، خو هغه څوک چې د خپل پالونکي د مقام او منزلت نه وبیریده او نفس یې د هو سونونه منع کړ نو جنت یې ځای دی. نو کچېری د خپل وزګارتیا وختونو ډکولو لپاره د شریعت له لاری منحرف شو او هڅه وکړو چې په ګناه یې ډک کړو نو د الله ﷻ په قهر او غضب اخته کیږو. الله ﷻ ټول مسلمانان د دی بلا نه وژغوري.

دعقل او هوښیاری محکمه:

دا چې شراب دومره مفاسد اوګڼ شمیر زیانونه لري عقل هم فیصله کوي چې شراب یو ناوړه او قبیح څیز دی ، راکړه ورکړه انتقال او مرسته پکې حرامه ده او لعنت وربانده ویل شوی دی .

علامه شاه ولی الله دهلوي رضی الله عنه لیکي: (خبر شی چې د مسکراتو په خوړلو سره د عقل زایلیدلو په هکله عقل فیصله کوي چې : یقینا مسکر قبیح

---

١ - د النازعات سورت ٣٧-٤١ آیتونه.

دی ځکه چې خوړل یې په بهیمیت او ځناور توب په صفت کې د انسان د ځان اچولو او دپرښتو د صفاتونه د لری کولو په معنا ده). او د الله ﷻ د خلقت بدلون دی ، ځکه چې عقل انسان ته د الله ﷻ د خصوصي نعمتونو له ډلی څخه دي نو څوک چې شراب خوري دغه نعمت یې فاسد کړی دی . او د کورني ، اجتماعي مصلحت فاسدول او دمال ضایع کولو او بدو حالاتوته وړاندی کول په خپله داسی کار دی چې ماشومان پری خاندي او مسخره پری کوي او الله ﷻ دغه ټولی معناوي او اهداف پدی آیت کې په صریح او تلویحي ډول یو ځای کړي دي: الله تعالی فرمایي: **إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ**).[1].

یقینا : شیطان غواړي چې ستاسو ترمنځ دښمني پیدا کړي ، نو ټول ملت او ډلی پدی متفق دی چې شراب قبیح او ناوړه دی.

فرمان په خوله او زړه د زړه له کومی ﷻنو ای مسلمانو ورونو او خویندو! د الله قبول کړی او د شیطان لاری مه منئ ، تر څو د نېکمرغی او هدایت لار ونیسی او جنت د الله تعالی او د هغه په رضا ویاړ من شی او دشیطان او نو کرانو (نفوذ لاره په دنیا کې پرځان وتړو، پدی هیله چې روغ بدن ، روغه ټولنه ولرو.

---

۱ - د المائده سورت ۹۱ آیت.

خاتمه

الحمد لله و کفی والسلام علی عباده الذین اصطفی و بعد:

د ستر څښتن لایزال په توفیق سره د جمعې خطبې کتاب د ټولنې مقتضیاتو سره سم تدوین او چاپ شو.

د ټولو علماؤ، پوهانو، لیکوالانو او ټولو هغو دوستانو څخه چې موږ سره په دې سپیڅلې هیلې لاسته راوړو کې په یوه ډول مرسته او ملاتړ کړی منندوی یو او د الله پاک څخه ورته د اجر عظیم او توفیق مزید غوښتونکي یو.

هیله دی چې دغه علمي او څیړني کتاب د علماؤ، پوهانو، او بالخصوص د امامانو، د مساجدو خطیبانو او ټولو دعوتگرو ته د افغانستان غیرتمند اولس په پوهاوی کچه کې ممد او مؤثر وگرځی.

د ذکر وړ دی چې ددغه کتاب محتویات د (٣٦٤) علمي مضـــمونونو څخه غوره شویدی چې د عصر او زمان سره سم د ټولنې اړتیاوې یې په پوره حوصله پام کې نیولي او د الله ﷻ په فضـــل سره پای ته ورســـیده، څرګنده د وي چې د انســـان عمل د خلل او نقصـــان څخه خالی نه دی نو د هغو علماؤ، پوهانو، دعوتګرو او د دې کتاب مطالعې مینوالو څخه هیله لرو چې د دې کتاب نیمګړتیاوې او چاپي غلطیو په اصـــلاح کې مونږ سره مرســـته وکړي ترڅو په خپلو نظریاتو او وړاندیزونو سره د دې علمي څیړني کتاب په راتلونکو چاپونو کې ښکلا او تحسین را منځ ته شي. و ما ذالک علی الله بعزیز

و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین وصلی الله تعالی علی خیر خلقه سیدنا محمد و علی آله و أصحابه أجمعین.

د ارشاد، حج او اوقافو د څیړني او د اسلامي علومو د مطالعاتو ریاست

پته: د فیض محمد څلور لاری، نوی ښار، کابل افغانستان

بریښنا لیک: Islamicresearch@mohia.gov.af